# زما غوره ليکني

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

Download from: aghalibrary.com

# منځپانګه

سریزه

## لومړی څپرکی
## پښتو او پښتانه

پښتانه په تاریخ کې ۲
پښتانه په جامعه کې ٦
د پښتنو راتلونکې ۱۱
پښتو د شعر ژبه ۱۸
په معاصر افغانستان کې پښتو او د هغې
په اړه یو څو خبرې ۲۲

## دوهم څپرکی
## پښتانه لویان

میرویس نیکه، د افغان د خپلواکۍ مخکښ ٥٤
د احمدشاه دراني په یاد ٦٥
د احمدشاه دراني میراث ۷۳
احمدشاه دراني ۷۷
د احمدشاه دراني په باب مرکه ۸۱
د یوه مصلح غازي یاد ۸۷
د خپلواکۍ د لارې لوی مبارز اېمل خان
مومند ۹۰

## دریم څپرکی
## د ډیورنډ توافق لیک او کرښې په اړه

د امیر عبدالرحمان په واکمنۍ کې لر
او بر پښتانه ۹۹
د ډیورنډ توافق لیک یا د ۱۸۹۳ کال د
کابـــــل کانونشـــــن ۱۰٥
امیرعبدالرحمن او د ډیورنډ توافق لیک ۱۲۷
پښتانه او د ډیورنډ توافق لیک ۱۳۷

د ډیورنډ توافق لیک باید ډېر دمخه
باطل اعلام شوی وای ۱٤٥
افغانستان، پاکستان او پښتونستان ۱٦٦
د ډیورنډ توافق لیک متن ۱۸٦

## څلورم څپرکی
## پاچا امان الله او خپلواکي

خپلواکي، پرمختیا او پاچا امان الله ۱۹۰
افغانان او ملي خپلواکي ۱۹۷

## پنځم څپرکی
## څېړنیزې لیکنې

د وربښمو لار د تاریخ له نظره ۲۰۷
د افغان پرون او سبا ۲۲۱
د معاصر افغانستان تاریخپوهان ۲۳٥

## شپږم څپرکی
## د روښانفکرو په اړه

روښانفکران څوک دي؟ ۲٦۷
په افغان ټولنه کې د روښانفکرو ونډه ۲۸۰

## اووم څپرکی
## د تاریخ په اړه

د تاریخ په باب ۲۸۸
نظرات درباره تاریخنویسی ۲۹۱

## اتم څپرکی
## د اساسي قانون په اړه

قانون اساسی برای افغانستان ۳۱۵
دولت د افغانستان په راتلونکي اساسي
قانون کښې ۳۲۸
څنګه مرکزي حکومت، فیدرالي یا
متمرکز؟ ۳٤۳
د سیاسي ګوندونو په اړه مرکه ۳۵۰

## نهم څپرکی
## د ملګرو په یاد

سیداګل غریبیار ۳۵۷
محمد هاشم زماني ۳۵۹

## لسم څپرکی
## د نورو لیکوالو اثرونو
## ارزونې

درد دل پوهاند حبیبی ۳٦٤
د فراهي یو فکري سوغات ۳۷۱
موهن لال و افغان ها و جنګ اول افغان-
انګلیس ۳۷۷
د وزیري د ثور پاڅون ٤۰۱

د لوی مصلح باچاخان په یاد ۴۰۸
نظری به کتاب افغانستان در پنج قرن
گذشته ۴۱۴
په پښتونخوا کې د برتانوي هند ورانديِ تگ
او د پښتنو مقاومت ۴۶۱
د سنگروال له سنگر څخه ۴۶۴
رژېدلي گلان ۴۶۸
د ښاغلي باوري نوښت ۴۷۴

## يولسم څپرکی
## بېلا بېلې ليکنې

د افغانستان وضع د اندېښنې وړ ده ۴۷۸
زمونږ شپون ۴۸۴
د افضل خان لالا پر ځان قصد يوه ځانگړې
پېښه که د لړۍ يوه برخه؟ ۴۸۷
د نارنج گل په باغ کښې ۴۹۱
يوه سپينه وينا ۴۹۷
گرو های مذهبی و سیا ست در افغانستان
معاصر ۵۰۴

# سریزه

زما د لیکنو یا مقالو دا لومړۍ ټولګه ده چې په یوه ټوک کې په دغه بڼه لوستونکو ته وړاندې کېږي. دا هغه غوره لیکنې دي چې د تېرو شلو کلونو په بهیر کې مې یو وخت بل وخت په امریکې، کاناډا او اروپايي هېوادونو کې د مېشتو هېوادوالو د مجلو، خپرونو، راډيو ګانو او غونډو لپاره کښلې دي. له یوې لیکنې (پښتو او دفتر) نه پرته هغه لیکنې چې تر دې دمخه مې پخپل هېواد او هم د باندې کښلي دي، په دغې ټولګې کې نه دي نیولې شوې. ما په کال ۱۹۵۰ز کې په لیکنو پیل کړی دی، له یو څو لیکنو نه پرته زما د دغې ټولګې لیکنې یو وخت بل وخت په افغان خپرونو کې راوتلې دي.

دا د پښتنو، پښتو، پښتني لویانو، مصلحانو، د ډيورنډ توافق لیک، خپلواکي، روښانفکري، اساسي قانون، دولت او د نورو موضوع ګانو په اړه غوره شوې لیکنې دي. یوه برخه یې هغه لیکنې دي چې پکې د نورو لیکوالو اثرونه معرفي شوي دي. د وطن د روانو سیاسي پېښو په اړه لیکنې په دغې ټولګې کې نه دي نیولې شوې. که وشوه هغه به په کومې بلې ټولګې کې خپرې کړم. په تېرو شلو کلونو کې زما زیاتره وخت په پښتو او انګرېزۍ کې د کتابونو په لیکلو او ژباړلو کې تېر شوی دی.

د دغې ټولګې موضوع ګانې ډول ډول دي، خو هغه ټولې د افغان تاریخ او کلتور په اړه دي چې لوستونکو ته به په زړه پورې او ګټورې وي، ما دغه لیکنې په همدغه نیت په دغه ډول لوستونکو ته وړاندې کړې دي خو په دغه اثر کې ځينې موضوع ګانې بیا بیا لیدلی کېږي.

له محترم زرین انځور او ملګرو نه مې منونه کوم چې زما د لیکنو دغه ټولګه هم د خپلې کلتوري ټولنې له خوا

خپروي.

محمد حسن کاکړ
کليفورنيا، امريکا
جنوري ۲- ۲۰۱۰

د خپرندويې ټولنې يادښت

# د استاد کاکړغوره ليکنې

# د افغانستان د تاريخ بېلا بېلې پاڼې

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا د ښاغلي پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ د دغو تاريخي ليکنو او مقالو خپريدنګ، د افغانستان د تاريخ د پاڼو د مينه والو او لېوالو لپاره يو زېرى ګڼو. استاد کاکړ د دغه مقالې په بېلو بېلو وختونو کې، په بېلو بېلو منا سبتونو ليکلې دي او د خوښۍ ځاى دى چې دا دى اوس په يوه ټولګه کې د يو تاريخي تسلسل له مخې د چاپ پر ګاڼه سنباليږي.

سږ کال د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه د خپلو لويو علمي کلنيو غونډو په لړ کې د اوسني افغانستان د يو ډېر مهم تاريخي ځپرکي په اړه علمي سيمينار جوړوي. د نوي افغانستان دغه ځپرکى (( په افغانستان کې د ديموکراسۍ لسيزه)) نوميږي. د ديموکراسۍ دغه لسيزه له سياسي،

اقتصادي، اجتماعي او کلتوري جلا
اړخونو څخه د افغان څېړونکو لپاره د
بحث وړ مواد لري. په یاد شوي سیمینار
کې به په دغو ټولو اړخونو بحث وشي،
خو د دې په څنګ کې موږ ځانونه
نېکمرغه ګڼو چې په دغه مناسبت یو لړ
مهم آثار هم چاپ او خپروو.
د پوهاند محمد حسن کاکړ (( زما
غوره لیکنې)) او دوه نور آثار په
همدې لړ کې شامل دي. دغه آثار به د
افغانستان د تاریخ د بېلا بېلو خواوو
د څېړنو په لړ کې د پوره ارزښت
لرونکي وي. لازمه ده له ګرانو کاوون
کاکړ او خوږې کاکړ څخه هم مننه وکړو
چې د استاد کاکړ د دغه مهم او پنډ
اثر د چاپ لګښت یې هم په خپله غاړه
اخیستی او په دې توګه یې د افغانستان
د کلتوري ودې ټولنه د دې مرستې
منندویه کړې ده.
استاد کاکړ ته د اوږد او باثمره
ژوند عاګانې کوو چې ز موږ د وطن د
تاریخ د څېړلو شمله ده. خدای(ج) دې
دغه شمله تل هسکه لري.

په درنښت

د افغانستان د
کلتوري ودې
ټولنه
جرمني- د کولن
ښار
۱۳۸۹ل. د ثور ۲۹

لومړی څپرکی

# پښتو او پښتانه

سان دیـیگو-اگست۹، ۱۹۹۱

# پـښتـانـه پـه تـاریـخ کـې

د پـښتو او پـه افـغانـستـان کې د یـو شـمېر نـورو مېشـتـه ولـسـونـو پـخـوانـی تـاریخ، لـه دریـو اړخو نـو څـخه مطالـعه کېدلـی شي، جغرافـیه، تـاریـخ او ژبـه.
لـه جغرفـیې نـه مطـلب دا دی چې د افـغانـستـان عـمده سیمې او سیندونـه پـه ویـدا او اوستـا کې یـاد شوي دي. ویـدا د سانـسکرت کلـمه ده، پـه مـانـا د سپېڅلي او سپېڅلو ادبـیاتـو، او اوستـا د زردشت مذهـبي کتـاب دی چې زنـد د هغه تـعبیرونـه دي. ویـدي مدنـیت د اوستـا تـر مدنـیت نـه د مخه و او وروستـی یې لـه نـن څخه لـږ و ډېـر درې زره کـلونـه وړومـبی پـه پـخوانـي افـغانـستـان او ورڅرمې سیمو کې خور و. پـخوانـي افـغانـستـان د اریـانـا او خراسان پـه نـومونـو یـادېـده. د لـرغـونـي افـغانـستـان پـورتـه یـادې شوې سیمې او سیندونـه د لـر غونـي یـونـان د تـاریـخ پـلار یـا لـومړنـي مؤرخ هـیرودوتـس پـه لـیکنو کې هم راغلې لـکه اوسنی بـلخ چې پـه اوستـا کې پـه نـامـه د بـخدي یـا بـاخترش پـه یـونـانـي لـیکنو کې پـه نـامـه د بـکټریـا، هرات او هري رود د هري وا، آریـه، مرو او مرغاب رود پـه نـامـه د مـاورو، مرگیـانـه، پـشین پـه نـامـه د پـسانـا (Pisana) او ارگون پـه نـامـه د اروا (Urwa) یـادیـده او همداسې نـور.
د هخانـشیانـو د دورې د شـپږو ایـالـتونـو نـومونـه د هیرودوتـس پـه لـیکنو

کې له هري و او باخترش نه بر سېره سیستان په نامه د زرنکا، د پېښور په ګډون د کابل سیمه په نامه د ګندهارا او کندهار په نامه د اراکوزیه او هراواتي (Harawati) یادیده.
دا خو په پخوا وختونو کې د هغو سیمو نومونه وو چې پښتانه پکې د نورو خلکو په شان یو ځای بل ځای اوسېدل، خو په لرغونو مهالونو کې د پښتو د نامه ذکر د نورو قومونو لیکوالو، په تېره یونانیانو کړی چې په وروستی ډلې کې هرودوتس راځي.
په ویدا کې پښتانه د پکتهاس په نامه راغلي او تر هغه وروسته هیرودوتس دوی د پکتیان په نامه د پکتیوکا د هېواد اوسېدونکي ښودلي دي، لکه چې همدغه مؤرخ افریدي پښتانه په نامه دا په ریتاي قید کړي دي. یو شمېر وروستو لیکوالو پکتیوکا او ګندهارا عېن سیمه بللې ده، خو د دغه هېواد چا د کنړ او کابل سیندونو ترمېنځ سیمه ګڼلې او چا د اباسین او هلمند ترمېنځ هېواد بللی چې مرکز یې اوسنی پېښور یا پخوانی پروشاپورا و، خو د دغې پراخې سیمې اوسېدونکي یواځې یو قوم یا یواځې پښتانه نه وو لکه اریایي او هندي قومونه وو. د هیرودوتس په وینا په دغه هېواد کې څلور ډلې خلک اوسېدل په نامه د ګنداري، اپه ریتاي یانې اپریدي، سته ګیدای یانې خټک او دادیکای یانې دیګانان تاجکان. د ګندهاریانو په ډله کې د نورو قومونو په جمله کې پکتین هم راځي یانې مومند، یوسف زایي یا پخواني اسپه سي، اپریدي او خټک. د مؤرخ میرغلام محمد غبار په وینا دادیکان یا تاجکان په پخوا وختونو کې له پښتنو سره یو ځای یا د هغو په

ګاونډي توب کې اوسېدل او بیا ورو ورو د چترال له لارې بدخشان او سیستان ته واوښتل او له امو سین نه هم تېر شول. د دغو لیکوالو په استناد پښتو او د افغانستان د شمال شرقي سیمو تاجکانو ژبې چې د ګلچه په نامه هم یادېږي، نه یوائې سره ډېرې نږدې دي، بلکې ویونکي یې د غرنیو سیمو د اوسېدونکو په څېر سره ډېر نور نږدې والی هم لري.

پښتانه په عین حال کې د افغانانو په نامه هم یاد شوي دي. ابوریحان البیرو ني د افغان کلمه د اسواکاپه کلمې پورې تړلې ګڼي چې ذکر یې د مهاباراته په کتاب کې چې تر نن نه درې زره کاله دمخه کښل شوی دی، راغلی دی. د مؤرخ احمد علي کهزاد په نظر د افغان کلمه ترکیبي او په اصل سانسکرت ده. په مانا د اسوه غانه اس او ځای. په دې حساب اسوغانه د اس سورو هېواد کېږي. په دې ډول دغه ترکیبي کلمه هم د خلکو یانې پښتنو او هم د هغوی هېواد ته راجع کېږي.د افغان کلمه وروسته دنفش رستم په معبد کې د ابګان په شکل راغلې. دغه کتیبه یا ډبرینه لیکنه د ساساني لومړي شاهپور په امر په عیسوي دریمې پېړۍ کې کښل شوې ده. وروسته تر هغه یوه هندي منجم وراهامیرا پخپل کتاب بري سمهت کې دا واګانه په بڼه ذکر کړې ده. بیا تر اسلامي دورې نه دمخه یوه چیني ګرځندوی هیون تسانګ چې په افغانستان او شمالي هندوستان کې یې سفرونه کړي وو، دغه کلمه په اړول شوي شکل یانې د اپوکین په بڼه راوړې ده. چینیان خاص نومونه زیاتره په متغیر ډول وایي. له هغه وروسته دغه د سانسکرت اسواکا یا اسواغانه، د زړې پارسو ابګان، د چیني ژبې اپوکین او د هندي ژبې اواګانه

په اسلامي دور کې د مسلمانانو ليکوالو په اثارو کې په نامه د افغان او ملک يې په نامه د افغانستان ذکر شوی دی. شايد د حدودالعالم د کتاب ليکونکي چې مؤلف يې معلوم نه دی لومړنی اسلامي جغرافيه ليکونکی وي چې دغه نوم يې د افغان په نامه د لومړي ځل دپاره ذکر کړی دی. له هغه وروسته د افغان کلمه دومره عامه شوې چې د مثالونو ذکر ته يې ضرورت نشته. په دې نږدې مهالونو کې د دغې کلمې په مفهوم کې غټ تحول راغلی دی. اوس يواځې پښتنو ته مختص نه ده، بلکې ملت شمول شوې ده. د ټولو هغو افرادو معرف شوې ده چې په افغانستان کې اوسېږي، دغه غټ تحول په داسې حال کې چې د افغانستان هر قوم خپل ځانګړی هويت په نامه د پښتون، تاجک، هزاره، ازبک او نورو ساتلی دی، د افغانستان د ملت يا ولس د ټينګ پيوستون ښکارندوی ګڼل کېږي.

سان دیيگو- اگست ۹-۱۹۹۱ز

# پښتانه په جامعه کې

پښتانه د سیمې د زیاترو نورو قومونو په شان، د زرگونو کلونو تاریخ لري، خو دوی په پخوانیو مهالونو کې د غېر پښتني قومونو د لیکوالو له خوا ثبت شوي، هغه هم په غېر منسجم او متشتت ډول. دوی پخپله د اسلام نه دمخه دورونو کې د خپل تاریخ په باب دقیقي او منظمې لیکنې نه لري. حتی پښتو د ژبې په حېث، په لرغونو مهالونو کې نه ده څېړله شوې، که څه هم پښتو ډېره پخوانۍ ژبه ده او اوږد تاریخ لري.

هغه تالیفونه چې پښتانه پکښې نسبتاً په منظم ډول بیان شوي دي، په اسلامي دورو پورې تعلق لري، لکه د ابوالفضل اکبر نامه، د سلیمان ماکو تاریخ اولیاء او پټه خزانه، د پښتنو په باب ډېر عمده ماخذ د مخزن افغاني په نامه د ملا نعمت الله اثر دی چې د اوولسمې عیسوي پېړۍ په سر کې تالیف شوی دی. وروسته د پښتني قومونو شجرې په حیات افغاني نوي کتاب کې په تفصیل سره بیان شوې دي، خو دغه ټولې لیکنې د عنعنوي روایتونو مجموعې دي، په ثقه تاریخي شواهدو بنا نه دي.

همدغه سبب دی چې هغه د نورو څیزونو په جمله کې د مذهبي ذهنیت تر تاثیر لاندې لیکل شوي دي. پکښې ویل شوي چې پښتانه د افغانه یا تالوت، یا سال پاچا اولاده ده، خو دغه روایت په

دي سم نه دی، چې د دوی ژبه یانې پښتو، د هندو اروپایي د لویې ډلې یوه څانګه ده. نه د سامي ډلې چې عربي ژبه یې یوه برخه ده. په بل عبارت د پښتو د ژبې ویونکي یانې پښتانه د اریایي نیکو نو اولاد ګڼل کېدلی شي، نه د سامي نیکو نو. په هر حال د همدغو عنعنوي روایتو نو له مخې قېس بن عبدالرشید درې زامن لرل، په نامه د سړبن، غرغښت او بټن (Batan) یا بېټن (Bitan) خو دغه عمده ډله د پښتنو یواځنۍ ډله نه وه نورې ډلې پښتانه هم موجود وو.

د پښتنو ستري ډلې چې په لیکونو کې راغلي او خېلونه ترېنه جوړ شوي او تر اوسه پاتې دي، شرخ بون، خرشبون، بېټن، غرغښت او کړن (Karran) دي.

ممکنه نه ده چې یو څوک د پښتنو ټول خېلونه او څانګې چې تر کورنۍ پورې رسېږي وشمېرلی شي. دا چې د دوی خېلونه له حساب نه وتلي، هم د دوی د قومي میراتو او هم د پښتو ژبې د خاصیت له امله ده. په پښتنو کې دا رواج دی چې د هر نوم یالي پښتون له نامه څخه وروسته د ((خېل)) یا ((زوی)) ((زي)) لاحقه اضافه کېږي او په دې ډول یوه نوې پښه، ګنډه، یا حتی قوم جوړېږي له محمد څخه محمدزوی یا محمدزی او له سلیمان څخه سلیمان خېل. په اوس وختونو کې په تېره په ښارونو کې یانې چېرته چې قومي خصوصیت ضعیف شوی یا له مېنځه تللی وي، د ((خېل)) او ((زي)) په ځای تخلصونه راوړل کېږي، لکه سراج، ضیایي، طرزي، نایبي او نور.

په هر حال د پورته یادو شویو قومونو عمده نه ټول خېلونه دا دي:

له شرخ بون څخه شیراني، ترین، میانه، بریخ او اورمړ هسک شوي. د دغو

خېلونو ډېر نوميالي، ترين دي چې په اودال، تورترين او سپين ترين وېشل شوي دي او دال چې احمد شاه ابدالي د دراني په نامه ياد کړل په دوو برخو وېشل شوي: زيرک او پنج پا.

زيرک يې الکوزي، پوپل زي، اڅکزي او بارکزي دي. سدوزي د پوپل زيو او محمدزي د بارکزو پښې دي له دغو دواړو پښو څخه پاچايان او اميران هسک شوي چې د هغو ډېر نوميالی احمدشاه دراني، د معاصر افغانستان او د دراني امپراتورۍ مؤسس دی.

په پنج پا کې ماکو، خوگياڼي، اسحق زي، نور زي او اليزي شامل دي.

د خرشبون په غټ وېش کې دغه خېلونه شامل دي: کاسي، زمنډ، کنډ او خاخي يا خاشي. له کاسي څخه شنوار، له زمنډ څخه د کاسور قومونه، له کنډ څخه د غوري يا غورياخېل، مهمند، خليل او ځمکني اوله خاخي څخه ترکلاني، گيگ ياني، يوسفزي او د مندڼ قومونه هسک شوي دي.

د بيټڼ له غټ وېش څخه ورسپون (Warspun) کاجن (Kadjin) او د بي بي متو اولاد پاتې دی. د بي بي متو يا ماټي قومونو څخه سرواني، لودي او غلزي راوتلي دي. په دوی کې لوديان او غلزيان نامتو وختل. لوديانو په څوارلسمې پېړۍ کې په هندوستان کې امپراتوري جوړه کړه چې وروسته بابر په ۱۵۲۵ کې نسکوره کړه، لوديانو تر هغه وروسته ورو ورو خپله ژبه او قومي عادتونه هېر کړل او تر زياته حده د هندوستان په خلکو کې حل شول.

غلزيان د رواياتو له مخې په دوو لويو پښو وېشل شوي چې يوه يې برهان يا بولر او بله يې توران يا تولر ده. د دوی فرعي خېلونه سليمان خېل، هوتک،

توخي، اندړ، تره کي، ناصر او خروټي دي. د هوتک له وېش نه حاجي مېرویس بابا هسک شوی چې د اتلسمې پېړۍ په سر کې یې کندهار د صفویانو له لاس برسې نه ازاد کړو او په دې ډول یې په معاصر افغانستان کې د ملي خپلواک دولت تاداو کېښود. وروسته د هغه زوی شاه محمود د پارس صفوي امپراتوري ړنګه کړه.

د غرغښت په لوی وېش کې مانډو، بابي او ډنې (Danay) شامل دي. د ډنې خېلونه کاکړ، ناغر، پاني او داوي دي.

په پای کې د کرړن په لوی وېش کې کودي او کاخي (Kakhay) شامل دي. په کودي کې دلازاک، وردګ، ورکزي او د منګل قومونه شامل دي. په کاخي کې اپریدي، خټک، ځدران، اتمانخېل، خوګیاڼي، ځاځي او توري راځي. د دوی فرعي وېشونه داړي، بنوچي او خوستوال دي.

پښتانه اوس د ایران له خراسان یاني مشهد نه د شمالي هندوستان تر هوارو پورې چېرته په ګڼ چېرته په نڼګړي ډول چېرته سوچه او چېرته په اوښتي شکل اباد دي. دوی د دغې پراخې سیمې په ښارو او ښاري مرکزونو کې تر دې حده د نورو قومونو تر تاثیر لاندې تللي دي چې حتی خپله ژبه او پښتونولي یې هم لږ و ډېر له یاده ایستلي. د دغې سیمې په مېنځنیو برخو په تېره په ازادو قبایلو کې پښتونولي او پښتو پخپل قوت کې پاتې ده.

د پښتنو لویه ممیزه پښتو یا پښتونولي ده چې اجزا یې دا دي:

مېلمستیا، ننواتي، بدل، مېړانه، ننګ، غېرت، ناموس، پېغور او ایمانداري. له دې سره جوخت د پښتنو یو بل غټ خصوصیت تربوري، سیالي او

دښمنۍ ګانې دي. په دې ډول په دوی کې
هم د پیوستون او هم د بېلتون خصوصیات
په قوت موجود دي. کۀ له یوې خوا
مشترک نسب، مشترک تاریخ، مشترکه ژبه
او مشترکه پښتونولي دوی سره متحد کوي
او یو خور ملت ترېنه جوړوي، له بلې
خوا تربوري، سیالي، ګوندیماري او
هډماتي چې د هغو نتیجې موقتي یا پرله
پسې دښمنۍ ګانې او حتی جنګونه کېږي،
دوي په ډله ییز ډول سره دښمن ګرځوي.

له همدې امله په دوی کې قوي
ډینامزم لیده کېږي، خو په دغه
ډینامزم کې که د ورانونې هڅه د
ودانونې په هڅې غالبه نه ده په قوت
سره خو موجوده ده.

سره له دې چې په دوی کې کشالې د
جرګه مارو له خوا په جرګو او مرکو
سره هوارېږي او وراني او هډماتي له
منځه وړل کېږي، په دوی کې د انتقام
او بدل اخیستلو احساس دغومره قوي دی
چې په دوی کې عمومي پیوستون یا لوی
پیوستون ناممکن کوي. ګمان نه کېږي چې
دوی پخپل ډېر اوږده تاریخ کې چا سره
یو موټی کړي وي.

د دوی د یو موټي کېدو په هکله د
شېرشاه سوري او احمدشاه دراني او
میرویس نیکه بریالۍ هڅې اوس افسانې
ښکاري. د پښتو په ځینو قومونو کې د
سر له کسانو څخه ډېر یې په دښمنو او
تربور یو کې وژل شوي او لږ یې په
طبیعي مرګ سره مړه شوي دي. په
خوګیانیو کې د امیر امان الله خان له
دورې څخه وروسته د روسانو تر یرغل
پورې د پنځوسو کلونو په اوږدو کې د
ملک قیس او ملک محمد جان د خېلونو
ترمېنځ دښمنۍ کې (۱۵۰) کسان وژل شوي
دي، برسېره پر دې په اوس وختونو کې د
پښتنو په تعلیم یافتګانو کې د

باندینو ایډیالوجي ګانو په نفوذ سره پښتو او پښتونولۍ له منځه تللې او دوی له خپلو ولسونو څخه بېګانه شوي دي.

# د پښتنو راتلونکې

جولای ١٥- ٢٠٠٦

پښتانه چې قلم راواخلي اول د خپل قام له کارنامو څخه غږېږي. د دغه عادت دپاره دليلونه هم لږ نه دي. د پښتنو تاريخ اوږد، ځلانده او الهام بښونکی دی. پښتنو د خپل تاريخ په بهير کې له لويو فاتحانو سره د خپلې مېنې او واکمنۍ په سر د لويو قربانيو په ورکولو سره مقابلې کړې دي. له خپلې مينې نه د دفاع د دوی د هر بل ارزښت تر دفاع نه اوږد تاريخ لري. په دې اړه به په لرغوني مهال کې يو مثال ذکر کړم. د بخدي يا بلخ زرد ښت د اهورامزدا په دستور د هېوادونو د پېدايښت په موضوع کې وايي چې ((د ښو مېنو او هېوادونو په سر کې چې ما، اهورا مزدا، پېدا کړ هغه اريانه و ايجو (Airyana Vaego) و، اريانه ويجو يا اريانه يا پخوانی افغانستان په ده باندې دومره گران و چې د هغه په وينا هغه پنځلس نور هېوادنه د دې د پاره پېدا کړل چې هغه په امن کې وي. په دې اړه د هغه خپل عبارتونه دا دي: " ما هر هېواد د هغه په خلکو باندې گران کړی، که څه هم په هغه کې هېڅ زړه راکښونکی څيز نه و، که چيرې ما هر هېواد د هغه خلکو ته گران کړی نه وای، که څه هم په هغه کې هېڅ زړه راکښونکی څيز نه و، بيا به ټولې ژوندۍ نړۍ په اريانه ويجو باندې يرغل کړی وای"د اهورامزدا دغه وينا په اصل کې د اريانه وريجو د خلکو د وطنپالنې د احساس تمثيل کوي. د اريانه خلک له

هغه نه د دفاع په لار کې د مخز بېردې ځلورمې پېړۍ د پای په کلونو کې د مقدونيې لوی سکندر سره څه کم ځلور کاله وجنګېدل او په بلخ، کونړ، باجوړ او سوات کې يې په دغسې ستونزو اخته کړ چې هغه په بل هېواد کې له دغسې ستونزو سره مخامخ شوی نه و، د اسوه غانه په نامه د کونړ پښتنو د نړی دغه بيساري نظامي قومندان ټپي هم کړ.

په شپاړسمې پېړۍ کې د ميا روښان کورنۍ ياني پخپله هغه، د هغه زامنو او د هغه لمسيانو چې د خپلواکۍ په لار کې کومې قربانۍ ورکړې، شايد په نړۍ کې بلې کورنې د خپلواکۍ په لار کې دغومره قربانۍ نه وي ورکړې. تر هغو دمخه لوديانو او سوريانو په هندوستان کې دولتونه جوړ کړي وو، د خپلواکۍ په لار کې روښانيان که څه هم نابريالي شول،خو د هغو ټينګې مبارزې د نورو دپاره الهام بښونکې ثابتې شوې. د دغه ميراث ستر بېرغ جګونکي ايمل خان مومند، خوشحال خان خټک، ميرويس هوتک، شاه محمود هوتک، شاه اشرف هوتک او ستر احمدشاه ابدالي شول. وروستيو په فارس کې صفويان او په هند کې مرهټه راوپرزول. ستر احمدشاه له امو نه تر اټکه پورې يو خپلواک دولت جوړ کړو او افغانستان يې چې اول له اټک نه تر غزني پورې د مستونګ په ګډون هېواد و تر امو او لوی پامير پورې ورسوه. په نولسمې پېړۍ کې اول غازي محمد اکبر خان په کابل کې او بيا د هغه وراره غازي محمد ايوب خان د کندهار په ميوند کې د نړۍ د زبرځواک ياني انګرېزانو ټولې هغه نقشې خنثی کړې چې د افغانستان د لاندې کولو د پاره يې طرح کړې وې. د ميوند له جګړې نه زر وروسته د کوټې له شاوخوا سيمونه دېرش

زره پښتانه د غازي محمد ایوب خان لپاره تیار شول او انګرېزانو د هغو له امله ونه شو کولی له دغې سیمې نه په کندهار کې خپلو کلابند شویو لښکرو ته ملاتړ واستوي. د دغه ټینګ ملاتړ علت څرګند و. په کویټه او شاوخوا سیمو کې هغه خلک اباد دي چې په کندهار کې اباد دي. میدنې یې هم سره تړلې او د توپو ګرافي له نظره سره پوره ورته دي. د همدغه بیخکي یووالي له امله و چې له شوروي اتحاد سره په جګړه کې د کاکړستان خلکو د افغانستان کډوال پخپلو سیمو کې د خپلو ورونو په شان منل لکه هغسې چې بردرانیو د افغانستان نور کډوال د خپلو ورونو په شان منل. که د دوی ترمېنځ د ورورۍ دغه بیخکي اړیکې نه وای په افغانستان کې د شورویانو په ګونډو کېدل به په شک کې وای، خو د افغانانو دغه بری په عین حال کې د دوی بېرته پاتې توب هم په ډاګه کړ.

افغانانو بې له شکه د خپل هېواد، خپل دین، خپلې واکمنۍ او په یوه کلمه خپل ژوند طرز ته د دفاع په لار کې د شوروي زبرځواک د تېري په مقابل کې دغسې مقابله وکړه چې د هغه د امپراتورۍ په څنډو کې د بل هېواد خلکو په هغه ډول نه وه کړې، خو د دوی دغه ټینګه اراده له دې امله هم بریالۍ شوه چې دوی د نورو هېوادونو په ډول ډول عصري وسائلو سره و جنګېدل او د هغو له لوجستیکي او طبي موادو نه یې استفاده وکړه، خو وروسته له هغه چې دغه مرستې د شوروي اتحاد په ټوټه کېدلو سره ودرېدلې، دوی هم د ځینو بدنیتو چم ګاو نډیو هېوادونو دسیسو او هم خپل مېنځي پرله پسې جګړو ضعیف او ناتوان کړل. هغه پرېما نه

وسلې يې چې د ملي مقاومت په دوره کې له باندنيو نه ترلاسه کړې وې، د يوه بل په مقابل کې په استعمال سره خلاصې کړې. په نتيجه کې افغانان چې د ملي مقاومت په دوره کې د تمدن او پرمختګ له کاروان نه وروسته پاتې شوي وو، د چم ګاونډ يو په دسيسو او د خپل مېنځي جګړو له امله نور هم وروسته پاتې شول. د پښتنو پر ضد دسيسې لا هم روانې دي.

په معاصر مهال کې د پښتنو پر ضد دسيسه لومړی انګرېزانو جوړه کړه چې د ډيورنډ په کرښې سره يې په دوی کې بېلتون راوست. د شورويانو او د هغو د مريانو دسيسه بيا دا شوه چې لږه کيان د پښتنو په مقابل کې جګ کړي. د غه دسيسه په وړه پېمانه اول ايران شروع کړې وه او د اسلامي تنظيمونو په وخت کې يې په ټينګه پرمخ بېوله. د دوی ټولو او د نورو مطلب يو و او هغه دا چې د پښتنو په ويشلو او ناتوان کولو سره د هغو مېنه ټوټه ټوټه او لاندې کولی شي. ټول پوهېدل چې افغانستان په اوله درجه پښتنو جوړ کړی او په اوله درجه دوی ترېنه دفاع کوي. پښتون يو لوی قام دی او چې سره يو موټی شي لوی قوت ترېنه جوړ شي. د ډيورنډ د کرښې په دواړو خواوو کې اوس څه کم څلوېښت ميليونو ته رسېږي. د اسيا په زړه کې بل قوم هغه هم په يوې سيمې کې په دغومره شمېر نشته. خو پښتانه سره يو نه دي، يو سياسي نظم نه لري او همدا اوس يې هم په وطن کې د ډيورنډ د کرښې په دواړو خواو کې خو په يوې خوا کې ډېر وژل کېږي، ورانې پکې کېږي، نا منمظم جنګ پکې کېږي، ابادي پکې نۀ کېږي او خلک يې حتی عادي ژوند ته نه پرېښودل کېږي. د دغه حال او داسې هم

د بدنیتو ګاونډي او پخپله د دوی د بېرته پاتې توب له امه د پښتنو راتلونکې خړه ښکاري، که څه هم پښتون یو لوی او زړور ولس دی، اساسي چاره په کار ده او اوس د دې وخت دی چې پښتانه د خپلې راتلونکې په اړه جدي وي او د هغې په اړه د لیکنو، کتابونو، جرګو مرکو او بحثونو له لارې فکرونه، تجویزونه او پروګرامونه وړاندې کړي. دغه کار د هر پښتون دپاره ممکن دی، په تېره د هغو لپاره چې د ژور فکر خاوندان وي او له خپل ولس سره مینه لري.

د پښتنو د راتلونکې په اړه په اوسني حال کې زما نظر دا دی چې پښتانه له دغه واقعي ژوند سره مینه ولري، د خپل د ژوند او د نورو د ژوند درناوی وکړي او د لا ښه کولو لپاره یې ټول هغه څه وکړي چې کولی یې شي. دغه مینه او دغه درناوی هغه وخت په اساسي ډول واقعي کېدلی شي چې یو څوک اول خپل ځان، خپل ولس او نور وپېژني، دغه پېژندنه په اساسي ډول په پوهې او پوهنې سره ترلاسه شي. په دغه حال کې د ډېرو عصري ښوونځیو، پوهنځیو او پوهنتونونو لرل حتمي کېږي. د همدغو موسسو له برکته یو څوک د ځان، انساني ټولنې او د طبیعت په اړه په اساسي ډول پوهېدلی شي. دغسې پوهه سړي ته قوت او ارزښت او ژوند ته مانا او کیف ورکوي. یو پوه وایي چې ما دغسې هېواد لیدلی نه دی چې افراد یې تعلیم کړي وي او پخپله بېرته پاتې وي. دغه حکم ځکه رښتیا ښکاري چې تعلیم کړي افراد د مسئلو او کشالو ماهیت تر نورو ډېر ښه او سم تشخیص کوي او د هوارولو لپاره یې معقولې او عملي کېدونکې لارې چارې سنجوي، خو له بده مرغه

پښتانه په عمومي ډول د پوهې او پوهنې په برخه کې ډېر بېرته پاتې دي. که د نړۍ ولسونه هم د دوی په شان وای، دغه بېرته پاتې توب به د اندېښنې وړ نه وای خو اوس زیاتره ولسونه په عمده ډول د ساینس او ټکنالوجۍ یا په اصل کې د پوهې او پوهنې له برکته بې خي ډېر پرمخ تللي او پرمختیا یې هم په حیرانوونکي ډول ګړندۍ ده. په دغه حال کې نن وي یا سبا د پښتنو ژوند طرز او ازاد ژوند تر سوال لاندې راتللی شي.

که پښتانه په رښتیا نه غواړي له دغسې حال سره مخامخ شي ورته حتمي ده چې تر هر بل وخت نه ډېر اوس خپل هویت هم ټینګ وساتي.

د پښتنو د هویت عنصرونه پښتو، پښتونولي او نور غوره ارزښتونه دي. په دغو کې پښتو تر ټولو نه مهمه ده او پښتو ته پښتونولي هم ویلی شي، په دغومره توپیر چې د پښتونولۍ ارزښتونه تغییر کوي، خو پښتو که څهٔ هم د ژبې په توګه تغییر کوي، د ونې د ډډ په شان پر ځای پاتې وي. پښتانه د پښتو له برکته پښتانه دي او که یې پښتو له لاسه ورکړه بیا نو پښتانه نه دي، که څه هم احساس به یې د پښتنو وي. د روهیلکنډ لودیان، سوریان او یوسف زي لکه د هرات اسحق زي، نورزي او الیزایي په همدغې ډلې کې راځي. حتی په کابل کې هم یو شمېر پښتانه له دغې ډلې څخه دي چې محمدزیان یې یوه څرګنده بېلګه ده. پښتو په ختیځو پښتنو کې د اردو او په لویدیځو پښتنو کې د فارسي تر فشار لاندې ده. د همدغه فشار له امله ده چې پښتانه په شمېر کې کم شوي او که دغسې نه وي پښتانه د نسب له مخې تر شلو یښت میلیونو نه هم اوړي.

د پښتو ستر اهمیت په دې کې دی چې پښتانه په پښتو سره یو بل پېژني او سره یو کوي یې. په پښتو کې د پښتنو کلتوري ارزښتونه، د دوی تاریخ، د دوی افسانې، د دوی روایتونه او په بله ژبه د دوی معنوي او روحي شتمني او ټول هغه څه پراته دي چې دوی پښتانه کوي. د پښتو بل اهمیت په دې کې دی چې پښتانه په پښتو کې په پوهې، پوهنې، هنر، فلسفې او ساینس او ټکنالوجۍ باندې په دغسې اسانۍ سره پوهېدلی شي چې په نورو ژبو کې په هغې اسانۍ سره پرې پوهېدلی نه شي. هغومره چې پښتانه او پښتنې په تېره د دوی ځوانان او ځوانانې په پښتو سره خپلو استعدادونو ته وده ورکولی شي، د نورو ژبو له لارې ورته وده و رکولی نه شي. پښتو د نړۍ له لویو ژبوڅخه یوه ژبه ده. د انکشاف ظرفیت یې هم ډېر دی او ځلوېښت صوتونه لري، په داسې حال کې چې فارسي دوه د پرش او انګرېزي شپږ ویشت صوتونه لري. پښتو چې بېرته پاتې ده او علمي شوې نه ده د ژبې د څنګه والي له امله نه ده. بېرته پاتې توب یې د پښتنو له لاسه دی. د دوی بېرته پاتې توب د پښتو بېرته پاتې توب شوی دی. په دوی کې اوس هم دغه فکر شته چې که یو پښتون په بلې ژبې وغږېد هغه ګواکې عصري دی. د همدغه ذهنیت له امله ده چې په پښتو کې اردو او فارسي د پښتو په تاوان ننوتلې او ډېرو پښتني کورنیو ژبه اردو یا فارسي شوې ده. دا په پښتنو کې د یوه ذهني بحران تمثیل کوي. له دې امله اوس تر هر وخت نه ډېر د دې وخت دی چې پښتو پالان د خپلې پښتو په هکله هم د خپلو پښتنو شعور ویښ کړي او پخپلو اثارو او ترجمو سره یې شمتنه کړي او د انکشاف لپاره یې

غونډې او بحثونه وکړي او د علمي کولو لارې چارې ورته و سنجوي، هيله ده چې دغه غونډه په دې لار کې يوه الهامه بښونکې پيلامه وګرځي.

په درنښت

# پښتو د شعر ژبه

## مۍ ۸- ۲۰۰۶

پښتو د شعر ژبه ده، هغه څوک چې دغه ټکي ته اول ځير شوي هغه شايد شاعر پيرمحمد کاروان دی چې دغه مفهوم يې د پښتو تر عنوان لاندې په دغه شعر کې انځور کړی.

ډکه د جمال او د جلال غرنۍ
ژبه ده
وايي وره پښتو د مستانه
موسيقۍ ژبه ده

ډول سره چې غبرګه شي ګډا
ګډا شي نو
چوپو ګړنګونو کې يو شور شي
او غوغا شي نو
والوزي يو سيل شي د مرغيو
په هوا شي نو
ځنې د نښترو ورته ګډې په
شغا شي نو
درد لري د مينې د شپونکي د
شپېلۍ ژبه ده

خرپ د سپينې تورې چې په برم
او په پرتم کې شي
حسن په در خو کې شي سرشاره
په ادم کې شي
ناڅاپه نغمه شي د رباب په
زير وبم کې شي
چيغه شي ټپه په خو بولې
شومه دم کې شي
ستوري ورته غږ دي، د اسمان
د سپوږمۍ ژبه ده

مسته په څپو څپو او مسته

له سېلابه ده
ښکاري راوتلې د سندرو له
دریابه ده
ته وا بلبلانو راایستلې له
کتابه ده
واه په تغزل کې ښایستو کې
تر ګلابه ده
جوړه ترې لنډۍ شي د درنې
ملالۍ ژبه ده

سرباندې يې لمر او سپوږمۍ
کېښي د غره څوکه شي
کله هم د غرونو د باغچې
زرکانو کوکه شي
ګوري چې سپېره غليم ته
تېره د تورې څوکه شي
زلفې د معشوق انځوروي د
قلم نوکه شي
جار د شرنګېدلي دريابي
شاعري ژبه ده

هر څو که د غرونو د اوبو
غونډې بې رنګه ده
پښې يې پر اغزو ایښې دي
سرې وينې ګلرنګه ده
پاس د ګل منار ته ورختلې
دنګه دنګه ده
ډېره خوږ اروا ده ته وا
پېغله غنمرنګه ده
جار يې شم کاروانه د خوږې
ښاپېرۍ ژبه ده

دغه شعر هم د پښتو د ډېرو نورو شعرونو په شان پر مينې څرخېږي، خو د کاروان مينه له پښتو سره ده. دليل به يې هم دا وي چې دا په اصل کې پښتو ده چې هغه ته يې د دې توان ورکړی چې دغسې وغږېږي، پښتو په واقع کې هر پښتون او هرې پښتنې ته چې هغه يې له اول نه خپله کړې وي، د شاعر کېدو

توان ورکوي. له همدې امله به وي چې ويل کېږي هر پښتون په ځوانۍ کې شاعر وي. لنډۍ چې پښتو يې شايد يوه بېجوړې ژبه گرځولې وي، په شاعرکېدلو کې اساسي ونډه لري. هرهغه چا چې د لومړي ځل دپاره د لنډۍ فارمول ايستلی د نورو لپاره يې د شاعرکېدو ور پرانيستلی دی. له همدې امله ده چې نن ورځ لنډۍ د اسمان د ستورو په شان بې شماره دي. دغسې پښتانه به اوس د گوتو په شمار وي چې په ځوانۍ کې يې لنډۍ او د نامتو سندرغاړي سيدعلم په شان "يکه زار" په جگ اواز نه وي ويلي.

لنډۍ زياتره د مينې په اړه وي او مينه خو هغه جذبه ده چې بې له هغې نه ژوند پيکه وي. د مينې کومه لنډۍ چې، د لومړي ځل لپاره په لغمان کې اورېدلې شايد دا وي:

پاس په اسمان کې گرزهار شو
چا ويل ملوک دی د بدری سلام ته ځينه

د لوړ تخيل لنډۍ هم په پښتو کې لږې نه دي چې دغه دوه يې د پښتنو د گوگوش شکيلا ناز په زړه هسکوونکي اواز کې سره غبرگې شوې:

د جانان سترگې مې يادېږي
په خوب کې وينم چې گيدلې راته کوينه

دا بله لنډۍ يې سوچه مبالغه ده، خو له لوړ تخيل نه پکې کار اخيستل شوی دی:

د پسرلي علامې راغلې
په هره پوله کې بنگړي مات شوي دينه

لنډۍ موږ ته دا هم ښيي چې پښتو د ولس ملگرې ده او له دربار سره يې جوړه نه ده. له دې امله به وي چې په پښتو کې غوړه مالي ځای نه لري. د

ملنګ جان په ترانو کې چې که څه هم دی دربار ته منلی و د غوره مالي څرک نشته، دا ځکه چې د ملنګ جان مینه له ولس سره، له پښتونستان سره او له پښتو سره وه، داسې هم په بلې سطح کې وتلي شاعران عبدالروف بې نوا او ګل پاچا الفت درواخلئ چې که څه هم لوړو رسمي مقامونو ته رسېدلي وو، غوره مالي يې نه ده کړې او انتباهي، اجتماعي او انتقادي شعرونه يې ويلي دي. له همدې امله به وي چې هېڅ پښتون شاعر تر اوسه د ملک الشعرا په لقب نه دی وياړل شوی، خو د پښتنو حتی لوی شاعران هم په لاپو وهلو کې شايد جوړه ونه لري.

د دوی دغه احساس شايد له ولس سره د دوی د نږدې والي له امله وي. امير کروړ ته غوږ شئ:

زه يم زمری پر دې نړۍ
له ما اتل نشته
په هند و سند و پر
تخار او پر کابل نشته
بل په زابل نشته له
ما اتل نشته

خوشحال خټک چې د نړۍ په کچه شاعر تېر شوی هم په دې برخه کې پټون نه دی پاتې.

د افغان په ننګ مې
وتړله توره
ننګيالی د زمانې
خوشال خټک يم

رحمان بابا سره له دې چې يو صوفي او اخلاقي شاعر و، هم لاپې وهلې. د ده دغه لاپه لا بربنده او زيږه ده.

خوشحالان او دولتان مې
غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه
عالمګير يم

يادداښت: دغه ليکنه ما د امريکې د کليفورنيا ايالت په فريمان کې په هغې مشاعرې کې لوستلې ده چې د افغان کلتوري ټولنې له خوا د مارچ په مياشت کې د افغان د نوي کال په مناسبت شوې وه. افغان کلتوري ټولنه هر کال د ننگرهار د نارنج گل په څېر د مشاعرې دغسې غونډه کوي.

# په معاصر افغانستان کې پښتو او د هغې په هکله يو څو خبرې

غواړم دلته پر پښتو ژبې په ولسي، رسمي او علمي سطح يو څه وليکم او په په پای کې په دې باب خپل نظر څرگند کړم. زما د غه ليکنه به يوازې په افغانستان کې په پښتو پورې منحصره او د هغې د حرکت په هکله وي. زما د دغې ليکنې اساس به هغه ليکنه وي چې نوم يې دی "پښتو او دفتر په دوو وروستيو پېړيو کې" د غه ليکنه ما د پرش کال له دمخه په کابل کې په يوه سيمينار کې لوستلې ده چې وروسته د پښتو چاپي آثار په دوو تېرو پېړيو په نامه يوه مجموعه کې خپره شوه او محترم ډاکټر خوشحال روهي د هغې يوه کاپي رالاستولې ده چې په دې وسله له هغه نه مننه کوم. په دې ډول زه دلته خپل پخواني ماخذونه بيا نه ذکر کوم، خو د نويو يادونه کوم.

## پښتو په ولسي سطح کې

له "وروستيو مهالونو" نه مې اتلسمه، نولسمه او شلمه پېړی مراد دي، ټوله اتلسمه پېړی هم په هغې کې نه راځي. د هغې پېړی يوازې دويمه نيمايي پکې راځي. په بل عبارت زما د دغې ليکنې دوره د سدوزيانو له واکمنی نه پيل کيږي او نږدې تر دې وختو پورې

رسېږي.
د سدوزيانو د واکمنۍ يا په پراخ ډول د درانيو د واکمنۍ غټه نښه دا ده چې د دغې واکمنۍ په پيل سره د پښتنو ستر قومونه درانيان، غلزيان او بردرانيان، (د سليمان يا د کسي د غرو درو پښتانه قومونه ) دننه په افغانستان کې په عمومي ډول ځای پر ځای شوي وو. د غلزيانو شايسته غټې برخې لا هم کري کال کوچي توب کاوه او د هغو يوه برخه ان تر برما او بخارار پورې تلله راتله. په درانيو او نور قومونو کې ځينې نيمه کوچيان او نيمه زارعان وو. دوی يوازې په اوړي او ژمي کې لنډ مزلونه کول. د نولسمې پېړۍ په پای کې د اميرعبدالرحمان خان په دوره کې له هندوکش نه اخوا سيمو او همدا راز په هرات او بادغيس کې زيات شمېر پښتانه مېشته شول، لکه چې له شوروي انقلاب نه وروسته له مېنځنۍ اسيا نه ازبکان، تاجکان او ترکمنان د نيم ميليون په شاوخوا کې په افغانستان کې د امو سين جنوبي سيمو ته کډوال او ځای پر ځای شول. د درانيانو، غلزيانو، کاکړو او نورو قومونو ځينې برخې د مرکزي افغانستان د هزاره جاتو، ارزگان او نورو سيمو کې مېشته شوې. د هزاره جات هغو پراخو ورشوگانو ته چې دولتي شوې وې، دايمي کوچيانو په قانوني ډول لار وموندله ياني هغه يې خپلې کړې. د دغو غټو واقعيتونو له ذکر نه مې مراد دا دی چې دننه په افغانستان کې د قومونو په پراخ اوزياتېدونکي تماس سره د افغانستان ژبو پر يوې او بلې باندې په زياتېدونکي ډول اثر واچوه. د ژبو پولې واوښتې راواوښتې او کلتوري تغيرونه پېښ شول. په بل عبارت په

افغانستان کې یوازې ځینې سیمې لکه
پکتیا، بدخشان او پنجشېر د ژبو له
پلوه خالص پاتې شول او نورې یې ګډې
شوې او د دغسې ګډودېدو لړۍ روانه او
قوي شوه.

د افغانستان په لرې لویدیزو سیمو
کې پر پښتو باندې د دري ژبې اثر
پرېوت. په ختیزو سیمو کې اردو او
انګرېزي پر پښتو اغیز وکړ. دغه
تاثیرات په ځینو سیمو کې دومره قوي
وو چې په هغو سره هغو پښتنو خپله ژبه
ګرد سره هېره کړه چې له افغانستان نه
د باندې اوسېدل. حتی دننه په
افغانستان کې یانې په هرات کې هم
سدوزیو، نورزیو او اڅکزیو پښتو له
لاسه ورکړه او دري ویونکي شول. لکه
تیمنیان چې په اصل کې کاکړان وو،
دمخه دري ویونکي شوي وو. حتی په
کندهار کې هم په درانیو ولسونو کې په
تېره د دوی په علمي کورنیو، دولتي
لوړ رتبه مامورانو او په واکمنې
کورنۍ کې دري نفوذ وکړ. په دوی کې دا
هڅه پیاوړې شوه چې د پښتو پر ځای په
دري کې لیکنې وکړي. په داسې حال کې
چې د هغو تر مخه د هوتکو واکمنې
کورنۍ په پښتو کې وینا وې او لیکنې
کولي او د پښتو په پرمختګ کې یې برخه
اخیستې وه. له احمدشاه دراني نه پرته
چې هغه په پښتو کې اشعار ویلي، د هغه
اخلاقو په دري کې اشعار وویل. داسې
هم په کندهاري سردارانو کې د طرزي
کورنۍ په دري کې په شعر ویلو کې نوم
وایست. د کندهار مورخانو لکه سلطان
محمد دراني او نور محمد نوري هم په
دري کې تاریخونه وکښل. په نږدې تېرو
وختو کې د کندهار نومیالیو پوهانو د
عبدالحی حبیبي او عبدالروف بېنوا په
شمول چې په لومړي سر کې یې یوازې په

پښتو کې لیکنې کولې او اشعار یې ویل ورو سته یې ا ثار ز یاتره په دري کې وکښل. په یوې بلې ستولې یانې د کندهار په ځینو کوچیو درانیو کې دري د پښتو ځای ونیو. دا هغه دراني کوچیان دي چې له پخوا نه یې د غوراتو له د ري ویونکو ولسونو سره راشه درشه لرله. د ډنمارک انتروپولوجست، کلوس فردنیاند، پخپل یوه اثر په افغانستان کوچي توب، کې لیکي چې "په لویدیز افغانستان کې زیات شمېر مالدارو خپله اصلي ژبه هېره کړې او دري ویونکي شو یدي". دی نظر څرګندوي چې "ځنګه چې کلتوري او چاپیریالي بندیزونه نشته، امکان لري د دغو مالدرو زیاته برخه په اوړدې مودې کې ایماق ګرځي... لکه هغه سې چې د ادر سکن شاوخوا نورزي دري ویونکي شوي دي".

البته په پورته یادو شویو سیمو کې د ژبو تاثیر دوه اړخیزه و، په دې تفاوت چې یو اړخ یې تر بل نه ډېر قوي و او په د غه حرکت کې دري پر پښتو باندې ډېر اثرکړی دی او دا د دغو وجوهو له امله:

۱- له هرات سره تماس: هرات په کلتوري او ژبني لحاظ د دري یوه ډېره نفوذ لرونکې سیمه ده. په تېره له مېنځنیو پیړیو نه را په دېخوا چې پښتانه اوسېدونکي یې روه ته ولېږدېدل. د اتلسمې پېړۍ په سر کې چې درانیانو په هرات کې د لومړي ځل لپاره دولت تاسیس کړ، هغوی هم د دري تر تاثیر لاندې لاړل. هغو نورو پښتني قومونو هم پښتو هېره کړه چې د تاریخ په اوږدو کې هلته مېشته شوي دي. دوی هم ورو ورو دري ویونکي شوي لکه سدوزیان، نورزیان او اڅکزیان، د غور تیمنیان هم چې په اصل کې کاکړ دي،

دري ويونکي شوي دي. د واک فونډيشن په قول "د هرات فارسي ژبي خلک اکثره پښتانه او يو څه يې ايماق او تاج دي"(۱) د همدغه واقعيت په سبب ده چې په دغې سيمه کې د نسب، تاريخ او احساس په لحاظ افغاني احساس دومره قوي دی چې څه وخت چې په تېرې پېړۍ کې ايرانيانو څو ځله پر هرات باندې نظامي بريدونه وکړل، هراتيانو له ځان او هرات نه په مېړانې دفاع وکړه او هغوی يې په شا وتمبول.

۲- د کار وېش: د کار وېش چې هغه پرکاست (Caste) باندې د بنا شوې هندي ټولنې تر څنگه د زمانې په اوږدو کې ورو ورو رامېنځ ته شوې ده، په افغانستان کې يې دغسې شکل ونيو چې د پښتو له خوربدو سره يې مرسته نه کوله. دا د پښتني قومونو له خوا د کسبونو غوره کول وو. پښتنو د سدوزيو د دورې په پيل سره د نورو ملکونو د نيولو، له وطن نه د دفاع کولو او د سياسي واکمنۍ د ساتلو او ټينگولو په منظور ځان ته وظيفې اختصاص کړې، نو په دوی کې او په خاص ډول په درانيو خېلونو کې زيات شمېر حاکمان او سرداران (جنرالان) هسک شول. همدارنگه درانيو او غلزيو په مېشته کېدو سره هم پراخې ځمکې ونيولې. د احمد شاهي فتوحاتو په دوره کې او همداراز تر هغه ورو سته په دوی کې لوی ځمکوال پېدا شول. په دې ډول دوی و له ښارونو نه د باندې پر زميندارۍ بوخت شول او د بزگرۍ، کتابت او سوداگرۍ کسبونه يې په زياته اندازه نورو ته پرېښودل. د مثال په ت ډول د احمد شاه دراني په وخت کې د کندهار دوه، دريمه برخې ځمکې د درانيو پر خېلونو باندې د دوېم وار لپاره په دايمي ډول

وویشلې شوې. (د نادر افشار په وخت کې د کندهار ځمکې د عبدالغني خان الکوزايي په مشرۍ د اول ځل لپاره وېشل شوې وې) او غېر دراني قومونه د هغو بزګري پر غاړه واخسته. فرانسوي ګرځندوی جي بې فرير پخپل کتاب "د افغانانو تاريخ" کې ليکي چې "همدا چې يو افغان د کومې ځمکې امتياز له خپل مافوق نه ترلاسه کړي، هغه له يو شمېر غويو سره فارسيوان ته سپاري او هغه يې ورته کري". همداراز د کندهار فارسيوانانو د درانيو سردارانو او زميندارو د مستخدمينو په حېث د هغو د عوايدو او جاګيرداريو د حساب او کتابت وظيفه اجرا کوله. پخپله درانيو او پښتنو په عمومي ډول د سدوزيي واکمنۍ په پيل سره د ميرزايي، کتابت او علم ته مخه ونه کړه. محمود طرزي د شلمې پېړۍ په سر کې د هغه مهال دغه حال په يوې مقالې کې چې عبدالغفور روان فرهادي هغه د هغه له نورو مقالو سره د مقالات محمود طرزي در سراج الاخبار افغانيه په نامه ايستلې، په دغو الفاظو بيانوي: "از طبقه عصر سابق هيچ يک خانزاده، سردار زاده در تمام افغانستان نيابيد که آنها از علم، حساب، هندسه يا سياق در قوم (که بميرزايي متعلق است) هيچ بهره يې داشته باشد و اگر (داشته) باشد بسيار کمياب که آنها هم هدف همان تحقير ها واستهزاها شده اند که درگذشت". خو لکه څنګه چې دمخه مې وويل، پښتنو د تورې او مېړانې په ډګر کې جوړه نه لرله. طرزي ليکي: " مردم افغانستان (افغانان) خلقتا خودها را بصف شمشير منسوب ميدانند، نه قلم! اهل قلم راه "ميرزا" و ارباب علم را " ملا" گفته آنها را در صنف مخصوص ميشمارند که

بعالم افغانیت هیچ سرو کار ندارند".
په همدې لړ کې طرزي د یوه ځوان افغان
تربیه کېدل په دې ډول ترسیموي: "....
در نزد عموم افغان ها یک افغان بچه
آن است که چست چالاک همراه تفنگ،
برکوه ها برجهد،خوب نشان بزند، تفنگ
چقمقي یا فتیله یې خود را به بسیار
زودي و چابکې برو خالي کند، شمشیر،
سیلاوه، پیش قبض راخوب استعمال نماید،
و اگر از صنف خانزاده و اصیل زادگان
باشد، بر سر این چیزهای ضروري
التعلیم میباید که اسپ بازي، و نیزه
بازي و تفنگ اندازي و شمشیر بازی را
برپشت اسپ هم بتواند. بعد از اتمام
این مهمات اگر یک قدری خواندگی و
نویسندگی هم بیاموزد جایز است اما
باز هم بدرجه "میرزایي" و "ملایی" از
چنان کسب ها محقرانه نبود که کسی آن
را هضم بتواند". مونت ستیورت الفنستن
د کابل سلطنت د شرح او بیان مولف
وایي چې په انګلستان کې د نورمانو له
فتح نه و روسته حال همدغسې و، لکه چې
اوس (۱۸۰۹) ازبکان همدا سې دي او په
پارس کې هم وضع تر څه حده همدغسې ده.
د ده په نظر د دغې وضع دلیل دا دی چې
حاکمو خلکو د سوداګرۍ کسب ته په ښکته
نظر کتل. دوی ځکه ورته په ښکته نظر
کتل چې نه یې غوښتل له خپلو ځمکو نه
لرې په ښارونو کې واوسي. په ښارونو
کې هغه لویان له خپلو نوکرانو سره
اوسېدل چې له دربار سره یې تعلق لاره.
د کار دغه وېش پر ټولنې باندې اثر
واچوه. په عمومي ډول پښتانه په
اطرافي سیمو کې پاتې شول او نورو
خلکو د حکومت اداري کارونو،
سوداګري او ښارونو ته مخه وکړه.
ښاریان د اطرافیانو په تناسب د اصل
او نسب او کسب او کار په لحاظ متنوع

شول. په دوی کې سیمه یېز او قومي احساسات یا ضعیف یا ورک شول. فارسي پکې ننوتله او تر دې حده خپره او قوي شوه چې ورو ورو اطرافي سیمو او حتی د پښتو ویونکو سیمو ته هم ننوتله. د درانیو په غېر پښتني بزګرو او همسایه خلکو کې یې هم لار پیدا کړه. په کندهار کې د درانیو هغه کوچیان چې په غوراتو کې د ځمکې خاوندان شول او تیمنیانو ورته کرله، هم فارسي ویونکي شول.

په ښارونو کې کابل په خاص ډول د فارسي مرکز شو. په دغه ښار کې د فارسي کېدو عملیه له هغه وخت نه وروسته قوي شوه چې هغه پر ۱۷۶۷ کال د تیمور شاه دراني په واکمنۍ کې د امپراتورۍ مرکز شو. په دغه ښار کې د فارسي کېدو عملیه په شلمۍ پېړۍ کې د واکمنۍ کورنۍ په فارسي کېدو او په خاص ډول له دویم نړۍ وال جنګ نه وروسته قوت وموند. په وروستۍ دورې کې په کابل کې د سردار پاینده خان بارکزي اولاده چې له هغې نه د یحیی سراج، خیابي، اعتمادي او طرزي کورنۍ پیدا شوې په لږ استثنی سره فارسي ویونکي شول. داسې هم په کابل کې ناصرو پښتو ترک کړه، فارسي ویونکي شول. د کابل په ځاځیو کې هم فارسي په پراخ ډول ورننوتله. د فارسي کېدو دغې عملیې د کابل پر خلکو په خاص ډول او د هېواد پر نورو ولسونو په عمومي ډول اثر واچوه. په دې چې کابل د هېواد د سیاسي، اداري، اقتصادي او په یوه کلمه لوی مدني مرکز په حیث مهم و، څنګه چې فارسي په عمل کې رسمي او دولتي ژبه وه او واکمنې کورنۍ هم فارسي ته مخه وکړه، د فارسي له لارې یو څوک د کسب او کار او دولتي

اعتبار او ښه ژوند خاوند کېدلی شو.
د کابل پرخلا په نورو سیمو کې چې پښتانه د نورو ژبو له ویونکو سره په تماس کې شوي دي، هغوی یې پښتو ویونکي کړي دي. دا چې په هزاره جات کې یو شمېر هزاره ګان پښتو وایي، د وردګو او هغو کوچیانو په سبب ده چې هلته د ځمکو خاوندا شوي او هزاره ګان یې ورته کري. حتی په هرات کې هم مېشته غلزیو پښتو ساتلې ده، خو د دې پرخلاف په کاپیسا، تخار او بدخشان کې تریـنان، توخي، ساپیان، ناصر،وردګ او دراني فارسي ژبي شوي دي. داسې هم په مزار. شبرغان او کندز کې هغه پښتانه لږو ډېر فارسي ویونکي شوي دي چې د امیرعبدالرحمان خان له وخت نه وروسته مېشته شوي دي، خو دوی په عمومي ډول په پښتو او دري پوهېږي. په عمومي ډول له هندوکش نه په اخوا سیمو کې حال همدغسې دی.
د پښتو کېدو عملیه په بردرانیو کې تر هر بل ځای نه قوي د ه. سره له دې چې پر دوی باندې د اردو او انګرېزي اثر پروت دی، د لیکنې او شاعرۍ په سویه د پښتو قوي کېدو عملیه د بایزید روښان په تحریک سره څرګنده شوه. لکه چې وروسته د هوتکو په دوره کې په کندهار کې قوي شوه. په بردرانیانو کې د روښان له خوځښت نه وروسته د پښتو سترو شاعرانو او لیکوالو لکه خوشال خټک، عبدالرحمان بابا، عبدالحمید مومند او افضل خان خټک د پښتو حرکت په بې ساري ډول سره پایدونکی، خورېدونکی او ټینګ کړ. په دغې پراخې سیمې کې د سندرغاړو سندرې او د ملایانو او خطیبانو وعظونه او خطابې هم په پښتو دي. دلته په اصل کې له غېر پښتني خلکو نه هم سندرغاړي او

ولسي شاعران راهسک شوي. په دغو پښتنو سره کسبگر، بزگر او نور چې د همسايگانو په حېث ژوند کوي په پښتو گړېږي لکه ملا گوري، تيراهي، سواتي، شلماني، پړبه، هندکي، سکان او هندوان. دغه همسايگان په عمومي ډول د ژبې، رسم و رواج له مخې دغسې پښتانه شوي چې له اصلي پښتنو سره يې فرق په مشکل کېدلی شي. سره له دې چې په ځينو پښتني ولسونو کې د همسايگانو شمېر له اصل پښتنو نه ډېر دی، په ننگرهار کی د لرغونو مهالونو داديکايا اوسني ديگانان هم پښتو ويونکي شوي د ي. په دې ډول د سليمان د غرو او درو پښتانه ولسونه هغسې چې د تاريخ په اوږدو کې خوندي پاتې شوي دي، هغسې يې هم پښتو ټينگه پاتې شوې ده. که څه هم لهجې يې سره متفاوتې دي.

## پښتو په رسمي سطح کې

په تېرو دوو پېړيو کې افغانستان په "مملکت افغاني" او ملي دولت د دولت عليه افاغنه په نامه يادېده. د تېرې پېړۍ په پای کې افغان دولت د "دولت خداداد افغانستان" په نامه هم ياد شو. البته افغانستان د يوه ملک په نامه له څوارلسمې پېړۍ را په دېخوا پېژندل شوی چې د پروفېسر ډورن په قول له ابلمن څخه تر اباسينه پورې سيمې پکې شاملې وې. په دې ډول که څه هم د سدوزيو واکمني په پيل سره ملک افغانستان او دولت يې افغان و او له هماغه اول سر نه يوه پښتنه کورنۍ پکې واکمنه شوه. دفتري ژبه يې پښتو نه، بلکې فارسي شوه، په ظاهر کې دا يو تضاد ښکاري، خو چې پر موضوع باندې د تاريخ له نظره رڼا واچوله شي، دغه تضاد واقعي نه دی.

د سامانیانو او په خاص ډول د غزنویانو له دورې نه وروسته فارسي چې په اوس وختو کې په افغانستان کې د دري په نامه یادیږي او د پوهاند نګهت سعیدي په نظر د غه وروستۍ کلمه په پنځمې پېړۍ کې څرګنده شوې ده. درباري او دفتري ژبه شوې ده. د هندوستان د دهلي اسلامي سلطنت چې په عمومي ډول د دهلي سلطنت په نامه یادیږي او هغه اول د سلطان محمود غزنوي په فتوحاتو سره تاسیس شو. فارسي د دربار او سلطنت ژبه شوه او هغه د پوهاند ضمیر ساپي په قول په "افغان فارسي" یا "فارسي کابلي" یادیده. خو په خپله فارس کې د صفوي واکمنې کورنۍ ژبه یوه ترکمني ژبه وه. سره له دې چې فارسي د دغه ملک دفتري او ملي ژبه ده. له بلې خوا د عثماني ترکیې په واکمنې کورنۍ کې فارسي ویل کېده.

په افغانستان کې درانیو اول په هرات او ورسته په کندهار کې دولت تاسیس کړ او یوه لویه خو کم دوامه امپراتوري یې جوړه کړه. تر هغو دمخه د هرات او کندهار دواړه سیمې د صفویانو تر اثر لاندې وې او دفترونه یې په فارسي چلیدل. نږدې دوه پېړۍ حال همدغسې و. احمدشاه دراني همدغې عنعنې ته دوام ورکړ، دا کار په هغه وخت کې عملي و، لکه هسې چې دمخه مې وویل پښتنو د میرزایۍ او کتابت کارونه نورو ته پرې ایښي وو. د میرزایۍ کار هغه وخت دربار ته وقف و او دولت یوازې پر ښارونو باندې په مستقیم ډول سلطه لرله. د اطرافي سیمو اداره او د مالیاتو ټولونه دولتي مشرانو یانې خانانو، ملکانو او اجاره ګرو کار و. په ښارونو کې فېصلې د شرعي او حکومتي مقرراتو له

مخې فېصله کېدې، په داسې حال کې چې په اطرافي سيمو کې شخړې په جرګو او مرکو سره اوارېدلې او مدني او حقوقي مسايل د شرعي مقرراتو له مخې د ملايانو له خوا حل کېدل، نو دفتري کارونه په مجموع کې لږ وو او پښتنو دغسې کارونو ته زړه نه ښه کاوه او لکه دمخه مې چې وويل په دوی کې حاکمان، سرداران او زميندارانو هسک شول او دوی د ملک ساتنه خپله غټه وجيبه بلله.

سربېره پر دې د فارسي په رواجولو کې تيمورشاه دراني، د احمدشاه دراني زوی، غټ رول لوبولی دی. دی چې په مشهد کې زېږېدلی دی او د ځوانۍ دوره يې د خپل پلار د وايسرای په صفت په پنجاب او هرات يانې په نا پښتو ويونکيو سيمو کې تېره کړې وه، د فارسي تر اثر لاندې تللی و. دا چې ده د پای تخت له کندهار نه کابل ته يانې يوه فارسي ژبي ښار ته نقل کړ، تر څه حده د همدغه تاثير له امله و. که څه هم د پايتخت په انتقال کې تر هغه نور قوي عوامل دخيل وو چې دلته يې له يادولو نه تېرېږم. د پښتو او دفتر روابط يا نه روابط د امير شېرعلي خان د ويمې دورې تر پا چايي پورې په همدې ډول وو. په دې تفاوت چې که څه هم فارسي دفتري ژبه شوې وه او دربار ته يې هم لار موندلې وه، واکمنان په پښتو او فارسۍ ګړېدل. مخصوصا اميرعبدالرحمان خان چې مور او نيا يې پښتنې وې. دی په پښتو، فارسي او ازبکي روان ګړېده.

## د پښتو د رسمي کېدو په لور هڅې

۱- د امير شېرعلي خان په دوره کې:

د امیر شېرعلي خان د دویمې پاچایی په دوران کې (۱۸٦۸-۱۸۸۰) پښتو د لمړي ځل لپاره د ملک رسمي او ملي ژبه اعلان شوه او په دغه حېث حکومت ته ننوتله. د پښتو لپاره دا یو انقلابي حرکت و، خو هغه پر افغانستان باندې د انگرېزانو په دوېم یرغل سره چې افغاني دولت ړنگ شو، په ټپه ودرېد. د امیر عبدالرحمان خان په پاچایی کې (۱۹۹۰-۱۹۹۱) پښتو له دفتر څخه په عمومي ډول بېرون پاتې شوه، خو د پخوا په شان په اردو کې پاتې شوه. د پښتو د رسمي کېدو دغه قصه به ژر بیان کړم، خو تر هغه دمخه غواړم د هغه پر علت وگرېږم.

امیر شېرعلي خان له څلور کلن داخلي جنگ نه وروسته چې د هغه په جریان کې یې د دوو کلونو لپاره واکمني له لاسه ور کړه، د دوېم ځل لپاره د ۱۸٦۸ کال د سپتمبر په میاشت کې بیا په واکمنی شو. په وطن کې په کورني جنگ سره ستر تغییرونه پېښ شول. په لومړي سر کې هغه محمدزایي سرداران یا په جنگونو کې ووژل شول، یا پرار کړای شول او یا له حکومتي کارونو څخه وایستل شول چې د امیر شېرعلي خان له رقیبانو سره یې مرسته کړې وه او یا یې د عنعنې له مخې د ولایتونو د جاگیرداری د عوې لرلې. امیر شېرعلي خان حکومتي لوړ منصبونه، د عنعنې پر خلاف، د لومړي ځل لپاره غېر خانداني کسانو ته ورکړل چې په هغو کې نورمحمد فوشنجي، حبیب الله وردگ، عصمت الله جبارخېل، ارسلا خان جبارخېل، ملا شاه محمد کتب خېل او قاضي عبدالقادر یوسفزي یې ډېر مشهور دي. داسې هم په هغې منظمې او دایمي اردو کې چې همدغه امیر د څه باندې شپږ پنځوس زره په

شمېر تنظيمه کړه پښتنو په تېره د غلزيو او وردگو په کې غټه برخه واخسته. په دې ډول د امير شېرعلي خان د دويمې پاچايۍ په دوران کې په نظامي او ملکي لوړو سطحو کې محمدزي سرداران له حکومتي منصبونو څخه محروم کړای شول او ځايونه يې پښتو ويونکو غېر محمدزيو پښتنو ونيوه. د نورو څيزونو په ډله کې په نوي اصلاح شوي دولت کې د ملکي او نظامي چارو د اغيزمن چلند لپاره پښتو ته ضرورت پېدا شو.

حافظ نورمحمد کهگدای د امير شېرعلي خان د اصلاحاتو په هکله د "اسناد و يادداشت های تاريخي" په نامه د شمس النهار او د رسمي فرمانونو له مخې د اريانا مجلې د لومړي او دوېم کال په گڼ کې يو لړ مهمې ليکنې لري. په يوې کې يې ليکلي چې "چون وی (امير شېرعلي خان) بقوم و زبان ملي خود فخر داشت، ميخواست زبان اين قوم که صلاحيت لفظي و معنوي را در خود جمع دارد علمي گردد و رواج يابد از آن رو در دوره دوم حکومت خويش در قطار ساير اصلاحات و موسسات وطن برای تعميم و اشاعه زبان ملي بيشتر توجه مخصوص کرده بود". په دې کې شک نشته چې امير شېرعلي خان لکه هسې چې کهگدای ليکي "بقوم و زبان ملي خود فخر داشت" خو د پښتو د رسمي کولو اصلي علت هغه ضرورت و چې دمخه مې د هغه ذکر وکړ. د غه مطلب د نظامي افسرانو له خوا هم د شمس النهار په يوې گڼې کې په دې ډول بيان شوی دی "..... در سابق محتاج يک شخص مجهول النسب قواعد دان بوديم، تا امور قواعد را بمايان بياموزد و هزار هاتب و زلت در حصول قواعد از دست آن ميکشيديم. الحال به سبب توجه کتاب که

عالیجاه فضایل نشان قاضي عبدالقادر، رایل ملتري سکرتر حسب الحکم و هدایات حضور پرتو بزبان افغاني بیان نموده است بخوبي فهمیدیم که درمیان خود مشکلات یکدیگر را حل نمایيم". البته د دغه ضرورت احساس او بیا هغه ته د عمل جامه اغوستل پخپل ذات کې ابتکاري او غټ عمل دی او دا د افغانستان د واکمنو په ډله کې امیر شېرعلي خان و چې دغه کار ته یې ملا وتړله، دا چې د نورو لویو اصلاحي پروګرامونو په ترڅ کې ده د پښتو د رسمي کولو لپاره کوښښ وکړو، ځرګندوي چې د ده ملي شعور ډېر قوي و. پښتو ته د همدغه "ضرورت" او پخپله د امیر د "نوي ملي شعور" په سبب و چې د هغه لمسي سردار عبدالقادر افندي (د سردار محمد ایوب غازي زوی) لیکي چې امیر شېرعلي خان ".... د امید سترګې د پښتو کمو لغاتو، اصطلاحاتو، متلونو او متلي افادو ته ونیولې چې هغه په یوې رښتنې ملي ژبې تکامل وکړي او د فارسي ځای ونیسي". د دغه مقصد لپاره "د پښتو کتابونه چاپ شول، د پښتو قاموس د لارښود په شان حتمي شو، واړه او لوی مامورانو په القابوو یاړل شول او په پای کې د پښتو بولی (امري کلمات) د افغان د جنګیالیو د ګڼو صفونو لپاره جوړې شوې او اشکال یې واوښتل. دغه مشکور واکمن ځان ژر په داسې حال کې وموند چې ادعا وکړي چې پښتو د هغه د وطنوالو ملي ژبه شوې ده.[(۲)] ". د دغه امیر په نظر" فارسي اماني بنکې" وې.

## د پښتو د ریفورمونو لنډیز

الف: د صدراعظم او د کابینې د هیات د غړو لپاره نومونه.

ب: له سپاه سالار نه تر حواله دار پورې په پښتو کې د منصبدارانو رتبې.

ج: ټولي نظامي قوماندې او بولی په پښتو کې.

د: د نایب الحکومه ګانو لپاره د پښتو القاب.

پښتو القاب او نومونه چې د امیر شېرعلي خان او هم د امیر عبدالرحمن په وخت کې اېښودل شوي دي.

| پښتو | دري یا نور |
|---|---|
| لوی ټول مختار | صدراعظم |
| لوی ملک | مستوفي الممالک |
| لوی مین د باندې | وزیرخارجه |
| لوی مین دننه | وزیرداخله |
| لوی مین د غرو | وزیر کوهستانات |
| لوی کښل | دبیرالملک یا سرمنشي |
| لوی نایب | نایب الحکومه |
| لوټولونی | خزانه دار کل |
| لوی ټولوال | رییس ګمرک یا چابوتره |
| سرام زټولمشر (څنګه چې و) | فیلډ مارشال |
| ټولمشر | لوی در ستیز، سپاه سالار |
| سرغټ مشر | نایب سالار |
| غټ مشر | جرنېل، جنرال |
| سرمشر پنځر (بیوتزر) | مېجر جنرال |
| غندناب | برګدمېجر |
| زرمشر | کرنېل |
| ناب | مېجر |
| لنداک | سارجن |
| ناب | اجیتنت |
| رسون | وردي مېجر (څنګه چې و) |
| سل مشر | رساله دار |
| پړکمشر | جمعدار |
| کوت لنداک | کوت دفعدار |

| | |
|---|---|
| ورکودن لنداک دار (ځنګه چې و) | لحادفعه |
| حوش لنداک | لیس دفعدار |
| کرناب | طرم مېجر |
| نعلبند | سرجن جراح |
| ډاکټر | طبیب |

***

| | |
|---|---|
| ټاپو | کمپ= Camp |
| غند | برگید=Brigade |
| کنډک سپور | رجمنت=Regiment |
| غنډک | تروپ=Troop |
| غبرګ غنډک | سکوادرون= Squadron |
| بلک | دویژن=Division |
| غبرګ څلور | فورز=Fours |
| پرک | سکشن=Section |
| نیم پرک | هاف سکشن= Half Section |
| ګورشی سم ببینید | طرف راست |
| ګور وړاند ببینید | پیش روی |
| ګورکین سم ببینید | طرف چپ |

شاعر میرزا عبدالرشید متخلص په رشید د شاهزاده عبدالله جان د ولیعهدی په ویاړ د پښتو نوي القاب له لوړ رتبه مامورانو سره یو ځای داسې بیان کړي:

علی الخصوص وزیران
صاحب تدبیر
که نام شان برقم بود
چون قمر تابان
نخست (نورمحمد)
لوټول مختار است
خطاب دیگران را تو

(صدراعظم) خوان
وزیر ثاني آن (لوی
ملک) (حبیب الله)
امیر دولت و )مستوفي
الممالک( دان
چه داشت (ارسله خان)؟
لوی مین د باندې لقب
(وزیر خارجه) باشد
به اصطلاح جهان
دگر وزیر نکورای
(حشمت الملک) است
بنام (لوی مین د غرو)
شهره (عصمت الله خان)
خطاب (ټولمشر) داشت
بیسکریان
معیر جمله خزاین لقب
(لوټولونی)
بنام (احمد علی خان)
زشاه دید فرمان
(دبیر ملک) (محمد
حسن) که (لوی کښل)
خطاب داشت زورگاه
حضرت سلطان

هغه شخص چې له امیر شېرعلي خان سره یې د اصلاحاتو په تېره د پښتو د رسمي کولو په هکله اساسي مرسته کړې، هغه قاضي عبدالقادر یوسفزی، مشهرو په قاضي قادر و، دی چې په اصل کې د پېښور یوې مشهورې قاضي کورنۍ ته منسوب و، عالم، شاعر،مصنف او مترجم و. په پښتو، اردو، عربي او انگرېزي پوهېده. په پېښور کې دی اول د تحصیلدار نایب و او وروسته له هغه چې له انگرېزانو سره یې مناسبات خراب شول، کابل ته راغی، دا هغه وخت و چې امیرشېرعلي خان دغسې اشخاصو ته ضرورت حس کاوه، څنگه چې قاضي عبدالقادر په

دولـتي چارو کې وارد و او پې ښوريـان هغه وخت د افغانـانو په شان ګڼل کېدل او دی هم د امير په شان د سمون غوښتونکی و، امـير دی د "افغانـستان د پاچا مصاحب" او نظامي منشي (Royal Military Secretary) په حېث مقرر کړو او د "شاوونکی" خطاب يې هم ورته کاوه. د سردار افندي په قول "قاضي عبدالقادر په قاضي قادرمشهور و، د پېښور د نابغه په حېث په قطار کې تر ټولو برسر کې و. په هر څه پوهېده، په څو کسبونو کې متخصص و، په ټولو کسبونو کې د صلاحيت او له نورو سره اشنا و. د افغان د ربار په دننني حلقه کې دغه مشاور به تل خپل پياوړی بادار او مطاع ته د پرمختګ لار په ګوته کوله دی خپل بادار ته له حد نه زيات وفادار و. په داسې حال کې چې خاينان به تل دېته تيار وو چې د اميرشېرعلي خان او د هغه کورنۍ ته پر دغه رښتيني شخص باندې د انتقادونو سختې ګولې واوروي... دغه قاضي پخپلې وفاداری او لياقت سره د خپل بادار اعتماد تر دې حده جلب کړی و چې د مخالفينو په مقابل کې يې ځان مامون ګاڼه"(۳) په واقع کې قاضي عبدالقادر نه يوازې د پښتو د علمي کولو او رسمي کولو بلکې په دولت او حکومت کې د اصلاحاتو د راوستلو په برخه کې د اميرشېرعلي خان لوی مشاور او مرستندوی و، دا چې ځينې کسان وايي چې اميرشېرعلي خان اصلاحات د هغه پلان له مخې عملي کړل چې سيدجمال الدين افغان ورته تهيه کړو، حقيقت نه لري. حقيقت دا دی چې اميرشېرعلي خان سيدجمال الدين د ۱۸۶۸ کال د نومبر په ۱۲ مه يانې پخوا تر دې چې پر اصلاحاتو يې پيل کړی وي، د

کندهار چمن له لارې هندوستان ته شړلی و. په هر حال، کهګدای لیکي چې قاضي عبدالقادر داسې کتابونه تالیف کړل چې په هغو کې د عسکري دري ګونو صفونو یانې سپرو، پیاده وو او توپچي لپاره بولۍ ګانې وضع شوې او نظامي قومندې له انګرېزۍ نه په پښتو واړول شوې او په فارسي کې شرح شوې دي. د ده یوه ترجمه قواعد عسکري لسان افغاني نومېږي او ۳۸۲ مخه لري. نورو هم په دې هکله تالیفات کړي لکه علم قواعد لشکر د دریاخان نیازي او نورو. قواعد پلتن د نامعلوم مولف او قواعد عسکري د محمد ابراهیم اجیدنت.

پر افغانستان باندې د انګرېزانو په دوېم نظامي یرغل سره لکه چې دمخه مې وویل هم نوی دولت او هم د هغه پښتو اصلاحات په عمومي ډول ترک شول، خو پښتو په نظامي برخې کې پاتې شوه او د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې چې دولت له سره تنظیم او تر بل هر وخت نه زیات متمرکز شو، د پښتو ملکي القاب هم ترک شول، دا له دې امله وو چې نوي واکمن دولتي عالي چارې او صلاحیتونه ځان ته منحصر کړل او څنګه چې د وزیرانو د کابینې هغه عصري شکل چې امیر شېرعلي خان جوړ کړی و، له مېنځه لاړ لوی القاب چې د قدرت تمثیل یې کاوه، هم پخپله ترک شول، البته د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې فارسي د دفتر یوازنۍ ژبه شوه او فارسي د دولت په حاوي کېدو سره تر هر بل وخت نه زیاته خپره شوه، خو د امیر شېرعلي خان د وختو نظامي القاب تر زیاتې اندازې پر ځای پاتې شول. سربېره پردې چې په دې وخت کې په پښتو کې یو شمېر تالیفات وشول، له ختیزو پښتنو سره د

امیر عبدالرحمن خان مراودي او هغوی ته د هغه فرمانونه او لیکنې په پښتو وې. د دربار په دارالانشا کې د پښتو څانگه پرانیستل شوه چې مشر یې ملامحمد خان "افغاني نویس" د عبدالله خان افغاني نویس پلار و. بله دا چې په پور ته اصلاحاتو سره یو شمېر انگرېزي لغات په اړول شکل په فارسي او پښتو کې ننوتل، لکه پلټن، اسپه تال، ډاکټر، اوربند، صفرمینا (Sappers and miners) او کارتوس، بله دا چې د امیر شېرعلي خان د پښتو ریفورم ولسي رنگ لاره، نه عربي او فارسي لکه هسې چې د روښانیانو په وخت کې و. د پښتو خاص صوتونه په خاصو تورو لکه ډ، ړ، او ڼ سره افاده شول او د لوړو منصبونو او القابو او مفاهیمو لپاره د پښتو عام فهمه ولسي کلمات په کار شول. په دغه کار سره د ملکي او نظامي منصبدارانو او مامورانو او په مجموع کې د ولس او حکومت ترمېنځ د ښې مفاهمې راوستلو لپاره ډگر هوار شو. په رسمي چارو کې اسانتیاوې راغلې چې دغه ټکي د افسرانو د ذکر شوې لیکنې او د شمس النهار له لاندې لیکنې نه څرگند دي: "آنچه جلد کتاب جهت رجمنت های سواره و پیاده و توپخانه حسب الفرمایش شاهي از زبان انگرېزي بزبان افغاني بذریعه عالیجاه معلا جایگا مقرب الخاقان فضایل و کمالات نشان (قاضي عبدالقادر خان پشاوري) رایل ملتري سکرتر افغانستان ترجمه شد. به افسران فوج ظفر موج از عرصه یک سال تعلیم میشد، الحال، به تفصیلات الهي بعد از یک سال موجد فرمان شاهي جناب رایل ملتري سکرتر بهادر امتحان آن افسران گرفت چنانچه هشتصد وچندنفر افسران

امتحان کامل و پوره و با تعریف دادند).
د ملي مصلحت تقاضا دا وه چې د امیر شېرعلي خان اخلافو په تیره امیر عبدالرحمن خان د هغه اصلاحات او په خاص ډول د هغه د پښتو حرکت له سره نیولی، اصلاح کړی او لا هم عمومي کړی وای، خو نه امیرعبدالرحمن خان او نه د هغه پاچا زوی امیرحبیب الله خان دغسې وکړل. دوی شاید له دې کبله داسې نه وي کړي چې دوی ځنګه چې د امیر شېرعلي خان د تربورې کورنۍ غړي وو، نه یې غوښتل د هغه نوښتي او اصلاحي پروګرامونه له سره ونیسي. نورو واکمنو په تېره هغوی چې له مخالفو خېلونو او ډلو څخه راهسک شوي دي، هم داسې کړي دي. په پښتنو په تېره د سر په پښتنو کې څه وخت چې کومه کشاله مخصوصا هغه چې د واک پر سر رامېنځ ته شوې، هغه د تربورۍ په چوکاټ کې اچول شوې او بیا تربوري په دښمني اړول شوې ده. په هر حال امیرعبدالرحمن خان په دغه اهمال سره په دولتي چارو کې د مداومت اصل تر پښو لاندې کړ او په دې ډول یې یوه مهمه ملي مشروعه موضوع بېرته وغورځوله.

۲- د محمد ظاهر شاه دوره: د پښتو د رسمي کېدو دویم حرکت له اول حرکت نه څه لږ نیمه پېړۍ وروسته د پاچا امان الله په وخت کې په کندهار کې پیل شو. وروسته په ۱۹۳۲/۱۳۱۱ کال د پاچامحمدنادر خان په اجازه د کندهار تنظیمه رئیس، محمد ګل مومند، په کندهار کې د پښتو انجمن بنیاد کېښود او د هغه ولایت دفترونه یې په پښتو واړول، دغه انجمن وروسته په کابل کې له ادبي انجمن سره یو ځای شو او بیا

په ۱۹۳۷/۱۳۱٦ کې پښتو ټولنه شوه. د کابل په نامه د انجمن مجله چې اول په دري او پښتو خپرېده، وروسته یوازې په پښتو خپرېده. (له ۱۹۵۸ څخه تر ۱۹٦۱) پورې د هغې د چلولو مسوولیت زما پر غاړه و). په دې ډول د پښتو دغه حرکت د پاچا محمدنادر خان او ورپسې د پاچا محمد ظاهر د واکمنۍ په اول کې په قوت روان شو او د هغه لپاره په دوو برخو کې کار کېده. رسمي او علمي.

## د پښتو د رسمي کېدو په لور هڅې

پر ۱۹۳۷ کال د سردار محمد هاشم خان د صدارت په دوره کې کله چې سردار محمد نعیم خان د پوهنې وزیر و د اصلاح په ورځني اخبار کې یو پاچایي فرمان خپور شو چې ویل یې پښتو دې د فارسي تر څنګه په دولتي دفترونو کې جاري شي او د هغه لپاره دې حکومتي مامووران د درې کلونو په موده کې پښتو دومره زده کړي چې هم پرې خبرې او هم لیک و لوست وکولی شي چې رسمي چارې په ښه ډول اجرا شي، ولس له مامورینو سره مفاهمه وکولی شي او د ولس او حکومت ترمېنځ مفاهمه حقیقي شي او ملي پیوستون نور هم ټینګ شي. د دغه مقصد لپاره د تدریساتو د لوی مدیریت له خوا مامورینو ته د دوی پخپلو دفترونو کې د پښتو د زده کړې کورسونه پرانستل شول. په اول سر کې حکومتي مامورینو د پښتو زده کړه جدي ونیوله، خو کورسونه که څه هم چالان وو، ورو ورو بې اثره شول. ددغو کورسونو د ناکامي نېغ علت دا دی چې د پښتو د تدریس لپاره له دارالمعلمینو او ادبیاتو پوهنځي نه فارغ شوي مسلکي ښوونکي نه، بلکې فقط با سواده، نیمه باسواده او په هر حال

غېر مسلکي ښوونکي استخدامېدل. د پښتو د تدریساتو د مدیریت مشران هم دغسې مسلکي او د صلاحیت خاوندان نه وو چې دغسې مهم مسلکي ماموریت سرته ورسولای شي. د ناکامی بېخکی اصلي علت دا و چې فارسي په دولتي مامورینو او تر دې لا مهم په حکمراني کورنۍ او نورو متنفذو کورنیو کې په قوت سره ننوتلې وه، داسې چې د واکمنې کورنۍ د نوي نسل نږدې ټولو غړو پښتو نه شوه ویلای او فارسي ژبې شوي وو او پښتو ورته د بېګانه ژبې حېثیت غوره کړی و. دوی ټولو له پښتو سره هغسې سلوک کاوه لکه میرې زوی یې چې اوسي. ځینو لا ملنډې ور پورې وهلې. د همدغو سلوکونو په سبب هغه حرکت چې څه باندې شل کاله وروسته د قانوني پاچایۍ په لسیزه کې د ډاکټر عبدالظاهر د صدارت په دوره کې په ولسي جرګه کې د ملت د زیاترو استازو له خوا د مامورینو د استخدام د لایحې دقانوني کولو په وخت کې پیل شو، هم ناکام شو. په دغې لایحې کې غوښتل شوي وو چې "د دولت مامور دې په پښتو او دري لوست او لیک وکولی شي".

په ولسي جرګه کې د دغه نظر پلویان ډېر او مخالفان لږ وو، خو دغو لږو مخالفانو د لایحې د قانوني کېدو مخه ونیوله. په دې ډول چې دوی غونډو ته نه ورتلل او د هغو قانوني نصاب نه پوره کېده، که حکومت او واکمنې کورنۍ پر دغې موضوع باندې لنګر اچولی وای لکه هسې چې یې د خپلو خوښو پر موضوعاتو باندې لنګر اچوه، لایحه به قانوني شوې وای، خو حکمرانې کورنۍ د پښتنو په هکله د امیرشېرعلي خان په اندازه ملي شعور او اراده نه لرله، که څه هم د اساسي قانون له مخې پښتو د دري په څېر د رسمي ژبې په حېث منلې

شوې وه. په دې ډول چې د هغې د يوې مادې په قرار "د افغانستان له ژبو نه، پښتو او دري رسمي ژبې دي" په بل عبارت د قانون له مخې د دولت مامور مکلف و چې په پښتو او فارسي پوه اوسي. بله دا چې د قانوني پاچايي په اساسي قانون کې پښتو دملي ژبې په حيث هم منل شوې وه.⁽٤⁾ پښتو ځکه د ملي ژبې په حيث منل شوې وه چې هغه د افغانستان زياتره افرادو ژبه وه او ده. د واک فونډېشن په ۱۹۹۷ کال د غه واقعيت د لومړي ځل لپاره په اعدادو کې افاده کړ. په دې ډول چې په افغانستان کې پښتانه د نسب له مخې په سلو کې ٦٣ او د ګړېدو له مخې په سلو کې ٥٥ دي.⁽٥⁾

نو په داسې حال کې چې د نولسمې پېړۍ په دويمې نيمايي کې د امير شېرعلي خان ريفورم د انګرېزانو په يرغل سره له مېنځه لاړ، هغه حرکتونه چې په شلمې پېړۍ کې د پښتو د رسمي کېدو لپاره وشول، د حکمرانې کورنۍ د نه پاملرنې په سبب ناکام شول، خو څنګه چې پښتو په ولس کې ټينګ بېخ لري، د هغې د رسمي کېدو لپاره غوښتنې کېږي او پښتو اوس غني او علمي شوې ده، نور نو بېرته غورځول کېدلای نه شي.

## د پښتو د علمي کېدو په لور هڅې

د پښتو د علمي کېدو او غني کېدو لپاره لومړنی اساسي ګام د پاچا محمدنادر خان په وخت کې د ادبي انجمن په تاسيس سره چې وروسته له هغه نه پښتو ټولنه جوړه شوه، واخيستل شو. پښتو ټولنې او وروسته د ادبياتو پوهنځي ترلسو نه په ډېرو ساحو په

تېره د پښتو ادبياتو تاريخ او گرامر په باب کتابونه خپاره کړل او د کلاسيکو شاعرانو کليات او دېوانونه يې په کراتو چاپ کړل. دوی همدارنگه د ښوونځيو لپاره درسي کتابونه هم برابر کړل. دغې ټولنې او تاريخ ټولنې دا کارونه د عبدالحی حبيبي، عبدالروف بېنوا، صديق الله رښتين او گل پاچا الفت په مشرۍ او همدارازد قيام الدين خادم او نورو ليکوالو او پوهانو په مرستې سره سرته ورسول. دغو پوهانو، شاعرانو، مورخانو او ليکوالو په عېن حال کې د اخبارونو او مجلو په چلولو او کلتوري او تاريخي ټولنو په چلولو سره د پښتو حرکت پياوړی کړ. پښتو يې غني کړه او د هغې په باب يې سياسي اجتماعي شعور ويش کړ. د دغه حرکت په رامېنځ ته کولو کې محمد گل خان مومند خو ځوونکی رول لوبولی دی. ده سربېره پر دې چې په کندهار کې يې د پښتو انجمن تاسسس کړ، د داخلي وزير او په عېن حال کې په ډېرو ولايتونو کې د تنظيمي د رئيس په حېث د وطن په ناارامو حالاتو کې په پوره صلاحيت، مسووليت او تقوی سره د امنيت په خوندي کولو او د هېواد په اداره کولو کې بې جوړې خدمتونه کړي دي. په عېن حال کې يې په پښتو کې يو شمېر آثار هم کښلي چې په هغو کې يې په دوه ټوکونو کې د پښتو سيند په نامه په ٧٦٥مخونو کې يو قاموس دی. هغومره چې محمدگل مومند دغسې اداري او عملي خدمتونه د پاچا محمدنادر خان او د سردار محمد هاشم خان د صدارت په لومړيو کلونو کې په زغرده او بري سره کړي، د افغانستان بل لوړ رتبه افسر نه دي کړي.

د پښتو حرکت د پوهنې له پراختيايي

حرکت سره جوخت روان و. په معارف کې مسلکي ښوونکي له دارالمعلمینونو، عالي دارالمعلمینونو او د ادب لو پوهنځي نه ووتل او د پښتو په تدریس او تعمیم کې یې برخه واخیستله. په دې برخې کې د معارف د وزیرانو په حیث د ډاکټر علي احمد پوپل او ډاکټر عبدالقیوم سهم بنسټیز دی. حکومت پخپلو انکشافي پلانونو او دوی پخپلو مسلکي تدبیرونو او ابتکاري پروگرامونو سره دمعارف په تعمیم کې غټ کارونه کړي. په دې ډول چې په کابل کې یې د خوشال خان او عبدالرحمن بابا د لیسو په پرانیستلو او په ټول وطن کې د ښوونځیو او لیسو په زیاتولو سره د اطرافي ځوانانو لپاره د تحصیل چانس برابر کړ چې په هغه کې طبعا د پښتو چانس د دوی د تناسب په قرار یانې ډیر و. د دغسې حرکت په نتیجه کې پښتو هم اوچته شوله.

د پښتو پوهنې دغه پراختیایي حرکت او ورسره د پښتو حرکت وار په وار قوي کیده، خو د ثور کودتا هغه زیانمن کړ او کورني جنگ له مینځه یوړ او موجود تعلیم کړي، دفکر او مغز اوتجاربو افغانان یې له وطن نه وتلو ته مجبور کړل. د دوی په وتلو او له مینځه تللو سره افغانستان هغومره چې په عمومي معارف سره په پرمخ تللی و، هغومره په شا ولاړ. د افغانستان معارف اوس د اوښ په قدم لار وهي، په داسې حال کې چې په لویدیزې نړی کې انسانان د ایلیکټرونیکي او کمپیوټر په مرسته چارې دسترگو په رپ کې اجرا کوي. په هر حال د پښتو په غني کولو د پښتو د پورته یاد شویو مخکښانو سهم به هغه وخت د دوی د اجتماعي او کلتوري چاپیریال په قرینه په ښه ډول معلوم

شوی وی چې د دوی پوره بیوګرافي ګانې ولیکل شي. د غو اطرافیانو په پرله پسې زیار، استقامت او د ربړونو په ګاللو سره په کابل کې ځانونه لوړو علمي او سیاسي مقامونو ته ورسول او د اساسي خدمتونو په کولو او د قیمتي اثارو په رامېنځ ته کولو سره یې خپل نومونه د تاریخ په پاڼو کې خوندي کړل او ځانونه یې سرمشق کړل.

## د پښتو د اینده په هکله یو څو خبرې

پښتو د پښتنو ژبه ده خو هر پښتون په پښتو ګړېدلی نه شي. د واک فونډېشن په موندنې سره په سلو کې اتو پښتنو په افغانستان کې پښتو ترک کړې ده. له افغانستان نه د باندې د پښتو د ترک کېدو تمایل تر دې هم ګړندی دی. په هندوستان کې یوسفزیان، لودیان، سوریان او نیازیان او په ایراني خراسان کې هوتکیان قوم بست بې پښتو شوي دي. په پاکستان او هندوستان کې هغه کسان چې د خپلو نومونو په اخر کې خان راوړي په اصل کې پښتانه دي، خو پښتو ویلی نه شي. په دې ډول پښتو په عمومي ډول مخ په ترک کېدو ده او پښتانه د هویت له بحران سره مخامخ دي. د هویت د غه بحران به د پښتنو اجتماعي او سیاسي ژوند هم متاثر کړي. د دی حال اغیز لا دمخه ظاهر شوی او پښتانه اوس په دفاعي حالت کې دي. دغه بحران په اصل کې د ډیورنډ د کرښې په تحدید سره په ۱۸۹۵ کال پیل شوی او په افغانستان کې د شلمې پېړۍ په پیل سره محسوس او مخ په قوت شوی دی. د دغې پېړۍ په پیل سره دربار او واکمنې کورنۍ پښتو ورو ورو ترک کړه او دولت ورته په دفترونو کې ځای ورنه کړ.

پښتو په عمل کې رسمي نه شوه، څنګه چې دولت وار په وار حاوی کېده په هغه کې د ژبې نقش مهم کېده، واک فونډېشن د هغو سروې ګانو او اساسي حقايقو په استناد چې په دغه هکله يې ترلاسه کړي، دې، نتيجې ته رسېدلی دی چې "د افغانستان امپراتوري او دولت جوړونکی پښتون قوم په کلتوري لحاظ په تاريخ کې يوډېر زيات مسخ کېدونکی او ورک کېدونکی قوم دی"(٦)

د پښتنو د غه "مسخ کېدل" او "ورک کېدل" په منطقه کې د افغانستان په وضعې پورې اړه لري چې دا موضوع دلته د بحث کولو نه ده. دلته به د غومره ووايم چې په وچې محاط افغانستان په دغې پېړۍ کې هم وروسته پاتې شوی او د تېرو شلو کلونو نارامي هغه نور هم وروسته پاتې کړ، په داسې حال کې چې د منطقې هېوادونه په تېره ايران او پاکستان پرمخ تللي دي. طبيعي ده چې د افغانستان او د دغو هېوادونو ترمېنځ د غه توپيرونه به پرمعارف اوکلتور باندې هم اثر واچوي او پښتو به هم متاثره کړي. په پورته دوو ياد شويو هېوادونو کې د غه نظر څرګند دی چې څنګه چې پښتنو د افغانستان په جوړولو، ساتلو او تنظيمولو کې اساسي نقش لرلی دی، معکوسا د پښتنو ضعيف کېدل به افغانستان هم ضعيف کړي چې په دې حال کې به دوی نسبتا په اسانی سره و کولی شي، هغه ترخپل نفوذ لاندې راولي، نو د دوی کوښښونه دغه ټکي ته متوجه دي چې افغانستان دې د پخوا په شان د پښتنو په مشرۍ سره يو خپلواک هېواد نۀ وي. ټول هغه مصيبتونه چې افغانستان ته اول د شوروي په يرغل سره او وروسته د همدغو ګاونډيو هېوادونو له خوا پېښ شوي دي، د همدغه

نظر په سبب دي، خو دا یوه سیاسي موضوع ده چې دا یې د سپړلو ځای نه دی. د موضوع په اړه به دومره ووایم چې په دغو هېوادونو او په خاص ډول په ایران کې دغسې کوښښونه روان دي چې د هغو په موجب پښتو باید ضعیفه یا ورکه شي چې څو پښتانه خپل هویت له لاسه ورکړي او افغانستان نور نو هغسې هېواد نه وي، لکه چې و یا حتی دی. د ایران په افراطي او حتی ځینو رسمي خلکو کې د پښتو ضد تمایل یو څرګند حقیقت دی. د ډېرو منابعو له مخې دغه افراطیون د پښتو اثار ترلاسه کوي او له مېنځه وړي. سربېره پردې چې د پښتو پر ضد تبلیغات کوي او ستمي ډوله افغانان د همدغه مقصد لپاره استخداموي او تمویلوي. د همدغسې کوښښونو په اثارو کې د کورني جنګ په دوره کې د افغانستان د علومو په اکاډمۍ کې د پښتو اثار له مېنځه یوړل شول. پښتو ته بل خطر تر دې لا بېخکی دی او هغه دا چې پښتانه له نورو کلتورونو او ژبو سره په تماس سره خپله ژبه د نورو ژبو په ګټه هېروي. لکه چې په دې هلکه د مخه وغږېدم، داسې چې که د دوی د ډېر شمېر په مېنځ کې یو کس هم دري ویونکی وي، دوی پښتو پرېږدي، په دري ګړېږي او یا کله چې له دري ویونکو نه ښځه په نکاح کړي، هغې ته موقع ورکوي چې اولادونه یې دري ویونکي کړي.

دلته نه غواړم ددغو خطراتو د دفع په باب لویو موضوعاتو ته لاس واچوم، داسې موضوعات چې دهغو طرح کول او عملي کول به په داسې حال کې چې په وطن کې نارامي ده، مشکل څه چې ناممکن وي. خبره دیو څو ورځو او وارخطایی نه ده . څنګه چې پښتو د افغانستان د ډېرو

خلکو ژبه ده، دوی د دې توان لري چې هغه له ورکېدو نه وژغوري، خو چې لیکوالان او د فکر خاوندان دوی د خپلې ژبې حال ته متوجه کړي. بې له دې چې د وطن له نورو ژبو نه توجه واړول شي، یا هغو ته د میرېِ زوی په سترګه وکتل شي. د افغانستان دټولو ژبو و یونکي افغانان او د وطن په ګټه او تاوان او ملي پیوستون کې سره شریک دي. له دې امله د هغو ژبې هم هغسې وړ دي، لکه پخپله چې دي. د هېڅ ولس ژبه نه مقدسه او نه د تحقیر وړ ده. دا پخپله ویونکي دي چې ژبې جوړوي او تغییر او انکشاف ورته ورکوي، نو د هر ولس قوت د هغه د ژبې قوت دی او برعکس په دې ډول پښتانه خپله پښتو هغه وخت په ښه ډول ساتلی او غني کولی شي چې پخپله قوي اوسي. یانې لکه څنګه چې دمخه مې وویل قوي اقتصاد ولري. د علم، پوهې او ټکنالوجۍ لوړې سطح ته رسېدلي او په مجموع کې غوړېدونکي او تولېدونکي کلتور ولري. د انحطاط په حال کې هم دوی کولی شي د خپلې ژبې غم وخوري او لیکوالان او د فکر خاوندان یې په دې هکله نظریات وړاندې کړي. په تاریخ کې د انحطاط په حال کې د ولسونو له افرادو څخه پاخه نظریات وتلي دي، خو د دې لپاره چې دغسې وشي قوي شعور او پخه اراده په کار ده. له ښه مرغه زموږ ډېرو لیکوالو دغسې شعور ښودلی دی. دا یوه ښه نښه ده. ځکه یوازې د دغسې خبرو اترو په نتیجه کې سم او د عمل وړ نظریات رامېنځ ته کېدلی او پښتني شعور قوي کېدلی شي. په اوس وخت کې دا هغه څه دی چې موږ ورته اړ یو، موږ په څو سببه هغه ته اړه لرو. لومړی پخپله د ژبې اهمیت دی. ژبه په اصل کې د فرد په انکشاف او په یوې

سیاسي جامعې کې د هغې په ټینګېدو یا شړېدلو کې رول لوبوي، فرد خپل احساس، فکر او عقل یوازې په ژبې سره څرګندوي. له ژبې نه غېر د غسې څرګندونه ممکنه یا پوره ممکنه نه ده. د ایډورډسیپر په نظر ".... ژبه د جوړښت په حیث، پخپل دنني مخ سره دفکر لپاره قالب برابروي". (۷) مانا دا چې په فرد کې دننه د ژبې په نامه هغه حل شوی جوړښت دی چې د هغه د هر هغه څه لپاره چې د هغه له مغز نه راوځي له الفاظو نه جوړ شوی قالب برابروي، که ژبه نه وي یانې له الفاظو نه قالب نه وي برابر شوی، د فرد ذاتي ملکات یانې د تفکر، تعقل، کشف کولو، جوړولو، استعدادونه به پر ځای پاتې وي او وبه نه غوړېږي. په دې ډول د فرد تفکر او تعقل په ژبې پورې اړه لري او هغه کشفیات ممکن کوي. سیپر بیا وایي چې "... ژبه د مادي کلتور تر ډېرو ابتدایي انکشافاتو نه دمخه موجوده وه او دغه انکشافات په واقع کې تر هغو ممکن نه وو چې ژبې د مهمې افادې د وسیلې په حېث شکل او صورت نه و غوره کړی". (۸) په دې حساب څومره چې یو فرد پر ژبې باندې حاکم وي یانې په هغې کې یې د افادې او بیان توان بې خنډه او زیات وي، دی هم په هماغه اندازه کولی شي، د خپل ذهن یا مغز محصولات په الفاظو کې بیان کړي او نور پرې خبر کړي. فرد دغه څه یوازې په هغې ژبې کې په ښه او دقیق ډول کولی شي چې له وړوکتوب یانې د خپل شخصیت د تشکل او تکامل په دوره کې یې وي او د شخصیت جز یې ګرځېدلی وي. همدغه سبب دی چې د هغه لومړنۍ ژبه د هغه د مورنۍ ژبې په نامه یادېږي. بله ژبه یا دویمه ژبه د هغه د مورنۍ ژبې ځای

نیولی نه شي. یو څوک هغومره چې پخپلې
مورنۍ ژبې کې ځان ازاد حس کوي، په
بلې ژبې کې یې نه کوي. هغومره چې
پخپلې مورنۍ ژبې کې ځان قوي او حاکم
احساسوي، په دوېمې ژبې کې یې نه حس
کوي. دی یوازې د خپلې مورنۍ ژبې
کلمات، اصطلاحات او افادې د ځان یانې
د خپلو احساساتو او افکارو د بیان
لپاره په اسانۍ او دقیق ډول
استخدامولی او په دې ډول خپلو ذاتي
ملکاتو ته انکشاف ورکولی شي. په دې
برخه کې به زه خپله تجربه بیان کړم.
زه اوس هم په انګرېزي یا فارسي ځان
هغسې افاده کولی نه شم لکه په پښتو
کې یې چې کولی شم که څه هم په
انګرېزۍ کې مې بې شمېره کتابونه
لوستلي، ځېنې مې پکې کړې او یو شمېر
کتابونه مې پکې کښلي دي، کله چې په
پښتو کې څه لیکم کلمات، افادې او
اصطلاح ګانې د رضا کارو غوندې رامخته
کېږي. په داسې حال کې چې په انګرېزي
کې زه ورپسې ګرځم. دا ځکه چې پښتو
زما اولنۍ، مورنۍ او زما د شخصیت د
تشکل د وختونو ژبه ده. که ما تحصیلات
او مکالمات پخپلې مورنۍ ژبه کې کړي
وای ملکاتو به مې تر دې ډېر انکشاف
کړی وای. په پښتو مطالعاتو کې زما د
درک اندازه تر هغو نه چې په انګرېزي
یا دري کې ده ډېره ده نو د خپلې
تجربې له مخې ویلی شم چې د نورو حال
به هم همدغسې وي. د پښتنو حال به هم
همدغسې وي، په داسې حال کې چې شمېر
یې پخپل ملک کې تر نورو وطنوالو نه
ډېر دی نه پخپلې ژبې کې لوړ تحصیل
کولی شي او نه یې ژبه دفتري شوې ده.
دا یوه غټه بیعدالتي ده. د دغې
بېعدالتۍ په سبب د افغانستان اکثره
خلک نه شي کولی خپلو استعدادونو ته

هغسې انکشاف ورکړي، لکه هغه وخت یې چې ورکولی شي چې عالي تحصیلات پخپلې ژبې کې سرته ورسوي او په رسمي او دولتي چارو کې پخپله مورنۍ ژبه وګړېږي او لیکنې پرې وکړي. که دوی دغسې وکولی شي د ولس دزیاتره برخې او دولت ترمېنځ به تفاهم او روغ نیتي راغلې وي. برعکس دغه بېعدالتي به په اوږده موده کې د جامعې یانې د ټولو وطنوالو په تاوان وي، د همدغې ملاحظې له امله چې زموږ مصلحانو دغه بېعدالتي یا ظلم درک کړی و او د علاج لپاره یې په ګډه یو فارمول ایستلی او هغه دا چې: "د افغانستان له ژبو نه پښتو او دري رسمي ژبې دي". سربېره پر دې څنګه چې پښتو د افغانستان د اکثرو خلکو ژبه ده، د افغانستان ملي ژبې په حیث هم منل شوې ده. دغه مصلحان حاکمان او دکتاتوران نه، بلکې د اعتبار وړ غوره شوي عالمان وو چې وروسته دغه فارمول د افغانستان د ټولو پرګنو او قومونو انتخابي استازو چې د خپلو موکلینو له خوا د دموکراسۍ په اصولو سره سم انتخاب شوي وو، په اساسي قانون کې هم مسجل کړ. البته دغه قانون وروسته لغوه شو، خو د ژبې دغه واقعیت له مېنځه نه دی تللی او قانون د دغه واقعیت له امله نه دی لغوه شوی. په بل عبارت په افغانستان کې د ژبو د مسالې د حل لپاره عمومي چوکاټ په اتفاق سره وضع شوی او اوس په کار ده چې هغه عملي شي او د دغه چوکاټ له مخې فرعي قوانین جوړ شي. یانې دا چې په افغانستان کې دې له سروال نه نیولې تر کاتب او چپړاسي پورې ټول هغه کسان چې له بېت المال یانې د ملت له خزانې نه معاش اخلي په پښتو او دري لیک او لوست وکولی شي.

پښتو دې د فارسي په څېر په نظر او عمل کې رسمي او دفتري ژبه وي او په ښوونځيو، پوهنتونو او قضايي محاکمو کې دې د قانون له مخې د اکثريت په حېث ځای ولري.

## پايليک


1- واک فونډېشن، د افغانستان قومي جوړښت، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز خپرونه، پېښور ۱۹۹۸،مخ ۳۳.
2- سردار عبدالقادر افندي شاهزاده گان او شاهي ملنگ، لاين پرس، لاهور، د خپرونې کال نامعلوم، مخ ۱۳۵.
3- پورتنی ا ثر. مخ ۱۳۰.
4- دوکتور بورگی، "د دموکراسی په لسيزه کې حزبونه" ازاد افغانستان (مجله) وری، غبر گولی، ۱۳۷۸-۱۹۹۹، مخ ٤۷.
5- واک فونډېشن، ياد شوی اثر، مخ ۵۰.
6- پورتنی اثر، مخ ۸٤.
7- ايډوډدزسيپر، ژبه هاردست بوک خپرونه، نيويارک، ۱۹٤۹-مخ ۲۲.
8- پورتنی اثر، مخ ۲۳.

دوهم څپرکی

# پښتانه
# لویان

میرویس نیکه ،
د افغان د
خپلواکۍ مخکښ
اگست ۲۰۰۵

د افغانستان موقعيت د هغه تاريخ په ژور ډول اغيزمن کړی دی، په دې چې د نړۍ نامتو سوبمنان د افغانستان له لارې يا د مېنځنۍ اسيا، يا د سهيلي اسيا يا د لويديځې اسيا په لور تللي او په افغانستان کې يې اثار پرې ايښي دي. دا چې نن ورځ په افغانستان کې ځلورو ژبنيو ډلو ته منسوبې ژبې، يانې هندو اروپايي، ترکي، مغولي، سامي او دراويدي ويلي کېږي په اصل کې د همدغه موقعيت له امله دي. د افغانستان دغه موقعيت تر هغو چې ا روپايانو سمندري لارې نه وې پرانيستلې او سوداګري د وچې له لارې کېده بېخي ډېر مهم و، تر زياتې اندازې د همدغه موقعيت له امله و چې په پخواني افغانستان کې دينونه هسک شول، يا پکې خپاره شول، خو د سمندري لارو له پرانيستلو ځخه وروسته چې افغانستان نور نو د کاروانونو او ترانزيتي سوداګريو لار نه وه ورو ورو ګوښه کېده او کلتور يې هم وچيده.

افغانستان د شپاړسمې پېړۍ په پيل سره د پارس د صفوي او د هند د مغولي امپراتوريو ترمېنځ وېشل شوی و، په دې ډول چې له اباسين نه تر کلات پورې د مغولو حکم چليده او کندهار او هرات د صفويانو تر اثر لاندې وو. دوی ځو ځله د کندهار په سر سره وجنګ ېدل. له هندوکش نه تر آمو پورې سيمې يا د ځايي واکمنو په لاس وې يا د شيباني خانانو تر حکم لاندې وې. په اصل کې افغانستان د ديارلسمې پېړۍ له پيل نه وروسته د چنګيزي مغولو په تاړاکونو سره مخ په شکته روان و او تاريخ يې د بېګانه وو تاريخ شوی و.

کندهار چې کوټه، ژوب او بلوچستان يې برخې وې او له کلات نه تر فراه

پورې پرته سيمه وه خپل تاريخي اهميت تر ډېره حده پورې ساتلی و او د دغې سيمې ډېرې برخې د هلمند، ارغنداو او د ترنک سينونو او د معتدلې هوا په لرلو سره تل ښېرازې او ابادې وې. له همدې امله به وي چې په کندهار کې ان تر تاريخ نه دمخه دوره کې خلک اوسېدلي او وروسته په هلمند او ارغنداو کې مېشتو گندهاريو په هلمند کې د گندهارا (Gandhar) په نامه ښار جوړ کړ چې د کندهار اوسني ښار د دغسې ښارونو په لړ کې وروستی ښار دی.

د مغولو او صفوي حاکميت په وخت کې په کندهار کې د ابداليانو ټول خېلونه او د غرزيو يا غلزيو څه خېلونه پراته وو او تاجکان، ملتانيان او نور يې تر څنگه اوسېدل او د کندهار ((ښار د باندې اکثر کلي او ولس ايرانيان وو)).[۱]

په عمومي ډول د غلزيو خېلونه له کلات نه تر کابل پورې د مغولو د کابل صوبه دار ترلاس لاندې وو او ابداليان چې احمد شاه دراني وروسته درانيان ونومول د کندهار د صفوي بيگلربيگي يا نايب الحکومه په سيمې کې وو خو دواړه قومونه پخپلو دننيو چارو کې خپلواک وو او چارې يې خپلو مشرانو ورتنظيمولې. د دغه مشران په اصل کې وروسته له هغه د زيات واک خښتنان شول چې ولسونه يې مېشته شول او کلي او ښارونه يې ودان کړل. ددغو مشرانو له نوميااليو نه سلطان خودکي (پوپل زی) او سلطان ملخي (توخي) وو او دوی په کال ۱۶۲۴ کې سره جوړه وکړه چې د هغې له مخې گرم اب د دوی د قومونو ترمېنځ گډه پوله وټاکله شوه. په دې ډول چې ختيځه خوا به يې د غلزيو او لويديځه سېمه به يې د ابداليانو وي. په دغې

جوړې سره د دوی د قومو نو ترمېنځ د شخړو مخه ونیوله شوه.[(۲)] د دغو مشرانو په نومونو کې د سلطان له کلمې نه معلومېږي چې دوی د زیات واک خاوندان وو خو په داسې حال کې چې سلطان ملخي د خپل ولس له خوا سروال غوره شوی و، سلطان خودکي د تاریخپوه سلطان محمد دراني په وینا ( بدون مشوره الوسات مشغول امر ریاست و متکفل کار حکومت گردید.))[(۳)] د سلطان ملخي سروالي د هند مغولي حکومت او د سلطان خودکي سروالي د صفوي حکومت منلې وه او د دوی ځینو مشرانو ته یې اعزازي لقبونه هم ورکړي وو، خو صفویانو د مذهب د اختلاف سره سره له پښتنو سره ښه چلند کاوه، په داسې حال کې چې مغولي صوبه دارانو یا والیانو ورسره بد سلوک کاوه، شاید له دې امله چې په ختیځه کې روښانیانو د مغلو په مقابل کې کلونه کلونه جګړې کولې او پښتانه قومونه یې په مقابل کې پاڅول.

په اصل کې لومړی شاه عباس صفوي (۱۵۸۸-۱۶۲۹) ابدالیان په دننیو چارو کې پخپل حال پرېښودل او ((په خپل شاهي فرمان یې د پښتنو خپل مشران پر هغوی باندې مقرر کړل)).[(٤)]

په دغه ډول د دواړو قومونو مشران نه یوازې په ولسي چارو کې بلکې په بین المللي سیاست کې په تېره د کندهار په سر د دواړو امپراتوریو په رقابتونو او جنګونو کې د تجربو خاوندان شول. عمومي وضع لږ و ډېر همدغه شان وه چې په کال ۱۷۰۲ کې د پارس شاه حسین صفوي ګرګین خان کندهار ته د بیګلربیګي په توګه وټاکه.

په کندهار کې د ګرګین خان تر راتګ وروسته غټې پېښې یو په بل پسې وشوې. دغه وخت په پارس کې شیعه ګان د رسمي

سیاست له مخې هڅول کېدل او د هغه پر عکس سنیان ځپل کېدل. د دغه سیاست له مخې ګرګین خان هم د کندهار سنیان تر فشار لاندې ونیول او له هغو سره یې دغسې چلند پیل کړ چې لکه یاغیان وي. له عسکرو نه خو یې افغانان په امان کې نه وو. [٥] غېر له هغه هم ګرګین دغسې یو کس و چې د حکومت په کولو کې یې له دسیسو او زور نه کار اخیست. دی چې اول عیسوي ګرجي و، په ګرجستان کې د صفویانو په مقابل کې پاڅېد او چې په جنګ کې مات شو، مسلمان شو او څنګه چې دی یو لایق جنرال و، پاچا دی وبښه او د شاهنواز په نامه یې یاد کړ او کندهار ته یې ولېږه چې دغه ولایت د مغولو له خطر نه وژغوري، ځکه چې مغولي پاچا اورنګ زېب اراده کړې وه چې کندهار بېرته ترلاسه کړي. [٦]

ګرګین چې له یوه شل زریز پوځ سره کندهار ته راغلی و، په دې لټه کې شو چې د ابدالیانو او غلزیانو عنعنوي خپلواکي ختمه کړي او د خپلې خوښې حکومت پرې جاري کړي. اول یې د ابدالي مشرانو پر ضد دسیسې وکړې او په شهر صفا کې یې د رستم خان سدوزي قوي ډله د هغه له مړینې نه وروسته وځپله او بیا یې د هغې مخالفه ډله د عزت سدوزي او اتل سدوزي په سروالي وهڅوله چې ارغستان پرېږدي او د کندهار په ختیځه خوا کې مېشته شي. هغوی همدغسې وکړل، خو ډېره موده نه وه تېره شوې چې پوځ ناڅاپه پرې ودانګل، ډېر یې ترې نه ووژل او ګرګین خان د هغو ډېر لویان کرمان ته وشړل او پاتې ابدالیان د شوراوک شاوخوا دښتو او غرو ته وکوچېدل. [٧]

د ابدالیانو تر ځپل کېدو وروسته غلزیان په کندهار کې د یوه لوی قوم

په توګه پاتې شول.[۸] دا وخت میرخان هوتک چې په میرویس خان یادېده، د غلزیو مشر و، دی که څه هم ځوان او شاید څه باندې دېرش کلن و (د زوکړې کال ۱۶۷۳) د خپل شخصیت له امله او دا چې د شالم خان هوتک مشر زوی او د خپلې مور نازو انا له خوا د سلطان ملخي توخي لمسی و، د مشرۍ مقام ته رسېدلی. دی د خپلې مایني، خان زادې له لارې د پوپل زیو زوم و او د هغوی په ډلبندیو کې یې برخه اخیسته. د میرویس غټ صفت دا و چې د ژوندیو پېښو او شخصي تجربو پر اساس یې تدبیرونه نیول او عملي کول. له دې امله دی په خاص ډول هغو سیاسي او ټولنیزو پېښو ته چې ولس یې په ژور ډول اغېزمن کاوه، متوجه و او کشالې یې له ولسي مشرانو سره په خبرو او جرګو سره هوارولې، په تېره چې دی د عصر نومیالی خطیب و او له خپلې شتمنۍ نه یې چې هم له پلاره ورپاتې وه او هم یې پخپله له هندوستان سره په سوداګرۍ کې ډېره کړې وه، د سیاسي مقصد د لپاره استفاده کوله. هغسې چې بایزید روښان په کندهاریو باندې د مغولو ظلم پارولی و، داسې هم میرویس د ګرګین خان په زورواکۍ سره پاربدلی و، خو په داسې حال کې چې لومړنۍ د خپلواکۍ غورځنګ په څرګند ډول شروع کړ او نابریالی شو. وروستۍ د خپلواکۍ حرکت د هم کارۍ په جامه کې په پټه پیل کړ او بریالی شو.

ګرګین خان د ابدالیانو له ځپلو نه وروسته میرویس هوتک ته رجوع وکړه، شاید په دې مقصد چې د دوستۍ په پلمه د ده قوم هم وځپي، خو میرویس هم له وروستیو پېښو نه عبرت اخیستی و او دېته حاضر نه و چې ګرګین خان یې

تېرباسي او هغه ته کومه پلمه برابره کړي، نو يې له هغه سره د همکارئ لار و نيوله او دښار د کلانترئ منصب يې ومنه او گرگين خان ته يې ځان دومره نږدې کړ چې د سلطان محمد دراني په وېنا "بيگلربيگی مذکور نيز اورا از دولتخواهان صادق و مخلصان موافق دانسته بې مشوره او به کاری نپرداختی و بغير اجازه اش اقدام صلح و جنگ نساختی و اکثر ماليات ديوانی دور دست را بمرافقت و موافقت او بدست اوردی" خو ډېره موده نه وه تېره شوې چې گرگين خان د ميرويس له وار په وار نفوذمن کېدو نه په اندېښنه کې شو او د دې لپاره چې د هغه په فکر ميرويس هم د دولت خان سدوزي په شان نه شي، اصفهان ته يې وشړه او له شاه حسين نه يې وغوښتل چې د کندهار د امنيت په خاطر هغه بايد هلته وساتل شي. دا هغه وخت و چې د گرجيانو د زور زياتي له امله په کندهار کې خلک ډېر په تنگ شوي او اصفهان ته د پښتنو د داد غوښتنې يوهيات نابريالی وطن ته ستون شوی و.

په اصفهان کې د ميرويس کړه په يقين سره څرگند نه دي، خو دا څرگنده ده چې ميرويس پاچايي دربار ته په لار پېداکولو سره معلومه کړه چې درباريان په مخالفو ډلو سره وېشل شوي چې پخپله پاچا يو ضعيف واکمن دی او د پارس امپراتوري مخ په شکته روانه ده او شيعه گان او سنيان په تېزگه سره مخالف شوي دي. په د غه ټکي باندې هم اتفاق دی چې ميرويس د سوغاتونو په ورکولو او پخپل خاص مهارت او فصاحت سره د گرگين خان په اړه شاه حسين او د هغه ځينې درباريان مشکوک کړل او د هغه پر عکس خپل ځان يې د پارس دوست

وپېژندل شوې نده. په یوه بېګانه ملک کې د سیاسي بندي میرویس دغه کړه ساري نه لري، په تېره چې هغه په مکه کې د حج له اداکولو نه وروسته د صدراعظم، اعتماد دوله له لارې ا جازه ترلاسه کړه چې په کندهار کې د ګرګین خان مشاور وي.

حاجي میرویس کندهار ته په ستنېدو سره له ګرګین خان سره د پخوا په شان هم کاري پیل کړه، خو ګرګین پرې ډاډه نه و او ویې غوښتل چې ویې ازمويي او د هغه لور یې خپل زوی ته په نکاح وغوښتله. د میرویس لپاره دا یو بل غټ مشکل و، ځکه چې د هغه وخت پښتنو دا خپل سپکاوی باله چې خپلې لونې پردیو ته په نکاح کړي. نو میرویس په کوکران کې د دغې موضوع په سر د قومي مشرانو د جرګې د پرېکړې له مخې خپله یوه وینځه د لور په نامه په نکاح ور کړه او ګرګین خان یې په دې ډول غافل او د ځان د وست کړ، خو د میرویس په مخ کې اصلي مسئله د خپلواکۍ وه او دی د صفوي دربار په کتنې، د ګرګین خان په زورواکي، د ګرجیانو په زور زیاتي او د خلکو په ناراضي توب د غې نتیجې ته رسېدلی و چې اوس د دې وخت دی چې ولس له بلواکي نه خلاص او پخپل واک شي، خو د دغه کار لپاره نه تنظیم و، نه وسله او نه پوځ او نه هم د وسله والې مقابلې توان. د خپلواکي ګټلو لپاره تقاضا هم عمومي نه وه او میرویس د خپلواکۍ د ګټلو او د حکومت د ړنګولو په اړه په مخ کې کوم مثال او سرمشق هم نه درلوده، خو پر دې ټینګ و چې د خپلواک کېدو وخت رسېدلی دی، که څه هم په کندهار کې شل زریز بېګانه پوځ ځای پر ځای او د ګرګین خان غوندې زورواک جنرال یې

قومندان و او د دوی ټولو شاته یوه امپراتوري هم ولاړه وه.

میرویس د خپلواکي ګټلو لپاره ځانله طرح لرله چې د هغې له مخې دی به په جرګو سره قومي مشران او د هغو له لارې د هغوی ولسونه د عمل لپاره اماده کړي او په عین حال کې بېګانه پوځ په حساس وخت کې برخې برخې کړي او د یوې برخې په لاندې کولو سره به د هغې له وسلې نه د نورو برخو په مقابل کې کار اخلي. د میرویس دغه طرح په شلمې پېړۍ کې د ستالین هغه وینا په زړه کوي چې "ښه دیپلوماسي د یوې فرقې کار کوي".

میرویس د خپلې طرح د عملي کولو لپاره هغه وخت لومړی ګام وچت کړ چې د کندهار په ختیځه دېرش کیلومتري کې په مانجه کې یې د قومي مشرانو او روحانیونو یوه پټه جرګه وبلله. ریدي خان مومند یوازنی کس دی چې پخپلې منظومې، محمودنامه کې یې د مانجې قصه راوړې چې د هغې ځینې برخې په پټه خزانه کې راوړلې شوې دي. بل ډول روایتونه هم شته. په هر حال د جرګې کال به یا ۱۷۰۸ یا ۱۷۰۹ وي. د دغې منظومې له مخې په جرګه کې د میرویس په مشرۍ د غو مشرانو ګډون کړی و. سیدال خان ناصر، بابوجان بابي، بهادر خان اندړ، ملا پیرمحمد میاجي، عزیز خان نورزي، یوسف خان هوتک، ګل خان بابړ، نور خان بړیڅ، نصروخان الکوزی، یحیی خان هوتک، حاجي نورمحمد هوتک مشهور په حاجي انګو او یونس خان کاکړ. جرګې پرېکړه وکړه چې د بلوڅو، کاکړو او ترینانو خانان به خپل ولسونه هڅوي چې د مالیو له ورکولو نه سروغړوي، یاغي کېږي به. تر څو ګرګین خان مجبور شي هغو خواو ته یو

ځه پوځونه واستوي او دوی یې هلته له مېنځه یوسي. مهمه دا ده چې جرګه وال خپلې جرګې او پرېکړې ته ر ښتین وو، دغه راز یې پټ وساته او پخپلې پرېکړې یې عمل وکړ.

ګرګین خان چې پخپل اند له دغه "بغاوت" نه خبر شو، شپږ نیم زره عسکر یې د میرزا سندل په قوماندانۍ د "یاغیانو" د ټکولو په مقصد واستول او ورپسې پخپله له زرو تنو خاصو سرپرېکړو سره ور روان شو او له میرویس نه یې وغوښتل چې له خپلو قومي ایله جاریو سره دارغسان په ده شېخ کې ورسره یوځای شي. میرویس لا د مخه ګرګین خان ته د امان الله هوتک په وینا ډاډ ورکړی و چې ((موږ او تاسې ته په کار دي چې په ډېره مېړانه او ثبات د داسې پېښو مقابله وکړو (او) زه پخپله و هر ډول فدا کارۍ او قربانۍ ته حاضر یم)).[۹] خو دارغسان په ده شېخ کې د نېغې نظامي مقابلې وخت رسېدلی و، په دې ډول چې د عبدالغفار هوتک د هوتک نامې منظومې له مخې اوه سوو ناصرو او هوتکو د میرویس په قوماندانۍ د ګرګین خان په زرکسیز پوځ باندې د شپې په ترګمۍ کې ناڅاپه برید وکړ او له مېنځه یې یوړل.

وو په شمار
اووسه سوه کسه
داسې څوک دی له
دې پسه
وده شېخ و ته
روان شوه
برابر پر
کافران شوه
تر صباح (پورې)
دوی جنګ که
پر کافرو (یې)

ځای تنګ کړه
د ټوپکو ټکهار
شو
دوی له خوب څخه
بېدار شو
نور دتورو
شرنګا شرنګ شو
د هوتک د ګرجي
جنګ شو
درسته شپه چې
دوی دا جنګ کړه
د همه افغانو
ننګ کړه (۱۰)

میرویس له هغه وروسته کندهار ته متوجه شو چې هلته دولس نیم زره عسکر ځای پر ځای وو. میرویس دمخه درې زره قومي ځوانان په وړو ټولیو کې پر دې مامور کړي وو چې د ښار رابطه له بېرون سره تر کنټرول لاندې ولري چې ایرانیان له پېښو نه بې خبره پاتې شي. پخپله میرویس او ملګري یې په داسې حال کې چې د ګرګین او د هغه دعسکرو جامې یې په تن او وسلې یې په لاس وې، د شپې په تیاره کې ښار ته ننوتل او په بیدساري چټکۍ سره یې ایرانیان یو ځای بل ځای له مینځه یوړل. وروسته یې له هغو دوه نیم زره عسکرو نه چې له بلوچستان نه کندهار ته ستانه شول، څه یې له مینځه یووړل او نورو یې د تباهۍ خبر اصفهان ته ورسوه.

د کندهار واک په دې ډول له پېړیو پېړې نه وروسته د لومړي ځل دپاره په کال ۱۷۰۹ کې دهغه د خپلو خلکو لاس ته ورغی. په تېره وروسته له هغې چې په ۱۷۱۱ کې د ګرجستان والي خسرو په قوماندانې دولس زریز انتظامي پوځ چې له اصفهان نه استول شوی و، د کندهار

له کلابندۍ نه وروسته هم په غوځه توګه مات شو، لکه چې زر وروسته یو بل ایراني پوځ هم مات او په کندهار باندې د پارس د حاکمیت لاس قطع شو.
د خپلواکي داعیې ته رښتین توب او له وطن نه د غاصبانو د شړلو ټینګ احساس میرویس، نور قومي مشران او ځوانان د خپلواکي په جګړه کې بریالي کړل. په دې اړه تر اوسه دغسې لیکنه لیدلې شوې نه ده چې څوک به د خپلواکي په داعیې ټکنی شوي، د میرویس په تدبیرونو شکمن شوی او د جنګ له میدان نه په شا شوی وي. د دې پرخلاف ټولو پښتنو او بلوڅو هم په جنګ او هم په جرګو کې د میرویس فکرونه او تدبیرونه په ټینګ ایمان عملي کړي دي. په اصل کې دا میرویس و چې په سختو شېبو کې یې هم دیوه رښتیني مشر په شان پاخه تدبیرونه ونیول او په جرګو او فصاحت سره یې قومي مشران او ځوانان د عمل لپاره وهڅول. په دې ډول دوی ټولو د خپلواکي د ګټلو و یاړ ترلاسه کړ او نورو افغانانو ته سرمشق وګرځېدل چې هغوی بیا د احمدشاه دراني په مشرۍ له آمو نه تر اباسین پورې خپل ټول هېواد خپلواک کړ. په دې حساب د مانجې د جرګې مشران د کندهار د خپلواکۍ او د شیر سرخ د جرګې مشران د ټول افغانستان د خپلواکۍ مخکښان دي او په ټولو افغانانو باندې یې د تل پاتې احترام حق پېدا کړی دی. اوس نو ټولو افغانانو ته ښایي چې د دوی کارنامې هر کال تجلیل کړي او د دو له ویاړ نه ډک میراث یانې د افغان د خپلواکۍ بېرغ د تل دپاره رپانده وساتي.

# یادښتونه


1- الحاج امان الله هوتک، د خپلواکۍ لمر ځرک، د هوتکو د افغاني دولت عروج او نزول. پېښور، ۱۹۸۹. ٦۰ مخ.
2- سلطان محمد دراني، تاريخ سلطاني، بمبۍ، ۱۲۹۸ هجري قمري، ٦۰ د خپلواکۍ لمر ځرک، ٦۰ مخ.
3- تاريخ سلطاني، ٦۰ مخ.
4- قاضي عطاءالله، د پښتنو تاريخ، پېښور ۱۹٤۷ء، لومړی ټوک، ۳۹ مخ.
5- محمد حسن کاکړ، افغان، افغانستان و مختصری از کوشش های افغان ها برای تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان، نشريه پوهنتون کابل، ۱۹٥۷، ٥۷ مخ.
6- افغان، افغانستان، ٥٦مخ.
7- تاريخ سلطاني، ٦۸-٦۹مخونه.
8- له دې وروسته د ليکنې په برابرولو کې دغو اثارو څخه استفاده شوې ده. لمر ځرک، افغان، افغانستان او د ليکونکي ليکنه په نامه د "قايد ميرويس هوتک او خپلواکي" په رڼا او دفاع يا د افغانستان، دنفوسو، تاريخ او روانو پېښو په باب ليکنې، تنظيمونکی محمدحسن کاکړ، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز، پېښور ۱۹۹۹، ۱۲۳. سلطاني تاريخ.
9- لمر ځرک، ٤۹ مخ.
10- عبدالغفار هوتک، هوتکنامه، سريزه، د حبيب الله رفيع، خپرونکی پښتو يون، پېښور ۲۰۰۰، ٥۸ مخ.

# د احمد شاه دراني په یاد

## ١٤ سپمتبر ١٩٩٤ء

د سویس نامتو تاریخ پوه، جکوب برکخارت Jacob Borckhardt وائي: "موږ اوسني او پخواني هغه کسان ستر ګڼو چې د هغوی کارنامې زموږ فردي شته والی تر تاثیر لاندې راولي او د هغو له ژوندانه نه غېر موږ د خپل شته والي تصور نه شو کولی"(١)

څنګه چې افغانستان یو لرغونی یانې د زرګونو کالونو هېواد دی، ستر کسان یې ډېر لرلي دي، نو ځکه د افغانانو ثقافت شمتن دی. که څه هم دوی په عصري تمدن او ساینس او ټکنالوجی کې وروسته پاتې شوي دي، دغسې سترو کسانو په خاص ډول په نظامي، سیاسي او اجتماعي ساحو کې خپلې کارنامې، وینااوې او په مجموع کې د خپلو لوړو شخصیتونو میراثونه موږ ته پرې ایښي دي، خو اوس موږ د شوروي له یرغل نه وروسته په سیاسي خالیګاه کې ژوند کوو.

په دغه دوره کې هم دننه په افغانستان او هم د باندې په مهاجرو افغانانو کې د سر کسان ترور شوي او نیست شوي. سره له دې هم موږ د ملي قاید په نه لرلو سره د حقارت عقده نه لرو. برعکس موږ د خپل غني سیاسي او نظامي ثقافت په برکت امید لرو چې یوه ورځ به د د جکوب برکخارت د تعریف له مخې کوم مشر یا مشران هسک شي.

په افغانستان کې په سیاسي او

نظامي ډګرونو کې وتلي مشران لږ نه وو. شېرشاه سوري چې په انګرېزي ویونکې نړۍ کې د ځنګله د زمري په نامه یادېږي په شپاړسمې پېړۍ کې په هندوستان کې اسلامي دولت جوړ کړ. د ده دولت دوه مره بنیادي و چې وروسته د مغلي امپراتورانو دپاره سرمشق شو. د شېرشاه کارنامه په دې ډول د هندوستان د خلکو په ژوند باندې د پېړیو پېړیو په اوږدو کې مؤثره وه. د همدغې پېړۍ په پای کې بایزید انصاري، مشهور په پیرروښان، د مغلو پر ضد یو تحریک مېنځ ته راوست. بایزید ولسي پرګنې په دغسې اصولو جلب کړې چې د هغه په فکر د هغه د پیروانو لپاره ګټور وو، لکه د شریعت له رعایت څخه خلاصون، یواځې د پیر د امر اطاعت او د بل چا نه، د غېر روښانیانو د اموالو ضبط او په افغانستان او هندوستان باندې د واکمنۍ چلول.(۲)

روښانیان د مغلي امپراتورۍ پر ضد هغه وخت پاڅېدل چې هغه د جلال الدین اکبر، جهانګیر او شاه جهان په مشرۍ په لوړه هسکه کې وه. د میا روښان له مرګ نه وروسته دده زامنو چې هر یوه یې ځان د پښتو پاچا اعلان کړی و، د پاڅون بېرغ رپانده وساته. جلال الدین روښان، وروسته له دې چې ټول مشر ورونه یې په مبارزو کې له لاسه ورکړي وو، په ځوارلس کلنۍ کې د پلار په مسند کښېناست. جلال الدین روښان د نړۍ د ډېرو فعالو مشرانو په ډله کې راځي. پیروان یې له کابل نه تر پېښور پورې فعال وو. یواځې یوسف زي ۲۳ ځله د مغلو پر ضد ولاړ شول. روښانیانو په مختلفو وختونو کې پېښور محاصره کړ او له کابل او غزني څخه یې مغلي حاکمان وشړل، خو په پای کې دوی ټول ناکام

شول. په بله پېړۍ کې خوشحال خان خټک هسک شو او پخپلو مبارزو او حماسي او ملي اشعارو سره يې مغلي امپراتوري ولړزوله. ده پښتانه يو ملت وباله او نېشنلستې نارې يې پورته کړې، لکه چې د ده له دغه بېت څخه ښکاري.

د افغان په ننگ مې وتړله توره
ننگيالی د زمانې خوشال خټک يم

د خوشال خان په وخت کې يوسفزي، مومند او اپريدي د مغلو د حاکميت پر ضد تر پښتونخوا لاندې ډېر وخت جنگونه وکړل، خو بيا هم د مغلو پوځونو ونه شو کولای په پښتنو کامل تسلط پيدا کړي.

ورسته له اورنگ زېب څخه د مغلي امپراتورۍ زوال پيل شو او افغانان بيا په خپلو ملي غورځنگونو پيل وکړ.

د ايمل خان او دريا خان په مشرۍ وجنگېدل. ايمل خان "ځان ته جنرال و، د پاچايۍ اعلان يې وکړ، پخپل نامه يې سکه ووهله او ټول پښتانه قومونه يې د ملي تحريک دپاره وبلل"(۳) څلور کاله يې له کابل نه تر پېښور پورې د مقاومت بېرغ هسک وساته او مغلي امپراتور اورنگ زېب يې پرې نه شود چې د پښتو په مقابل کې پرمختگ وکړي. پښتنو د مغلو ډېر پوځونه په شا ووهل او له ملک څخه يې ووېستل. اما اورنگ زېب پښتنو ته د سوغاتونو، معاشونو او جاگيرو په ورکولو او د داخلي ازادۍ په منلو سره په دې موفق شو چې دغه تحريک غلی کړي.

وروسته په کندهار کې ستر کسان هسک شول او هغه تحريک يې له سره ونيو، کوم چې روښانيانو او نورو په شرقي پښتونخوا کې پيل کړی و. دوی په مقصد ورسېدل.

ميرويس هوتک د اتلسمې پېړۍ په پيل کې د افغان واکمنۍ د بيا خپلولو دپاره د صفويانو په مقابل کې ودرېد، کندهار تر دې وخته پورې د صفوي امپراتورۍ يوره برخه وه او اصفهان د

د غې امپراتورۍ مرکز و. میرویس هوتک هم په تدبیر او هم په نظام زور سره گرگین خان، د صفویانو نایب الحکومه په کال ۱۷۰۹ کې له مېنځه یوړو او د صفویانو نورې لښکرې یې تارومار کړې. کندهار یې د صفویانو له قبضې څخه ازاد کړ، بیا یې د قوم لویان مخاطب کړل: "ډېر وخت کېږي چې د پارس خلک د انصاف او عدالت له پولو څخه اوښتي اوزموږ ولس او عزت یې په رنگ رنگ ټپي کړی دی"(٤) ده د صفویانو یوه حاکم ته څرگنده کړه چې "په یقین پوه شه چې د انتقام اخستلو وخت رارسېدلی او غېرتمن افغانان د پارس خلکو ته د جزا ورکولو لپاره د خدای تعالٰی غوره شوي وسایل دي. زموږ توري اوس ایستل شوې او تر هغو چې ستاسې پاچا له تخت څخه کوز نه کړی شي او هېواد مو لاندې نه شي، هغه به و نه پوښلې شي".(٥) میرویس خان تر خپل مرگ پورې په ۱۷۱۷ کې کندهار د یوه واکمن په حېث اداره کړ. خو، ټول افغانستان د ده په وخت کې خپلواک نه شو، خو دی بې له شکه څخه د افغانستان د واکمنۍ مخکښ و. د راتلونکو لپاره د خپلواکۍ د تکمیلونو د لارې مشعل وگرځېد. ټول تاریخي منابع دی د یوه ستر شخص په حېث ستایي. د ده کارنامو د ده د زوی، شاه محمود هوتک په کړو کې انعکاس وکړ. شاه محمود په ۱۷۲۲ کې د پښتنو، بلوڅو او هزاره گانو په مرسته د خپل پلار په وصیت سره صفوي امپراتوري ړنگه کړه. اصفهان یې له نهو میاشتو کلابند څخه وروسته ونیو او د صفوي امپراتور تسلیمي یې ومنله. شاه محمود دغه وخت شل کلن و، خو دی درې کاله وروسته د خپل قدرت په هسکه کې په عصبي رنځ اخته شو او د افغاني

لویانو د ده د تره زوی، شاه اشرف هوتک په پاچایۍ غوره کړ. په شاه اشرف کې د شاه محمود جنرالي او د میرویس مدبري یو ځای شوې وه. د پارس خلک یې د نرم سیاست په غوره کولو سره دلاسا کړل او له هغه وروسته یې په کال ۱۷۲٦ کې د عثماني ترکیې او یا زره متجاوز پوځ د احمدپاشا په مشرۍ پخپل واړه پوځ سره چې ټول شمېر یې دوه دېرش زره و، مات کړ او په دې ډول یې پارس له خارجي خطر څخه بچ کړ، خو څنګه چې ده ته له کندهار څخه چې هلته د شاه محمود ورور، شاه حسین هوتک واکمن و، د ترېورۍ په سبب ملاتړ و نه رسېد، شاه اشرف و نادرشاه افشار په مقابل کې په ۱۷۲۹ کې مات او وروړته په بلوچستان کې تلف شو.

په معاصر افغانستان کې احمد شاه دراني هغه واکمن دی چې د هغه شخصیت او کارنامې د افغانانو په ملي او فردي ژوندانه باندې تر هر بل واکمن څخه لا دوام لرونکې او لا اغیزمنې ثابتې شوې دي. د ده نفوذ د ده د کارنامو له لارې د افغان نسلونو ته تر نن ورځې پورې رانقل شوي دي. موږ ته د ده ستر میراثونه دا دي:

۱- خپلواک افغانستان.

وروسته له دې چې احمدشاه دراني په کال ۱۷٤۷ کې د کندهار د شیرسرخ په جرګه کې واکمن غوره شو، هېواد یې له آمو نه تر اباسینده پورې د مغلو، صفویانو او ازبکانو له تصرف نه وایست. دغه ستر کار ده په لږو انساني تلفاتو سرته ورسوه. د جلوس په اول کال کې یې غزني، کابل او پېښور تر آټکه پورې بې له نظامي مقابلې څخه ازاد او پنجاب لاندې کړ.

۲-امپراتوري افغانستان.

احمدشاه دراني په لس ځله لښکر

کشیو سره په پای کې افغانستان په امپراتورۍ بدل کړ. په دې مانا چې کشمیر، پنجاب، سند، بلوچستان او پارسي خراسان یې د مشهد په شمول د افغانستان تابع وګرځول. په داسې حال چې سلطان محمود غزنوي اسلام د هند په لویه وچه کې رایج کړ، احمدشاه دراني اسلام هلته د راهسکېدونکو مرهټه هندوانو له خطر څخه بچ کړ. په نتیجه کې ده زموږ په پېړۍ کې د پاکستان د اسلامي دولت د جوړېدو لپاره ډګر هوار کړ. د هندوستان مسلمانان د احمدشاه دراني دومره احسانمن شول چې دی یې د مغلو په طرز د شاهنشاه په نامه یاد کړ.

۳-دولتي نظم

احمدشاه دراني دننه په وطن کې د خپلواک دولت نظم مینځ ته راوست چې په سر کې یې خپله د باچا په حیث مقام غوره کړ. ده دولت یوازې د یوه قوم لپاره منحصر نه کړ، په داسې حال کې چې د دراني خېلونو مشران یې د سردارانو په نامه د نظامي او ملکي چارو مشران کړل او د خپل قوم نوم یې له ابدالي څخه دراني ته واړوه. د حکومت چارې یې د غېر دراني قومونو ته وسپارلې. منظم پوځ یې له غېر دراني قومونو یانې قزلباشانو څخه جوړ و، دري یې د دفتر ژبه کړه او دري ویونکو افغانانو دفتري ماموران شول. د دغې موضوع په هکله مورخ میرغلام محمد غبار لیکي: افغان ها "در عمل احمدشاه راعادلتر از قول یافتند و دیدند که اشخاص با کفایت بدون تبعیض از لحاظ نژاد و دین و مذهب در امور دولت شریک هستند. مثلاً والیان مقتدر احمدشاه در قلمرو او اینها بودند: در ولایت هرات درویش خان هزاره، در ولایت نېشاپور

عباس قلی خان بیات، در ولایت قلات اشرف خان غلجایی، درشکارپور دوست محمد خان کاکړ، در ولایت مشهد شهرخ افشار، در ولایت کشمیر خواجه عبدالله خواجه زاده، در پتیاله امیرسنگه سیک، در ولایت بلوچستان نصیر خان بلوچ، در پنجاب زین خان مهمند، در ولایت سند نورمحمد ملقب به شهنواز خان، در دیره اسماعل موسی خان، در ولایت ملتان شجاع خان ابدای، در پای تخت افغانستان هم رئیس دارالانشای احمدشاه، میرزا هادی خان قزلباش، مستوفی دیوان اعلی میرزا علی رضا خان قزلباش و خزانه دار کل هم یک نفر هندی بنام یوسف علی ملقب به التفات خان بودند."

٤-ایالتی اداره.

احمدشاه دراني د ولایتونو اداره قومي او ولسي مشرانو او خانانو ته پرېښودله او عمالو یې د هغوی په داخلي چارو کې گوتې نه وهلې. مگر هغه وخت چې امنیت به گډوډ شو. کورنیو، خېلونو او قومونو د عرف او عادت له مخې خپلې چارې په مخ بېولې او په دې ډول د جامعې بیخکي واحدونه د افرادو په شمول د حکومت له مداخلو څخه ازاد وو.

٥-پاچا

احمدشاه دراني دغسې شخص و چې دولتي قدرت ونه شو کولی دی مستبد او پخپل سر کړي. د پاچا او شاهنشاه په حېث یې هم د یوه عادي انسان په شان ژوند کاوه. غبار لیکي: "احمدشاه را بواسطه خدمت و اخلاق و تقوای شخصي او پدر میخوانند، غازي خطاب میکردند. زیرا احمدشاه تنها پادشاهی بود که در افغانستان تاج برسری نمی نهاد، دستار می بست و چپن و موزه میپوشید و عوض تخت بر زمین مفروش می نشست و مستقیما

با مردم در تماس میشد. با تواضح و پیشانی کشاده، سخن میزد. در حل و حمل قضایا انصاف را مد نظر میگرفت و در عېن حال از قوانینی که خود گذاشته بود، جدا پیروی مینمود. احمدشاه در طول سلطنت خود به عیاشي و تجمل نه پرداخت و حریص نبود و در برابر اهالی کشور متواضع و ملایم بود"(۷) احمدشاه د نړۍ له هغو واکمنو څخه دی چې په پنځه ویشت کلنې واکمنی کې یې یوازې د جنګ په ډګر کې وژل شوي دي. په نورو وختو کې د ده په امر څوک له ژوند نه محروم شوي نه دي. دغسې امپراتور به د نړۍ په سطح کې هم لږ وي.

د ده له مرګ نه څه باندې نیم قرن وروسته د ده امپراتوري ړنګه شوه اما د ده په عمده میراثونو کې د ازادۍ، خپلواکۍ، واکمنۍ او سیاسي نظام مفاهیم د افغانستان ولس د ژوندانه ا جزا ګرځېدلي دي. د همدغو میراثونو په سبب ده چې افغانان تر اوسه هم ده ته په قدر ګوري او د بابا په نامه یې یادوي، که څه هم دی په پنځه ویشت کلنی کې پاچا او په پخه ځوانۍ یانې پنځوس کلنۍ کې وفات شو.

# ماخذونه


۱-قوت او ازادي د جکوب برکخارت لیکنه، مري د پین کتابونه، نیو یارک ۱۹۵۵، مخ ۳۷۰.

۲-افغان، افغانستان و افغان ها و تشکیل دولت در هندوستان، فارس وافغانستان، تالیف محمدحسن کاکړ، نشریه وفا، پشاور ۱۹۸۸، ٦ مخ.

۳-ایضا مخ ٦٤.

٤-ایضا ۷٦مخ.

۵-ایضا ۷۸مخ.
٦-افغانستان در مسیر تاریخ، نوشته میرغلام محمد غبار، نشر کرده، موسسه چاپ کتاب، کابل، ص ۳۵۹.
۷-ایضا ص ۳۵۷.

# د احمدشاه دراني ميراث

اگست ۱۹۹۵ء

*دغه وړه ليکنه په اصل کې ما په هغې غونډې کې د لوستلو د پاره تهيه کړې ده چې ښاغلي روښان خادم د اگست د مياشتې په دولسمه د کاناډا د ټورانټو په ښار کې تنظيم کړې وه، ليکنه هلته ولوستل شوه او دا دی اوس يې خپلواکې ورمې ته د خپرولو لپاره استوم.*
*م.ح.ک*

ما پروسږ کال هم د احمدشاه دراني په باب تاسو محترمو ته د اوږدو لپاره يوه ليکنه استولې وه. دا دی اوس بيا دغه کار کوم. د تېرو لويانو يادونه د يوه ولس کولتور غني کوي، نو ځکه دغسې يادونې ضروري دي او مبتکرين يې بايد وستايل شي، نو زهٔ دلته د ښاغلي روښان خادم ته چې دغه غونډه يې برابره کړې ده، کور ودانی وايم. په عين حال کې وايم چې ښه به دا وي د دغسې يادولو لمنې پراخې شي او څو نوميالو ته منحصرې نه وي، هم بايد تکراري نه وي، متوازنې او انتقادي وي، تر څو د هغو په برکت واقعيتونه څرگند او بصيرتونه حاصل شي.

په معاصر افغانستان کې د نوميالو شمېر لږ نه دی. په همدغه سبب د افغانانو کولتور غني دی، خو د دغه کولتور نظامي او سياسي اړخونه تر نورو اړخونو څخه ډېر ټينگ دي. د دې حال علت شايد دا وي چې څنگه چې

افغانستان د نورو هېوادونو له خوا محاط دی افغانان له ځان نه د دفاع او د خپل هېواد د ساتلو لپاره فزيکي زور ته ډېره اړه لري. تاريخ ښيي چې هر وخت چې افغانان قوي وو، په شاوخوا ملکونو، په تېره هندوستان باندې يې دانګلي او کله چې ناتوان شوي وو، نورو پرې دانګلي دي، له دېنه دا سې ښکاري چې د يوه هېواد او په هغه کې د ملي دولت د ساتلو لپاره زور اساسي اهميت لري، خو د غه زور بايد يواځې نظامي نه وي، بلکې اقتصادي، علمي او تخنيکي بنسټونه پېدا او ټينګ کړي. که يې پېدا نه کړي د ملي، دولت او حتی پخپله د هېواد پايښت به مشکل وي. له بده مرغه د افغانانو زور نظامي پاتې شو، دا چې په دې وختونو کې زموږ هېواد او هېوادوال له سختو ستونزو سره مخامخ شوي دي، ممکن د همدغه حقيقت نتيجه وي.

احمدشاه دراني له نن څخه دوه نيمې پېړۍ دمخه د دولت په تنظيمولو پيل وکړ، دی هم د ميرويس هوتک په شان د ولسي مشرانو په اتفاق يانې په جرګې سره هسک شو، له هغه وروسته په جرګې سره د دولت تنظيمونه د افغانانو په سياسي ژوند کې يوه عنعنه وګرځېده. د دې مانا دا نه ده چې جرګې د ميرويس يا احمدشاه په وخت کې د لومړي وار لپاره د مرخېړيو په شان سرو وواهه. جرګه په اصل کې د پښتنو يو اجتماعي دود و چې په هغې سره يې خپلې کشالې اوارولې، خو د ميرويس او احمدشاه په وختو کې او هم تر هغه وروسته جرګو ملي خصوصيت پېدا کړ، يانې افغاني او تر څه حده رسمي وګرځېدې. په بل عبارت جرګې ټول ولس او ټول ملت ته منحصرې شوې. يانې کوم وخت چې به له داخل يا

له خارج نه هېواد ته کومه غټه پېښه متوجه شوه نو قومونو او پرګنو او همداراز د اجتماعي او مذهبي صفوفو لويان او حکومتي کسان به سره جرګه شول او د پېښې په باب به يې په اتفاق سره پرېکړه وکړه او حکومت به يې د هغې د عملي کولو لپاره وګماره. د احمدشاه دراني بل غټ ميراث دا دی چې ده که څه هم د لرو او برو پښتنو په هم کارۍ سره دولت تنظيم کړ، په چلولو کې يې د نورو وړو او لويو پرګنو کسان هم شريک کړل. دی په دغه اړه دومره دمخه ولاړ چې د دفتر ژبه يې يواځې دري کړه، که څه هم دی پخپله په پښتو کې شاعر و، دل ته د دغه ټکي يادونه په کار ده چې تر احمدشاه څخه دمخه ابداليانو په هرات کې دولت جوړ کړی و، خو احمدشاهي دولت ډېر مهم و او هغه په لږ تغيير سره نزدې تر دې وختو پورې دوام وکړ. هو، کومه هغه امپراتوري چې ده تنظيمه کړې ده، په کم وخت يانې په ۱۸۱۸ کې ړنګه شوه، خو د ده د امپراتورۍ غټ خصوصيت دا دی چې ده په هندوستان کې د مسلمانانو حاکميت له خطر نه بچ کړ، کوم چې تاداو يې د غزنوي او غوري پاچايانو اېښی و. که احمدشاه د هند مسلمانان له همدغه خطر څخه ژغورلي نه وای، ممکن ا وسني پاکستانيان هغسې په هندي کې پاتې وای، لکه تر سلو ميليونو څخه زيات نور مسلمانان چې پاتې دي.

د احمدشاه دراني بل غټ ميراث دا دی چې ده د پرديو حاکميت طرد کړ، افغانان يې خپلواک وګرځول او د خپلواکۍ د خوندي کولو لپاره يې يو قوي دولت جوړ کړ.

د خپلواکۍ هغه روحيه چې احمدشاه دراني پخپلو کارنامو سره پ افغانانو

او په خاص ډول په پښتنو کې تلقین کړه، دومره اغېزمنه ثابته شوه چې د هغې په برکت افغانانو حتی د خپل انحطاط په وخت کې هم د انګرېزانو یرغلونه په شا ووهل. په هغه وخت کې چې یواځې یو څو اروپایي حکومتونو په ټولې نړۍ باندې د تسلط جال غوړولی و، د یو څو نورو ولسونو په شان افغانانو خپله وفاداري خپلواکۍ ته ثابته کړه او خپل بېرغونه او د خپلې مېړانې شملې یې هسکې وساتلې. په ټولې نړۍ کې به کم ولسونه وي چې د افغانانو غوندې د غریبۍ په حال کې هم خپله سرلوړي، همت، مېړانه، ازادي او خپلواکي خوندي وساتي.

د احمدشاه دراني دغه او داسې نور میراثونه د ده شخصیت او د هېواد والو هم کارۍ ته منسوب کېدلی شي. د هېوادوالو مېړانه بېل بحث غواړي. د ده د شخصیت په باب باید وویلی شي چې دی د ډېرو امیرانو، پاچاپانو، امپراتورانو او شاهنشاهانو په خلاف حتی د خپل واکمنۍ او امپراتورۍ په هسکه کې هم متواضع، حلیم او د حضرت عمر(رض) په شان بې دبدبې و. د مورخ میرغلام محمد غبار په قول: "احمدشاه تنها پادشاهی بود که در افغانستان تاج برسر نمی نهاد، دستار مې بست و چپن و موزه می پوشید و در عوض تخت بر زمین می نشست او مستقیما با مردم در تماس میشد، با تواضع و پیشانی گشاده سخن میزد، در حل و حمل قضایا انصاف را مدنظر میگرفت. و در عین حال از قوانینی که خود گذاشته بود، جدا پیروی می نمود.

احمدشاه در طول سلطنت خود به عیاشي و تجمل نپرداخت و حریص نبود. او در هیچ جنگی از مقابل دشمن فرار

نکرده بود و در برابر اهالی کشور متواضع و ملایم بود... قطع اعضای انسانی را در مجازات و خشوع و خمیدن را در تشریفات تحریم نمود او خانواده و اقارب خودرا از مداخله و اشتراک در امور دولت دور نگهداشت."

په دغو حقایقو سره واکمن نه یوازې په افغانستان، بلکې په جهان کې هم ډېر کم موندل کېدلی شي.

# احمدشاه دراني

په تورانتو کې د ښاغلي روښان خادم د
راديويي خپرونې دپاره
اګست ۵-۱۹۹۲ء

احمدشاه دراني د افغانستان له نوميالیو واکمنو او پاچايانو له ډلې څخه دی. اما د افغانانو په ملي ژوندانه کې دده د کارنامو تاثيرات د نورو افغاني واکمنو تر تاثيراتو نه زيات او مهم دي.

يو دليل يې دا دی چې احمدشاه دراني د لومړی معاصرې دورې افغانستان موسس او واکمن دی. په ۱۷۲۲ کې زېږېدلی، په ۱۷٤۷ کې واکمن شوی او له هغه نه پنځه ويشت کاله وروسته په ۱۷۷۳ کې وفات شوی دی.

احمد شاه دراني په دغسې دوره کې واکمن ګرځېدلی دی چې افغانستان د غلزيو د لنډې دورې واکمنۍ نه وروسته د نادر شاه افشار په وخت کې خپله واکمني له لاسه ورکړې وه. تر احمدشاه نه د مخه يو موټی مستقل افغانان موجود نه وو. د کابل په شمول په شرقي افغانستان باندې بابري مغولو قبضه لرله. کندهار، فراه او هرات د صفوي فارس تر تسلط لاندې و. له هندوکش نه اخوا سيمو باندې د ازبکانو د منګيت کورنۍ حاکم وه. د منګيت د کورنۍ مرکز تر امو اخوا د بخارا ښار و.

احمدشاه د خپلې واکمنۍ په لومړيو کالونو کې په افغانستان باندې د باندنيو حاکميت ختم کړ. وروسته يې يوه پراخه امپراتوري جوړه کړه، د فارس خراسان يې ونيو، بلوچستان،

پنجاب، سند او دهلي يې اشغال کړل او کشمير يې لاندې کړ، اما د غه فتوحات يواځې د نظامي يرغل او ولجو لپاره نه وو، البته يرغلونه نظامي وو او ولجې هم ترلاسه شوي خو اساسي مقصد اسلام او د مسلمانانې واکمنئ ساتل وو. په ١٧٦١ کې دهلي ته نژدې د پاني پت له غوځوونکي جنگ نه دمخه چې په هغه کې د مرهټه وو په کراتو ډېرى لښکرې، د احمدشاه د لښ پوځ په برابرى ماتې شوې، هندوانو د هندوستان د مسلمانو کورنيو نژدې زر کلن حاکميت ته اساسي خطر پېښ کړى و. د هند مسلمانانو او په هغو کې د نقش بندئ د طريقې مشر، شاه ولي الله له احمدشاه نه د مرهټه وو په مقابل کې مرسته وغوښتله. احمدشاه هم په هندوستان کې د مسلمانانو د حاکميت د استقرار لپاره د نورو اسلامي امپراتورانو په شان لکه سلطان محمود، شهاب الدين غوري، خان جهان لودي، شېرشاه سوري، په هندوستان ودانګل او د خپلو بريو او فتوحاتو په نتيجه کې يې په هندوستان کې يې اسلامي حاکميت بېرته ځاى په ځاى کړ. د پاني پت د فتح د لېرې پايلو نه يو يې زموږ په عصر يانې په ١٩٤٧ کې د پاکستان د اسلامي دولت تاسيس دى. که احمدشاه په پاني پت کې د هندوانو ملي نهضت شنډ کړى نه واى، هندوان به په غالب احتمال په ټول هندوستان مسلط واى او په هندوستان کې به د مسلمانانو حاکميت ختم واى، لکه همدا اوس هم سل ميليونه مسلمانان د هندوستان په جمهوريت کې اوسي، خو ځانله حاکميت نه لري، نو په هندوستان يې د احمدشاه فتوحات اساسا اسلامي فتوحات وو چې هغه د ټولو مسلمانانو او په خاص ډول د پاکستاني مسلمانانو دپاره اساسي

اهميت لري.

بلـه دا چې احمد شاه د امپراتورۍ سيمې د هغو له داخلي واکمنو سره د قراردادونو او موافقه ليکونو له مخې اداره کېدلې. داخلي واکمن يې د خپلو سيمو په اداره کولو کې ازاد وو،. افغانستان ته به يې باجونه ورکول او افغانستان به د غه سيمې د نورو له يرغلونو او تاړاکونو څخه په امن کې ساتلې.

د احمدشاه دراني د واکمنۍ غټ ارزښت په دې کې دی چې افغانستان يې د يوه خپلواک هېواد په حېث تاسيس کړ چې تر اوسه يې دوام کړی دی. د احمد شاه مستقيمه واکمني د امو او اباسين ترمېنځ پرتو سيمو باندې چلېده، خو دغه واکمني د اوس په شان په مستقيمه ډول د حکومت د عمالو او مامورينو له خوا نه اداره کېده. افغانستان د لومړي ځل دپاره د امير عبدالرحمن د امارت په دوره کې په مستقيم ډول د حکومت د عمالو او مامورينو له خوا ادراه کېږي. د احمدشاه په وخت کې د ښارونو نه پرته نورو سيمو باندې حکومت د ځايي سيمو او قومونو، د مشرانو له خوا چلول کېده. په هره سيمه کې واليان، قاضيان، او نظامي مشران مې شته وو، خو د سيمو داخلي اداره نيمه ازاده او د هغو د مشرانو په لاس کې وه. حکومت د امنيت خوندي کولو وظيفه په غاړه درلوده، حقوقي دعوې به قاضيانو يا جرگه مارو حل کولې او ماليات نه به قومي مشرانو د حکومت لپاره ټولول. لويې شخړې به مشرانو په جرگو سره هوارولې. په دې ډول د ټولو سيمو مشرانو، ملکانو، اميرانو او بېگانو او خانانو د حکومت په کولو کې څه ناڅه برخه لرله او ولس

د حکومتي عمالو له تعدی او فشار نه خلاص وو. همدغه سبب دی چې د احمدشاه د واکمنۍ په دوره کې هېڅ قوم او ولس د حکومت په ضد قیام نه دی کړی. په بل عبارت د احمدشاه د واکمنې په دوره کې امنیت خوندي، ولس او خلک د حکومتي عمالو نه زبېښاک او ظلم نه تر هر بل وخت نه زیات مامون وو.

د احمدشاه د واکمنې د دورې ستر میراث د وطن خپلواکي او د افرادو ازادي ده. احمدشاه دراني په ځینو یرغلونو او فتوحاتو سره ګاونډي هېوادونه تر دومره زیات تاثیر لاندې راوستلي وو چې د دې توان یې نه لاره چې افغانستان ته په کږه سترګه وګوري.

هو، دوی هغه کوله، لکه څنګه چې یې توقع کېده، خپلې سیمې او ملکونه د افغانانو له تسلط نه ازاد کړي خو پخپله افغانستان مامون و. یواځې هغه وخت چې د احمدشاه د لمسیانو په دوره کې یانې کوم وخت چې دننه په وطن کې د رقیبو شاهزادګانو ترمینځ جنګونه روان وو، ګاونډیو هېوادونو له هغو نه په استفادې سره د افغانستان په اطرافي سیمو ودانګل، لکه چې د فارس د قاجار کورنۍ او د پنجاب سکانو د نولسمې پېړۍ په سر کې همدغسې وکړل. له هغه وروسته وو چې اول د افغانستان امپراتوري له مینځه لاړه او وروسته پخپله افغانستان هم ضیعف او کوچنی شو. د ډیورنډ کرښې نږدې نیم کړ، خو سره له دې هم د افغانانو د ازادۍ او خپلواکۍ غرور چې احمدشاه پخپلو کارنامو او فتوحاتو سره لا هم قوي او ټینګ کړ، دومره پیاوړی ګرځېدی دی چې تر اوسه پورې د وطن د ننګ او ناموس قوي مدافع ګڼل کېږي.

# د احمدشاه دراني په باب مرکه

## د جولای ۱۶مه ۱۹۹۳

د وفا د خپروني خبريال پوهاند کاکړ ته لاندې پوښتنې واستولې او هغه له ځوابونو سره موږ ته بېرته واستولې چې موږ يې دلته د درنو لوستونکو دپاره خپروو.

پوښتنه: د احمدشاه دراني د هسکېدو په وخت کې زموږ د هېواد وضع څنګه وه؟

ځواب: د احمد شاه دراني د هسکېدو په وخت کې زموږ د هېواد وضع څرګنده نه ده. دغه موضوع چا تر اوسه څېړلې نه ده. د دغه مهال يوازې د سياسي وضع اساسي کرښې يو څه څرګندې دي.

نادرشاه افشار په ۱۷۳۲ کې د هرات ابدالي دولت او په ۱۷۳۸ کې په کندهار کې د هوتکو دولت ړنګ کړ او د همدغه کال په اخر کې يې غزني،کابل او جلال اباد د هند بابري دولت له تصرف څخه وايست. يو بل پوځ يې د زوی په مشرۍ له مرو څخه تر بلخ پورې سيمې هم له ځايي حکم چلوونکو څخه خپلې کړې. په دې ډول په ۱۷٤۷ کې د احمد شاه دراني تر هسکېدو پورې نادر شاه افشار په افغانستان قبضه لرله، خو دغه لاس بری نوی او سرسري و. ځايي مشرانو نادرشاه افشار ته ماليات ورکول، خو خپلې سيمې يې د عرف او اسلام له مخې پخپله اداره کولې.

پوښتنه: د شېرسرخ د لويې جرګې په باب تاسې څه نظر لرئ؟

ځواب: افغانستان د جرګو هېواد دی

او افغانانو په بحراني وختونو کې لويې جرګې جوړ کړې او کشالې يې پرې هوارې کړې دي. له دې امله لويې جرګې د افغانستانو په ملي ژوندانه کې مهمې ثابتې شوې دي، په جرګو کې د شېرسرخ جرګه تر ټولو اغيزمنه وه. د دغې جرګې په برکت افغانانو د احمدشاه دراني په مشرۍ له خپل ملک څخه باندني نفوذ طرد کړ او هغه يې له آمو نه تر اباسينه پورې يو موټی کړ. برسېره پر دې دوی يوه امپراتوري هم جوړه کړه چې کشمير، شمالي هندوستان ان تر دهلي پورې او بلوچستان ان د هند تر بحر پورې او خراسان ان تر مشهد پورې په هغه کې شامل وو. دغه امپراتوري د درانيو د امپراتورۍ په نامه يادېده. بل ستر کار چې دوی د شېرسرخ د جرګې په برکت وکړ دا و چې حکومتي تاداو کښېږدي، دوی دغه بنسټ دغومره ټينګ کېښود چې نږدې دوه نيمې پېړۍ په ځای پاتې شو. د شېرسرخ د جرګې بل غټ ميراث ازادي او خپلواکي دي.

د شېرسرخ تر جرګې دمخه پښتانه د هند د بابري مغلو د لاس بري په مقابل کې جنګېدلي او د بايزيد انصاري په مشرۍ يې د روښانيانو خوځښت د شپاړسمې پېړۍ په دوهمې نيمايي کې پيل کړی و. د همدغه خوځښت په وروستي پړاو ياني د اولسمې پېړۍ په اخر کې خوشال خان خټک پاڅېد او د خپلواکۍ د بېرته خپلو لو لپاره يې شعري ناري سر کړې او وجنګېد. وروسته د اتلسمې پېړۍ په سر کې په لويديځ کې ابداليانو او هوتکيانو د صفويانو د لاس بري په مقابل کې پاڅېدل او وروستيو د صفويانو امپراتوري ړنګه کړه او پارس يې هم لاندې کړ، لکه چې احمدشاه دراني وروسته شمالي هند ايل کړ. د همدغو

خوځښتونو او په تېره د شېرسرخ د جرګې په برکت په افغانانو کې د ازادۍ او خپلواکۍ نيشې بېخ ونيو. افغانان اوس د يرغلګرو په شړلو او د ازادۍ او خپلواکۍ په ساتلو کې نوم لري.

پوښتنه: احمدشاه افغانستان خپلواک کړ، امپراتوري يې جوړه کړه او حکومتې ټېنګ تاداو يې کېښود، د ده د بريالي توبونو علتونه څه وو؟

ځواب: د دغې پوښتنې ځواب شرح غواړي، خو تشريح د علتونو يې دلته نه کېږي، د د غو علتونو په اب تر د غو نومونو لاندې په عمومي حکمونو بسياد شي.

١-باندنی حال: د احمدشاه دراني د هسکېدو په وخت کې د ګاونډيو هېوادونو سياسي اوضاع ټېنګه نه وه، د هند مغولي امپراتوري چې امپراتور بابر په ١٥٢٦ کې د هغه تاداو اېښی و، مخ په ځوړ وه. د احمد شاه دراني معاصر د هند شنهشاه ابوالفتح ناصرالدين محمد شاه چې تر اورنګ زېب وروسته واکمن شوی، د ټېنګې سړی نه و، په ١٧٣٩ کې نادرشاه افشار ته تسليم شوی و. هندوان هم د پېړيو پېړيو لاس لاندې توب نه وروسته د مغولي امپراتورۍ په مقابل کې پاڅېدلي وو او وروسته له دې چې دوی خپل مشر شيواجي خوځولي وو، له دکن ياڼې د هند له سهيل نه د شمال په لور خوځېدلي او ډېلی يې هم تر فشار لاندې نيولی و. په لويديځ ياڼې په پارس کې د نادرشاه افشار له مرګ نه وروسته څنګه چې جنګونه پيل شوي وو، مرکزي حکومت نه و، په دې ډول د افغانستان په لويديځ او ختيځ کې نه دا چې ټېنګ حکومتونه نه وو، سياسي خلاګانې وې او په دغو خلاګانو کې احمدشاه دراني يرغلونه وکولی شول.

۲-دننی حال: دننه په افغانستان کې لکه چې دمخه وویل شول، د اتلسمې پېړۍ په سر کې ابداليان او هوتکيان خوځېدلي وو، ابداليانو په هرات او هوتکيانو په کندهار کې دولتونه جوړ کړي وو چې وروسته نادرشاه افشار رنګ کړل. د ابداليانو دولس زره ييز نظامي غونډ چې د ابدالي مشرانو په سروالي د نادرشاه افشار په يرغلونو کې هم په عراق او هم په شمالي هندوستان کې برخه لرله، دغه مشران چې په هغو کې احمدخان ابدالي هم و، په نظامي او حکومتي چارو کې د تجربو خاوندان شوي وو، د ګاونډيو هېوادونو له اوضاع څخه باخبر شوي وو. دوی دومره مجرب او پاخه شوي وو چې د نادرشاه افشار تر وژل کېدو وروسته يې پرېکړه وکړه چې بايد ځانله حکومت ولري. دوی زر د مشهد له خبوشان نه ياني چېرته چې نادرشاه افشار په ۱۷٤۷ کې ووژل شو، کندهار ته ستانه شول او د نوي اباد شوي نادر اباد نوي ښار دننه په نظامي کلا ياني شېرسرخ کې سره جرګه شول او حکومتي تاداو يې کېښود.

۳- ښه تصادف: احمد شاه دراني له واکمن کېدو وروسته د دولت د تنظيمونو او د پوځ د برابرولو لپاره پېسو او مهماتو ته اړ و، خو هغه يې نه لرل او مجبور و له خلکو نه ماليات ټول کړي. خو دا سخت کار و. په افغانانو کې واړه زميندارن ډېر او لوی زميندارن لږ وو او زيات شمېر سوداګر او پانګه ور ملي نه وو. اقتصاد اساسا کليوال و او ښاري او ملي اقتصاد په اصل کې موجود نه و. له دغسې خورو ورور او بې شتو خلکو نه د پېسو په لاس راوړل مشکل وو. احمدشاه انديښمن او له ښې راتلونکې نه په شک کې و. له نېک

تصادف نه په همدغه وخت کې له هندوستان څخه د پارس په لور کاروان روان و او د دوو کروړو روپیو په حدود کې یې نغده او جنس یې د مالیاتو په نامه نادرشاه افشار ته وړل. احمدشاه دراني هغه ضبط کړل او په هغو سره یې سم دلاسه پوځ تنظیم کړ او د همدغه کال په کتوبر کې د ختیځ په لور روان شو. تر پېښور پورې بې له کوم مانع ورسېد او په پنجاب یې هم د ښه بري سره ودانګل او له ډېرو شتو سره کندهار ته ستون شو. په دې ډول احمدشاه دراني د پېسو او شتو خاوند شو چې په هغو سره یې حکومت جوړ او پوځ تنظیم کړ، بې له دې چې په رعیت باندې درانده مالیات کېږدي، د احمدشاه دراني د برى بل لوی علت د ده شخصیت و چې د هغه په باب به ستاسې د بېل سوال په مقابل کې څه وویل شي.

پوښتنه: د احمدشاه دراني د شخصیت په باب څه وایئ؟

ځواب: درې تاریخ پوهانو عبدالحی حبیبي، میرغلام محمد غبار او ګنداسنګهه د احمدشاه بیان په تفصیل سره کړی، خو یوه هم د هغه بیوګرافي نه ده لیکلې چې د هغه د ژوند حالا پکې ځېړل شوي وای، یوښوک بایده دده بیوګرافي ولیکي.

احمدشاه یو بریالی واکمن و، هم په یرغلونو، هم د دولت په جوړولو او هم له رعیت سره د ښه چلند په کولو سره. ښه تصادف هغه ته سمدلاسه شل ملیون نقد او جنس په لاس ورکړ. خو احمدشاه له هغو نه په ځای استفاده وکړه. احمدشاه دراني د نادرشاه افشار د چلندونو ناظر و، خو پېرو یې نه و. احمدشاه د خپلو کتنو او د خلکو د عرف او د اسلام له مخې چلندونه غوره کړل. د مثال په

ډول نادر شاه افشار به د یوې سیمې حکمران مجبور کړ چې له خپل توان نه زیات مالیات ورکړي. دغسې حکمران مجبور و، په خلکو تعدي وکړي او په نتیجه کې نارامي ګانې پېدا شي.
احمدشاه دراني د خپلې ټولې واکمنۍ په دوره کې چې ۲۵ کاله یې دوام وکړ، دغسې چلند غوره نه کړ، نو ځکه د ده په ضد خلک نه دي پاڅېدلي.
احمدشاه دراني له نادرشاه افشار څخه د پوځ تنظیمول او نظامي عملیات کول زده کړل، خو دی پخپله مبتکر، واقع بین نظامي جنرال و او د ده ابتکاري جنرالي په ټولو لښکرکښیو، په تېره د پاني پت په ستر جنګ کې څرګنده وه. په باندنیو نظامي لښکرکښیو کې دده بریالي توب په هېواد کې دننه په بري هم تمام شو.
احمدشاه حکومت جوړ کړ، ټول ملک یې یو موټی کړ، خو ده د غه کارونه د اجتماعي مقاولو له مخې وکړل چې په هغو کې و لس د خپلو مشرانو له لارې دخیل ګرځول شوی و. په دې ډول حکومت چې په ډېره لږه اندازه یې حکومت کاوه، په خلکو له پاسه په زور نه و تپل شوی، سره له دې هم یو شمېر سرداران د احمدشاه پر ضد جګ شوي خو احمدشاه پخوا له دې چې دوی امنیت ګډوډ کړي، وځپل. احمدشاه د ډېرو واکمنو پر خلاف د ځپلو او نابودولو واکمن نه و، خو زغم یې حد لاره، هغوی یې نه زغمل چې امنیت یې ګډوډ کاوه.
احمدشاه دراني په شخصي لحاظ د ښه سلوک خاوند و، په اخلاقي، دیني او اجتماعي ارزښتونو معتقد و، همدغه سبب دی چې خلک دی سره له دې چې په پنځوس کلنۍ کې په ۱۷۷۳ کې مړ شو، د احمدشاه بابا په نامه یادوي.

# د یوه مصلح غازي یاد

مې ۹-۲۰۰۶

غوښتل مې ستاسو دغې درنې غونډې ته د نومیالي مصلح او غازي د چکنور ملا صاحب په اړه یوه اوږده لیکنه تهیه کړم، خو په دغه کار کې د یوې سپکې ناروغۍ له امله چې تر اوسه هم راسره ده، پاتې راغلم.

د چکنور ملا صاحب چې اصلي نوم یې امیرمحمد او د افغانستان د ننګرهار ولایت اوسېدونکی و، که څه هم یوه نیمه پېړۍ دمخه پېدا شوی و، تر اوسه هم په خلکو کې په عزت سره یادېږي او د مومند درې د چکنور کلي چې دی پکې زېږېدلی و، د ده له برکته په ټول ننګرهار کې مشهور شوی. ده ځان "فقیر چکنور" بوده. دی سره له دې چې عالم، غازي او اجتماعي مصلح تېر شوی دی، حان یې خپل کلي ته منسوبوه چې مومند پکې اباد وو.

په مومندو کې نومیالي کسان ډېر تېر شوي دي. له پنځلسمې پېړۍ نه وروسته چې مومندان له خپل اصلي ټاټوبي یانې د کندهار له مرغه نومي ځای نه اول غزني ته او بیا خپلې اوسنۍ سیمې ته راغلل، په دوی کې د سر دغسې کسان تېر شوي چې نه یوازې یې په مومندو کې بلکې په ختیځو پښتنو کې هم د نفوذ او اعتبار خاوندان وو. دوی ځکه دغسې غټ اعتبار ګټلی و چې نه یوازې یې د خپل ځانګړي قوم لپاره، بلکې د ټولو پښتنو د داعیې لپاره

هلې ځلې کولې.
ایمل خان مومند د روښانیانو د تحریک په اخر کې د مغولو د تسلط په برابر کې د پښتنو د خپلواکۍ بېرغ د کلونو کلونو لپاره رپانده ساتلی و. سعادت خان مور چې خېل مومند چې څلوېښت کاله د مومندو خان و، په نولسمې پېړۍ کې په انګرېزانو بې شماره یرغلو نه کړي وو. غازي محمد ایوب خان چې د خپلواکۍ په لار کې یې په مېوند کې ابدي ویاړ ګټلی، ممکن له خپل دغه نیکه نه د غېرت او ننګ الهام اخستی وي.
په ۱۸۹۳ کې په افغانستان باندې د ډیورنډ د موافقه لیک له تپل کېدو نه وروسته په ختیځو پښتنو کې د مبارزو هڅې لا تېزې شوې او مومندانو په دغو مبارزو کې غټه ونډه لرله. نومیالي لیکوال میراجان سیال مومند په دې اړه یوه ځانګړي کتابګوټی لري، په نامه "د مومندو غزاګانې" د دغه لړ لومړنۍ هڅه په ۱۸۹۷ کې د ټولو ختیځو پښتنو ستر پاڅون و چې په هغه کې ملا نجم الدین اخوند چې د هډې صاحب ملا باندې یادیده، غټه برخه لرله. د چکنور ملا صاحب چې د هډې ملا صاحب شاګرد و، له هغه وروسته لکه په وزیرستان کې میرزاعلي خان چې د ایپي فقیر باندې یادیده د غزا جنډه رپانده وساتله او غزاګانې یې له هغه وخت نه د پاچا امان الله په واکمنۍ کې د خپلواکۍ ګټلو تر جنګه پورې روانې وې چې تفصیل یې میراجان سیال پخپل کتابګوټي کې ورکړې په نامه د "نومیالي غازي چکنور ملا صاحب" د چکنور ملا صاحب یوازې غازی نه و، اجتماعي مصلح هم و. د ده د اصلاحي کارونو اهمیت په دې کې دی چې په مومندو کې لکه په نورو ختیځو پښتنو

کې چې حکومت ضعیف و، اجتماعي رواجونه قوي وو، یوازې هغو کسانو د هغو د اصلاح لپاره څه کولی شول چې د علم، تقوا، ښه سلوک په لرلو یا یې د خپل لوړ شخصیت په سبب په خلکو کې معنوي نفوذ ولري. د چکنور ملا صاحب په خلکو کې دغسې نفوذ لاره، لکه چې ګل پاچا الفت وایي چکنور ملا صاحب "په ازادو سرحدونو کې، په ننګرهار او کابل کې ډېر ارادتمندان لرل او ډېر وران ویجاړ کارونه په ده سمېدل، ډېرې بدۍ او دښمنۍ ده اوارولی شوې، ډېر خلک یې د غزا لپاره له ځان سره روانولی شول او د ډېرو خلکو لوښې او خوېندې یې بې ولوره په ډېر لږ مهر خپلو مېړنو ته ودولی شوې."

له همدې امله و چې لکه بیا هم الفت وایي "هغه کار چې ده د ازاد سرحد په مومندو او شنوارو کې کولی شو، اوس یې یو ریاست قبایل په ډېر پېسو نه شي کولی. هغه غزاګانې چې ده په تش لاس د خلکو د جذباتو په راویښولو کوله، به عصري فرقه یې په توپونو او ماشیندارو نه شي کولی" او "هغه لویې دښمنې، جګړې او دعوې به چې ده په یو څو خبرو فېصله کولې یوه ستره قضایي ټولنه یې هغسې نه شي حل کولی".

د جوماتونو ودانول هم د چکنور ملا صاحب مهم میراث ګڼل کېږي. د ده په هدایت هم په افغانستان او هم په ازادو سرحدونو کې تر شلو نه ډېر جوماتونه ودان شوي دي. دغه جوماتونه یوازې د عبادت کولو لپاره نه وو، په ازادو سرحدونو کې له دغو جوماتونو نه د اجتماعي او سیاسي هدفونو لپاره هم استفاده کېدله، لکه د حضرت محمد (ص) په وخت کې چې په مدینه کې د

قبيلو مشران د اسلام منلو لپاره بلل کېدل په جوماتونو کې ورسره مقاولې او غونډې کېدلې. ميراجان سيال هم وايي چې په ازادو سرحدونو کې په جوماتونو کې غونډې او جرگې کېدلې او په ازادو مومندو کې د مدرسې جومات "د ديني او مذهبي منظور تر څنگه سياسي او نظامي اهميت درلود او پرنگيانو ته په ورڅرمه پوله يې د يوې چونۍ په توگه ارزښت درلود".

د همدغو ډول ډول خدمتونو او لوړ شخصيت له امله ده چې د چکنور ملا صاحب نوم په عزت سره اخيستل کېږي او د هغه له برکته د چکنور کلی هم مشهور شوی دی.

# د خپلواکۍ د لارې لوی مبارز ایمل خان مومند

## جولای ۲۰-۲۰۰۶

که په پښتنو کې په تېره په ختیځو پښتنو کې، تربورې، گوندیمارې او سیاسي مرگ ژوبله ډېره ده، په دوی کې دغسې باتوران هم ډېر دي چې د خپلواکۍ په لار کې یې لویو امپراتوریو ته چېلنجونه ورکړي دي. له دغسې مبارزانو څخه یو هم ایمل خان مومند دی. ایمل خان مومند د خپلواکۍ هغه جگړه کلونه کلونه توده وساتله کومه چې بایزید انصاري مشهرو په پیر روښان د شپاړسمې پېړۍ په دوهمې نیمایي کې د مغولو په مقابل کې پیل کړې وه او زامنو او لمسیانو یې لکه جلال الدین، احداد، عبدالقادر او کریمداد د څه باندې نیمې پېړۍ په موده کې پرمخ بېوله.

پیر روښان د هغو پیرانو په شان نه و چې د خپلو مریدانو په صدقو او نذرونو سره ځان شمتن او خپله کورنۍ اسوده کړي. هغه د خپل ولس د خپلواک کولو لپاره اجندا لرله او هغوي یې د ظالمانو په مقابل کې جگول او ورته یې تبلیغ کاوه چې څنگه چې مغولان او عمال یې ظالمان دي، دین دوی ته اجازه ورکوي چې خپل ځانونه د هغو له قېد نه ازاد کړي. مغولو د محمدظهیرالدین بابر په سروالي سره په کال ۱۵۲۶ کې د هندوستان د پاني پت په ډگر کې لودي سلطنت نسکور کړی و او زامنو او

لمسیانو یې د هندوستان او افغانستان (تر هندوکش پورې) په لاندې کولو سره یوه پراخه امپراتوري جوړه کړې وه چې هغه د نولسمې پېړۍ تر دوهمې نیمایي پورې پر ځای پاتې وه.

پیر روښان د زور او تشدد دغسې مفکوره وړاندې کړه چې مطلب یې د جاهلو او د خپل نفس او د خدای تعالی د دښمنانو له مینځه وړل وو. ده دغسې خلک (مړه) ګڼل او ویلې چې د مړو مالونه باید د هغو په ورثو وویشل شي. د ده اصلي موخه د غیر روښانیانو د مالونو ضبطول او په افغانستان او هندوستان باندې حکومت کول وو. ځان یې (مهدي) وباله او له قام ولی نه پورته یو ډول تنظیم یې جوړ کړ او پخپلو مریدانو او پلویانو باندې یې د عشر په نامه خراج کېښود او د جنګي غنیمتونو خمس یا پنځمه یې د هغه لپاره تخصیص کړه. په دې ډول یې یو ډول بېت المال ترتیب کړ چې له بې وزلو او غازیانو سره مرسته وکړي او منظم پوځ پرې تنظیم کړي. د پلیو او سورو یو ځو زریز پوځ یې هم جوړ کړ او څرګنده یې کړه چې "هند به لاندې کړو او هر اس والا دې راشي او د پاچا اکبر شتمني زموږه ده"[1]

پیر روښان د عمل سړی هم و، وروسته له دې چې په کابل کې له بند نه خلاص شو، له تیراه او هشتنغر نه یې وړې جنګي ډلې هرې خواته استولې، تر هغو چې په کال ۱۵۸۱ کې له ستړتیا او جل وهلو نه مړ شو. کمکی زوی یې جلال الدین په ځوارلس کلنۍ کې د هغه خلیفه شو، ځکه چې د هغه ټول مشران زامن د خپلواکۍ په جګړو کې مړه شوي وو. جلال الدین چې د فعالیت له نظره شاید یو بېجوړې مبارز و، ځان پاچا اعلان کړ او

پلویان یې له کابل نه تر پېښوره پورې پاڅېدل او لویې لارې یې بندې کړې. په کال ۱۵۸٦ کې مومندان او نور د مغولو په مقابل کې جګ شول او پېښور یې محاصره کړ. مغولي جنرال مان سنګهه ورپسې واستول شو، خو هغه خېبر پرمخ تړلی ولید او مات شو. یوسفزي او مندر هم چې د روښانیانو پر خوا اوښتي وو، د مغولو پر خلاف جګ شول. په کال ۱۵۸۷ کې زین خان صوبه دار سوات او باجوړ ته لښکر وایست خو د یوسفزیو له خوا مات شو. په همدغه جنګ کې و چې د پاچا جلال الدین اکبر روحاني مشاور، راجا بیربل له اتو زرو مغولي جنګیالیو سره د کړپه په تنګي کې ووژل شو. په کال ۱۵۹۲ کې پښتنو پېښور محاصره کړ، خو صوبه دار یا والي زین خان محاصره خلاصه کړه او حتی تېراه، سوات او باجوړ یې هم لاندې کړل، خو دا د روښانیانو د ایل کېدو په مانا نه وه. تېراه د دوی د قوت خاصه سیمه وه. په کال ۱٦۲۰ کې د مغولو یوه لویه قوه د سمپغه (Sampagha) کوتل له لارې تېراه ته ننوتله خو سخته ماتې یې وخوړه. شپږ کاله وروسته په کال ۱٦۲٦ کې خلیفه احداد مړ شو. په همدغه کال کې د پاچا جهان ګیر په مړینې سره روښانیانو د ازادۍ جګړه بیا له سره ونیوله. په کال ۱٦۳۰ کې یې پېښور بیا محاصره کړ، خو نیولی یې ونه شو او محاصره یې پخپلو کې د بې اتفاقۍ له امله پرېښوده او تېراه ته په شا شول.(۲)

د مغولو په مقابل کې د پښتنو د خپلواکۍ جګړه د اېمل خان مومند په سروالي بیا له سره ونیوله شوه. دی هم پخپله د روښاني خلیفه ګانو په شان په مقصد ونه رسېد، خو په پښتنو کې د ده

په سروالی سره د اتفاق مزی دو مره ټینګ شو چې د هغه له برکته مغولو ته بیخي ډېر تاوانونه واوښتل او امپراتوري یې ناتوانه شوه. د دغو جګړو پایلې هغه شوې چې دوی غوښتلې چې زر به یې ذکر وکړم.

د خپلواکۍ په لار کې د ایمل خان یو تدبیر دا و چې اپریدي او مومند سره یو موټی کړي. د دغو قومونو ستراتیجیکي اهمیت په دې کې دی چې مېنځنۍ اسیا له جنوبي اسیا سره په لنډ ډول نښلوي. نو مغولي واکمنو ته په خاص ډول د خیبر لار نه یواځې له سیاسي او سوداګري نظره مهمه وه، په روحیاتي لحاظ هم مهمه وه. په دې چې دوی له دغې لارې نه له خپل پلارني وطن فرغاني سره ارتباط لرلی شو. بابر په اصل کې د فرغانې و.

د خیبر دره چې له ډکې نه تر جمرود پورې غزېدلې د کوکي خېل اپریدو په سیمه کې پرته ده چې هغه د اپریدو له اتو څانګو څخه یوه څانګه ده. اپریدي له لرغوني مهال نه را په دېخوا په خیبر او داسې هم په کوات، تیراه او نورو ځایونو کې اباد دي. دوی په غالب ګمان هغه خلک دي چې د تاریخ پلار، هیرودوت، دا په ریتای په نامه یاد کړي دی. مومندان چې د اپریدیو ګاونډیان دي، د کامې او پېښور ترمېنځ سیمې کې اوسېږي. پېښور هم د دوی په سیمې کې و. مومندان په پنځلسمې پېړۍ کې د کندهار له مرغه نومي سیمې نه اول په غزني کې او بیا پخپلې اوسنۍ سیمې کې اباد شول لکه یوسف زي چې د کابل له شاوخوا سیمو نه وکوچېدل او پخپلو اوسنیو سیمو کې مېشته شول. په هر حال مومند له کامې نه د سوات تر سین پورې په برمومند یا سوري مومند

او له هغه ځایه تر پېښور پورې په کوز مومند یا پیتاوي مومند یادېږي. په دواړو برخو کې د مومندو عین قومونه پراته دي.
ایمل خان مومند چې د دریا خان اپریدي په ملګرتوب دغه قومونه سره یو موټی کړل، د مغولو امپراتورۍ ته یې چېلنجونه ورکړل. د هند تاریخپوه سر کار په وینا ایمل خان "داتا جنرال و، پاچایي یې اعلام کړه، سکه یې پخپل نامه ووهله او ټول پښتانه قومونه یې په ملي غورځنګ کې د ګډون لپاره وبلل"(۳) ایمل خان له کابل نه تر پېښور پورې د پښتنو مقاومت ځلور کاله تود وساته. په کال ۱۶۷۲ کې مومندان او اپریدي د هغه په سروالي جګ شول او په خیبر کې یې "امپراتوري ډېر جنګیالي او افسران ووژل... او په زرکونو نور یې مریان کړل" دغه پېښه داسې وشوه چې د کابل مغولي صوبه دار، محمد امین خان، د یوه لوی پوځ په سروالي کوښښ وکړ چې د خیبر دره پرانیځي، خو هلته په بېسیاري مصیبت واوښت. د برتانوي هند د حکومت د جغرافیوي قاموس له مخې امین خان "خپل ټول پوځ چې شمېر یې ځلوېښتو زرو ته رسېده له پوځي وسلو او سامانونو سره له لاسه ورکړ". پښتنو په هم په دغې جګړې کې ډېر جنګیالي له لاسه ورکړي وي، نو ویل کېدلی شي چې په نړۍ کې به دغسې جګړه کمه وي چې دغومره انسانان پکې وژل شوي وي. مغولان وروسته څو ځلې نور هم مات شول. په کال ۱۶۷۳ کې اپریدو په ګنداو کې د مغولو دوهم لښکر مات کړ او په کال ۱۶۷۴ یې د هغو دریم پوځ په خاپښ کې مات کړ.(٤)
د دغو ماتو له امله پاچا اورنګزیب اړ شو چې ډېر لی پر بېړدي او په حسن

ابدال کې ډېره شي او ۱٦٧٤ نه د یو نیم کال په بهیر کې د مجربو جنرالانو یانې اصغر خان او شجاعت خان په سروالي د پښتنو د ځپلو لپاره پوځونه واستوي، خو د غو جنرالانو په هغو ډېرو جنگونو کې چې له پښتنو سره وکړل، ډېره ماتې وخوړه او لږ برى ومونډ. پخپله شجاعت خان هم په یوې نښتې کې ولګید او له مېنځه لاړ. په پای کې اورنګ زیب بې له دې چې په نظامي لحاظ بریالی شوی وی، دهلي ته ستون شو، خو ده هغه څه چې په نظامي لارې تر لاسه کولی نه شو، په دیپلوماسۍ سره ترلاسه کړل. اورنگزېب چې پوه شو په دغې لارې په مقصدرسېدلی نه شي، د سوغاتونو، معاشونو او جاگیردارونو په ورکولو یې لاس پورې کړ. د هغو په مخې پښتنو ته اجازه شوه چې تر هغو چې په څرگند ډول یاغي نه وي، دننی خپلواکي ولري. د هندوستان او مېنځنۍ اسیا ترمېنځ د کاروانونو د ازاد تګ راتګ لپاره په کال کې شپږ لکه روپۍ د غو قومونو ته ومنلې شوې. پر هغه برسېره د اپریدو [مومندو]، شینوارو، یوسف زیو او خټکو له خوا په کاروانونو باندې د لارې تېرېدو مالیې یا حق العبور اخیستل ومنل شول، مغولي حکومت په تجربو سره درک کړه چې دا ارزانه ده چې دوی ته رشوت ورکړل شي، نظر دې ته چې په نظامي زور سره لاندې شي. په نتیجه کې یوسف زي، بنګښ او د تیراه قومونه او حتی د خوشال خان خټک یو زوی هم ورو ورو مغولي حکومت ته تسلیم شول او د پېړۍ تر پایه پورې ټول پاځونونه ارام شول.(٥)

په دې ډول پښتنو د مغولو په برابر کې پخپلو مبارزو سره سره له دې چې ډېرې او ټینگې وې پوره خپلواکي ترلاسه

کولی ونه شوه، خو د دوی د جګړو پایلې مهمې ثابتې شوې. سملاسي حاصل یې داخلي خپلواکي او د نورو امتیازونو ترلاسه کول وو چې ذکر یې وشو. دغه امتیازونه د مغولو د واکمنۍ ترپایه پورې پر ځای وو. انګرېزانو هم د هغو لږ و ډېر درناوی وکړ او پښتانه قومونه یې په دننیو چارو کې خپلواک پرېښودل خو پاکستان هغه له مېنځه یوړل چې د هغه دغه عمل کې په سیمې کې تر اوسه هم د کړکیچ سرچینه ده.

خو د پښتنو اصلي نابریالی توب د خپلواک دولت په جوړولو کې و، د خپلواک دولت لرل په دوی لازمه کوله چې د مالیاتو په نامه له اضافي زراعتي حاصل او هم تر څه حده پورې د دولت په ګټه له خپلې ازادۍ نه تېر شي، خو دوی لومړنی نه لاره او د دوهم ورکولو ته حاضر نه وو. میا روښان کوښښ وکړ چې دولت د غنیمت له حاصل نه تنظیم کړي، خو هغه پخپل دغه کوښښ کې پاتې راغی. په نتیجه کې ختیځو پښتنو ونه شو کولی د دولت په نامه کوم تشکیل جوړ کړي. دوی تر اوسه هم ځانله خپلواک دولت نه لري، خو د ختیځو پښتنو د جګړو غټ اثر په لویدیځو پښتنو باندې و. د دوی بریالی توب په واقع کې د ختیځو پښتنو د خپلواکۍ د جګړو په سبب و. لویدیځو پښتنو د بلې پېړۍ یا د اتلسمې پېړۍ په سر کې اول د میرویس هوتک نیکه په سروالي د هغوی حاکمیت رد او یو خپلواک دولت که څه هم محلي و، جوړ کړ. ورپسې یې د احمد شاه بابا په سروالي سره له امونه تر آټکه پورې د یوه خپلواک ملي دولت بنیاد کښېښود. د احمدشاهي دولت په رامېنځ ته کېدو کې د ختیځو پښتنو ونډه اساسي وه. په دې ډول چې دوی پخپلو جګړو سره نه یوازې

د احمدشاه لپاره ډگر هوار کړی و، بلکې له هغه سره یې د ملکونو په نیولو او د امپراتورۍ په جوړولو کې هم مرسته کړې ده. احمدشاه بابا د یوه لیډر په توگه ډېر صفتونه لرل. یو صفت یې دا و چې ده لر او بر پښتانه د لومړي ځل لپاره سره یو موټی کړل. په داسې حال کې چې میرویس نیکه د کندهار او ژوب پښتانه قومونه سره یو کړي وو او جلال الدین روښاني او بیا ایمل خان مومند ختیځ پښتانه تر ډېره حده یو کړي وو او خوشحال خان خټک د افغان په نامه د ټولو پښتنو د یووالي لپاره په شعرونو او عمل سره کوښښونه کړي وو. له احمدشاه بابا نه وروسته پښتانه بیا چا سره یو کړي نه دي. اوس چې د صنعت، ښاري توب، ساینس او ټکنالوجۍ په دوره کې د قومونو عنعنوي اهمیت لږ شوی او د هغه پرعکس د نفوسو د زیاتوالي له امله د اقتصاد اهمیت نور هم ډېر شوی. د پښتنو په وړاندې چیلنجونه هم ډېر شوي دي.

# یادښتونه

١- محمد حسن کاکړ- افغان، افغانستان و مختصری از کوششهای افغانا برای تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان. کابل پوهنتون ١٩٧٨/١٣٥٧، کابل ٤٥-٤٧ مخونه.
٢- پورتنی اثر، ٤٨-٤٩ مخونه. د هند برتانوي حکومت، ایالتي جغرافیوي قاموس لړی، د شمال، غربي سرحدي ریاست، سنگ میل خپرونه، دوهم چاپ، لاهور- ١٩٩١- ١٧ مخ.
٣-د قول نقل، کاکړ، یادشوی اثر. ٥٠ مخ.
٤- یاد شوی جغرافیوي قاموس. ١٧ مخ.
٥-کاکړ- یاد شوی اثر، ٥١ مخ.

دریـیم څپرکی

# د ډیـورنـډ تـوافق لـیک او کـرښې پـه اړه

## د امیر عبدالـرحمن خان پـه واکمنی کې لـر او بـر پښتـانـه

دغه لـیکنه پـه یـو څه بدلـون سره لـه

*خپل نوي خپاره شوي کتاب ته را اخلم چې نوم یې دی "د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ ۱۸٦۳-۱۹۰۱" د ماخذونو له ښودلو نه ډډه کوم.*

امیر عبدالرحمن چې په کال ۱۸۸۰ کې واکمن شو، د افغانستان د ځینو اطرافي سیمو خانان د افغان-انگلیس د دو هم جنگ په نتیجه کې د پخپل سرۍ په حال کې وو، نو امیر په اوله درجه دې ته توجه وکړه چې یو ټینگ مرکزي حکومت په پښو ودروي او په ټول افغانستان باندې نېغ حاکمیت خپور کړي. په دغه وخت کې د افغانستان باندنۍ اړیکې په شوې موافقې سره د برتانوي هند د حکومت له لارې اجرا کېدلې او په نورو ټولو چارو کې امیر پوره خپلواک و، نو امیر د خپلې واکمنۍ له پیله په تېره له افغانستان نه د خپل سیال تربور غازي محمد ایوب خان له ایستلو نه وروسته د منظم پوځ د تنظیمولو، د مالیاتو او عایداتو د زیاتولو او ټولولو او د یاغي سیمو د ایل کولو په مقصد پروگرامونه ایستل او په ټول قوت یې عملي کول.

یو مهم پروگرام دا و چې افغان واکمني ان تر پېښوره پورې یقیني کړي، که څه هم ده تر اباسین پورې پښتانه د دین او قومولۍ پر بنسټ خپل گڼل، د دغه مقصد لپاره یې په کال ۱۸۸٦ کې سپاه سالار غلام حېدر څرخي (یوسفزي) په مشرقي کې په ملکي او پوځي ساحو کې په لوړ اختیار سره د خپل وایسرای په توگه وگوماره. سپاه سالار د شپږو کلونو په مودې کې په شینوارو، خوگیانیو، مومندو او کونړیانو باندې د حکومت واکمني یقیني کړه او په کال ۱۸۹۲ کې یې خپل لوی پوځ په اسمار کې دېره کړ. په دې مقصد

چې باجوړ، دیر او سوات هم د حکومت تر نیغې اداري لاندې راولي. تر دغه وخته پورې حکومت په کرمې، اپریدیو او وزیرستان کې هم ښه پرمختګ کړی و او په وانه کې یې یوه نظامي پوسته هم ځای پر ځای کړې وه.

د برتانوي هند حکومت د باندنیو چارو وزیر سرمارتمر ډیورنډ د دغه پرمختګ له امله اندېښنه ښکاره کړه او ویې ویل چې "موږ له تور غره نه تر وزیرستان پورې د دغه اوږده سرحد په اوږدو کې بد خبرونه ترلاسه کوو، کرمه د امیر تر ګواښ لاندې ده، اپریدیان په لړزنده حال کې دي او د امیر مامووران ورته وسلې ورکوي". بیا نو د ۱۸۹۲ کال په جولای کې د برتانوي هند حکومت وایسرای لارډلینز ډاون په دغو عبارتونو سره امیر ته خبرداری ورکړ "د برتانیې حکومت به ستاسې د افسرانو نور وړاندې تګونه ونه زغمي او نه به تاسې والا حضرت پرېږدي چې نوې پوستې جوړې کړئ یا هغه پوسته پیاوړې کړئ چې تاسې یې اوس په وزیرستان کې یا د دغه ملک د سهیل په لور لرئ". دا هغه وخت و چې د برتانوي هند حکومت د افغانستان له لارې په هند باندې د روسیې د احتمالي یرغل د دفاع لپاره د "علمي سرحد" په نامه یوه طرحه ایستلې وه چې د هغې له مخې د روسیې د یرغل په وخت کې به د افغانستان د هندوکش خوا ته ټول ښارونه په چټکۍ سره نیسي او هغو ته د چټک رسېدلو لپاره باید د سرحدي سیمو ستراتیجیک ځایونه د دوی په لاس کې وي. د دغه ټوله موضوع د لیکوال په کتاب کې په اوږد ډول بیان شوې ده.

په ختیځو یا لرو پښتنو باندې ستر احمدشاه د بردرانیو نوم ایښی و. د

سپاه سالار په سروالۍ د افغان پوځ وړاندې تګ د هغو اړیکو په رڼا کې پېژندل کېدلی شي چې بر درانیو له افغانستان سره لرل، لکه چې دمخه وویل شول، امیر عبدالرحمن دننه په وطن کې په تېره د ختیځو پښتنو په سیمو کې د نېغ حاکمیت خپرولو او پیاوړي کولو ته ځیر شو. که څه هم دا کار ګران و، خو امیر ورته منابع، وسیلې او ټینګه اراده لرله. دی پخپله د هغو له سیمو او خلکو سره بلد او اشنا و، له ځینو سره یې لا د کورنۍ او شخصي اړیکې هم لرل. دا چې ده دغه سیمې د حکومت تر نېغې اداري لاندې راوستلې شوې، په دې کې شک نه شته خو دا کار بې ستونزو هم نه و. د امیر شېرعلي خان په واکمنۍ کې او له هغه نه وروسته د روسیې او انګلیس امپراتورۍ ګانې د افغانستان په لور دمخه راتللې او پوځي افسرانو یې له دېنه ډډه نه کوله چې د افغان افسرانو د وړاندې تګ مخه ونیسي. په دغه حال کې امیرعبدالرحمن دوهم احمد شاه کېدلی نه شو، که څه هم په نظامي مهارت او د تنظیمولو په فن کې له هغه نه کم نه و.

له ټولو اطرافي سیمو نه هغه سیمې چې د افغانستان په ختیځ او سهیل کې پرتې وې، د افغانستان لپاره په خاص ډول مهمې وې. افغانستان د یوه هېواد په توګه له دغې سیمې نه هسک شوی و. له لرغونې دورې نه راوروسته دلته هغه خلک اوسېدل چې نږدې ټول یې پښتانه وو او هغو له ستر احمدشاه سره د افغانستان په جوړولو کې برخه اخیستې وه او ځانونه یې افغانان او د افغانستان تابع ګڼل. د همدغه ډول اړیکو له امله وه چې پښتنو د دغې پراخې سیمې دننه کې مهاجرتونه کړي

دي. د بېګلې په ډول له مغولو نه وروسته دیارلسمې پېړۍ کې ځینې قومونه د ابدالیانو په ګډون له دغې سیمې نه تر کندهار او هرات پورې کوچېدلي دي. په مخامخ لوري کې "د دیارلسمې او شپاړسمې پېړیو ترمېنځ ډېر شمېر پښتني قومونه له افغانستان نه په هغې سیمې کې خپاره شوي او لاندې کړي یې دي چې له اوس مهالي صوبه سرحد ولایت سره سمون کوي".

په دواړو خواوو د پښتني قومونو لېږد رواج درلود. هر وخت چې پښتانه به د باندنیو تر فشار لاندې راتلل یا به خپله د نویو ملکونو او ورشوګانو په لټه کېدل، په دواړو خواوو به کوچېدل. دوی په اصل کې د "پخواني پاراپامیزاد"، غور، اوکسې یا د سلیمان د غرو درو د ځایي اوسېدونکیو په توګه له ویدي دورې نه راوروسته دغسې مهاجرتونه کړي دي، خو دغه ختیځ-سهیل سیمه یوازې د دوی هستوګنځي نه وو له دوی سره نور خلک هم اوسېدل. په مېنځنیو پېړیو کې دوی د افغانستان په حدود کې دننه همدغسې کړي دي. افغانستان په دغه وخت کې له اباسین نه تر هلمند پورې غځېدلی هېواد و چې زیاتره اوسېدونکي یې پښتانه وو چې په ویداګانو کې په پکتوس (Paktues) یا پکهتاس (Pakthas) او وروسته د (هېرودوت) له خوا د پکتیک (Pactyic) په نامه یاد شوي دي.

د افغانستان نوم په لومړي سر کې د هغه هېواد لپاره په کارېده چې له اباسین نه تر غزني پورې غځېدلی و او مستونګ یې لوی ښار و او پښتانه پکې اوسېدل. په غالب احتمال دغه هېواد و چې هیرودوت د "پکتیک هېواد" په نامه یاد کړی. هغه دغه هېواد "پاتې هند"

شمال ته شودلی او خلک یې "په هندیانو کې تر ټولو زړور" معرقي کړي چې "د باختریانو په شان" یې ژوند کاوه. همدغه سیمه وروسته د ګندهارا برخه وه. د یونان پخوانیو تاریخ پوهانو دغه خلک د (اسواکا) او (اسپه سیو) په نومونو یاد کړي دي.

لکه چې دمخه وویل شول، د خپل وخت افغانستان په زیاته اندازه پښتنو په تېره د ختیځو پښتنو په ملګرتوب جوړ کړی دی. وروستیو له ستر احمدشاه سره تر اباسین پورې د افغانستان په جوړولو او د درانۍ امپراتورۍ په تاسیسولو کې غټه برخه اخیستې وه. له احمدشاه نه وروسته ټولو افغان واکمنو دوی خپل رعیت ګڼل، نه یواځې له دې لامله چې دوی پښتانه وو، یانې په پښتو، قومولۍ، دین، تاریخ او کلتور کې سره یو وو، له هغو سره یې د هندوستان په لاندې کولو کې ان تر دهلي پورې ملګرتوب کړی و. سدوزي واکمنو پېښور لا د خپل ژمي پای تخت ګرځولی و.

د امیرعبدالرحمن په نظر اباسین د افغانستان ختیځه پوله وه چې اوسېدونکي یې "د خپل قوم او مذهب خلک ګڼل. د دغو اړیکو بهرنۍ نښه دا وه چې د سدوزیو په واکمنۍ کې او تر هغه وروسته افغان واکمنو او داسې هم د هغو د کورنیو نورو غړیو له دغو پښتنو سره خپلۍ او خپلوي درلوده. د امیر عبدالرحمن مور، نیا، دوه مایندې او د ځینو زامنو ښځې یې هم د همدغو پښتنو نه وې. د امیر شېرعلي یوه ښځه د قمر جان په نامه د سعادت خان مومند لور وه. سعادت خان د مومندو یو نومیالی خان تېر شوی دی او امیر محمد یعقوب او غازي محمد ایوب د هغه ددغې لور زامن او د ده لمسیان وو، خو د افغان

واکمنو د ضعف ټکی دا و چې دوی په ختیځو پښتنو باندې په نېغ ډول حکومت نه شو کولی. د امیر عبدالرحمن تر وخت پورې حکومتي طرز داسې و چې اطرافي سیمو ته یې داخلي ازادي منلې وه، یا مجبور وو ورته دغسې ازادي ومني. په تېره د ختیځو پښتنو سیمو ته چې خلکو یې پخپلو چارو کې د حکومت نېغ حاکمیت ته غاړه نه اېښوده.

په هغه سربېره امیر عبدالرحمن د ختیځو پښتنو په اړه تر خپلو پخوانیو (اسلافو) نه په بد حال کې و. د واکمنۍ په سر د خبرو په وخت کې د انګلیس سیاسي استازي "لیپل ګریفن" ورته وویل چې هغه سیمې چې د ګندمک د تړون له مخې له افغانستان نه بیلې شوې دي، افغانستان ته به بېرته پرې نه ښوولې شي. امیر عبدالرحمن په هغه وخت کې څه ونه ویل، ممکن د دې لپاره چې څه وخت یې خپل حکومت ټینګ کړی وي د سیاسي مانورۍ لپاره لار خلاصه وي، لکه چې د مخه ولیدل شول د غازي محمد ایوب له شړلو نه وروسته د هېواد په ختیځه برخه کې یې خپل پیاوړی او نامتو جنرال غلام حیدر خان څرخي مامور کړ، خو شینوارو ان تر کال ۱۸۹۲ پورې ټینګ مقاومت وکړ او له لسو کالو ډغرو وهلو نه وروسته حکومت ته تسلیم شول. تر همدغه مهاله پورې نور مهم بغاوتونه په وطن کې هم خپل شوي وو. سپاه سالار چې خپل پوځ اسمار ته ورساوه، په دې هیله و چې باجوړ او نورې سیمې به هم لاندې کړي، خو په دغه وخت کې چې د هند برتانوي حکومت په اصطلاح د "علمي سرحد" طرح تکمیله کړې وه. د سپه سالار وړاندې تګ ته خنډ شو او بیا یې د ډیورنډ تواقق لیک په امیر باندې تحمیل کړ. که د هند حکومت

د افغانستان د پرمختګ په مخ کې خنډ شوی نه وای، امیر عبدالرحمان د سپاه سالار په همت او تدبیر سره آن تر پېښور پورې د بر درانیو په سیمو باندې د افغانستان حاکمیت خپراوه چې د امیر دوست محمد په وخت کې د کابل تر اداري لاندې وې.

د ډیورنډ توافق لیک سره سره امیر له نظامي اړخ نه پرته په نورو ساحو کې په بردرانیو کې دپخوا په شان د خپل نفوذ خپرولو ته دوام ورکړ. ډېر هیاتونه، وسلې او پېسې یې وراستولې او د جهاد روحیه یې پکې پیاوړې کړه وه. له بلې خوا د دغو ټولو قومونو جرګې به په پرله پسې ډول کابل ته تللې او هلته به یې هغه ته د خپل امیر په صفت د اطاعت و عدې ورکولې. امیر به له دوی سره په نګه پښتو کې غورې کولې، خوږې ترخې به یې ور ته ویلې او په دې ډول یې تر مرګه پورې له هغو سره د افغانستان اړیکې ټینګې ساتلې وې.

# د ډيورنډ توافق ليک يا د۱۸۹۳ کال د کابل کانونش[1]

د ډيورنډ توافق ليک (Agreement) د هند بر تانوي حکومت د ۱۸۹۰ لسيزې د وړاندې تګ سياست زېږنده دی. د دغه سياست مهم ټکي تش په نامه "علمي سرحد" و چې د هغه له مخې په هغه حال کې چې روسيه د هند په لور رادمخه کېږي يا د امير عبدالرحمن په مړينې سره دننه په افغانستان کې وضع ګډه وډه کېږي، د کابل، غزني، کندهار ليکه به په چټکۍ سره په نظامي پوځ سره ونيول شي. د دغه وړاندې تللو سياست عملي کول حتمي کوله چې هغه کوتلونه او لارې تر کنټرول لاندې ونيول شي چې

---

۱ - دغه ليکنه زما د يوه نوي انګرېزي کتاب "د افغانستان سياسي او ديپلوماتيکي تاريخي ۱۸۶۳-۱۹۰۱" د برل خپرونې موسسه، ليدن، لندن ۲۰۰۶ يوه وړه برخه ده. دغه کتاب په کابل کې د شاه محمد په کتاب پلورنځي کې په ارزانه بيه ترلاسه کېدلی شي. زه دلته د دغې ليکنې د ماخذونو له ښوولو نه ډډه کوم. په دې چې هغه نزدې ټول له اصل سرچينو يانې له ارشيفي منابعو نه اخيستل شوي او پښتو لوستونکي ورته په عمومي ډول اړتيا نه لري، مګر هغوی چې غواړي په موضوع کې تحقيق وکړي، په هغه حال کې به ښه داوي چې موضوع په اصل کتاب کې وکتل شي. دا به هم ګټوره وي چې کوم څوک دغه ټول کتاب په پښتو واړوي، په دغه کتاب کې هغه پېښې بيان شوې چې د معاصر افغانستان په جوړېدلو باندې يې اثر لرلی دی.

"علمي سرحد" ته رسېږي. دغه سياست دا هم لازمه کوله چې پر هغو قومونو باندې کنټرول وي چې د هغو په سيمو کې دغه کوتلونه واقع دي او د هغو په اړه د سياسي کنټرول تجويزونه وشي. دغو ټولو لازمه کوله چې له افغانستان سره د هندوستان سرحد وټاکل شي. د دغه مقصد لپاره د برتانوي هند حکومت له امير عبدالرحمن سره ډېر ليکونه مباد له کړل. په عين حال کې چې هغه يې په ډېرو نورو وسيلو سره تر دروند فشارونو لاندې ونيوه.

د فشارونو له ډلې نه يو د اوسپنې په واردولو باندې بنديز و چې افغانستان د هزاره جات په جنګ کې د توپونو جوړولو لپاره ورته سخته اړتيا لرله. داسې هم د هند برتانوي حکومت په هندوستان کې نو رجنګي لوازم او مهمات قېد کړل چې امير له اروپايي هېوادونو څخه په بيه اخيستي وو. د هند وايسراى لينز ډون لا حتى امير ته ورانديز وکړ چې په کابل کې د جنرال فريدريک رابرټس په سروالۍ د يوه لوى نظامي هيات هر کلى وکړي. رابرټس د افغان، انګليس په د وهم جنګ کې په کابل کې دانګليسي قوتونو سر قوماندان او په دغه وخت کې د هندوستان لوى درستيز و. امير د دغه وړانديز په اړه څرګنده کړه چې "ما دغه وضع بحراني وليدله چې په کابل کې لس زره عسکرو ته د مېلمنو په شان هر کلى وکړم او د هغو د هر کلي لپاره يو لک عسکر تيار کړم".

په پاى کې وايسراى لينز ډون امير ته اخطار ورکړ چې "دا به لازمه وي چې فېصله وشي چې کومې سيمې د افغانستان د سلطنت برخې دي او کومې نه دي". د برتانوي هند حکومت دمخه وړانديز کړى

و چې "یوه لیکه به وټاکل شي او اعلام به شي چې له هغې نه اخوا به د امیر صلاحیت نه چلېږي او که د افغان پوځ له هغې نه اخوا واوړي، په زوره به بېرته په شا کړل شي. د غه لیکه به په د غه ډول په نښه شي چې اسمار، چا غه او وانه به ترېنه بېلوي".دا هغه وخت و چې د سپاه سالار غلام حیدر په مشرۍ افغان پوځ په اسمار کې دېره شوی و او پروګرام یې دا و چې اول به باجوړ او وروسته نورې سیمې د افغانستان د تر نېغې اداري لاندې راولي. لکه هسې چې شینوار، مومند او کونړ یې د حکومت تر نېغې اداري لاندې راوستې وې.

امیر عبدالرحمن د وایسرای له اخطار سره له ځایه نه شورېده او په ډېر مهارت سره یې موضوع ځنډوله. د هند حکومت په ۱۸۸۸ کې له امیر نه د لومړي ځل لپاره غوښتي وو چې په کابل کې یو برتانوي هیات د همدغې موضوع لپاره ومني. امیر د انګلیس هیات منلو ته هغه وخت غاړه کېښوده چې د روسي پوځ د افغانستان په ختیځ شمال کې د پامیر په برخه کې ۱۸۹۰ په لسیزې کې پخپل پرمختګ پیل کړی و او روسیې له برتانیې نه وغوښتل چې امیر دې د تش په نامه ۱۸۷۳ کال توافق لیک له مخې هغه سیمې پرېږدي چې د امو شي خواته په شمال کې پرتې دي.

واقعیت دا و چې په دغه کال کې د روسیې او برتانیې ترمېنځ د افغانستان د شمالي پولې په اړه یو پوهاوی شوی و، نه دا چې توافق لیک لاسلیک شوی و او د هغه له مخې روسیې منلې وه چې د بدخشان ولایت د افغانستان برخه ده. بدخشان له جنوب نه تر شمال پورې هغه علاقې وې چې د پنجه له رود نه شمال خواته آن د مرغاب یا اق سوتر سین

پورې غځېدلې وې او افغانستان لس کاله دمخه تر هغه يانې په کال ۱۸۸۲ کې هغه تر خپل کنټرول لاندې راوستې او يوه نظامي پوسته يې په لوی پامير کې آن په سرمه تاش يا سومه تاش نومي ځای کې ځای پر ځای کړې وه. امير چې په دې ډول د روسيې تر فشار لاندې هم راغی. د وايسرای د غوښتنې له مخې يې په کابل کې د سر ماتمر هنري ډيورنډ په مشرۍ يو وړو ملکي هيات ومانه او د ۱۸۹۳ کال د نومبر په دولسمه يې اول د افغانستان د ختيځ شمال په اړه يو توافق ليک لاسليک کړ او بيا يې د افغانستان د ختيځ جنوبي په اړه په اوو مادوک د ډيورنډ د توافق ليک په اړه ورسره روغه جوړه وکړه. دغه توافق ليک د ۱۸۹۳ کال د کابل کانونش (Convention) هم نومول شوی دی.

د برتانوي هند حکومت دوړاندې تګ سياست په اصل کې "علمي" نه، بلکې "پرمختيايي" و چې ماهيت يې پراختيايي او د تسلط خپرول وو. په واقع کې د دغه نوی "علمي سرحد" سياست د برتانويانو د هغه سياست اړول شوی شکل و چې له امير شېرعلي خان سره په جنګ واوښت چې ويليم تروس ډېل د هغه په اړه ليکلي چې "علمي سرحد د زياترو وړاندې تګ سياست پلويانو ته د هغوی د اصلي موخې لپاره يوه موقتي پرده وه، که حکومت د افغانستان د نيمايي جنوبي برخې نيول ومني بيا به يو وخت د ټول (ملک) ضميمه کول تحمل کړي". له همدې لامه و چې هغه دليلونه چې د هغو له مخې د وړاندې تګ د سياست تجويز ونيول شو، قانع کوونکی نه و چې هغه د جنوب په لور د روسيې پرمختګ يا د امير مړينه وه. روسيې په ۱۸۷۳ کې افغانستان تر خپل نفوذ نه دباندې ساحه اعلام کړې و،

وروسته له هغه چې روسیې په کال ۱۸۸۵ کې پنجده له افغانستان نه ونیوله، په تېره وروسته هغه چې د افغانستان پولې د هغې له مستعمرو سره حد بندي شوې او په کال ۱۸۹۲ کې د افغانستان تو له پوله د هغې له تابع ه پواد بخارا سره سمه شوه، د "ستري لوبې" مسئلې د روسیې او برتانیې ترمېنځ سره فېصله شوې چې هغه د دوی ترمېنځ د مېنځنۍ اسیا د لاندې کولو سابقه وه. د دغې لوبې په پای ته رسېدلو سره د نړۍ په دغې پراخې سیمې کې د یو ډول دوستۍ فضا جوړه شوه. په داسې حال کې چې دا سمه ده چې د دغې فضا له تولید سره سره د دوی ترمېنځ بې اعتمادي موجوده وه، په واقع کې د روسیې له خوا د افغانستان له لارې په هند باندې یرغل کول که ناممکن نه و، بېخي سخت و، ځکه چې افغانستان د یوه پیاوړي دولت او لوی منظم پوځ خاوند و او شاته یې د یرغلگرو پر ضد یو قوي ملت ولاړ و.

د ډیورنډ د توافق لیک متن ښيي چې د هغه مقصد "... د دوی (د افغانستان او برتانوي هند حکومت) د نفوذ د ساحو ټاکل دي" چې هغه به په بدخشان کې د بروغیل له کوتل نه د پارس تر کوه ملک سیاه پورې د یو نیم زر میلو په اوږدو کې د هغې نقشې له مخې د لیکې کښل وي چې برتانویانو جوړه کړې وه، لکه چې زلمي گلزار وایي "د ډیورنډ په توافق لیک کې د پولې دغسې کلمه نه شته چې د ډیورنډ کرښه تعریف کړي، د هغه پر ځای دا یوه داغسې کرښه ده چې وښيي چېرته د امیر نفوذ ختم کېږي او برتانوي نفوذ محدودیت پیدا کوي".

مؤلف سراولاف که رو لا تر هغه هم مشخص گړېدلی دی. دی لیکي چې "... دغه توافق لیک دغه کرښه د هندوستان د

پولي په شان نه ده بيان کړې، بلکې هغه يې د امير د سلطنت د سرحد په شان ښودلې او هغه کرښه يې ښوولې چې هېڅ خوا به له هغې نه په اغاړه کې مداخله نه کوي".

دغه مفهوم د توافق ليک په متن کې لا ښه څرګند دی چې وايي "د هند حکومت به هېڅ وخت په هغو سيمو کې مداخله نه کوي چې له دغې کرښې نه اغاړه په افغانستان کې پرتې دي".داسې هم امير موافقه کوې چې "... هغه به هېڅ وخت په سوات، باجوړ يا چترال کې د ارنوايې يا باشکل درې په ګډون مداخله ونه کړي". خو امير د وزيرو د ملک له ډېرو برخو او د داوړ او چاغې له وړو علاقو نه تېر شو، په داسې حال کې چې د هند حکومت موافقه وکړه چې د وزيرو د ملک د برمل علاقه به افغانستان ته پرېږدي. پر دغو سربېره دواړو خواوو په يو څو وړو ټکو سره جوړه وکړه او د هند حکومت ومنله چې افغانستان ته به هر کال شپږ لکه روپۍ نوره مرسته هم ورکوي. د هند حکومت په کال ۱۸۸۳ کې منلې وه چې څنګه چې د جنګ په نتيجه کې افغانستان وران شوی او حکومت او پوځ يې له مېنځه تللی، د حکومت او د پوځ د پياوړتيا لپاره يې افغانستان ته د کال دولس لکه روپۍ مرستې ورکولو موافقه کړې وه.

د ډيورنډ د توافق ليک له اهميت سره سره، د دغسې موضوع په اړه افغان سندونه له مېنځه تللي دي. يا له مېنځه وړل شوي دي، که څه هم د خبرو په بهير کې يو منشي د پردې شاته د مذاکرو ثبتولو لپاره کښېنول شوی و، حتی هغه رساله چې هغه وخت د امير او ډيورنډ د خبرو په هکله خپره شوې وه، هم لا درکه ده. سراج التواريخ چې رسمي

تاريخ دی، يوازې د ځينو هغو مشرانو او درباريانو دغونډې جريان ليکلی چې په کابل کې وو او د توافق ليک له کېدلو نه وروسته سره غونډ شوي وو.

اميرعبدالرحمن د غې غونډې ته په خطاب کې وويل چې په دغه وخت کې هر ملت د دوستانو او اتحاديو په لټه کې دی، د دښمنانو په مقابل کې او افغانان د ده تر مشرۍ لاندې نېکمرغه دي چې يو ښه دوست يې پېدا کړی دی. ده دا هم وويل چې بله چاره نه وه، مګر دا چې د برتانيې پر حکومت اعتماد وشي چې غواړي افغانستان په وسلو او پېسو سره پياوړی کړي. امير د توافق ليک په اړه ډېر کم وغږېد او هغه هم په ناڅرګند ډول. يواځې د وزيرو په اړه (په واقع کې د وزيرو د غټې برخې په اړه) يو څه په مشخص ډول وګړېد او ويې ويل چې دی ځکه ترېنه تېر شو چې دده خبرو ته يې غوږ نه نيوه. مشرانو او درباريانو د اعتراض اواز جګ نه کړ، يواځې دومره يې وويلو چې دوی به هره هغه موافقه ومني چې د دوی برحق پاچا يې له باندينو قدرتونو سره کوي. داسې هم دوی امير ته ډاډ ورکړ چې څنګه چې دوی د محمدزيانو د واکمنۍ په تېرو اتيا کلونو کې خدمت کول په ميراث وړي، دوی حاضر دي چې خپل ځانونه د هغه لپاره قربان کړي.

د ډيورنډ توافق ليک يواځې او يواځې دامير کار و. په کولو کې يې هغه له مشرانو يا حتی له درباريانو يا مشاورانو سره هم سلا مشوره و نه کړه. ډيورنډ په دې اړه په مشخص ډول ګړېدلی. په لندن کې يې په اسيايي ټولنه کې (۱۹۰۷ کال د نومبر په ٦مه په يوې وينا کې ښکاره کړه چې "هغه (امير) خبرې يواځې پخپله وکړې،

وزیران یې محض صفر وو، بې له دې چې ډېر ووړ صلاحیت یا مسوولیت ولري، هغه ته خپل فکر معلوم و او له هېچا نه یې مرسته ونه غوښتله". تعجب په دې کې دی چې دا هغه وخت و چې امیر د نقرس له امله په تکلیف و، لکه چې ډیورنډ وایي "... هغه په سختۍ سره تګ کولی شو او په امسا به یې ډډه کوله". لکه چې پورتنۍ وینا وې ښیې امیر خپلو درباریانو ته د هغو شرایطو او باندني فشار په اړه وغږېد چې نتیجه یې د غه توافق لیک شو.

دا مهمه ده چې په پام کې ونیول شي چې د غه توافق لیک د یوه حکمران او د باندني قوت د یوه مامور ترمېنځ وشو او هغه تړون نه و. که هغه تړون وای، د ولسونو په استازیتوب سره به د دواړو خواوو د ولسي لویو ارګانونو د هغه تایید کړی وای. په دغسې ستري موضوع کې لږ تر لږه د افغانستان د مشرانو رضایت ته اړینه وه. دا سمه ده چې امیر افغان مشران او درباریان راوغوښتل، خو هغوی پخپله د هغه انتخاب او په شمېر کې لږ وو او په کابل کې اوسېدل. هغو ته یې له هغه څه نه چې پېښ شوي وو، یو څه وویل خو د هغو نظر یې د موضوع په اړه هېڅ ونه غوښته، نو ځکه هغه څه چې هغوی په دغې موقع کې وویل په موضوع پورې یې اړه نه درلوده او هغه هم غېر واقعي وو. د امیر له وېرې چې په "وسپنیز امیر" یادیده، هغو نه شو کولی د توافق لیک مخالفت وکړي، خو دا چې خپل ژوند په خطر کې واچوي. لا مهمه دا ده چې افغان مشرانو او درباریانو د دغسې کسانو په شان سلوک وکړ چې "د محمدزیانو د واکمنۍ په وخت کې یې خدمت او اطاعت په میراث وړی وي" نه د خلکو د استازو

په شان. په نتيجه کې هغوی د دې پر ځای چې د هېواد او ولس په ارتباط له توافق ليک نه وغږېږي، د دې لپاره تياری وشود چې حاضر دي ځانونه د هغه د خدمت په لار کې قربان کړي.

حقيقت دا دی چې نه يوازې دغه مشران او درباريان وېرېدل، "وسپنيز امير" هم وېرېده، هغه له روسانو نه وېرېده، له برتانويانو نه وېرېده او تر څه حده له خپلو خلکو نه هم وېرېده. روسيې او د برتانوي هند حکومت دواړو هغه تر فشار لاندې نيولی و، لکه هسې چې د مخه ويل شوي، د توافق ليک د کولو لپاره د هندوستان وايسرای له ۱۸۸۸ نه تر هغه وخته پورې امير تر فشار لاندې نيولی و، په داسې حال کې چې روسيې د ۱۹۹۰ په لسيزې کې په لوی پامير کې په پخل وړاندې تګ سره په سرمه تاش کې د افغان نظامي پوسته له مېنځه وړې وه او پخپله افغانستان ته يې هم خطر پېښ کړی و، حتی هغه وخت چې ډيورنډ په کابل کې و، "د روسيې د جنګ وزير زوی واناوسکي په قوماندانۍ يوه وړه قوه شغنان ته ننوتله او د پرمختګ اجازه ورته ورنه کړل شوه. فېرونه سره مبادله شول".

د همدغه خطر له امله و چې امير د برتانيې فشار ته تسليم شو او د ډيورنډ توافق ليک يې ومانه. په دې ډول هغه شرايط چې په هغو سره د ډيورنډ توافق ليک ممکن شو، تر هغو نه ډېر وېروونکی و چې په نولسمې پېړۍ کې د قوي اروپايي او ناتوانو اسيايي هېوادونو ترمېنځ د تسليمي تړونونو په نامه کېدل". پر هغه سربېره که څه هم امير عبدالرحمن د "اوسپنيز امير" په نامه ياديده، هغه له خپلو خلکو نه هم وېرېده، ځکه چې هغه د وطن په يوې

پراخې سیمې باندې له خپلې واکمنۍ نه تېر شوی و، هغه د دې حق نه درلود چې دغسې وکړي که څه هم هغه د هغو واکمن و. د همدغې وېرې له امله و چې امیر عبدالرحمن هغوی د ډیورنډ د هیات له مقصد نه بېخبره ساتلي وو لکه چې ډیورنډ وایي: "..... د هیات رښتیاني هدفونه چې تر هغو پورې [د توافق لیک تر کولو پورې] پټ ساتل شوي وو" د امیر له خوا ځرګند شول. په دې ډول د امیر وېره واقعي عامل و چې دغه توافق لیک یې په پای کې ممکن کړ.

افغان تاریخپوه میر غلام محمد غبار په حقه وایي چې ((امیر عبدالرحمن "فقط در سایه تهدید و تلبیس انگلیس [موافقت نامه دیورند را] چشم پت امضا نمود و مسوولیت عظیم تاریخ را برای همیشه در گردن خود گرفت". دغه "لوی تاریخي مسوولیت" کله چې دا په نظر کې ونیول شي چې هغه کوښښ ونه کړ د توافق لیک د اعتبار موده وټاکي، لا ډېرېږي. په هغه سربېره ډیورنډ امیر وغولاوه. د هغه له خوا په متن کې د "نه مداخلې" د کلمې نیول د تش په نامه علمي سرحد د ماهیت په مخالفت و. تر هغه لا جدي خبره دا ده چې ډیورنډ امیر ته یا غلطه نقشه وړاندې کړې وه یا امیر په هغې نه پوهېده، ځکه چې هغه "... د هغې لیکې په ټولو نتیجو چې په نقشه کې کښله شوې وه، نه پوهېده" او "د هغو جزییاتو له منلو نه یې ډډه وکړه چې په نقشه کې ښوول شوي وو".

تر دغو ټولو مهمه دا ده چې امیر د توافق لیک فارسي متن لاسلیک نه کړ، که څه هم ډیورنډ لاسلیک کړی و. د امیر په دغه انکار سره د توافق لیک په اړه اساسي ټکي رادمخه کېږي. امیر چې د توافق لیک فارسي متن لاسلیک نه کړ، په

یقین سره ویل کېدلی شي چې هغه به د هغه انګرېزي متن نه وي لاسلیک کړی، ځکه چې هغه په انګرېزي نه پوهېده، په دغه حال کې ویل کېدلی شي چې ډیورنډ به امیر ته انګرېزي متن په فارسي کې ویلی وي، ځکه چې هغه په فارسي روان ګړېدلی شو، نو که امیر د توافق لیک دواړه متنونه په انګرېزي او فارسي کې لاسلیک کړي نه وي، په دغه حال کې د موجود تواق لیک اعتبار تر پوښتنې لاندې راځي.

د ډیورنډ د توافق لیک بې اعتبار توب په لاندې واقعیتونو سره نور هم پیاوړی کېږي. د غه واقعیتونه د نقشې له مخې په ساحه کې د لیکې د په نښه کولو په وخت کې په ډاګه شول چې د ډیورنډ کرښې په نامه یاده شوه. د باشګل یا بازګل درې مثال یې یو دی. دغه دره له اسمار نه تر بدخشان پورې اوږده پرته ده. امیر د نقشې دپاسه لیکلي وو، بې له دې چې لاسلیک کړی یې وي چې د باشګل دره د افغانستان برخه ده، په داسې حال کې چې هغه د توافق لیک په انګرېزي متن کې د برتانوي هند په نفوذي ساحې کې شوولې شوې ده. کله چې د غه کرښه په کال ۱۸۹٦ کې په نښه کېدله، امیر پخپلې ادعا ټینګ ودرېد او د هندوستان وایسرای لارډ ایلګین د هغه ادعا ومنله او وې ویل چې: "دا له بده مرغه یوه تېروتنه وه". بله موضوع د موندو وه چې امیر د هند برتانوي حکومت ته ښکاره کړه چې ټول موند په افغانستان پورې اړه لري، دغه موضوع به زر بیان شي.

اوس نو پوره پر ځای پوښتنه دا ده چې هغه متن چېرته دی چې امیر به لاسلیک کړی وي او د هغه عادت و چې هر هغه څه چې به یې منظورول په هغه به

يې لاسليک کاوه؟ ما چې د لندن، نوي ډهلي او کابل په ارشيفي مرکزونو کې څېړنې کړي، د امير په لاسليک مې د توافق ليک کوم متن ليدلی نه دی. په غالب احتمال چې د توافق ليک دغسې متن نه شته چې امير او ډيورنډ به لاسليک کړی وي. په ډيورنډ لاين نومي اثر کې د عظمت حيات خان دغه وينا چې وايي: "امير دغه تړون امضاء کړی" حقيقت نه لري. پر دې سربېره لکه چې دمخه ورته اشاره وشوه، دا توافق ليک (Agreement) دی، نه تړون (Treaty) د همدغو ټولو موضوع گانو له امله و چې د گډو افغان- انگليس کميسيونونو له خوا د ډيورنډ کرښې د په نښه کولو کار درې کاله اوږد شو او د مومندو او خېبر په ساحو کې هېڅ په نښه نه شو.

لکه څنگه چې دمخه وويل شول، امير ټينگار وکړ چې ټول مومند د افغانستان برخه ده، په داسې حال کې چې په نقشه کې دغسې نه و . مومند له کامې نه تر پېښور پورې غځېدلې سيمه ده. مومندان اول د کندهار په ختيځه خوا مرغه کې اوسېدل. له هغه ځای نه غزنې ته وکوچېدل او په پېنځلمسې پېړی کې پخپلې اوسنې سيمې کې مېشت شول. دلته د موقعيت په لحاظ يوه برخه يې برمومند يا د سوري مومند نومېږي او بله يې کوز مومند يا د پيتاوي مومند په نامه يادېږي. پېښور هم په اصل کې د کوز مومند برخه وه چې خليل يې تر ټولو مهم اوسېدونکي وو. د مومندو په دوارو برخو کې د دوی عېن څانگې اوسېږي. خو پېښور په ۱۸٤۹ کې انگرېزانو ته په لاس ورغی چې سکانو په کال ۱۸۳۳ کې له محمدزي واکمنو نه نيولی و، پېښور د سدوزيو د واکمنۍ وخت کې د افغانستان دويم پای تخت و.

کوز مومندو لا هم د بر مومندو د لالپورې خان د عنعنې له مخې د خپل خان په توگه پېژنده او له هغه او داسې هم د کابل له حکومت نه يې د مواجب په نامه معاشونه ترلاسه کول.

له هغه وخت نه وروسته چې انگرېزانو په پېښور قبضه وکړه، مومندانو انگرېزان دومره ډېر له ستونزو سره مخامخ کړل چې شايد بل قوم په هغه اندازه ستونزمن کړي نه وي. د ډيورنډ توافق ليک له کېدلو نه وروسته انگرېزانو امير ته وړانديز وکړ چې مومند دې ووېشل شي او هغه دې خپله ملېشيايي قوه له مټايي نه وباسي، خو امير د مومندو وېش ونه منل او د هغو د فشار له امله يې خپله ملېشا له مټايي نه وانه ايستله. بې له دې چې په رسمي ډول يې اعلان کړی وي. د دواړو خواوو ترمېنځ لانجه اوږده شوه، تر څو په پای کې وايسرای چې د خپلې شورا په مخالفت سره هم له دېنه ډډه وکړه چې د کوز او بر مومند ترمېنځ پوله دې په يو اړخيز ډول وټاکل شي. په دې ډول لکه چې د انگرېزانو نظامي تاريخپوه سرپرسي سايکس وايي: "تر خېبر پورې د مومندو پوله هېڅ په نښه نه شوه او تر نن ورځ پورې (۱۹۲٦) په وړه پېمانه د ستونزې لامل پاتې شوې دی".

خو د هند برتانوي حکومت په نورو لارو په کوز مومند باندې خپل نفوذ خپور کړ. هغه عنعنوي مواجب يې چې د کابل او د لالپورې د خان له خوا د هغو مشرانو ته ورکول کېدل، د خپلو مامورانو له خوا وررسول. دوی پخپله هم د هغو هغو څانگو ته مواجب ومنل چې پخوا نه ورکول کېدل. ټولودغو څانگو چې وروسته د "اعتمادي څانگو" په نومونو وپېژندل شول او انگرېزانو

مواجب ومنل او د هغو په بدل کې يې د هغو "سياسي کنټرول" ته غاړه کېښوده، خو "سياسي کنټرول" د اداري کنټرول په مانا نه و. دغه توپير نه يواځې په مومندو کې څرګند او د تطبيق وړ و، بلکې په ټولې سيمې کې وضع همدغسې وه، لکه چې ډيورنډ "د هند د اداري پولې د وړاندې کولو وړاندېز و نه کړ، بلکې يواځې يې سياسي کنټرول غوښته" چې د تش په نامه علمي سرحد له غوښتنو سره برابر و.

په کال ۱۸۹۷ کې نږدې ټولو مومندو چې مواجب ور ته ورکول کېدل يا نه ورکول کېدل، د"اعتمادي څانګو" په ګډون خو ترکزي څانګې په استثنی، د پښتنو په لوی پاڅون کې برخه واخيسته چې زر به يې بيان وشي. امير د دې لپاره چې خپل واک په ټولو مومندو وچلوي، د دوی په ملک کې يې ان تر پېښور پورې د سړک جوړولو امر وکړ. ده شايد غوښتل چې د خيبر په مقابل کې چې د ګندمک په تړون سره د برتانوي هند حکومت ته په لاس ورغلی و، له دغه سړک نه کار واخيستل شي. د هغه په جوړولو باندې په بيړه کار پېل شو، خو په کال ۱۹۰۱ کې د هغه په مړينې سره ترېنه لاس واخيستل شو.

لکه چې دمخه وويل شول، امير ومنله چې په هغو سيمو کې به لاسوهنه نه کوي چې د برتانوي هند د حکومت "د نفوذ په ساحه کې" ګڼل شوې وي، خو د دې مانا دا نه وه چې هغه به د افغانستان د واکمن په حيث په هغو باندې له خپلې ادعا نه تېر شوی وي، لکه چې ډيورنډ او سلطان محمد ادعا کړې ده. دغه ادعاګانې چې په عمومي ډول د اصلي سرچينو په توګه منل شوې دي، د اعتبار وړ نه دي. د سلطان محمد اثر چې په

فارسي کې تاج التواريخ په نامه راوتلی او په يوه وخت کې په بمبيي، لاهور او مشهد کې په ډېر شمېر خپور شوی دی، د باندنيو مسئلو په اړه د اعتبار وړ نه دی. د هند برتانوي حکومت لوی درستيز لارډ کيچنر، وايسرای لارډ کرزن ته په يوې ليکنې کې څرګنده کړې وه چې د هغه ټول دوهم ټوک په لندن کې جوړ شوی دی. "ما د دغه ټوک دغه بې اعتبارتوب په يوه بل اثر کې پوره تثبيت کړی دی چې نوم يې دی د افغانستان حکومت او ټولنه د امير عبدالرحمن په واکمنۍ کې.عجيبه دا ده چې د تاج التواريخ دغه جعلي برخه د هغه د ثقه لومړي ټوک پرخلاف د امير عبدالرحمن د رښتينو خبرو په حېث تريونه په پراخه اندازه استفاده شوې ده. د ډيورنډ رسمي ادعا د هغه شخصي ليکو نه ردوي. د غه ليکو نه چې د ۱۹۰۷ په لسيزې کې عام شوي، د هغه تر رسمي ليکنو نه ډېر د اعتبار وړ دي.

ده پخپلې يوې ليکنې کې د امير له قول نه ويلي چې که انګرېزان اسمار افغانستان ته پرېږدي، په هغه حال کې به دی په چترال او باجوړ کې له مداخلې کولو نه ډډه وکړي. ډيورنډ د هغو قومونو په اړه لا هم په مشخص ډول ګرېدلی دی چې د برتانوي هند حکومت د نفوذ په ساحه کې شودل شوی و. دی ليکي چې: "... د هندوستان په خوا قومونه بايد دغسې و نه ګڼل شي چې هغوی د برتانيې په علاقه کې دننه دي. دوی يواځې په تخنيکي لحاظمونږ تر نفوذ لاندې دي، يانې دا چې وويل شي تر هغه ځايه چې په امير پورې اړه لري او تر هغه ځايه چې دوی زمونږ نفوذ مني يا مونږ يې پرې باندې منو".

وايسرای لارډ ايلګن هم ويلي چې د

ډیورنډ په توافق لیک سره د موجودې وضعې په اړه د امیر رضایت حاصل شو. د هغه پخپله ژبه "د ډیورنډ توافق لیک دغسې توافق لیک و چې د برتانوي حکومت او د امیر د حکومت د نفوذ ساحې معلومې کړي. له هغه نه مطلب دا و چې د موجودې وضعې (Statusquo) په اړه د امیر رضایت حاصل او وساتل شي".

مولف "لوېي دوپري" دډیورنډ د توافق لیک مفهوم ښه درک کړی چې ویلي یې دي چې له هغه نه مطلب "... د برتانوي حکومت د صلاحیت توسعه وه، نه د هندوستان د سرحد" پر هغه سربېره دی وايي چې: "د غه کرښه د هندوستان د پولې په شان نه وه، خو د امیر د توابعو د ختیځ او سهیل سرحدپه څېر وه او د دواړو حکومتونو د متقابلو ساحو د حدودو په شان".

امیر عبدالرحمن او دهغه دځای ناستو په فکر د "مداخلې" کلمه د نظامي مداخلې په مفهوم وه او دوی داسې نه ګڼله چې په نورو خواوو کې په هغو کې د دوی نفوذ کول د توافق لیک پرخلاف وي، نو دوی ځکه په ټولو غېر نظامي ساحو کې د پخوا په شان په هغو کې د خپل نفوذ خپرولو ته دوام ورکړ. امیر عبدالرحمن د خپلو تېر شویو په شان د غو قومونو ته د افغانستان د خلکو په شان کتل او اباسین یې د خپل هېواد نفوسي او طبیعي پوله ګڼله. د دغې سیمې زیاتره خلک پښتانه وو او دي او پخپله افغانستان هم په اول کې له همدغې سیمې نه راولاړ شوی دی.

خو د ډیورنډ په کرښې سره امیر عبدالرحمن د موجودې وضعې منلو ته مجبورول پخپلو خلکو باندې د هغه د کنټرول مخه نیول شول چې هغه یې "... د باجوړ او سوات پخپلو پښتنو باندې د

واکمنۍ په چلولو نه" محروم کړ. دغه کرښه په بېړه په نقشې باندې ښوول شوې وه، بې له دې چې د محل د معلوماتو پر بنا وي. دغه کرښه "د هېڅ ډول طبيعي" ټوپوګرافيکي، اتنوګرافيکي يا د سياسي پرنسيپ په حد بندۍ باندې بنا" شوې نه ده. په اصل کې ناشونې وه چې د کرښې په نښه کولو کې د حدبندۍ دغه کتنې په نظر کې ونيول شي، مګر دا چې لوی قومونه او حتی وړې اتنيکي يا عرقي ډلې په کليو او نورو ځايونو کې چې پخپلو کې يې ټينګ عضوي اړيکې لرلې، سره ووېشي چې په هغو کې لوی قومونه تر کلاني، وزير (وروسته مومند)، شينواري، نورزي، اڅکزي، بړيڅ، بلوڅان او نور دي. لا غټه خبره دا ده چې د ډيورنډ کرښې د پښتنو د غټې برخې وېش ته ډګر هوار کړ. هغه پښتانه چې افغانستان ته د ملا د تير په شان وو او له هغه نه يې د باندنيو يرغلګرو په برابر کې په ټينګه دفاع کوله، په دغه وېش او بېلېدو سره افغانستان ناتوان شو او د برتانوي هند حکومت په واقع کې د ډيورنډ په کرښې سره"... افغانستان په وچه چارپېر هېواد کړ او په سياسي او اقتصادي لحاظ يې په هندوستان باندې تر پخوا ډېر متکي کړ".

داسې هم د د غولو يو قومونو او اتنيکي ډلو بېلول، دغسې يوه کړکېچنه لانجه رامېنځ ته کړه چې تر اوسه هم په افغانستان او سيمې کې دستونزو سرچينه ده. د امپرياليزم له منطق نه پرته بل داسې منطق نه و چې هغه خلک سره ووېشل شي چې له يوه نسب نه وي، په يوې ژبې ګړېږي، عقيدوي سيستم يې يو وي، يو ډول ژوند طرز او يو ډول نړۍ ليد (Weltanschaung) ولري او تر عېن جغرافيوي

او آقتصادي شرايطو لاندې ژوند وکړي.
هغه ګڼله شوې موقع د افغانستان له لآرې په هند باندې د روسانو يرغل، رانغله چې د هغې لپاره په ظاهر کې د ډيورنډ کرښه آېستل شوې وه. پر ځای يې د سيمې انسانانو ته بې خې ډېرې ستونزې او دهغې دواړو خواوو حکومتونو ته ډول ډول کشالې پېدا شوې چې تر ټولو جدي يې د امنيتي وضعې خرابېدل وو. د ډېرو نظامي عملياتو سره سره چې د هند حکومت وکړل، د ډيورنډ کرښې هغه وضع په اساسي ډول بدله نه شوه چې د هغې له کښلو نه دمخه په سيمه کې مسلطه وه. وايسرای لاډ ليټن په کال ۱۸۷۷ کې ويلي وو چې "ګومان کوم زموږ شمال- لويديځ سرحد په حاضر وخت کې دغسې يوه منظره انځوروي چې په نړۍ کې ساری نه لري. ه لږ تر لږه بله دغسې سيمه نه وينم چې هلته دې يو ستر متمدن قدرت له پېنځه ويشتو کلونو سوله ييز اشغال نه وروسته په خپلو... ګاونډيو باندې د غومره لږ نفوذ وکړي چې د غه ملک د يوې وړې مهمې نظامي چونۍ [پېښور] نه د يوې ورځې په مزل کې پوره ناپېژندل شوی ملک دی اوزموږ له پولې نه يو يا دوه ميله اخوا د برتانوي ژوند لپاره هېڅ مصونيت نه شته".
پروفېسر اکبر احمد چې د سيمې نوميالی سياسي انتروپولوجست او د پښتني ټولنې د ټولنپوهنې متخصص دی، په ۱۹۹۳ء کې يې ويلي چې: "د بېن الملي همغاړيتوب پاکې هيلې درناوی چې د ډيورنډ په توافق ليک کې ښودل شوی کله کله شوی او دغه تړون د ډيورنډ د کرښې د دواړو غاړو له خوا په پرله پسې ډول نقض شوی دی". دا واقعيت دی چې د ډيورنډ کرښې د خلکو

لپاره هېڅ وخت وجود نه لاره، هغه یوازې د نقشې دپاسه لیدل کېږي. د کرښې د دواړو غاړو حکومتونو لپاره ممکنه نه ده چې خلک له هغې نه له اوښتلو نه منع کړي، دغه کرښه د تېر پدلو راتېر پدلو ۱٤۱ پېژندل شوي ځایونه او کوتلونه لري.

سره له دې هم د غه توافق لیک د سیمې په خلکو باندې له نورو اړخونو نه ژور اثر کړی دی. دا چې د آمیر عبدالرحمن مخه ونیول شوه چې د کرښې د ختیځې خوا په خلکو باندې کنټرول ولري او دا چې انګریزانو ونه شوکولی هغوی اداره کړي، د هغو سیمه یې د هیڅ چا په ملک واړآوه. د ډیورند د کرښې په غځولو سره انګریزانو دغه سیمه تجرید کړه، له دغسې خلکو سره چې هغوی نور هم سره وویشل شول او په آقتصادي لحاظ بېرته وغورځېدل. دد غه حال یوه نتیجه د زاړه ژوندطرز پاتې کېدل شول. په هغه سربېره د دغې کرښې له امله و چې خلکو د بدل او انتقام رواج ته دوام ورکړ، ځکه چې افغان چارواکو هغه وخت چې د جرم تورنان له کرښې نه اوښتل، له دغه رواج نه استفاده کوله.

څنګه چې د ډیورند کرښه د وړاندې تګ د سیاست محصول وه، لارډ ایلګین په سیمې باندې د کنټرول د لګولو په مقصد دغسې چلندونه تجویز کړل چې په هغو سره هغه تر پښو لاندې شوه، که څه هم هغه څرګندده کړې وه چې مطلب د موجودې وضعې ساتل دي. دغه تجویزونه په خاص ډول د کرښې په نښه کول و چې تر موافقې کېدو وروسته پرې پیل وشو او په کال ۱۸۹٦ کې د مومندو او خېبر له علاقو نه پرته پای ته ورسید. د ۱۸۹۷ کال په جون کې د هغو په مقابل کې ډیر ستر پاڅون وشو. له شیعه توریو نه

پرته د دغې پراخې سیمې ټولو قومونو د خپلو مشرانو او مذهبي لویانو په مشرۍ لکه ملا نجم الدین، ملا فقیر، د مانکې ملا او د پالام ملا او نور د انګریزانو په مقابل کې پاڅېدل، خو انګرېزانو د شپېتو او یا زرو تر منځ د خپل منظم پوځ په واحدونو سره چې یو افسر یې ونستن چرچل و، خواره کړل. انګرېزانو بل هیڅ وخت له اباسین نه د لویدیځ په لور سیمو کې په یوه وخت کې دومره ډېر عسکر په کار نه وو اچولي.

تر ټولو پیاوړې انګېرنه چې د غه قومونه یې د پرنګي پر ضد پاڅون ته وهڅول ، د ډیورند له کرښې نه راولاړه شوې وه. د هغې په نښه کول په ټینګه او په څرګند ډول خلکو ته وښووله چې دوی نور نو د یوه خپلواک هېواد اوسیدونکي نه، بلکې د برتانیې د نفوذ او کنټرول په محیط کې دننه راوړل شوي دي. له همدې لامله و چې دوی د هغې په مقابل کې په عام ډول پاڅېدل. البته چې امیر دوی د پاڅون لپاره وهڅول هغه د دوی د واکمن په توګه بې پروا پاتې کېدلی نه شو او ځان یې اړ ولید چې د هغو ملاتړ وکړي، خو د برتانویانو له وېرې نه یې د هغو ملاتړ په منظم پوځ او په څرګند ډول سره کولی نه شو. د هغه پر ځای یې په ملکي جامو کې په یو شمېر عسکرو، قومي ملېشا او پېسو سره ورسره ملګرتوب وکړ. ملا نجم الدین لا څرګنده کړه چې امیر ورسره وعده کړې وه چې د جهاد اعلام به کوي.

داسې ویل کېده چې د دغه ستر پاڅون شاته امیر او سپاه سالار غلام حیدر څرخي ولاړ دي، ځکه چې دوی د سوات او باجوړ خانان د پاڅون لپاره هڅولي وو، خو امیر زر له هغو سره له خپل دغه نیمګړي ملاتړ نه هم لاس واخیست ان

تر دي چې د برتانويانو د ډاډينې لپاره يې څرگنده کړه چې که د غه قومونه افغانستان ته واوړي، بې وسلې به يې کړي او ملا نجم الدين به عربستان ته وشړي. انگرېزانو له هغه نه د غسې غوښتنه کړې وه. دغه ډاډينه وروسته له هغه انگليسانو ته ورکړل شوه چې هغوی په قوت سره پاڅون کوونکي خواره کړل او دغسې اوازې هم رواني شوې چې انگرېزان غواړي په خاص افغانستان باندې هم يرغل وکړي. له پاڅون کوونکيو سره به د امير پوره ملاتړ غټ تورپير کړی وای، لکه چې د هندوستان لوی درستيز څرگنده کړه چې "که هغه [امير] خپله وړه گوته جگه کړې وای، له سرحد نه دېخوا ملک کې به چې لا دمخه نارام شوی و، اور بل شوی وای، خو هغه په پوره درنښت سره پخپلو وعدو ټينگ ودرېد او هغو ژمنو ته وفادار پاتې شو چې له برتانيې سره يې کړې وې".

امير داسې وانگېرل چې افغانستان او د خپلې کورنۍ واکمني يې له يوه زر پېښېدونکي خطر نه وژغورله، خو په واقعيت کې يې په اوږدې مودې کې د هېواد په ټوټه کېدو کې رضايت وښود او د خپلو خلکو غټه برخه يې بېگانه کړه. د هغو پښتنو په گډون چې په اتلسمې پېړۍ کې يې د هېواد په تاسيس کولو کې او بيا د باندنيو يرغلگو د تېري په مقابل کې له هغه نه په دفاع کولو کې غټه برخه اخيستې وه. په نتيجه کې د دوی لپاره طبيعي وه چې شکايت وکړي او شکايت يې هم هغه وخت وکړ چې برتانويانو د دوی په ملک باندې يرغل وکړ. د دوی شکايت دا و چې څه وخت چې انگرېزانو د دوی په ملک باندې ودانگل، امير د هغوی پروا ونه کړه،

ځکه چې هغه "برتانوي حکومت ته د پېسو په مقابل کې" خرڅ کړل. امير د دفاع په توګه په ډېر مهارت سره په يوې ځرګندونې کې چې په اصل کې د برتانويانو لپاره وه، وويل چې: "... څنګه چې تاسې د دغه بغاوت په کولو سره له ما سره مشوره ونه کړه، تاسې حق نه لرئ ما ملامت کړئ". ورسته له هغه چې د برتانويانو په مقابل کې يې د امير شېرعلي د چلند په اړه خبرې وکړې چې د هغو پای د هغه د کورنۍ نسکورېدل شول. امير عبدالرحمن خپلو خبرو ته دوام ورکړ او وې ويل چې: "داسې فکر ونه کړې چې زه لکه اميرشېرعلي خان دغومره احمق يم چې د تاسې په خاطر نور [برتانويان] وزوروم او خپه کړم". امير د ايضاح البيان في نصيحت الافغان په نامه په دغې وړې رسالې کې احتياط کړی چې دوی د تل لپاره بېګانه، نه شي نو يې دا هم وويل چې: "که تاسې اوس هم ځانونه زما اختيار او واک ته پرېږدئ، زه به که د خدای تعالی رضا وه د برتانيې له حکومت سره ستاسې چارې په قانع کوونکې ډول فېصله کړم".

دغه ستر پاڅون، نظام عمليات او دهغو لګښتونو انګرېزان هم تر دې حده محتاط کړل چې نه يې غوښتل دغه قومونه يا امير نور هم وپارول شي. يوه جګپوړي انګليس چارواکي په دې هکله دغسې وړانديز وکړ: "په سرحد کې مو ږ افسرانو ته هدايت ورکړی چې وړاندې تګ ونه کړي او نه امير ته د بدګومانۍ دليل برابر کړي. پخوا له دې چې بيا کوښښ وشي چې دغه قومونه زموږ تر کنټرول لاندې راوستل شي، زه به تر هغو انتظار وکړم چې امير مړ شي. ګومان کوم چې په دغه انتظار سره به موږ څه

له لاسه ورنه کړو".

په پای کې د دې لپاره چې د هند امپراتورې په مقابل کې د یوه احتمالي خطر مخه نیول شوې وي، انګرېزانو امیر عبدالرحمن او د هغه ځای ناستي پښتنو قومونو باندې له خپل طبیعي واک چلولو حق نه محروم کړل. په دې هیلې سره چې دوی پخپله به یې د وړاندې تګ د سیاست په پیروي تر اغیزمن کنټرول لاندې ونیسي، خو نتیجه د هغه پرخلاف شوه. اول خو د ډیورنډ د کرښې په نښه کول دغسې حرکت رامېنځ ته کړ چې د هغه پای د افغانستان ټوټه کېدل او د پښتنو وېشل شول. دغه حرکت دغه قومونه تر دې حده پورې وپارول چې د هغو له امله انګرېزان پخپلو کوښښونو کې پاتې راغلل چې د وړاندې تګ د سیاست غوښتنې تر سره کړي. سره له دې چې دوی په مستعمراتي چارو کې او له باندنیو ولسونو سره د چلند کولو د ښه مهارت خاوندان او د خپل مهال یو نظامي زبرځواک و.

برتانویانو که څه هم د وړاندې تګ سیاست په تطبق باندې لا هم ټینګار کاوه، د سیمې خلک هم پخپلې خپلواکۍ باندې ټینګ ودرېدل. برتانویانو د دې لپاره چې د خپلواکۍ دغه ټینګ مدافعان غلي کړي، د هغو په ملک کې په پرله پسې ډول نظامي عملیات کول، په تېره وروسته له هغه چې امیر عبدالرحمن په کال ۱۹۰۱ کې وفات شو. دغه عملیات په وزیرستان کې شاید تر هرې بلې علاقې نه ډېر وو. د انګرېزانو د نظامي عملیاتو په برابر کې ځایي خلکو حتی دننه په هندوستان کې د انګرېزانو تر نېغې اداري لاندې سیمو کې هم بریدونه کول. د ساري په توګه د اتلسو کلونو په بهیر کې له ۱۹۲۰ نه

تر ۱۹۳۸ پورې له قبايلي علاقو نه اتلس ځله دغسې بريدونه وشول.
د دغو نظامي عملياتو او بريدونو او داسې هم د افغان-انګليس د جنګونو يوه پايله د خلکو د مذهبي ذهنيت او د باندنيو په مقابل کې د حساسيت پياوړتيا او په ډېرېدونکي ډول د مذهبي لويانو د نفوذ خپرېدل شول. د خلکو د غه بريدونه د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د وختو د غزا په نوم ياد شول. نه يوازې قومونو په ټوليز ډول، فردي کسانو هم له ډيورنډ ليکې سره د مخالفت په غورځنګ کې غوښتل نوم او عزت وګټي. ډېر ځرګند مثال يې د عجب خان اپريدي افسانوي قصه ده چې د ايليس په نامه يوه انګرېزه پېغله يې په پېښور کې په داسې حال کې چې فاميل يې په پيرو سره ساتل کېده، وتښوله. پخپلې کلا کې يې د يوې قدرمنې مېلمنې په شان ساتله ان تر دې چې د هغې لپاره يې له پېښور نه اروپايي خواړه په غلا سره ترلاسه کول. د خپلواکۍ لپاره د دغو خلکو مبارزه د پخواني يونان د اتل "اودي سې" د داستان په شان دی چې د ټرای له جنګ نه وروسته يې لس کاله ډېر ستونزناک سفر وکړ. ټولو دغو فعاليتونو انګليس- ضد احساس او د تلپاتې اناز کې حالت ژوندی وساته چې محلي او بېن المللي کړکېچ ترې هسکېده، نه يوازې تر هغه وخته پورې چې انګرېزان له هندوستان نه ووتل، بلکې تر نن ورځې پورې هم. دغه استعماري ميراث د محلي او بېن المللي کړکېچ سرچينه ده او ممکن همدغسې پاتې وي، خو په هغه حال کې چې د ټولو هغو په موافقه فېصله شي چې اغيزمن کوي يې.

# امیر عبدالرحمن خان او د ډیورنډ توافق لیک

اکتوبر ۱۹۹۵

د ډیورنډ توافق لیک او کرښې بیان په ډېر و مستندو اثارو کې په تفصیل سره شوی.دغه اثار زیاتره په انګرېزي کې د انګلستان پوهانو تهیه کړي. په دري او پښتو کې دغسې مستند اثار تر اوسه درک نه لري، خو د انګلیسي پوهانو په لیکنو کې د ډیورنډ موضوع د انګلیس د امپراتورۍ له نظر نه څېړل شوې او محلي واقعیتونه او د افغانستان نظر پکې لږ منعکس شوی دی. دغه موضوع ما په خپل یوه نوي انګرېزي اثر کې چې نوم یې دی "د افغانستان سیاسي تاریخ او باندنۍ اړیکې د امیر عبدالرحمن خان د امارت په دوره کې" له دواړو نظرونو څخه د ارشیفي اسنادو په بنا څېړلې. دغه لیکنه چې تاسو محترمو ته اورولې کېږي د همدغه ناخپاره شوي اثر د اړوند څپرکي لنډیز دی. په دغه لنډیز کې ما ریفرنسونه او د مولفانو نومونه حذف کړي دي.

امیر عبدالرحمن خان د خپل سلطنت په لومړیو دولسو کلونو کې اول د سپاه سالار غلام حېدر خان ورکزي او وروسته د سپاه سالار غلام حېدر خان څرخي په مرسته د مشرقي په ولایت کې چې جلال اباد یې مرکز و، امنیت خوندي کړ. په

لغمان، خوګیانو او کونړ کې د امنیت
خوندي کول، د لال پوري دخان، اکبر خان
مومند تابع کول او د کونړ له سیند نه
د سیدمحمود پاچا شړل دوی ته مشکل نه
وو، مشکل د شنوارو لاندې کول و چې لس
کاله یې ونیول. له هغه وروسته غلام
حیدرخان څرخي خپل پوځ د کونړ له لارې
اسمار ته وخیږوه او هلته یې ځای په
ځای کړ. مطلب یې دا و چې له هغه ځایه
په باجوړ، سوات، دیر او چترال باندې
هم د کابل قبضه په نېغ ډول قایمه
کړي. په عین حال کې د جندول عمراخان
په باجوړ کې خپل رقیب خانان یا لاندې
کړل او یا یې له هغه ځایه په فرار
مجبور کړل او غوښتل یې چې خپله خاني
لا هم پراخه کړي. له بلې خوا د سپاه
سالار پلان دا و چې اول باجوړ د پېښو،
جرګو او پوځ له لارې د کابل تابع کړي
او وروسې نورې سیمې تر پېښوره پورې
لاندې کړي، خو په دغه وخت یانې په کال
۱۸۹۲ کې د هندوستان وایسرای یا نایب
السلطنه هم عمراخان او هم سپاه سالار
ته په بېلو بېلو لیکونو کې په ټینګو
الفاظو خبرداری ورکړ چې سره مقابله
ونه کړي او له خپلو ځایونو څخه دمخه
ولاړنه شي. په دغه مهال کې پېښور او د
هغه نزدې سیمې د انګرېزانو په قبضه
کې وې او د کونړ، مومند او پېښور
ترمېنځ پراخې سیمې چې د افغانستان
برخې وې پخپل سر وې.
د هندوستان انګرېزي حاکمان په
افغانستان کې په دوهم جنګ کې له په
شا کېدونه وروسته په دې لټه کې شول
چې خپله هندي مستعمره د روسانو له
احتمالي خطر نه مامونه وساتي.
د دغه منظور لپاره یې یو تجویز
ونیو او په هغه یې د "علمي سرحد" نوم
کېښود. دغه تجویز په واقع کې د دوی د

نوي د مخکې تګ سياست يا فارورډ پاليسۍ نتيجه وه. تجويز دا و چې د روسانو د احتمالي حملې، يا دننه په افغانستان کې دامير له مرګ نه وروسته د ګډوډۍ پېدا کېدو په حال کې به دوی د کابل، غزني، کندهار کرښې نيسي او د دې لپاره چې دغه عمل په بېړه اجرا کړی وی. د يادو شويو ياغي سيمو غاښي او ستراتيجکي ځايونه به د خپل تصرف لاندې راولي، وسلې به هلته زېرمه کوي او د ضرورت په وخت کې به په بېړه کابل او کندهار ته د رېل خطونه غزوي. دغه تجويز لازمه کوله چې دوی به امير نه پرېږدي چې په ياغي سيمو باندې د افغانستان قبضه ټينګه کړي. دوی به په همدې ډول د افغانستان او هندوستان ترمېنځ پوله ټاکي.

د هندوستان انګليس حاکمانو له ۱۸۸۸ نه وروسته په اميرعبدالرحمن خان باندې د دغه تجويز د منلو لپاره فشار راوړی و، خو امير يې منلو ته نه حاضرېده. امير په ۱۸۹۳ کې د همدغه منظور لپاره د انګرېزانو يوه هيات منلو ته غاړه کېښوده. ده دغه کار ته ځکه غاړه کېښوده چې د روسانو په عېن مهال کې د افغانستان په شمال-شرق کې د پنجې يا امو سين نه اخوا غاړو يې د افغانستان ځنې نظامي پوستې په زور ونيولې او پخپل وړاندې تګ سره يې پخپله افغانستان هم تر تهديد لاندې ونيوه. امير عبدالرحمن خان په دې ډول په شمال شرق کې د روسانو او په جنوب شرق کې د انګرېزانو تر فشار لاندې راغی.

امير عبدالرحمن خان په کابل کې دې ۱۸۹۳ د نومبر په دولسمه د انګرېزانو د يوه هيات له مشر، سرمارتمر هنري ډيورنډ سره دوه توافق ليکونه لاس ليک

کړل: یو یې د افغانستان د شمال شرق یانې واخان او بل یې د افغانستان د جنوب شرق په باب و چې وروسته د ډیورند د توافق لیک یا کابل کنونشن په نامه باندې یاد شو.

د ډیورند د توافق لیک په متن کې راغلي چې یوه کرښه به چې له واخان نه د پارس تر پولې پورې اوږده وي، په نښه کېږي او د غه کرښه به د دواړو خواوو "د نفوذ سیمې" سره بېلوي. هندوستان به د دغې کرښې نه اخوا سیمو کې چې په افغانستان کې پر تې دي، مداخله نه کوي او امیر به په سوات، باجوړ او چترال کې مداخله نه کوي. په توافق لیک کې په نورو ټکو باندې هم سره جوړه وشوه. له دې وروسته زه به د ډیورند په توافق لیک او د ډیورند په کرښې تبصرې وکړم.

د ډیورند د توافق لیک په هکله افغاني اسناد له مېنځه تللي دي، په دې باب حتی هغه رساله چې په خاص ډول خپره شوې وه، هم لا درکه ده. یوازې په رسمي تاریخ یانې سراج التواریخ کې د ډیورند د کرښې ذکر شوی دی، خو هغه پخپله د توافق لیک د متن یا په دې هکله د امیر او د ډیورند ترمېنځ د خبرو په باب نه، بلکې یوازې د هغې جرگې په باب دی، چې وروسته جوړه شوه او په هغې کې د ډیورند د توافق تایید وشو، خو جرگې دغه تایید له وېرې وکړ؛ له امیر نه چې په استبداد کې یې نوم ایستلی و، ټول د جرگې د غړو په شمول ډاریدل. په اصل کې د ډیورند توافق لیک د ډار محصول و. که خلک له مستبد امیر نه ډاریدل، مستبد امیر له انگریزانو او روسانو نه ویرېده. میر غلام محمد غبار وایي: "امیر... فقط در سایه تهدید و تلبیس انگلیس (معاهده

ډیورنډ را) چشم پت امضا نمود. و مسوولیت عظیم تاریخی را برای همیشه در گردن خود گرفت". امیر د ډیورنډ توافق لیک په پټو سترګو لاس لیک کړ، خو دی د ډیورنډ له خوا وغولول شو. د ډیورنډ له خوا نه په افغانستان کې د نه مداخلې ژمنه د علمي سرحد" د سیاست په خلاف وه چې هغه په اصل کې په افغانستان کې په مداخلې بنا ده. مهمه یې لا دا ده چې د امیر سر په حقیقي نقشې نه خلاصېده چې د توافق لیک جز و. نو یې د هغې په ډېرو ټکو موافقه ونه کړه. تر هغو لا جدي خبره دا ده چې امیر د توافق لیک دري متن لاسلیک نه کړ، که څه هم ډیورنډ هغه لاسلیک کړی و. امیر د نقشې دپاسه ولیدل چې د باشګل دره د افغانستان یوه برخه ده، په داسې حال کې چې د توافق لیک په متن کې هغه د هند په نفوذي سیمه کې راغلې ده. درې کاله وروسته یانې هغه وخت چې د ډیورنډ کرښه په نښه کېده، امیر پخپل ټینګار باندې دومره کلک ودرېد تر څو په پای کې وایسرای لارډ ایلګین اعتراف وکړ چې هغه یوه تېروتنه وه. دا او دغسې نور ځینې مسایل وو چې د کرښې په نښه کول درې کاله نیول او د خېبر دره او د مومند سیمه په نښه نه شوه. امیر ټینګار وکړ چې ټول مومند د افغانستان په نفوذي سیمه کې دي.

د ډیورنډ د توافق لیک په متن کې راغلي چې امیر ژمنه کوي چې په هغو سیمو کې به مداخله نه کوي چې د انګرېزانو تر نفوذ لاندې شوي دي. دا د دې مانا نه لري چې امیر له هغو څخه افغانستان د سیمو په حېث تېر شوی دی، لکه چې سلطان محمد د تاج التواریخ یا د امیر عبدالرحمن خان د ژوند موقف او

پخپله مارتمر ډیورنډ دغسې ادعا کوي. د سلطان محمد کتاب هغه برخې چې باندنۍ اړیکې بیانوي، په لندن کې جعل شوې دي او د ډیورنډ خصوصي لیکنې چې په دې وختو کې برالا شوې دي، د دغه توافق په باب د ده رسمي راپورنه نقض کوي. ده په خپل یوه شخصي لیک کې د امیر له خولې نه ویلي دي چې که د هند برتانوي حکومت په اسمار کې د ده د پوځ له پاتې کېدو سره مخالفت ونه کړ، دی به په باجوړ او چترال کې له مداخله کولو نه لاس واخلي. ډیورنډ د هغو قامونو په هکله چې د دغه توافق لیک له مخې د هندوستان په نفوذي سیمو کې راغلي لا هم په مشخص ډول ګرېدلی دی. ده په کال ۱۸۹۷ کې په یوې مرکې کې وویل چې "باید داسې ونه ګڼله شي چې کوم هغه قامونه چې د هندوستان په خوا کې راغلي دي، دننه د برتانیې په خاوره کې دي، دوی یوازې په تخنیکي لحاظ زموږ د نفوذ په ساحه کې دي، یانې تر هغه ځایه چې په امیر پورې تعلق لري او تر هغه ځایه چې دوی زموږ نفوذ منلو ته غاړه ږدي او یا موږ یې پرې منو". پخپله وایسرای لارډ ایلګین هم وویل چې امیر د ډیورنډ په کرښې سره یوازې حاضره وضع ساتلې ده. د ده خپل الفاظ دا دي: "د ډیورنډ توافق لیک هغه توافق لیک دی چې په هغه سره د برتانیې د حکومت او د امیر نفوذ ساحې ټاکلې شوې دي. مقصد دا دی چې په هغه سره د موجود حال په باب د امیر قبولي حاصله او محفوظه شي". امریکایي مولف، لویي دوپري وایي چې: "د ډیورنډ له کرښې نه مطلب "د برتانیې د حکم توسعه ده، نه د هندوستان د سرحد پراختیا". دی وړاندې وایي چې: "د دغه کرښه د هندوستان د سرحد په شان نه،

بلکې په هغه سره د امير د قلمرو شرقي
او جنوبي سرحد او د دواړو حکومتونو د
نفوذ د ساحو حدود منل شوي دي".
برسېره پردې د امير عبدالرحمن خان او
د هغه د جانشينانو په فکر له مداخلې
نه مطلب نظامي مداخله ده. دوی دا د
توافق ليک متناقض نه بلله چې ياد
شويو قومونو باندې خپل حکم وچلوي. دا
ځکه چې امير د خپلو اسلافو په شان دوی
د افغانستان خلک بلل او اباسين يې د
افغانستان ختيځه پوله گڼله، خو دوی د
ډيورند په تپل شوې کرښې سره په
باجوړ، سوات او نورو سيمو باندې د
خپل طبيعي واکمنۍ څخه محروم وگرځول
شول. د ډيورند کرښه هم په بيړه په
نښه شوه او هم د طبيعي، توپوگرافيکي
او سياسي اصولو له مخې ونه کښل شوه
نو ځکه دغې کرښې بسته قومونه سره بېل
کړل، لکه شنواري، نورزي، اڅکزي،
ترکلاني، بړيڅ او نور. ياني هغسې
قومونه چې پخپلو کې يې ټينگ علايق
لرل، بلله دا چې دغې کرښې دغسې قامونه
په اينده کې له افغانستان څخه د
بېلولو لپاره په نښه کړل چې دوی د
افغانستان لپاره د ملا د تير په شان
حېثيت لاره او دوی تر هر بل قوم نه
زيات پخپله د افغانستان په جوړولو کې
نقش لوبولی و. دا هسې خلک وو چې
برتانوي استعمارگران يې تر نورو
قومونو څخه چې په مستعمرو کې ورسره
مخامخ شوي وو، په پرله پسې مقاومت
سره ناکام کړي وو. برتانويانو د دغې
کرښې په کښلو سره تلپاتی کړکېچ
رامېنځ ته کړ. دغسې دليل نه و موجود
چې د غه خلک دې سره ټوټه شي. مگر د
امپيريلزم، سلطې خپرولو او تشدد، سر
زوري. دغه قومونه د يوه نسل خلک دي،
په عېن ژبه گړېږي، عېن دين باندې

معتقد دي، د ژوندانه ګڼ طرزونه او ګڼ جهان لید لري او د مشترکو جغرافیايي او اقتصادي شرایطو لاندې ژوند کوي. تر هر څه زیات دغه کرښه هېڅ کله موثره نه وه. هېڅ حکومت د کرښې په هرې خوا باندې چې حاکمیت کړی، په دې نه دی بریالی شوی چې د غه قومونه دې ته اړ کړي چې هغه د بېن المللي کرښې په شان ومني. سیاسي انتروپولوجست اکبر احمد د دغسې سیمې زوی، پخپل یوه نوي اثر کې لیکلي دي چې "د ډیورنډ په توافق لیک کې د بېن المللي هم کاری معصومه هیله یوازې کله کله رعایت شوې او د کرښې په دواړو خواو کې هغه تل نقض شوې ده. دا ټول په دې دلیل چې د غو قومونو ته دغه کرښه نه پخوا د قبول وړه وه او نه اوس ده. دغه کرښه یوازې د نقشې له پاسه وجود لري.

خو څنګه چې د ډیورنډ کرښه د برتانیې د وړاندې تګ د سیاست یا په اصطلاح د علمي سرحد محصول وه، وایسرای ایلګین، د موافقې او د خپلې اولې ویناپه خلاف هغه ورانه کړه او په دغسې اقداماتو یې پیل وکړ چې په هغو سره یې غوښتل په یادو شویو قومونو باندې د برتانیې کنټرول جاري کړي. دغه اقدامات او په خاص ډول د ډیورنډ د کرښې په نښه کول، د دې سبب شول چې د هغو په مقابل کې په ۱۸۹۷ کې همدغه قومونه راولاړ شي. په دغه کال کې له توریو نه پرته ټول قومونه د ملا نجم الدین اخوند، ملامانکي او ملا پالام او یو شمېر قومي خانانو په مشری د انګرېزانو پر ضد پاڅېدل. انګرېزانو دغه ستر پاڅون د او یا زره پوځ په واسطه غلی کړ. په دغه پوځ کې ونسټن چرچل هم د یوه واړه نظامي افسر په حیث وظیفه اجرا کوله. انګرېزانو تر

دغه وخته د اباسین نه دېخوا کې له دغومره لوی پوځ نه کار نه و اخیستی.
د دغو قومونو د پاڅون خو ځوونکې قوه د ډیورنډ کرښه وه. دغې کرښې دوی ته وښوده چې دوی د پخوا په شان د خپلواک وطن اوسېدونکي نه دي، بلکې د برتانیې تر نفوذ لاندې شوي دي. په دې کې شک نشته چې امیر عبدالرحمن خان دغه قومونه پاڅون ته وهڅول. په ملکې جامو کې یې عسکر ورکړل، پېسې او وسلې یې ور ورسولې. دا پوره څرګنده ده چې امیر عبدالرحمن او سپاه سالار غلام حېدر خان څرخي د د غه پاڅون اصلي محرکان وو. امیر د هغوی د حکمران په شان بې تفاوته نه شو پاتې کېدی. دی مجبور و له هغوی سره مرسته وکړي، خو ډېر زر یې ځان ترېنه ګوښه کړ او څرګنده یې کړه چې دی له پاڅون او دغو قومونو سره سرو کار نه لري. ده دغه څرګندونه هغه وخت وکړه چې اوازه شوه چې انګرېزان غواړي په افغانستان هم ودانګي. امیر عبدالرحمن خان په دې ډول افغاستان او خپله حکمراني له خطر نه بچ کړه، خو پخپل دغه عمل سره یې خپل وطنوال هم بېګانه او په اوږده موده کې پخپله افغانستان هم ضعیف کړ. ده دغسې خلک له افغانستان څخه بېګانه کړل چې لکه چې پخوا وویل شول، دوی افغانستان ته د ملا د تیر په شان حېثیت لاره، نو د دغو قامونو لپاره طبیعي وه چې له امیر څخه شکایت وکړي، لکه چې یې وکړ او ویې ویل چې کله انګرېزانو د دوی په ملک ودانګل امیر بې تفاوتي غوره کړه او دوی یې د پېسو په مقابل کې په انګرېزانو خرڅ کړل.
امیر په یوې رسالې کې چې په اصل کې یې د انګرېزانو لپاره خپره کړې وه، په ځواب کې وویل چې کله چې تاسې

پاڅېدلی له ما سره مو سلا ونه کړه نو اوس تاسې له مانه د ګیلې حق نه لرئ.
امیر وروسته له دې چې د انګرېزانو په برابر کې یې د امیر شېرعلي خان سیاست چې په پای کې د هغه د کورنۍ د سقوط سبب شو، توضیح کړ، وویل چې "داسې فکر ونه کړئ چې زه به د امیر شېرعلي خان غوندې احمق اوسم چې ستاسې په خاطر به نور خپه کړم". خو امیر نه غوښتل چې خپل د غه قومونه بېګانه کړي نو یې وویل چې "که اوس هم تاسې زما خبره او امر ومنئ زه به که خدای کول له انګرېزانو سره ستاسې لانجه په قانع کوونکي ډول فېصله کړم".
د قومونو د غه ستر پاڅون، نظامي عملیاتو او د هغو لګښتونو انګرېزان هم محطاط وګرځول چې نور د غه قومونه او امیر ونه پاروي. د دوی یوه لوړ رتبه مامور په دغو الفاظو هدایت ورکړ چې "سرحدي مامورانو ته ووایئ چې له مخکې تګ نه نور لاس واخلي او د امیر د بدګمانۍ باعث نشي. پخوا له دې چې موږ هڅه وکړو د غه قومونه تر خپلې قبضې لاندې راولو، ښه به دا وي چې انتظار وباسو چې امیر وفات شي. زما په فکر موږ به په انتظار ایستلو سره څه شی له لاس ورنه کړو".
په پای کې به ووایم چې د دې لپاره چې د هندوستان انګلیس حاکمان خپله هندي مستعمره له احتمالي خطر نه بچ کړي، دوی امیر عبدالرحمن خان او د هغه جانشینان پخپلو وطنوالو باندې له خپل طبیعي حاکمیت څخه محروم کړل. په دې امید چې په هغوی باندې به دوی د فارورډ پالیسي تطبیق کړي او حاکمیت به پرې وکړي، خو دوی سره له دې چې په مستعمراتي چارو کې پوهه او تجربه لرله او د وخت ستر نظامي قدرت و،

پخپل مقصد ونه رسېدل، سره له دې هم
دوی له ټينګار نه لاس وانه خيست، خو
که دوی د خپل فارورډپاليسۍ په تطبيق
کولو کې له ټينګار نه لاس وانه خيست،
دغه پښتني قومونه هم له خپلې خپلواکۍ
نه تېر نه شول. انګرېزان د دې لپاره
چې دغه سرکښه او خپلواک قومونه لاندې
کړي، د امير له مرګ نه وروسته يې د
دوی په سيمو کې يو وخت بل وخت
لښکر کښي وکړې، په مقابل کې پښتنو هم
په دوی بريدونه وکړل او حتی ټولی
ټولی يې د دوی لاس لاندې اراو سيمو
باندې هم ودانګل او د مېړانې
داستانونه او قيصې يې جوړې کړې. د
خپلواکۍ د ساتلو په لړ کې د دوی
کارنامې د نړۍ د سترو کارنامو په
ډله کې حسابېږي. دا ټول د دې باعث
شول چې په دوی کې د انګرېزي استعمار
ضد احساس عام او قوي شي چې تلپاتې
انار شي، محلي او بېن المللي کړکېچ د
هغه عمده عناصر ګرځېدلي دي. شايد بل
هېڅ قوم د انګرېزي استعمار په مقابل
کې په دغسې دوام لرونکي او مېړانې
سره مقاومت نه وي کړی. د ډيورنډ د
ترون او کرښې نه پېدا لانجه تر اوسه
هم موجوده ده.

# پښتانه
# او د ډیورنډ
# توافق لیک

پښتون د اسیا په زړه کې یو لوی ولس دی. اوس یې ټول شمېر د ډیورنډ د کرښې په دواړو خواوو کې څه کم څلوېښت([1]) میلیونه کېږي. پښتون یو ډېر لرغونی ولس هم دی. شته والی یې په ویدي او اوستایي دورو کې تثبیت دی. بلخ، غور، کندهار، پېښور او مستونګ یا ننني کوټه یې تاریخي مرکزونه دي. د همدغه لرغونتوب په وجه ده په څو نومونو یاد شوی دی. پښتون، افغان او پټهان.

لومړی او ډېر پخوانی نوم یې پښتون دی چې هېرودوت د پکتیک (Pactyic) په نامه یاد کړی. په پښتنو کې همدغه نوم مروج دی. تر پښتون و روسته د افغان نوم ډېر اورېدل کېږي. افغان د مهاباراته اس واکا (Asvaka)، اس واغانه (Asva-Ghana) او د منځنی پاړسو ابګان (Abyan) او اپاکان مفرس یا معرب نوم دی چې مانا یې اس سواره او د اسونو هېواد کېږي. دغه نوم په اسلامي دوره کې افغان او افغانستان شوی دی. پټهان نسبتا نوی نوم دی او هغه اول په دولسمې پېړۍ کې هغو پښتنو ته ورکړل شوی چې د هند د بهار ولایت په پټنه کې مېشت شوي و.

د پښتنو او تاجکو او نورو لرغوني

---

[1]- د اوسنیو اټکلونو له مخې یې شمېر له پنځوسو میلیونو زیات دی. (خپرندویه ټولنه).

هېواد اريانه و چې په سانسکرت کې په اريا ورته (Aya Vareta) او په زند کې په ارياني ويجو (Erieneveejo) ياديده. لرغونې اريانه يوه پراخه او نامشخصه سيمه وه چې بلخ يا بخدي، يا د يونانيانو بکتريايي مرکز و او په اوستايي دوره کې زراسپه (Zariaspa) يې واکمنه کورنۍ وه. دغه کورنۍ لکه هسې چې له نامه نه يې ښکاري په غالب احتمال پښتنه کورنۍ وه. د يونان-باختري په دوره کې اريانه د هغې سيمې نوم و چې د اباسين او کرمان يانې د هند او پارس ترمېنځ پرته وه. دا سيمه په اسلامي دوره کې د افغانستان په نامه ياده شوه. په څوارلسمې پېړۍ کې افغانستان د سيفي هروي په تاريخنامه هرات کتاب کې هغو سيمو ته ويل کېده چې د اباسين او غزني ترمېنځ پرتې وې او د مستونګ يا ننني کوټې حاکم يې تر نورو نه مهم و. په بله ژبه د سليمان د غرو شاوخوا ټولې هغه سيمې چې د ايلمن، غزني، کابل او اباسين ترمېنځ پرتې وې، د افغانستان په نامه يادېدلې، خو پخپله پښتنو خپل د غه ټاټوبي د پښتونخوا او روه په نامه ياداوه.

پښتانه په همدغه هېواد کې په مشخص ډول ياد شوي. د هېرودوت په تاريخ کې ګنداري (Ganharii)، اپه ريتاى (Aparytea) او سته ګيداى (Sattagyddae) راغلې چې لومړنۍ يې مومند، يوسفزي يا پخواني اسپه سي او اپه ريتاى يې اپريدي او سته ګېداى يې خټک کېږي. د مقدوني سکندر د يرغل په وخت کې د کونړ او باجوړ خلک د اسواکا او اسپه سي په نومونو ياد شوي دي. هرودوت په مشخص ډول وايي چې پکتيکان يانې پښتانه د هند په شمال کې اوسي. دوى زياتره

کوچیاني ژوند لاره چې اوسني کوچیان د همدغ سې ژوند ښکارندوی دي. پ ښتنو د چنگیزیانو په یرغل سره د سلیمان غرو او درو ته مخه وکړه. یوسفزیو په کابل کې اول له الوغ بیگ تیموري او بیا له بابر سره له مقابلې نه وروسته کابل ترک کړ او پخپل اوسني هېواد کې مېشت شول. تر هغه دمخه دوی د کلات او غزني په سیمو کې او سېدل. په مقابل کې ابدالیان یا درانیان د سلیمان له غرو نه د لویدیځ په لور کندهار او هرات ته لاړل او هلته یې د ولتونو بنیاد کېښود. په داسې حال کې چې په شپاړسمې او اولسمې پېړی کې په ختیځ کې اول روښانیان او وروسته لوی خوشال خټک او ایمل خان مومند د خپلواکۍ په لار کې چې هغومره قربانۍ میا روښان او د هغه زامنو او لمسیانو ورکړې، شاید بلې کورنۍ په تاریخ کې نه وي ورکړې. په لویدیځو پښتنو کې اول میرویس هوتک او وروسته احمدشاه دراني و چې پښتانه یې د خپلواکۍ هسکې ته ورسول. د احمدشاه دراني اهمیت په دې کې دی چې د پښتنو په سروالۍ یې د آمو او اباسین ترمېنځ هېواد کې خپلواک دولت جوړ کړ او تر هغه د باندې په نورو سیمو لکه پنجاب، ملتان، سند، کشمیر او پارسي خراسان کې یې د واک په خپرولو سره امپراتوري تاسیس کړه. ده دغه کارنامې په عمده ډول د ختیځو پښتنو په ملگرتیا ترسره کړې. په دې ډول ختیځو پښتنو د احمد شاهي دولت او احمدشاهي امپراتورۍ په جوړولو کې او په خاص ډول په هند باندې په نهه ځل بریالیو یرغلونو کې غټه برخه اخیستې ده. پاني پت په جگړه کې د مرهټه وو په ماتولو کې د دوی برخه ټاکونکې وه. کــه مرهټـه چـې ځانونه یې تر اباسین پورې رسولي وو،

پر ځای پاتې وای د هندوستان د مسلمانانو ژغورنه او په شلمې پېړۍ کې د پاکستان هسکېدنه به په شک کې وای.د ختیځو پښتنو د همدغې ټینگې ملگرتیا له امله و چې احمدشاه دوی بر درانیان ونومول او ځای ناستي یې تیمور شاه، پېښور د خپلې امپراتورۍ د ژمي مرکز وگرځاوه، خو که اتلسمه پېړۍ د پښتنو د برم پېړۍ وه، نولسمه پېړۍ د هغو د نزول پېړۍ شوه.

په دغې پېړۍ کې اروپایي په تېره انگرېزي استعمار د صنعتي انقلاب په برکت نړدې ټوله اسیا لاندې کړې وه او انگرېزانو په ټول هند د پېښور په گډون قبضه کړې وه. د منځنۍ اسیا د لاندې کولو لپاره در وسانو او انگرېزانو ترمېنځ د سترې لوبې په نامه سیالي روانه وه، خو افغانانو د ختیځو پښتنو په ملاتړ د څلوېښتو کلونو په فاصله کې په افغانستان باندې د انگرېزانو دوه یرغلونه شنډ کړل. له هغه وروسته انگرېزانو په داسې حال کې چې روسانو منځنۍ اسیا نیولې وه، د هندوستان د ساتلو لپاره د ډیورنډ توافق لیک په نامه یوه بله ستراتیجي وایستله او پر هغه باندې یې د "علمي سرحد" نوم کېښود. اوس زه د دغه توافق لیک په غټو ټکو باندې رڼا اچوم:

د دغې نوې ستراتیجۍ اصلي مقصد د هندوستان ساتنه وه. په دې ډول چې کله روس د افغانستان له لارې په هندوستان باندې رادمخه کېږي، دوی به کندهار، کابل او جلال ابا دته خپل پوځونه زر رسوي او د روس پرمختگ به شنډوي. د دې لپاره حتمي وه چې دوی په ختیځو پښتنو کې ستراتیجیک ځایونه په کنټرول کې ولري.دغه کنټرول بیا حتمي کوله چې دوی باید د هغو په شاوخوا قومونو

باندې سیاسي نفوذ خپور کړي او د افغانستان لاس له هغو نه لنډ کړي، خو د افغانستان پاچا امیر عبدالرحمن خان د دوی پرمخ خنډ و. دوی له ۱۸۸۸ نه تر ۱۸۹۲ پورې هغه تر ډول ډول فشارونو لاندې ونیوه. سره له دې هم امیر دغه کار ته نه حاضرېده. دی په پای کې هغه وخت په دې اړه خبرو ته حاضر شو چې روسانو د افغانستان په شمال- ختیځ یانې په لوی پامیر کې د افغانستان نظامي پوسته په نظامي یرغل سره ونیوله او افغانستان ته یې خطر پېښ کړ. امیر چې په دې ډول د روسانو او انګرېزانو له خوا تر فشار لاندې راغی، د هند د باندنیو چارو وزیر سر ماتمر ډیورنډ په سروالۍ یې یو کوچنی ملکي هیات په کابل کې ومانه او له هغه سره یې د ۱۸۹۳ کال د نومبر په دولسمه د ډیورنډ یا کابل کانونشن په نامه توافق لیک لاسلیک کړ.

د ډیورنډ توافق لیک د دواړو خواوو د نفوذ سیمې ټاکلې ا و هرې خوا تعهد کړی چې د بلې خوا د نفوذ په سیمه کې به مداخله نه کوي. له توافق لیک نه د برتانوي هند حکومت یو مطلب دا و چې د ډیورنډ د کرښې په ختیځو سیمو کې به د امیر عبدالرحمن خان د نظامي او سیاسي وړاندې تګ مخه نیسي. امیر تر هغه دمخه د دغو سیمو په قومونو باندې په ډول ډول نفوذ خپراوه او په هغو باندې یې د حکومت نېغ حاکمیت چلاوه. د دغه مقصد لپاره د سپاه سالار غلام حېدر خان یوسفزي په سروالۍ په اسمار کې یوه لویه نظامي قوه پر ځای شوې وه. دتوافق لیک په متن کې د دواړو هېوادونو ترمېنځ د ګډې پولې کلمه نشته. د دې مانا دا کېږي چې هند به له افغانستان سره ګډه پوله نه لري. د

دوارو ترمېنځ د فرنټيرز په نامه سرحدي سيمه يا سيمې دي چې د ډيورنډ په کرښې به سره بېلېږي او يوه خوا به د بلې خوا د نفوذ په سيمه کې مداخله نه کوي، خو د امير عبدالرحمن خان لپاره "مداخله" يوازې نظامي مداخله وه او په نورو ساحو کې دی د پخوا په شان ازاد و چې له دغو پښتني قومونو سره ارتباط ولري. د دغو ټولو قومونو جرګې هم د پخوا په شان په پرله پسې ډول کابل ته تللې او له امير سره يې کتل. دا چې ډيورنډ پخپلو رسمي ليکنو کې او سلطان محمد د امير عبدالرحمن خان ژوند په نامه کتاب کې وايي چې امير عبدالرحمن خان د افغانستان د واکمن په حېث له دغو ټولو سيمو نه خپلې ادعا نه تېر شوی دی، سمه نه ده. دا واقعيت دی چې د سلطان محمد د کتاب ټوله دوهمه برخه يانې هغه برخه چې د سيمې او باندني سياست او د ډيورنډ د توافق ليک په اړه ده، په لندن کې جعل شوې ده. دهغه د وخت لوی درستيز "لارډ کيچنر" وايسرای لارډ کرزن ته همدغسې ليکلي وو او ما دغه ټکي ته پخپل يوه انګرېزي کتاب کې تفصيل ورکړی، نو د ډيورنډ د کرښې په نامه د ډاکټر عظمت حيات خان کتاب چې د غه موضوع يې په زياته اندازه د هغه پر اساس کښلې، د اعتبار وړ نه دی. پخپله ډيورنډ هم په کال ۱۸۹۷ کې په يوې مرکې کې ويلي وو چې: "... د هندوستان د خوا قومونه بايد داسې ونه ګڼل شي چې دننه د برتانيې په سيمه کې پراته دي. هغوی يوازې په تخنيکي لحاظ زموږ تر نفوذ لاندې دي، يانې دا چې تر هغه ځايه چې په امير پورې اړه لري او تر هغه ځايه چې دوی زموږ نفوذ ته تسليمېږي يا موږ په هغو باندې نفوذ کوو". بله غټه

خبره دا ده چې ډيورنډ او شاته يې د هند حکومت په دغه توافق ليک او په نهايت کې له امير سره صادق نه و، ځکه چې د دوی مقصد دا و چې لکه چې دمخه مې ويلي د ضرورت په وخت کې به په افغانستان کې نظامي مداخله کوي. تر هر څه مهمه دا ده چې امير عبدالرحمن خان نه دده توافق ليک فارسي متن لاسليک کړی او نه هم هغه نقشه امضا کړې چې ورسره مله وه او ډيورنډ وروړاندې کړې وه. امير عبدالرحمن خان په انګرېزي نه پوهېده او چې هغه په انګرېزي نه پوهېده، طبيعي ده چې د توافق ليک انګرېزي متن به يې لاسليک کړی نه وي. اوس اساسي سوال دا دی چې ايا د غه توافق ليک به لکه هسې چې ډيورنډ وړاندې کړی د اعتبار وړ وي؟ ما چې د کابل، نوي ډهلي او لندن په ارشيفي مرکزونو کې د امير عبدالرحمن خان د دورې په اړه څېړنې کړې، د امير په لاسليک مې د ډيورنډ د توافق ليک متن ليدلی نه دی.

په دې اړه بله غټه موضوع دا ده چې د همدغه انګريزي توافق ليک متن ځينې برخې د تطبيق په ډګر کې د امير لپاره قبولې نه وې او انګرېزانو هم د هغه اعتراضونه ومنل. د پخواني کافرستان د باشګل دره د توافق ليک په متن کې د انګرېزانو د نفوذ په ساحه کې شول شوې ده، خو په کال ۱۸۹٦ کې چې د ډيورنډ کرښه هلته په نښه کېدله، امير په دې ټينګ شو چې باشګل د افغانستان برخه ده. د هندوستان وايسرای "لارډ ايلګين" د امير اعتراض ومانه او د باشګل موضوع يې "د خواشينۍ وړ تېروتنه" وبلله. بله موضوع د مومندو وه چې د ډيورنډ د کرښې د نښه کولو په وخت کې امير په

هغې باندې هم ټینګ ودرېد او ویې ویل چې ټول مومند د افغانستان برخه ده. د مومندو سیمه په نښه نه شوه او امیر بیا هلته د سړک د جوړولو امر وکړ. په دغه سړک باندې کار هم شروع شو، خو د امیر له مرګ نه وروسته د سړک جوړولو کار په ټپه ودرېد. داسې هم د تورخم برخه د امیر د اعتراض په وجه په نښه نه شوه. بله غټه موضوع په ساحه کې د توافق لیک او د هغه د نقشې له مخې د کرښې په نښه کول دي چې د توقع پرخلاف اوږده شوه او درې کاله یې ونیول. د جغرافیایي او ټوپوګرافي له مشکل نه غېر دغې کرښې لوی قومونه او حتی کلي سره بېلول لکه تر کلانی، وزیر، شینواري، نورزي، آڅکزي، بړیڅ او بلوچ. دا هغه قومونه دي چې سره ګډه ژبه، ګډ دین، ګډ تاریخ، ګډ کلتور او سره ورته نړۍ لید او داسې هم یو راز اقتصادي، زراعتي او اجتماعي طرز لري. دوی سره نه بېلېدېږي او نه هم د پردیو واکمني مني. نو دا عجبه نه وه چې د ډیورنډ دکرښې په نښه کولو نه وروسته چې دوی پوه شول چې د انګرېزانو د نفوذ په ساحه کې راغلي، د ملا نجم الدین اخوندزاده، ملا فقیر او ملا مانکي او نورو قومي مشرانو په سروالۍ یې په کال ۱۸۹۷ کې په یو لوی پاڅون لاس پورې کړ او ځانونه یې تر شبقدر پورې ورسول، خو انګرېزانو د هغوی په وړاندې له اویا زریز منظم پوځ نه کار واخیست چې په هغو کې ځوان ونستن چرچل هم و. سره له دې هم انګرېزانو له هندوستان نه تر وتلو پورې پر هغوی باندې هغسې نفوذ خپرولی نه شو چې دوی غوښتل. پروفیسر اکبر احمد چې دهغه ځای سیاسي انتروپولوجست او د خپلو پښتنو متخصص دی، وایي چې:

"د بېن المللي توافق ليک هغه ښه هيله چې د ډيورنډ په توافق ليک کې ښوول شوې، د ډيورنډ د کرښې په دواړو خواوو کې يې بس کله کله مراعات شوی، خو په پرله پسې ډول ترېنه سرغړول شوی دی".
پر هغه سربېره دی ليکي چې له کال ۱۹۲۰ نه تر ۱۹۳۸ پورې د اتلسو کلونو په بهير کې دغو قومونو اتلس ځله حتی پخپله په هندوستان باندې هم بريدونه کړي دي. د غومره چې د غو پښتنو په انگرېزانو باندې بريدونه کړي، شايد د نړی په بل ځای کې نورو قومونو پر هغو باندې هغومره بريدونه نه وي کړي. د عجب خان اپريدي حېرتناکه قصه تر اوسه هم په دغو خلکو کې انگازې کوي. د دغو ټولو لانجو او داسې هم تر هغه وروسته کشالو اصلي سرچينه دا ده چې ختيځ پښتانه يا د احمدشاه دراني بر درانيان د پرديو واکمنی ته غاړه نه ږدي.

# د ډيورنډ توافق ليک
# بايد ډېر دمخه باطل اعلام شوی وای

د ډيورنډ د توافق ليک رياعيت نه د برتانوي هند حکومت، نه د افغانستان حکومت، نه د پاکستان حکومت او نه پخپله خلکو کړی، خو په هغه سره د افغانستان د اصلي خاورې يوه برخه نيول شوې ده، که څه هم هغه په ماهيت کې موقتي و او بايد ډېر پخوا په تېره له هندوستان نه د انگريزانو په وتلو سره باطل اعلام شوی وای.

په دغه اړه لومړنی ټکی دا دی چې د ډيورنډ توافق ليک د برتانوي هند د حکومت په نېغ فشار او د تزاري روسيې په غېر مستقيم فشار په کال ۱۸۹۳ کې پر امير عبدالرحمن باندې تحميل شوی دی. لومړني له کال ۱۸۸۸ نه تر هغه وخته پورې امير تر ډول ډول فشارونو لاندې نيولی و او وروستي په همدغه وخت کې د افغانستان د بدخشان ولايت د روشان او شغنان هغه برخې چې د پنجه شي خواته ان د مرغاب يا آق سو تر سين پورې غځېدلې وې، په وچ نظامي زور نيولې وې. که څه هم په کال ۱۸۷۳ کې يې ټول بدخشان د افغانستان په قلمرو کې منلی و او افغان حکومت خپل حاکميت پرې جاري کړی و، په دغه ډول افغانستان په دغه وخت کې د دوو ارو پايي امپراتوريو تر گواښ لاندې

راغلی او امیر خان مجبور ولید د ډیورنډ توافق لیک منلو ته غاړه کیږدي. د غه موضوع ما پخپل یوه نوي خپاره شوي کتاب کې بیان کړې چې نوم یې دی: "د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ". (۱)

بل مهم ټکی دا دی چې امیر عبدالرحمن د د غه توافق لیک تطبیق د مومندو، باشگل او خیبر په برخه کې ونه مانه. د هند حکومت د امیر لومړني دوه اعتراضونه ومنل او د خیبر په نښه کول پاتې شول. په توافق لیک کې له اسمار نه تر بدخشان پورې د پخواني کافرستان د باشگل اوړده دره د برتانوي هند د نفوذ ساحه ښودل شوې ده، خو د ډیورنډ کرښې د نښه کولو په وخت امیر د هند حکومت ته په ټینگه ښکاره کړه چې: "د کافرستان اخري کور هم په افغانستان پورې اړه لري". د هند وایسرای لارډ ایلگین د امیر اعتراض ته تسلیم شو او د توافق لیک په متن کې یې د هند په نفوذي ساحه کې د باشگل شمول "تېروتنه" وبلله. داسې هم امیر د مومندو په برخه کې د کرښې د غځولو په وخت کې د هند حکومت ته ثرگنده کړه چې: "ټول مومند د افغانستان برخه ده" د هند حکومت د امیر ادعا رد نه کړه، خو په اړه یې څه ونه کړل او امیر ته یې ځواب هم ور نه کړ. د امیر په فکر د هند د حکومت چوپ پاتې کېدل د هغو له خوا د ده دا ادعا منل وو، خو د امیر له مړینې وروسته د مومندو سیمه دوه برخې وگڼل شوه، هغه برخه چې د کوز مومند په نامه یادیږي او تر پېښور پورې رسیږي، د هند نفوذي ساحه وگڼل شوه او بر مومند د پخوا په شان د افغانستان شو.

د باشګل درې او مومند موضوع ګانې د ډیورنډ د توافق لیک د متن د رښتین توب په اړه شک پیدا کوي. دغه موضوع ما پخپل کتاب کې په تفصیل سره څېړلې ده چې پښتو متن یې په همدغې رسالې کې نیول شوی دی. دلته په لنډ ډول وایم چې د توافق لیک په انګرېزي متن کې یوازې د امیر او ډیورنډ نومونه لیدل کېږي، نه د هغو لاسلیکونه.څنګه چې امیر د توافق لیک هغه فارسي متن نه و لاسلیک کړی چې ډیورنډ ورته وړاندې کړی و او څنګه چې امیر په انګرېزي نه پوهېده، د هغه انګرېزي متن د اعتبار وړ کېدلی نه شي. که چا د دغه توافق لیک دغسې متن په فارسي یا انګرېزي کې وښود چې امیر او ډیورنډ دواړو لاسلیک کړی وي، اعتبار به یې لږ تر لږه د تحمیلي توافق لیک په توګه تثبیت شي. تر هغو پورې موجود متن د اعتبار وړ کېدلی نه شي.

د دیورنډ د توافق لیک په اړه بل اساسي ټکی دا دی چې د کرمې له علي خېلو یا توریو نه پرته ټول پښتني قومونه همدا چې پوه شول، د هند په نفوذي ساحه کې ګڼل شوي، په کال ۱۸۹۷ کې د هغه پر ضد جګ شول او پېښور ته نژدې تر شبقدر پورې ورسېدل. انګرېزانو د وسله وال پوځ په واحدونو سره چې ټول شمېر یې د شپېتو اویا زرو ترمېنځ و، هغوی خواره کړل، خو د هغو مخالفت یې له مېنځه وړلی نه شو. دوی په تېره وزیرو، مسیدو، اپریدو او مومندو تر هغو چې انګرېزان له هند نه، نه وو وتلي، د هغو پر ضد د غزا جنډه رپانده وساتله او حتی پخپله په هند باندې یې هم یرغلونه وکړل. د دوی دغه مخالفتونه په اصل کې د ډیورنډ د توافق لیک له لامله وو.

د ډیورنډ د توافق لیک په اړه بل اساسي ټکی د هغه د ماهیت په اړه دی چې موقتي دی، نه تلپاتی. دا چې د توافق لیک د اعتبار موده ټاکل شوې نه ده، په اصل کې د همدغه موقتي توب له امله و. دغه توافق لیک په اصل کې د دې لپاره و چې برتانویان په هغو ستراتیجیکي ځایونو قبضه ولري چې د افغانستان له لارې په هندوستان باندې د تزاري روسیې د احتمالي یرغل د فع وکولی شي. انګریزانو د همدغه مقصد لپاره په کال ۱۸۷۸ کې په افغانستان باندې دانګلي وو، خو څنګه چې افغانانو دوی په کابل او میوند کې په جنګونو کې مات کړل، له افغانستان نه په وتلو مجبور شول. وروسته یې د ډیورنډ تجویز وایست. دغه تجویز د دوی په اصطلاح د "علمي سرحد" یوه برخه وه. په دې ډول چې دهغه له مخې دوی به د پښتنو په سرحدي ستراتیجیکي سیمو کې وسلې او نور لوجستیکي وسیلې او حربې مهمات زېرمه کوي او د ضرورت په وخت کې به له دغو ځایونو نه جلال اباد، کابل، غزني او کندهار نیسي او روسان به نه پرېږدي چې له هندوکش نه واوړي. انګرېزانو لا دمخه د غو ښارونو ته د چټک رسېدلو په نیت له هندوستان نه د افغانستان په لور د لویو لارو سرونه لکه خېبر، کرمه، پښین او سبي نیولي وو. دغه ځایونه یې د ګندمک په تړون سره ترلاسه کړي وو او د جنوبي وزیرستان ګومل یې د ډیورنډ په توافق لیک سره ترلاسه کړ. د دغو زېرمه تونو لرل لازمه کوله چې انګرېزان په هغو سیمو نفوذ ولري چې دغه زېرمه تونونه پکې وو. د دوی مقصد دا نه و چې د غه سیمې په هند پورې وتړي او اداره یې کړي. په اصل کې د ډیورنډ توافق لیک

ددې لپاره نه و چې هند له افغانستان سره پوله (Boundray) ولري. دغه سيمې په واقع کې د هند او افغانستان ترمېنځ د حايل په شان وې. برتانويانو تر پايه پورې دغه سيمې د سرحد (Frontier) په نامه يادولې او اداره يې د هغو قومونو ته پرې ايښې وه او خپل پوځي واحدونه يې يو ځاى بل ځاى په چونډيو کې ځاى پر ځاى کړي وو. د ډيورنډ په توافق ليک سره دوى له دغو سيمو نه په نظامي او اداري لحاظ د افغانستان لاس لنډ کړ او هغه وضع يې وساتله چې تر موافقې دمخه پرې مسلطه وه. په نورو ساحو کې افغانستان د پخوا په شان له دغو سيمو سره خپلې عنعنوي اړيکي وساتل او مشرانو ته يې د مواجب په نامه معاشونه ورکول. د کوز مومند مشرانو ته لا هغه مواجب چې افغانستان او د لال پورې خان اکبر خان د عنعنې له مخې ور کول، د انگرېزي مامورانو له لارې ورر سېدل. يوازې دا هم نه و، د دغو قومونو د مشرانو جرگې په پرله پسې ډول کابل ته تللې او هلته يې امير ته ويل چې دوى د افغانستان رعيت دي او دوى دي خپل امير گڼي، خو امير د هغو غوښتنې په پلمو سره ردولې، ځکه چې دى د اپريدو په برخه کې د گندمک په تړون سره او د نورو په برخه کې د ډيورنډ په توافق ليک سره د هغو له اداره کولو نه منع شوى و. د هند وايسراى لارډ ايلگين هم په دغه حقيقت اعتراف کړى او ويلي يې دي چې "د ډيورنډ توافق ليک دغسې يو توافق ليک و چې د برتانوي حکومت او د امير د نفوذ ساحې معلومې کړي. د هغه نه مطلب دا و چې د موجودې وضع (Statuguo) په اړه د امير رضايت حاصل او وساتل شي". په دې اړه ډيورنډ تر هغه

هم په مشخص ډول ګرېدلی او ويلي يې دي چې: "د هند په خوا قومونه بايد دغسې ونه ګڼل شي چې هغوی دننه د برتانيې په سيمه کې دي. دوی يوازې په تخنيکي لحاظ زموږ تر نفوذه لاندې دي، يانې دا چې وو يل شي تر هغه ځايه چې په امپراتورۍ پورې اړه لري او تر هغه ځايه چې دوی زموږ نفوذ مني يا موږ يې پرې باندې منو".

مهمه دا وه چې برتانوي لوړ پوړو مامورانو د ډيورنډ توافق پخپله باطل کړی دی. سر جارج روس کيپل، د صوبه سرحد لوی کمشنر، د افغانستان د خپلواکۍ له جنګ نه وروسته ښکاره کړه چې: "زموږ پوره شخص [امير] حبيب الله ته و او موږ د هغه ورور يا زامنو ته مديون نه يو"[٢] له دغې وينا نه د هغه مطلب دا و چې هغه مقدار پېسې چې د ډيورنډ د توافق ليک په سر د هند برتانوي حکومت افغانستان ته ورکولې، نور د تاديې وړ نه وې او دهند حکومت د هغو له ورکولو نه ازاد شو. په دې حساب افغانستان هم بايد د ډيورنډ د موافقې له شرايطو نه ازاد وي. تر دې لا مهمه دا ده چې د ډيورنډ توافق ليک د راولپنډۍ د تړون له مخې چې د هند د باندنيو چارو وزير اې.اچ. ګرانټ د ١٩١٩ کال د اګست په اتمه منلی و، هم باطل کېږي. د دغه تړون په ضميمه کې هغه ليکلي وو چې: "پر هغه برسېره، دغه جنګ ټول پخواني تړونونه باطل کړي دي".[٣]

(Moreover this War has cancelled all previous treaties).

سره له دې هم د هند برتانوي حکومت د خپل نفوذ د خپرولو لپاره په سيمې کې ډول ډول تجويزونه ونيول.

د دغو تجويزونو مهم هغه و چې په

کال ۱۹۰۱ کې یې خپله نفوذي سیمه دشمال- لویدیځ سرحدي ایالت ونوموه او هغه یې په دوو برخو ووېشه: کرارې علاقې (Settled Districts) او قبایلي علاقې یا ایجنسۍ ګانې. که څۀ هم د هرې قومي ایجنسۍ په سر کې د سیاست ایجنټ په نامه یو انګرېز افسر ځای پر ځای و، هره ایجنسي په اصل کې خپلواکه وه او چارې یې د پښتونولۍ پر بنسټ ترسره کېدلې. اکبر احمد چې یو نوميالي انټروپولوجسټ او د بلوچستان د سبي څانګې کمشنر و،وايي چې: "د قبایلي سیمو وضع په استثنایي ډول بېسارې ده، په دې ډول چې هلته تر نن ورځې پورې (No body's land) د هېڅ چا ملک (۱۹۹۳) لیدل کېږي. یانې چېرې چې یو څوک د پښتونولۍ له مخې بې له دې چې جزا وویني، خپله ښځه یا تربور وژني او بیا هم هغه قانون پرې نه چلېږي چې د هېواد په نورو برخو کې نافذ دی. شاید دا مبالغه نه وي چې دغه قبایلي سیمې په رښتیا د ځمکې په سر وروستی ازاد ځای بلل شوی دی". دی د مولف جي سپین له قول نه دا هم وايي چې: "سرحدي قومونو چې څوک دې په افغانستان کې حکومت وکړي، تل یو مهم رول لوبولی دی". ^{(٤)} د دغه وروستي حکم د په حقه ښودلو لپاره مثالونه لږ نه دي. اساسي دلیل یې دا دی چې پخپله افغانستان په اول سر کې له اباسین نه تر غزني او کندهار پورې د دغو سیمو په ګډون یو هېواد و او دغو قومونو له ستر احمدشاه سره د معاصر افغانستان په جوړولو او وروسته له هغه نه د دفاع په کولو کې غټه برخه اخیستې ده. د دوی ونډه د خپلواکۍ په جګړه کې غوڅه وه چې هغه افغان مؤرخ میر غلام محمد غبار پخپل کتاب "افغانستان در

مـسیر تـاریخ" کې ښه انـځور کړې ده. هغومـره چې انـګرېزان د دغو قـومـونـو پـه تـېره دوزیـرو او مـسیدو لـه شریـکې یـا ګـوریلایي جنګونـو نـه وېـرېـدل، د افـغانـسـتان لـه مـنظم پـوځ نـه، نـه ویـرېـدل.

افـغانـسـتان هـم د دغـو قـومـونـو د بـرخلیک پـه ټاکلو کې هلې ځلې کړې دي. د خپـلواکۍ پـه غونډه کې افـغان هیـات انـګلیـسي هیـات تـه غوښتنې وړانـدې کړې چې یـوه یـې دا وه چې: "ټولـه قـبایـلي سیمه بـایـد افغانـستان تـه پـرېـښودل شي او هغه بـه یـې پـه دې ډول اداره کړي چې د بـر تـانـوي حکومت بـه لـه ټولـو هغو ستونـزوڅخه ژغورل شوی وي چې تـر اوسه یـې د دغې موضوع لـه املـه ګالـلې دي". (۵)

دغه وخت کـه څه هم پـه روسیـه کې د لېـنن پـه مـشرۍ د بـلشویـکي حکومت پـه هسکېدو سره پـه هندوستـان بـانـدې د روسې د یـرغل لـه مېـنځه تـلـلې وه. سره لـه دې هم انـګلیـسانـو د افـغان هیـات غوښتـنه ونـه مـنـلـه، لـکه هـسې چې پـه دې اړه یـې د امیـر عبـدالـرحمن غوښـتـنه هـم نـه وه مـنلې. پـه نـتیجه کې انـګلیـسانـو خپل ځان پـه دغـسې غټو ستونـزو اختـه کړ چې د خپـلې پـراخې امپـراتـورۍ پـه بـلې بـرخې کې ورسره مـخامخ شوي نـه وو. دغه موضوع ځانـلـه یـو کتـاب غواړي، دلـتـه بـه پـه لـنډ ډول هغه ستونـزې بـیـان کړم چې د هـند بـرتـانـوي حکومت پـه وزیـرستـان کې ورسره مـخامخ شوی و، بـیـا بـه لـه پـاکستـان سره د وزیـرستـان اړیـکې هم پـه لـنډ ډول بـیـان کړم.

وزیـرسـتـان د بـاجوړ، مومنـد، کـاکړستـان او کوټـې پـه شان لـه چترال نـه د سهیل پـه لـور د اوسني افغانـستـان شـمال- ختـیځ تـه غځېـدلې سـیمه ده. وزیـرستـان تـر دغو ټولـو سیمو نـه ډېـره

غرنی ده، درې یې تنګې او ژورې او د
کرکیلې ځمکې یې لږې دي. خلک یې هم
ډېر او تر نیم ملیون نه ډېر دي، د
ټول سرحد نفوس اووه ملیون اټکل شوی
دی چې نږدې ټول یې پښتانه دي.
وزیرستان دوه برخې لري: شمالي
وزیر ستان او جنوبي وزیر ستان. دواړه
برخې یې د ډیورنډ د کرښې په اوږدو کې
پرتې او د پکتیا او خوست ګاونډیانې
دي. د وزیرستان ځینې وزیر همدا اوس
هم دننه په افغانستان کې د کرکیلې
ځمکې لري. په افغانستان کې دننه په
برمله او متون کې دومره ډېر وزیر
پراته دي چې ټول شمېر یې د وزیرستان
له وزیرو او مسیدو نه یو څه لږ دی.
پر دې سربېره د بېړي ګل وزیر او ناصر
احمد ساپي په وینا وزیر په اصل کې
ودېر و. په دې حساب د افغانستان د
وزیرو شمېر د وزیرستان له وزیرو نه
ډېر کېږي. ودېر، مسید او ګربز چې د
ساپیو څانګې دي، په وزیرستان، پکتیا،
کونړ، لغمان، تګاو او غوربند کې اباد
دي، نو دوی ټول د کرلاني پښتنو یو غټ
قوم دی. د وزیرستان وزیر افغانستان
ته په ازاد ډول تګ راتګ کوي. پروفیسر
اکبر احمد وایي چې: "د غه قومو نه
یوازې کله کله بېن الملي پوله د
واقعیت په شان پېژني او مني او د
دواړو هېوادونو ترمېنځ د دوی د
خېلونو تګ راتګ ازاد او بې خنډه
دی". (٦)

د وزیرستان وزیر او مسید د وزیر
په نامه ګډ نیکه پېژني چې د شپاړسمې
پېړۍ په پای کې اوسېده. تر دې نږدې
وختو پورې مسیدو یا مسودو ځانو نه
مسید-وزیر ګڼل، خو اوس ځان ته یواځې
مسید وايي. وزیر په شمالي وزیرستان
او مسید په جنوبي وزیرستان کې اوسي.

له مسیدو سره دوړ، سلیمان خېل، دوتني او نور خلک هم پراته دي. په جنوبي وزیرستان کې وانه او په شمالي وزیرستان کې میرام شاه یو څه لوی ښارونه دي. وزیر او مسید دواړه ټینګ دموکرات دي او خپلې چارې د پښتونولۍ له مخې په جرګو سره اجرا کوي. څنګه چې دوی پخپل ملک کې باندنیان نه دي پرې ایښي او څنګه چې لویو سوبمنانو هم د دوی ملک نه دی لاندې کړی او څنګه چې دوی له انګرېزانو سره د هندوستان تر نورو خلکو نه ډېرې جګړې کړې دي، پر ځان ډاډه او د لوړو معنویاتو خاوندان دي، که څه هم ژوند یې نه عصري او نه شتمن دی، نور پښتانه د دوی جنګي مهارت ستایي.

د خپلواکۍ په جګړه کې جنرال محمدنادر ټل او وانه د دوی په مرسته له انګرېزي پوځ نه ونیول، په داسې حال کې چې سپاه سالار صالح محمد د خېبر په محاذ کې په شا شوی و او صدراعظم عبدالقدوس لا سپین بولدک ته رسېدلی نه و. پاچا امان الله په کابل کې د دوی د مشرانو درناوی وکړ او په امر سره یې په کال ۱۹۲٤ کې د دوی له مېړو نه په ارګون او متون کې لویه ملېشه جوړه شوه. وروسته وزیرو او مسیدو د افغانستان په شمالي پولو کې د قدر وړ خدمتونه و کړل. سره له دې چې د دوی قوم له پاچا امان الله نه ګیله من و په دې چې له انګرېزانو نه یې د دوی د خپلواک کېدو په برخه کې په ټینګه کوښښ نه و کړی. سره له دې هم دوی د پکتیا د نورو قومونو په شان د پاچا امان الله له ګوښه کېدلو نه وروسته له جنرال محمد سره له کابل نه د امیر حبیب الله په ایستلو کې اغېزمنه مرسته وکړه. وروسته دغو قومونو د وزیرو په

ګډون پاچامحمد نادر په دې غانده چې د افغانستان پاچايي خپله کړه، په داسې حال کې چې دوی له هغه سره د امان الله د بېرته پاچا کېدلو په نامه مرسته کړې وه. دوز يرو قومونو په کال ۱۹۳۳ کې متون محاصره کړ، خو دا ځل افغان پوځ د سردارمحمد هاشم په مشرۍ دوی په شا وتمبول. (۷)

له دغې لنډې شرحې نه جوتېږه ده چې د ډيورنډ کرښې د دواړو غاړو پښتنو په عملي ژوند اثر نه دی کړی يا يې ډېر لږ کړی او د هغې د ختيځې غاړې پښتنو د پخوا په شان افغانستان خپل هېواد باله او دوی ټولو په تېره وزيرو او مسيدو د ميرزا علي خان وزير په سروالۍ له برتانوي هند نه د خپلې خپواکۍ او بيا له ۱۹٤۷ نه وروسته د پښتونستان لپاره ټينګې مبارزې کړيدي.

ميرزا علي خان چې د ايپي فقير په نامه يادېده، په کال ۱۹۰۱ کې د شمالي وزيرستان د کجوړې په کلي کې پېدا شوی او د وزيرو توري خېل ځانګې ته منسوب و. لومړنۍ زده کړه يې له خپل لار او ملايانو نه پخپل کلي کې په عربي، فارسي، پښتو او اردو کې وکړه. نيکه يې موسی درويش دومره نوميالی تېر شوی چې تر اوسه هم په موسی نيکه يادېږي. ميرزا علي خان وروسته له دې چې د طب او الهياتو لومړني اصول زده کړل، په پېښور،کوهاټ، خوست او جلال اباد کې په مدرسو او خانقاوو وګرځېد. جلال اباد ته نژدې د سره رود په چارباغ کې د نقيب صاحب مريد شو. نقيب صاحب چې د قادري طريقې مرشد و، دی خپل نايب وټاکه او ميرزا علي خان د هغه تر سيوري لاندې خپل مذهبي او دنيايي فکرونه تنظيم کړل. وروسته له دې چې

هلته يې د مهاجر قاضي حيات الدين له
لور سره واده وکړ، خپل پلرني کلي ته
په وزيرستان کې ستون شو. بيا يې د
دوړو په بلنه د ايپي په کلي کر واړول
او د اپيي فقير په نامه ياد شو. په
ايپي کې يې د پوهې مذځی پرانيست او
وزيرو ته مرجع وګرځېد. هغو ته يې
ديني د رس ورکاوه او روحاني لارښودنه
يې کوله. په تېره وروسته له دې چې په
مکه کې د حج له ادا کولو نه
راوګرځېد. د ايپي فقير تر دغه وخته
صوفي او روحاني شخص و، خو له هغه
وروسته د عملي سياست په ډګر کې ننوت
او له خدايي خدمتګارو او له جمعيت
العلماء سره يې ملګري پيل کړه چې له
انګرېزانو سره يې مبارزه کوله. په
دغه وخت کې داسې مياشت نه وه چې
انګرېزان په وزيرستان کې نظامي
عمليات ونه کړي، خو په داسې حال کې
چې د خدايي خدمتګار مشرانو په تېره
خان عبدالغفار خان د هند د کانګرس
ګوند او مهاتما ګاندي د سياست په
پلوی د هندو-مسلمان يووالي غوښته، د
ايپي فقير يواځې په مسلمانانو ودرېد.
د خدايي خدمتګار مشرانو پښتانه
قومونه دېته بلل چې د کانګرس ګوند ملا
وتړي چې د ټول هند د خپلواکۍ لپاره
يې مبارزه کوله. په کال ۱۹۳۱ کې
اپريديانو د خدمتګارو په تحريک سره
په پېښور کې پاڅون وکړ، خو انګرېزانو
هغوی په نظامي پوځ سره خواره کړل.
څلور کاله وروسته په ۱۹۳۵ کې چې د
هند برتانوي حکومت د هندوستان يوولسو
ولايتونو ته داخلي خپلواکي ومنله،
پښتني قومونو د اسې وپتيله چې
برتانوي واکمني مخ په ځوړې شوې او
واکمني به يوه ورځ د هندوانو شي. دغه
اندېښنه د دوی او نورو مسلمانانو

لپاره نارامه کوونکې وه.[۸] پر هغه سربېره یو کال وروسته په کال ۱۹۳٦ کې د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ یوه لویه غوغا جوړه شوه. غوغا له دېنه راولاړه شوه چې د جنوبي وزیرستان بنو ته ورڅېرمه کلي کې د رام کوري په نامه یوه پینځلس کلنه هندوه د ښوونځي په یوه مسلمان ښوونکي سید امیر نور علي شاه مَینه شوه. ور سره یې واده وکړ، مسلمانه شوه او خپل نوم یې په اسلام بي بي واړوه، خو موضوع په دعوا واوښته. په بنو او نورو ځایونو کې د هندوانو او مسلمانانو ترمېنځ شخړې او مرکې وشوې، خو دعوا فېصله نه شوه. په پای کې په انګرېزي محکمه کې دنجلۍ کونډې مور دعوا وګټله او خپله لور یې بیا کوم هندو ته په نکاح کړه او څه موده وروسته د هغې هغه مسلمان مَین ترې تم شو.

مسلمانانو د محکمې فېصله په اسلامي چارو کې د حکومت لاسوهنه وګڼله او د انګرېزانو پر عدالت باندې شکمن شول. بیا نو د اسلام بي بي قضیه نه یوازې دیني ، بلکې د پښتو او پښتونولۍ وګرځېده.[۹] د ا یپي فقیر په ټولو مرکو او جرګو کې ګډون وکړ او د وزیرو یو شمېر قومونه د بدل او غزا په نومونو د انګرېزانو پر ضد پاڅېدل. د ا یپي فقیر صوفي ګري پرېښوده او د اسلام او پښتو دفاع ته یې ملا وتړله. د شریعت له مخې غزا باید هغه وخت وشي چې مسلمانان د امیر په نامه اولی الامر ولري. د دغه مطلب لپاره د وزیرو، مسیدو، بېټنیو، بنوڅو، خټکو او مروتو او داسې هم له افغانستان نه یو شمېر قومونو په متاسي (Matasai) نومي ځای کې جرګه وکړه. د امیري مقام لپاره کاندیدان ډېر وو، خو جرګې د

ایپي فقیر د امیر په توګه غوره کړ او د انګرېزانو پر ضد یې غزا اعلام کړه. د ایپي فقیر د پښتون د ټولنې د مشري ټول صفتونه لرل، په تېره زړورتیا، تقوا او جنګي مهارت. وروسته له هغه چې د سرحدي ایالت کمشنر د هغه غوښتنې ونه منلې، د سر تېرو په نامه یې یوه ډله او دیو شمېر خلیفه ګانو له ترکیب نه "جنګي شورا" تنظیم کړه. خلیفه ګانو د انګرېزانو پر ضد منظم لښکري جنګ غوښته، خو نوي امیر د غېر منظم ګورېلایي جنګ پلان وړاندې کړ چې هغه د ټولو په اتفاق ومنل شو.

له همدغه وخت نه د وزیرو او انګرېزانو ترمېنځ له هندوستان نه د انګرېزانو تر وتلو پورې بېحسابه نښتې و شوې. انګرېزانو د ایپي فقیر مېشت ځایونه له هوا نه بمباري کول. د ۱۹۳۷ کال د جنوري دمیاشتې تر اتلسمې پورې یې د هغه مرکز ارسل کوټ چې د مسیدو په شاکتو دره کې و، پینځه ځله بمباري کړ، خو نتیجه یې ورنه کړه. د فقیر ایپي جنګیالیو د انګرېزانو په پوځونو باندې دلارې په اوږدو کې غلچکي بریدونه کول. په نښتو کې به انګرېزان تر وزیرو نه ډېر تلف کېدل او ټپي کېدل. یوه نښته څلورېښت ورځې اوږده شوه او ۴۰۰ تنه انګرېزان پکې تلف شول، خو سره له دې هم انګرېزي پوځ ارسل کوټ ونیوه. په ارسل کوټ کې له افغانستان نه ګربز، ټني، ځدراڼ او ګیان خېل هم له هغه سره یو ځای شوي وو. په وزیرستان کې لږ تر لږه پینځه تنه انګرېز سیاسي ایجنټان د دندې د اجرا په حال کې ترور یانې وژل شوي دي. وزیرو حتی دننه په هند کې دا نګرېزانو تر حکم لاندې سیمو باندې هم دانګل، هندوان به یې تښتول او کورونه

او دکانونه یې سوځول، لکه هسې چې دمخه یې هم د اسماعیل خان دیرې پورې همدغسې کول. انګرېزانو د ایپي فقیر نوی مقر، مزدک د نیولو لپاره چې د غره په ډډه کې کېندل شوې سمڅې وي، د څلوېښت زره عسکرو نه جوړ پوځ واستوه. په نښتو کې دواړو خواو ته دراندده تلفات واوښتل او د ایپي فقیر بیا خپل مقر ګرویک ته نقل کړ چې افغانستان ته نږدې د یوه کمره په بېخ کې پروت و. انګرېزانو له هغه وروسته له هغه سره د زور او زر چلند ونیو، خو د غه نوی چلند هم ګټه ونه کړه. انګرېزانو د هغه دنیولو لپاره ډېر کوښښ وکړ، خو د ایپي فقیر د هغو ټول کوښښونه ناکام کړل. هغه پخپل زیړه غرني اشنا ملک کې یوه خوا بله خوا د خوځېدو په حال کې و او انګرېزانو یې څرک معلوم ولی نه شو. په انګرېزانو کې د هغه په اړه ویل کېده چې: "هغه دلته لټوه، هلته پلټه، نظامي قطعو هر چرې غوښته".[۱۰]
د ایپي فقیر د معجزه یې قدرت لرلو اوازه هره خوا لاړه، ملاتړان او مریدان یې ورته په روحاني او غېر عادي قوې قایل شول. په دې ډول چې: "وسلې به د هغه په پېروانو اثر ونه کړي، په دې شرط چې هغو رښتیني غاز یان وي، نه چپاولګران او ماجرا غوښتونکي د خپلو ځاني ګټو لپاره ... د هغه پېروان که ونې ووهي د ایپي فقیر به یې څانګې په توپونو بدلې کړي، یوازې یو څو ډوډۍ به چې په دسترخوان کې پېچلې وي، د یوه لښکر لپاره بس وي، که غاز (د دښمن) د پوځ له خوا تیت شي. په اسماني ورښ سره به بې اثره شي. اسماني قدرت به بمونه چې له الوتکو نه وغورځول شي په کاغذ بدل کړي".[۱۱]
یا دا چې: "حاجي صاحب [د ایپي فقیر]

موږ ته وويل چې که موږ يوه ډېره په هوا کې پورته واچوله، هغه به دغسې ړلۍ شي چې انګرېزان او هندوان به وژني او د ښوون د ونې څانګې به په ټوپکونو بدلې شي. همدا چې موږ د ړلۍ توپان پيل کړ، غليم به ونه تښتېدلی شي، حتی په انګلستان کې هم. موږ ډېر پرنګيان ووژل او د دوی ډېرې ماينې موکونډې کړې".(۱۲) د هډې ملا نجم الدين هم خپلو پېروانو ته همدغسې وېناوې کولې، که څه هم پېروان به يې د جنګ په وخت کې د دښمن په ګوليو او توپونو سره سترې وترې غورځېدل.

د ايپي فقير په ګرويک کې د يو ډول حکومت تنظيم وکړ، حکومتي څانګې يې پرانيستلې، ذکات، عشر، شکرانه او غنيمه او داسې هم له هندوستان نه د حکومت د مخالفانو پولي بسپنې د هغه د بېت المال عوايد وو. ګرويک د چاپ يو ماشين هم درلود. د ايپي فقير له امير کېدو نه وروسته غلچکي بريدونه ډېر او شديد شول. په داسې حال کې چې د ۱۹۲۵-۱۹۲٦ او ۱۹۳۴-۱۹۳۵ کلونو ترمېنځ په بنو او اسماعيل خان دېرې باندې د وزيرو يرغلونه هر کال تر لسو نه ډېر وو، د هغه د قوماندانۍ په وخت کې په کال ۱۹۳٦ کې د يارلس ځله، په بل کال هم د يارلس ځله، په ۱۹۳۸ کې ۱۱۹ ځله يرغلونه وشول. عجبه ده چې د دويم نړيوال جنګ په بهير کې چې انګرېزان په اروپا کې د نازي جرمني له خطر سره مخامخ وو، په سرحد کې يې نظامي عمليات، هوايي بمبارۍ او د زغرو او ماشينونو استعمال ته زور ورکړ، له بلې خوا ډېر وزير د انګرېزانو په پوځ کې د پېسو ګټلو لپاره شامل شول، خو د ايپي فقير نزدې ملګري ورسره ټينګ پاتې شول. د ايپي فقير وروسته له هغه

چې انګرېزان له هندوستان څخه ووتل او پاکستان جوړ شو، د خپلواک پښتونستان بېرغ جګ کړ.

# پښتونستان او د ایپي فقیر

د ۱۹٤۷ په جولای کې د هندوستان تر وېشل کېدلو نه د مخه افغانستان د برتانیې له حکومت نه وغوښتل چې پښتنو او بلوڅو ته دې خپلواکي یا له افغانستان سره د یوځای کېدو د انتخاب حق ورکړل شي."(۱۳) په همدغه وخت کې د سرحد ځینې ملتپالان لکه عبدالغفار خان او ګوند یې چې له انګرېزانو سره یې د خپلواکۍ په سر مبارزې کړې وې، نه غوښتل د پاکستان په نوي دولت کې شامل وي. هغه لا د افغان تر حکومت نه دمخه د ټولو پښتنو لپاره د خپلواک حکومت غږ جګ کړی و ، د ۱۹٤۷ کال د جون په ۲۱مه یې د سرحد کانګرس غړي ، د خدایي خدمتګار او زلمي پښتون قومندانان او نور په بنو کې سره جرګه کړل. د جرګې پرېکړه دا شوه چې د ټولو پښتنو خپلواک حکومت دې جوړ شي چې اساسي قانون به یې د دموکراسۍ په اصولو ، برابرۍ او عدالت بنا وي. جرګې له ټولو پښتنو نه وغوښتل چې: دغه سپېڅلي موخې ته د رسېدو لپاره په دغه منشور کې سره یو موټی شي او د پښتون له قوت نه پرته بل هیڅ قوت ته سر ټیټ نه کړي. وروسته غفار خان په یوې غونډې کې څرګنده کړه چې د سرحد کانګرس به په تجویز شوي ریفرنډم کې برخه وانه خلي. د بل کال (۱۹٤۸)د مۍ په ۱۲ مه د ایپي فقیر له خپل مرکز

**گرویک نه په یوې څرګندونې کې وویل چې : پاکستان د برتانیې مخلوق او محمد علي جناح د برتانیې آیجنټ دی.[١٤]**

یوه میاشت وروسته د پاکستان حکومت غفار خان د یاغي توب په تور ونیو او په درې کاله بند یې محکوم کړ. دا په دغسې وخت کې و چې د ایپي فقیر د پښتون په موضوع کې د افغانستان خوا نیولې وه او له افغانستان څخه یې د وسلو او پیسو مرستې ترلاسه کولې. کابل په واقع کې په دغسې مرستې سره هغه دود بیرته ژوندی کړ چې د هغه له مخې د کابل حکومت ختیځو پښتني قومونو ته مواجب ورکول. د همدغه کال ١٩٤٨ د اګست په ١٢ مه اپریدیو او د هغوي سر رشته ګوند په تیرا باغ کې د "خپلواک پښتونستان" بیرغ هسک کړ او د تیرا ځانګې "د پښتونستان ملي اسامبلې" په یوې څرګندونې کې وویل چې: " موږ د پښتونستان د ملي اسامبلې د تیرا ځانګې، په داسي حال کې چې د تیرا په لوړو غرو کې د مسلمان دموکراتیک حکومت نوی نیالګی ایښودل شوی، په دي وسیله هیله کوو چې دغه ځوان نیالګی به د لوي څښتن په مرسته او د ازادۍ مینو پښتنو په ملا تړ په لنډه موده کې په دغسي تیزګې او میوه لرونکې ونې بدل شي چې ګټه به یې نه یوازې پښتونستان ته وي بلکې د نړۍ د پرمختګ او سولې لپاره به هم خپل مسوولیتونه ادا کړي". په دغي اعلامیې کې پښتونستان له چترال نه تر بلوچستان او له خیبر او بولان نه د اباسین تر غاړو پورې اعلام شو. په همدغې میاشت کې د وزیرو بیلو بیلو قومونو جرګه کابل ته لاړه او د افغانستان حکومت هغې ته د مرستې کولو وعده ورکړه .

د پاکستان ځواب د افغانستان بمباري کول شول او د ۱۹٤۹ کال د جون په ۱۲مه یې په مغلګي باندې بمونه وغورزول. پاکستان په دې ډول له برتانوي هند نه وروسته هېواد شو چې افغانستان یې بمباري کړ. په ځواب کې د صدراعظم شاه محمود حکومت لویه جرګه وبلله چې د جولای په ۲٦ مه په کابل کې جوړه شوه. جرګې له پښتونستان سره خپل ملاتړ اعلام کړ او په عین حال کې یې د ډیورند توافق لیک د ۱۹۰۵ کال د افغان ــ انګلیس تړون غیر قانوني او لغو شوی اعلام کړ. د غه څرګندونه یې هم وکړه چې هر هغه تړون چې پښتنو په اړه شوی وي، باطل دی.(۱۵)

خو د پاکستان په وړاندې د مقاومت څرګند او عملي سنګر ګرویک و. د ۱۹۵۰ کال د جنوری په دوهمي اوونۍ کې د وزیرستان بېلو بېلو قومونو او د ختکو، مروتو، تنیو، توریو او بنوڅو قومونو د پښتونستان د ملي اسامبلې د وزیرستان څانګې د غوره کولو او داسې هم د هغه د ولسمشر د غوره کولو لپاره جرګه وکړه. جرګې په اتفاق سره د ایپي فقیر خپل ولسمشر په توګه غوره کړ او هغه له پاکستان نه وغوښتل چې خپلې لښکرې د پښتنو له وطن نه وباسي او پښتانه خپلې خپلواکۍ ته پرېږدي، په ګرویک کې د دولتي ادارو په بنه ډېرې څانګې فعالې وې، له ګرویک نه دمخه موقوته خپرونې او داسې هم دوه ورځپاڼې د "غازي" او "آزاد پښتون" په نومونو وتلې چې شریعت، پښتونستان او خپلواکي یې اصلي موضوع ګانې وې، خو په ۱۹۵۳ کې د ولسمشر ایپي فقیر یو مهم نایب خلیفه مهردل ختک له خپلو اویا تنو ملګرو نه ترپنه بېل شو او په بل کال کې د پاکستان حکومت ټول

لویدیځ پاکستان په یوه واحد یا یونټ کې شامل وشود .د دې مانا دا کیده چې سرحدي سیمې یا پښتونستان چې تر دغه وخته پورې پخپلو دنیو چارو کې خپلواکې وې، د نورو سیمو په شان د پاکستان یوه برخه شوه . په دې ډول د یوه یونټ تجویز د ډیورند د توافق لیک پرخلاف او د پښتنو د حل کېدو لپاره یو تجویز و. صدر اعظم محمد داود د هغه پر ضد سخته وینا وکړه او افغانان د هغه پر وینا سره تر دې حده وپاریدل چې په سبا یې (مارچ ۲۹) په جلال اباد او کندهار کې د پاکستان قونسلګرۍ ګانې او په کابل کې د هغه سفارت چور کړ. په مقابل کې په پېښور کې افغان قونسلګري چور شوه او د پاکستان حکومت د افغانانو په صادراتې او وارداتې مالونو باندې سخت قیود ولګول. وروسته د یوه بل هېوادونو ته د دواړو هېوادونو د سروالانو په ورتګ سره وضع بېرته عادي شوه، خو په ګرویک کې ولسمشر د ایپي فقیر په پښتونستان باندې ټینګ ولاړ و. که څه هم له کابل سره یې د یو څه وخت لپاره اړیکي ساړه شوي وو. دی د خپل غورځنګ په اړه په ټول وزیرستان کې وګرځید او د وزیرو، مسیدو او بېټنیو خپل میندځې کشالې یې هوارې کړې، خلکو هر چېرې د امیر المومنین په توګه د هغه تود هرکلی وکړ. له دغه سفر نه وروسته په ګرویک کې د غره په ډډه کې په کومې سمڅې کې د ساه لنډۍ له امله څله شو او د۱۹٦۰ کال د اپریل په۱٦مه وفات شو.

د ایپي فقیر هم د برتانوي هند حکومت او هم د پاکستان د حکومت ټینګ مخالف او د شریعت د جاري کولو، د پښتونستان د جوړولو او د پښتنو د

خپلواک کولو تېنګ پلوی و. دغې موخې لپاره يې د ډيورند د کرښې د دواړو خواوو د قومونو په ملا تړ په يرغلګرو پوځونو او د هغو په تاسيساتو باندې ګوريلايي بريدونه وکړل او د پورته حکومتونو نظامي عمليات يې شنډ کړل. د يوه کس لپاره دا هسې کارنامه ده چې ساري يې ماته معلوم نه دی . په معاصرې نړۍ کې دی شايد د ګوريلايي بريدونو نو ښتګر قوما ندان وي. ميلان هانر پخپلې اوږدې څېړنيزې ليکنې کې په نامه د "يو سړی د امپراتورۍ په مقابل کې" وايي چې: "د يوه ګوريلدي ليډر په توګه دی د دښمن په برابر کې د جګړې د طرزونو په غوره کولو کې ثابت قدم، نه تسليمېدونکی، سرزوری او بې پرنسيپه و. د غه طرزونه د قومي جنګونو د عنعنوي طريقو په ګډون و لکه غلچکي بريد کول، تښتول ا و وژل.... له ده سره د افغان حکومت زياتره وخت د پېسو او وسلو مرسته کوله، په تېره (د هندوستان) له وېش نه وروسته چې دی د خپلواک پښتونستان سمبول وګرځېد. د يرغل کولو پرېکړه يوازې د ده وه، د متارکو په شان چې ده منلې، هغه وخت چې تلفات به د قبول له پولې نه اوښتل او ده ته به لازمه کېده چې يو ځل بيا د وزيرستان نه رسېدونکو ځايونو ته په شا شي. هلته به د يرغل کولو موقع ته په انتظار و او په دې ډول يې برتانوي پوځ په شمال-غربي سرحد کې تل د تيارسۍ په حال کې ساته. د يوه راپور له مخې يو ځل د انګرېزانو او هنديانو نه جوړ نږدې څلوېښت زرير پوځ په ډګر کې واچول شو چې ويې نيسي، خو دی د تل په شان تېر ايستونکی و او تل به يې ځان له هغه جال نه ژغوره چې د ده شاوخوا په غړول شوی و. که څه هم

د ده خپل وسله وال قومي جنګيالان ممکن له زرو کسو نه ډير نه وو چې په ټوپکو او يو څو ماشين ګڼ سمبال وو او کله کله به يې يو يا دوه له مود نه لويدلي توپونه لرل. د ده نظامي مهمات تل لږ و، له راډيويي مخابرې نه بې برخې و او يواځې د عنعنوي مخبرانو او جاسوسانو له لارې يې معلومات ترلاسه کول. له بلې خوا پرنګيان د عصري توپخانې، ټانکونو او الوتکو خاوندان وو. کله چې دی په کال ١٩٦٠ کې وفات شو، د ټايمز ورځپاڼې د اپريل په شلمې او ولايت خاوند،.... د قومي جنګ ويره وونکی منتظم تعريف کړ.(١٦١)

د ايپي فقير د انګليس ضد مبارزو يوه پايله د مذهبي ذهنيت پياوړتيا او د عقلي او علمي ذهنيت سستيا شوه او د عيسويانو او هندوانو له خوا د خطر په وېرې سره د وزيرستان په خلکو کې د کفر او اسلام ترمېنځ ضديت نور هم ټينګ شو. دغه خطر ا ول د افغان-انګليس په جنګونو کې حس شوی و، خو هغه د ايپي فقير په مبارزو سره نور هم ټينګ شو او ور سره د ملايانو او پيرانو نفوذ دومره ډير شو چې د هغه معجزه يې ويناوې هم منلې کېدلې، که څه هم هغه نارښتينې او بې بنسټه وې، دا چې نن ورح ملايان د بلې هرې سيمې تر خلکو نه د وزيرستان په خلکو باندې ډير نفوذ لري، د همدغه حال نتيجه ده. د ايپي فقير د مبارزو بله پايله د پښتنو د خپلواکۍ غورځنګ پياوړتيا شوه، خو د هغه د دولت زړی د ډيرو نورو عواملو له امله هم وده ونه کړه، نو د ايپي فقير د خپل سلف ميا روښان په شان چې هغه هم د وزيرستان د کاڼي ګرام و، پخپل ژوند کې په مقصدو نه رسېد خو هغه په شان د پښتنو د خپلواکي غورځنګ

په میراث پرېښود، د میا روښان غورځنګ تر یوه حده ایمل خان مومند، دریا خان اپریدي، میرویس نیکه او تر پوره حده ستر احمدشاه سرته ورسوه. یوه ورځ به د ایپي فقیر غورځنګ هم د بري درشل ته ورسول شي.

## یاد دښتونه:

١ -کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ ١٨٦٣ - ١٩٠١، برل خپرو نه، لندن ،٢٠٠٦. د غه کتاب په کابل کې د شاه محمد کتاب پلورنځي نه ترلاسه کېدلی شي.
٢ -لودویګ ادمک ،د شلمې پېړۍ تر نیمايې پورې د افغانستان باندنۍ چارې، د ارزونا پوهنتون خپرونه ١٩٧٤، ٥٠ مخ .
٣ - ادمک، افغانستان ١٩٠٠ - ١٩٢٣، دیپلوماتیکي تاریخ د کلیفورنیا پوهنتون خپرونه-١٩٦٧، ٨٣ .
4- اکبر سید احمد، پښتانه قومونه په ستري لوبې کې ، د وزیرستان مثال د افغانستان او سرحد په نامه کتاب کې مقاله، د ډاکتر فضل الرحیم مروت او سید وقار علي شاه کاکاخېل په انتظام، د ام جي بېن الملي کتابونه، پېښور ١٩٩٣ ،١٩٩-٢٠٠ مخ د سرحد د پښتنو د ژوند د بېلو اړخونو په اړه د دغه کتاب بېلې بېلې لیکنې مستندې او پخې دي او دلته زه محترم محمد ضامن مومند نه منډنه کوم چې د هغه یوه نسخه یې ماته استولې ده.
٥ - ادمک ١٩٦٧ یاد شوی اثر ١٢٩ .
٦ - اکبر احمد، یاده شوې لیکنه ،١٩٢ .

۷ - پـورتـنی اثـر ۲۰۳ - ۲۰۵ .
۸ -مـیلان هـانـر، یـو شخص د امـپـراتـوری پـه مقـابـل کـې: د دوېـم نـړېـوال جنگ پـه درشل او د هغه پـه بهیر کـې بـرتـانـویـان او د ایـپي فقـیر پـه منځنی اسیا کـې، د معاصر تـاریخ جورنـال، لـومړی گـڼه، دوېم نـړی وال جـنگ، لـومړی بـرخه، جـنوري ۱۹۸۱، ۱۱۹۰. پـه دې وسیلـه لـه ښاغلي محمد حسن سهاک نـه منـنه کـوم چې دغه مهمه مقـالـه یـې رااستولـې ده.
۹- فضل الـرحیم خان مـروت، عبدالـکریم خـان، سید وقـار علي شاه کـاکـا خېل، د ایـپي فقـیر، پـورتـه یـاد شوی کـتـاب، ۳٤٥. مـا خپلـه دغه لـیکـنه تـر زیـاتـې انـدازې د دوی او د اکبـر احمـد لـه لـیکـنـو نـه بـرابـره کـړې او د هغو یـاد ښت مـې لـړ ورکـړی دی.
۱۰ -هـایـر، یـاده شوې لـیکـنه، ۱۹۰.
۱۱- پـورتـنی لـیکـنه، ۱۹۱.
۱۲- مـروت اونـور، یـاده شوې لـیکـنه،۲٤۹ .
۱۳ - ادمک ۱۹۷٤، یـاد شوی اثـر،۲٦٤ .
۱٤- مـروت اونـور، یـاده شوې لـیکـنه ،۲۵۷ .
۱۵ - لـویـي دوپـري، افغانستان، پـرنستن پـوهنتـون، نـیو جرزي ،۱۹۸۰، ٤۹۲ .

# افغانستان، پاکستان، پښتونستان

افغانستان یو لرغونی هیواد دی. پاکستان ۶۰کاله د مخه له هندوستان نه د انګرېزانو په وتلو او د هندوستان په وېشلو سره جوړ شو. پښتونستان به جوړېږي. په د غو موضوع ګانو باندې دلته په لنډ ډول بحث کېږي.

افغانستان اول له اباسين نه تر غزني او کندهار پورې هېواد و. د غه هېواد په يو څه توپير سره پخوا ګندهارا، د هيرودوت پکتيک (Pactyic) او د پښتنو پښتونخوا نومېده. په د غه هېواد کې پښتانه او نور واړه قومونه له لرغونې زمانې نه راپه دېخوا پراته وو او ځينو يې کډوالي هم پکې کوله. د ستر احمد شاه په وخت کې هغه له اباسين نه تر آمو پورې هېواد شو. د احمد شاه د زوی او لمسيانو په واکمنۍ کې د افغانستان پای تخت په اوړي کې کابل او په ژمي کې پېښور و، خو د محمدزيو د واکمنۍ په سر کې پېښور په کال ۱۸۳۳ کې سيکانو ته او په کال ۱۸۴۹ کې انګرېزانو ته په لاس ور غی. انګرېزانو د خپل وړاندې تګ په لار کې په داسې حال کې چې له افغانانو نه يې دننه په افغانستان کې دوه ځلې سخته ماتې خوړلې وه، په کال ۱۸۹۳کې يې په آمير عبدالرحمن باندې د ډيورنډ توافق ليک تحميل کړ. په کال ۱۸۹۷کې د ډيورنډ د کرښې د په نښه کولو کار

پای ته ورسېد چې د هغه له مخې د کرښې ختیځه خوا سیمه د هندوستان او لویدیځه غاړه یې د افغانستان د نفوذ ساحې وبلل شوې، خو دغه کرښه د دواړو هېوادونو تر مېنځ پوله (Boundary) نه وه. په بله ژبه هغه سیمه چې د برتانوي هند د حکومت تر نفوذ لاندې ګڼل شوې وه، د هغه تر حاکمیت او اداري لاندې نه وه. د هغې زیاتره برخه خپلواکه وه او د پخوا په شان د مشرانو او جرګو له لارې اداره کېدله. یواځې د افغان د حاکمیت لاس ترې لنډ شوی و.

ټول هندوستان د انګرېزانو تر لاس لاندې مستعمره وه، خو د ډیورنډ د کرښې ختیځه خوا سیمه چې د هغو د نفوذ ساحه شوه او کلونه وروسته آزاد پښتونستان وبلل شوه، له هندوستان نه د انګرېزانو تر وتلو پورې په دغه ډول خپلواکه وه چې د هندوستان بله هیڅ برخه هغسې خپلواکه نه وه، سره له دې چې انګرېزانو پکې ډېر نظامي عملیات وکړل او یو ځل یې وزیرستان ته څلویښت زره عسکر ورواستول. انګرېزانو په کال ۱۹۰۱ کې د غې خپلواکې سیمې ته دغسې مستعمراتي شکل ورکړ چې د هندوستان بلې برخې هغسې شکل نه درلود چې وروسته به یې بیان وشي. پاکستان په داسې حال کې چې نورې سیمې د ۱۹۷۳ کال د اساسي قانون له مخې اداره کوي، د پښتنو له دغو سیمو سره اوس هم هغسې چلند کوي چې انګرېزانو کاوه.

پاکستان پخپله خاوره کې خان د برېتانوي حکومت ځای ناستی یا وارث ګڼي، نه یو نوی دولت ، که د پاکستان دغه ادعا سمه هم وي بیا نو هغه سیمې چې د ډیورنډ د توافق لیک له مخې د بریتانوي هند د نفوذ په ساحې کې ګڼل

شوي وې، د پاکستان تر حاکمیت لاندې نه راځي، ځکه چې هغه د انګرېزانو تر نېغ حاکمیت لاندې نه وې او انګرېزانو د هغو لپاره بېل طرز غوره کړی و.

برتانوي هند د لارډ کرزن په وخت کې په کال ۱۹۰۱کې دغه پراخه سیمه شمال لویدیځ سرحد وبلله چې عام نوم یې د سرحد صوبه شوه. انګرېزانو ددغې سیمې تر خپل حاکمیت لاندې برخه د پېښور په ګډون کراره او آرامه (Settled)ضلع یا علاقه او بله یې قومي علاقه یا ایجنسي ګانې وبللې چې اوس په شمېر اووه دي. دواړه برخې یې د مرکزي حکومت تر لاس لاندې وشوولې چې د سرحد آیالت د ګورنر تر اداري لاندې به وي. کراره برخه به یې د هغه تر نېغ حاکمیت لاندې وي او بله یې په غېر مستقیم ډول. په داسې حال کې چې وروستۍ به خپلواکه وي او د ځایي ملکانو او جرګو له لارې به یې چارې تر سره کېږي. حکومت به یواځې د ضرورت په وخت کې هلته عملیات کوي او پوځ به یې لیرې په چونیو کې دېره وي. پاکستان د محمد علي جناح په وخت کې همدغه ترتیب وساته، خو پوځ یې پکې دېره نه کړ"(۱) او د هغه پر ځای یې د انګرېزانو د استعماري طرحې پر تطبیق لنګر واچاوه چې د سرحد د جزا قانون یې اساس و. ددغه قانون له مخې چې هغه هم په کال ۱۹۰۱ کې آیستل شوی و، د صوبه سرحد ګورنر په هرې قومي آیجنسۍ کې یو سیاسي آیجنټ لري او هغه ته دغسې واک ورکړل شوی چې لکه یو مطلق زور واک وي. دی اختیار لري چې د کوم جرم په بدل کې یو قوم په دې نامه چې" دښمن" یا "غېر دوست " شوی په آقتصادي لحاظ محاصره کړي، په ټول قوم باندې جریمه حواله کړي او یو څوک د کلونو لپاره له محاکمې پرته بندي کړي. دی

دا واک هم لري چې مدني او جرمي قضيې هغسې جرگې ته وړاندې کړي چې غړي به يې پخپله ده غوره کړي وي."[۲] دا او دغسې نورې ډېرې حاکمانه او ظالمانه توري هسې د کاغذ پر مخ تش حکمونه، نه دي. د بارنت روبين او ابوبکر صديق د ليکنې له مخې سياسي آيجنټ "په وزيرستان کې د ۲۰۰۳-۲۰۰٦کلونو د بحران په بهير کې له دغو ټولو مقررو نه کار آخيستى دی."[۳] دغه ډول جزاگانې نه يوازې د ټولو بشري حقوقي منشورونو، بلکې پخپله د پاکستان د اساسي قانون پر خلاف هم دي چې وايي هر هغه قانون يا رواج لغو دی چې اساسي حقونه نقض کوي.[٤] پاکستان په آيجنسي گانو يا ازاد پښتونستان ځکه زورواکي کوي چې د انگريزي حکومت په شان دوی هم د غه سيمه مستعمره گڼي. د بېن آلمللي بحران ډلې په يوې اوږدې څېړنيزې ليکنې کې ويل شوي چې اوس قبايلي علاقه په رسمي ډول د پاکستان يوه برخه ده، خو هغه هغسې مستعمرې ته ورته ده چې خلک يې د دغسې قانونو او اداري ترتيبونو لاندې ژوند کوي چې د هېواد له نورو برخو نه يې بېله کړې ده.[٥] له همدې لامله ده چې ددغې سيمې خلک له اساسي حقونو څخه محروم دي. هيڅ سياسي گوند، خيريه موسسه يا مدني ټولنه پکې فعاليت نه شي کولی. د هغه بر عکس افراطي مذهبيان آزاد دي چې هلته تبليغ او مبارزه وکړي. په نتيجه کې دغسې مذهبيانو وروسته له هغه چې په کال ۱۹۹٦کې د رای حق ورکړل شو، انتخابات دوی وگټل.[٦] په زياته اندازه د پاکستان ددغه سياست او چلند له لامله وه چې قبايلي علاقه په پاکستان کې د خوارو او بېرته پاتې علاقو له ډلې نه ده او د بېسوادی

اندازه یې د هغه تر هرې بلې سیمې نه لوړه ده.(۷)

د پاکستان حکومت د سرحد له سیمې سره چې څه باندې اووه ملیونه نفوس لري، ولې د مستعمرې په شان چلند کوي؟ د د غې پوښتنې یو ځواب به دا وي: د پاکستان اړیکې له اول نه له پښتنو سره خړوو. دا رښتیا ده چې د پېښور شاوخوا پښتانه تر ډېره حده پورې په پاکستان کې ننوتلي، خو د پښتنو نامتو مشر خان عبدالغفار خان یې له خپلو ملګرو سره څو ځلې بندي کړی و. د وروستیو لومړنی ادعا د پښتونستان خپلواکي وه او وروسته یې په پاکستان کې دننه خپلواکي غوښتله. غفار خان تر دې حده د پاکستان مخالف و چې وصیت یې وکړ چې مړی یې په افغانستان کې ښخ شي. د پښتنو په سرحدي سیمو په تېره په وزیرستان او اپریدو کې د پښتونستان غورځنګ روان و. د ایپي فقیر تر مرګه پورې د پښتونستان لپاره مبارزه او له پاکستان سره مخالفت کاوه. دا ځکه چې پاکستان د ملي حاکمیت په مانا د پښتون نېشنلزم مخالف و او دی او د مغولي حکومت په شان کوښښ کوي د ملایانو او روحانیانو له لارې یې وځپي. د بېن المللي بحران ډله لیکي چې: "پاکستان په ښکاره په افغانستان کې تر خپل نفوذ لاندې د اسلامستي پښتنو ملاتړ کړی. د دې لپاره چې هم دننه پخپل حدود کې له پښتون نېشنلزم سره مقابله وکړي او هم خپل ګاوندې [افغانستان] باندې نفوذ ولري". د غه ډله دا وایي چې: " په همدغې قرینې کې پاکستان د سرحدي سیمې لپاره یو جلا ترتیب ورکړی چې د برتانوي هند په شان له هغو قومونو نه چې د پولې په اوږدو کې پراته دي، د

افغانستان د مقابلې په مقابل کې او په افغانستان کې د مداخلې لپاره ترېنه د حایلې سیمې په شان استفاده وکړي". (۸) بارنت روبین او ابوبکر صدیق لا وايي چې پاکستان "حتی په افغان کډوالو کې پان اسلامزم په فعال ډول پیاوړی کړ او په سرحدي سیمه کې یې د پاکستان له اسلامستي گوندونو سره مالي مرستې کړې وې". (۹) همدغه سبب دی چې نن ورځ په سرحدي سیمې کې عصري پوهنه ډېره ضعیفه او د هغه پرعکس د مدرسې پوهنه ډېره پیاوړې ده. په نتیجه کې د هغې په خلکو باندې د ملایانو او اسلامستي گوندونو نفوذ تر هر بل وخت نه ډېر شوی دی.

ای، ایس، ای تر خپل نفوذ لاندې ملایان، طالبانو او خپلو معاش خورو نه د خپل سیاسي هدف لپاره کار اخلي چې هغه په افغانستان کې د خپل ستراتیجیکي ژورتیا پلان لپاره ډگر هوارول دي. د ستراتیجیکي ژورتیا پلان د پاکستان هغه نظامي پلان دی چې د هغه له مخې افغانستان باید تل د پاکستان د نفوذ سیمه وي لکه هسې چې افغانستان د نولسمې پېړۍ په دوهمې نیمایي کې د برتانوي هند د نفوذ سیمه گرځول شوې وه. په داسې حال کې چې د برتانوي هند حکومت د افغانستان له لارې د تزاري روسیې د احتمالي یرغل د دفع لپاره افغانستان تر خپل نفوذ لاندې نیولی و، پاکستاني نظامیان غواړي په پاکستان باندې د هند د احتمالي یرغل د دفع لپاره افغانستان تر دې حده پورې د خپل نفوذ سیمه وگرځوي چې د هند د یرغل په وخت کې خپل پوځونه هلته په شا کړي او بیا له هغه ځایه گوریلایي جنگونه پیل کړي. دې لپاره یې باید پښتون نېشنلزم د ملایانو، روحانیانو،

پیرانو او اسلامستي تنظیمونو له لارې ځپلی دی.

پاکستان ته د هند له خوا خطر لکه برتاوي هند ته د روسیې خطر د ویرې زېږنده دی. پاکستاني نظامیانو د دغې ویرې له امله د ستراتیجیکه ژورتیا پلان ایستلی، لکه هسې چې انګرېزانو د روسیې له ویرې د هند د دفاع لپاره پلان ایستلی و او په هغه باندې یې د "علمي سرحد" نوم ایښی و. پاکستاني نظامیانو دغه پلان په افغانستان باندې د شوروي له یرغل نه وروسته وایست. د بارنت روبین او ابوبکر صدیق په ژبه: ".... پاکستان اول په شوروي ضد مجاهدانو او بیا له طالبانو سره له خپل ملاتړ نه په دغه ډول کار واخیست چې یقیني کړي چې له هند سره د جنګ په حال کې به افغانستان د پاکستان ملا وتړي او له خپلې خاورې او فضا نه به استفاده ورته میسره کړي".(۱۰) د پاکستاني نظامیانو په تېره د ای، ایس، ای د جنرالانو په فکر د افغانستان بېرته پاتې ساتل د ستراتیجیکي ژورتیا د پلان یوه برخه ده، نو د دوی په فکر افغانستان باید د پښتنو لپاره اصلي مرز نه وي، لکه د ستر احمد شاه له وخت نه وروسته چې و. دا چې د افغان د ملي مقاومت په دوره کې د افغاسنتان ابادۍ د ښوونځیو په ګډون د ای، ایس، ای په دستور ورانېدلې، د همدغه ستراتیجیکي ژورتیا د پلان له مخې و. د ای، ایس. ای سروال جنرال اختر عبدالرحمن لا ویل چې: "کابل باید وسوځي". همدغسې هم وشول، دا چې په اسلامي تنظیمي دوره کې کابل وران او اټکل شپېته زره او سېدونکي یې تلف شول، په اصل کې د همد غه ستراتیجیکي پلان له امله و. صدراعظم

نواز شریف د پېښور په غونډه کې (اپریل ۱۹۹۲) دغسې یو تجویز د اسلامي تنظیمونو په مشرانو ومانه چې د هغه له مخې د افغانستان حکومت د دوی له تنظیمونو نه جوړ شو او حکومت سمدلاسه دغسې لېږه کي اسلامي تنظیم ته په لاس ورکړل شو چې حتی په کابل کې یې هم امنیت ټینګ نه کړای شو. په داسې حال کې چې د نواز شریف په تجویز سره د افغان منظم او په عصري وسلو سمبال پوځ ړنګ شوی و. په دغسې ګډوډ حال کې بله دغسې قوه نه وه چې امنیت ټینګ کړي. دا په دغسې حال کې و چې د جهاد په نږدې لس کلنې مودې کې په پېښور او کوټه کې ډېر افغان دموکراتان، نېشنلستان، قومي مشران او هغه افغانان چې د مشرۍ او حکومت کولو صفتونه یې لرل، د ای. اېس. ای په دستور او همکارۍ د افغان اسلامستي تنظیمونو له خوا ترور شوي یاني وژل شوي وو. ترور شوي نږدې ټول پښتانه وو.

د همدغه ستراتیجیکي ژورتیا پلان له امله و چې د بې نظیر بوټو، نواز شریف او د پرویز مشرف په سروالۍ حکومتونه په طالبانو ټینګ ودرېدل، که څه هم نږدې ټوله نړۍ د طالبانو مخالفه وه او ملګرو ملتونو بندیزونه هم پرې باندې لګولي وو. پاکستان هغه وخت له طالبانو نه لاس واخیست چې امریکا پرې رادمخه شوه. پرویز مشرف دغه کار په اصل کې د امریکې له وېرې او هم له هغې نه د پېسو او وسلو ترلاسه کولو لپاره وکړ، لکه چې پاکستان پخپل لنډ عمر کې ډېر ځله همدغسې کړي دي، خو د پاکستان دغه لاس اخیستنه موقتي وه او وروسته له هغه چې د ترورېزم د ځپلو په ملګرتیا کې یې له امریکې نه ډېرې

وسلې او پېسې ترلاسه کړې او په دې پوه شو چې افغانستان بېرته ودانېږي او پیاوړی کېږي، افراطي او تر نفوذ لاندې طالبان یې د افغانستان د امنیت د ګډوډولو لپاره ولمسول او په حرکت راوستل. د دغسې خلکو د ورانۍ لړۍ روانه ده او شاید تر ډېر وخته پورې روانه وي. د پېښو له دغې لنډې سروې نه وروسته اوس د تبصرو وار دی.

څنګه چې پاکستان په اصل کې د اسلام په نامه جوړ شوی او ملي پیوستون یې سست دی، سروالان یې تل د هغه د امنیت د خوندي کولو په فکر کې دي، چې د ستراتیجیکه ژورتیا پلان د هغه څرګنده بېلګه ده. اصلي بېلګه یې ډېر غټ نظامي پوځ او تر څنګ یې د ای. اېس. ای نظامي اداره ده چې د ډګروال محمد یوسف په قول په سیمه کې ساری نه لري. د همدغه غټ پوځ له امله ده چې د پاکستان په لنډ عمر کې نظامیانو څلور ځله حکومت کړی دی. همدغو نظامي حکومتونو ای. اېس. ای دومره پیاوړی کړی چې هغه زیاتره وخت پخپل سر د حکومت د سیاست پرخلاف هم عمل کوي. د پیټر ټامسن د وینا له مخې د ای.اېس.ای مشر جنرال محمود په کال ۲۰۰۱ کې سره له دې چې د پاکستان سروال پروېزمشرف د طالبانو پر خلاف له امریکې سره همکاري اعلام کړې و، طالبانو ته له کوټې نه کندهار ته وسلې او مهمات استول.(۱۱) پاکستان چې د شوروي یرغل په وخت کې د مجاهدانو خوا نیولې وه، دغه کار یې په اصل کې د خپل امنیت لپاره کړی و. پاکستان چې هغه وخت تجرید و، د شوروي له تهدید او تر هغه لا مهم د ځان په مقابل کې د شوروي- هند له همکاري نه په وېره کې و. دغه موضوع مولف فریدرک

گرېري پخپل کتاب "پاکستان او د افغانستان جګړه" کې بیان کړې ده.[۱۲]

د پاکستان مقصد دا هم و چې له شوروي نه وروسته افغانستان کې به په اسلامي بڼه کې یو لاسپوڅی حکومت په پښو دروي. جنرال ضیاءالحق په هماغه وخت کې مولف سلیګ هري سن ته ویلي و، چې: " موږ د دې حق ترلاسه کړی چې هلته [یانې په افغانستان کې] به یو دوست حکمت ولرو. موږ د جبهې د مخکې کرښې د ولت په شان خطر ومانه او موږ به پرې نه ږدو چې وضع د پخوا په شان وي چې هلته به د شوروي هند نفوذ او زموږ په خاوره باندې ادعا وي. دا به یو رښتیانی اسلامي دولت وي، د پان اسلامي یوه برخه چې یوه ورځ به د شوروي اتحاد مسلمانان ځان ته جذب کړي".[۱۳] جنرال اختر عبدالرحمن هم دغه جنګ "د ستراتیجیکي بیا صف جوړولو" لپاره دغسې یوه لار وګڼله چې په هغې سره به افغانستان او پاکستان د هند پر خلاف د پان-اسلامي بلاک یوه برخه وي چې حکومت به یې د بنسټ پالو ګوندونو په لاس کې وي.[۱٤] په هغه وخت کې د ګلبدین حکمتیار په سروالی اسلامي ګوند له خوا هم د پاکستان-افغانستان د اسلامي کنفډریشن غږ جګ شوی و.

د پیټر ټامسن په نظر ای. ایس. ای اوس هم په افغانستان کې لاسپوڅی حکومت غواړي. دی هم د ډېرو نورو تحلیل ګرو په شان وایي چې د ای.ایس.ای په فکر امریکا په افغانستان کې تر ډېرې مودې نه پاتې کېږي او کله چې له افغانستان نه وځي، بیا به پاکستان دننه په افغانستان کې اسلامستي غورځنګ په واک راولي او هلته به پخپله هغسې نفوذ ولري چې د طالبانو په وخت کې یې لاره.[۱٥] دا چې د افغانستان ولسمشر

حامد کرزي په تېر دسمبر کې په کندهار کې په دې اړه بربنډ وغږېد، بې دلیله نه و. هغه وویل چې: "پاکستان د پخوا په شان نیت لري چې افغانستان خپل غلآم کړي". د همدغه مقصد لپاره به وي چې آی. آیس.آی د افغانستان د بیارغونې او د هغه د امنیت د ټینګښت له پروګرام سره وران دی. بارنت روبین او ابوبکر صدیق لا وايي چې: "پاکستان او د افغانستان نور ګاونډیان د آمریکې په آتکا د دولت ټینګښت د اوږدې مودې لپاره خطر بولي". (١٦) په دغه حال کې که د ډیورنډ کرښه قانوني هم شي، آی.آیس.آی د خپل ستراتیجیکي ژورتیا پلان نه ترک کوي او هیڅ څوک د دې تضمین هم کولی نه شي.

پاکستان چې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې کله د اغزن دېوال د درولو او کله د ماین اېښودلو نارې وهي، مطلب یې دا دی چې آزاد پښتونستان د افغانستان او پاکستان ترمېنځ حایل نه وي او د افغانستان د دغسې طالبان ډوله مذهبیانو تر نفوذ لاندې وي چې د اسلام په نامه به د پاکستان په خوا درېږي او د ضرورت په وخت کې به د ستراتیجیکه ژورتیا په پلان کې مرستندویان کېږي او په هر حال کې افغانستان به پرې نفوذ نه لري، که څه هم دغه تجویزونه د ډیورنډ د توافق لیک پرخلاف، غېر عملي او د ډیورنډ د کرښې د دواړو خوا خلکو په ضرر دي. اساسي ټکی دا دی چې دغه کرښه د ډېرو قومونو په مېنځ کې تېره شوې او د وزیرستان د وزیرو ډېر خلک دننه په افغانستان کې د کرکیلې ځمکې لري. د همدغو وجوهو له امله ده چې د ډیورنډ د کرښې درناوی نه د سیمې خلکو او نه د پاکستان یا افغانستان حکومتونو

کړی. روبین او صدیق وایي چې: "پاکستان تر افغانستان زیات په عمل کې د بېن المللي پولې په توګه د ډیورنډ کرښه تخریب کړې ده".(۱۷)

د ډیورنډ کرښه له اول سر نه یوازې د نقشې دپاسه کرښه وه او بېن المللي پوله نه وه او نه کېدلی شي. حتی پروېزمشرف هم اوس وایي چې: "د ډیورنډ په موجوده کرښې کې به هیڅ بدلون رانه ولي". خو پاکستان کوښښ کوي خپل پوځي حضور هلته ور سوي. پاکستان دوه نیم کاله دمخه د لومړي ځل لپاره همدغسې و کړل، په دې پلمه چې طالبان او د القاعدې وران کاران ونه شي کولی له وزیرستان نه دننه په افغانستان کې ورانی و کړي، لکه چې د افغانستان د حکومت او آیساف مشرانو ویل. په وزیرستان کې یې د اتیا زریز پوځ د دیره کولو په نامه له امریکې نه پرېمانه لوجستیکي لوازم او پېسې ترلاسه کړې، خو په دغه کار سره یې هلته کړکېچ زیات کړ. که څه هم د دغومره ډېرو عسکرو د ډېره کول هغسې مبالغه وه، لکه چې ایران د طالبانو په وخت د افغان-آیران پولې ته نږدې تر دېنه زیات شمېر پوځ په دېره کولو کې مبالغه کړې وه. د پیټر ټامسن په قول دپاکستان پوځ په جنوبي وزیرستان کې تر اوو زرو نه ډېر نه و. په هر حال دغه ټول پوځ چې هر څومره و له دوه نیمو کالو عملیاتو نه وروسته په داسې حال کې چې ۶۰۰ عسکر یې او شاید تر هغو زیات ځایي خلک ووژل شول او بې‌خي ډېر ورانی وشو او کورونه وران شول، د موافقو له مخې واېستل شو.

لومړنی موافقه په جنوبي وزیرستان کې د شکې موافقه وه چې د پوځي افسرانو او مجاهدانو د شورا ترمېنځ

په شفاهي ډول د ۲۰۰٤م کال په اپرېل کې وشوه، خو هغه زر ماته شوه او پوځي عملیات له سره پیل شول. له هغه وروسته په شمالي وزیرستان کې د پوځ او حکومت پر ضد فعالیتونه ډېر شول او قومي مشرانو دیوې شورا له لارې حکومت کول پیل کړل او د نورو څیزونو په جمله کې یې ۱۵۰ حکومت پلوه کسان له منځه یوووړل.[۱۸] نظامیانو د ۲۰۰٦ کال په جون کې له شمالي وزیرستان سره هم د سولې موافقه وکړه، خو مهمه او نسبتا جامعه موافقه هغه وه چې د جمعیت العلما د مشر مولانا فضل الرحمن په منځګړتوب د همدغه کال د سپټمبر په پنځمه د سه شنبې په ورځ د پاکستان د سیاسي ایجنټ فخر عالم او د مجاهدو د استازي آزاد خان ترمېنځ د پنځه سوه ځایي مشرانو او حکومتي مامورانو او افسرانو ترمېنځ په ۱٦مادو کې د شمالي وزیرستان په مرکزي ښار میران شاه کې لاسلیک شوه. د حکومت لوري ومنله چې د مبارزو په مقابل کې به هوایي او ځمکني عملیات دروي، نوې اچولې شوې پوستې به له مېنځه وړي، تاوان رسېدلو ته به تاوان ورکوي او هغه و سلې، مالونه او نور څه چې د عملیاتو په وخت کې ترلاسه شوي، د هغو اصلي خاوندانو ته بېرته ورکوي او مبارزان به آزادوي چې د رواج له مخې و سله وګرځوي، خو سیاسي آیجنټ به د پخوا په شان لآنجمنې کشالې د رواج او قانون له مخې هواروي. حکومت له باندنیو مبارزانو نه وغوښتل چې له سیمې څخه به وځي، مګر هغوی چې د ټینګو د لیلونو له مخې وتلی نه شي، خو په داسې حال کې به دوی د دغې موافقې او قانون درناوی کوي. مقابلې خوا ومنله چې نور به په حکومتي تاسیساتو او

مامورانو حملې نه کوي، په ګاونډيو کرارو سيمو کې به ورانی نه کوي او په افغانستان کې به څوک وران کاری ته نه پرېږدي، خو دوی به د پخوا په شان د سوداګری، نورو معاملو او د خپلوانو د ليدلو لپاره له سرحد نه په اوښتلو کې د رواج او قانون له مخې ازاد وي.(۱۹)

دغه موافقې پخپل نوع کې دپاکستان په تاريخ کې ساری نه لري. پاکستان په هغو سره د وزيرستان خلکو ته په رسمي ډول په سياسي حيثيت قايل شو، که څه هم د هغو لوړ قوماندان مولانا ګل بهادر او مولوي صادق نور د ميران شاه غونډې ته ورننغلل. په داسي حال کې چې له سياسي ايجنټ فخر عالم نه سربېره د پاکستان د پوځ قوماندان جنرال اطهر علي شاه پکې حاضر و او د صوبه سرحد ګورنر علي محمد جان ورکزي د موافقې تود هرکلی وکړ. ويل کېږي چې د پاکستان حکومت خپلې ژمنې ترسره کړې، مقابلې خوا خپلې ژمنې نه دي ترسره کړې او پاکستان يې دغه کار ته اړ کولی نه شي. که څه هم د اسماعيل خان په قول "داسې ښکاري چې پاکستان د بې رحمه نظامي زور له استعمال نه [وروسته] مبارزانو ته پوره تسليم شوی وي". مبارزانو په دوه برخو کې په عمل کې له موافقې نه سرغړولی. يو دا چې له وزيرستان نه وران کاران تر اوسه هم په افغانستان کې ورانی کوي، د ځينو په قول د هغو د دغه ورانی لا د ميران شاه له موافقې نه وروسته ډېر شوی. بله دا چې د مجاهدانو شورا د پخوا په شان په وزيرستان کې هغسې حکومت کوي.(۲۰) لکه طالبانو چې په افغانستان کې حکومت کاوه. که څه هم په ميران شاه کې دوی منلې وه چې له

حکومت کولو نه به ډډه کوي.
د میران شاه د موافقې بل غټ ټکی چې له دغې لیکنې سره په نېغه اړه لري، د پاکستان له خوا د وزیرستان خلکو ته په ازاد ډول د ډیورنډ له کرښې نه د تېرېدلو راتېرېدلو منل دي. دوی دمخه هم له هغې نه په ازاد ډول تېرېدل او راتېرېدل، خو اوس په دغې موافقې سره پاکستان دغه څه په رسمي ډول ومنل. او په دې ډول یې د ډیورنډکرښه په خپله باطله کړه د شوروي د یرغل په وخت د کرښې باطل توب ټولې نړۍ ته څرګند و. په اصل کې د ډیورنډ د توافق لیک له امله و چې شوروي اتحاد په افغانستان کې دخیل شوو او بیا دغې کرښې د باطل توب په وجه و چې شوروي اتحاد په افغانستان کې په ګونډو شو. همدا اوس هم له دغې کرښې نه هره ورځ اټکل دېرش زره خلک تېرېږي او راتېرېږي. په تېره د چمن، خېبر، میران شاه او مومند له لارو نه.
نو ویل کېدلی شي چې دغه کرښه په واقعیت کې نشته. دغه واقعیت د وخت په تېرېدلو سره نور هم یقیني کېږي، ځکه چې د خلکو په ډېرېدلو سره د ژوند اړتیاوې د دغو خلکو ترمېنځ ازاد تګ راتګ او په نتیجه کې د دغې کرښې باطل توب نور هم پیاوړی کوي. په دغه حال کې په قانوني اعلامولو سره د هغه د واقعي کولو په لور کوښښونه لکه چې د مړي د ژوندي کولو لپاره کوښښونه وي. د دغې کرښې قانوني اعلامول عملي ګټه هم نه لري، بلکې لکه څنګه چې ښاغلی غلام جیلاني ځواک وایي چې په هغه حال کې به د افغانانو غټه برخه او د پښتنو غوڅ اکثریت دومره ټینګ وپارېږي چې شاید یو لوی ملي کړکېچ په پرله پسې ډول رامېنځ ته شي. پرته له هغه

هم تر هغو چې په افغانستان کې باندني پوځونه پراته وي او افغانستان پوره خپلواک نه وي، حکومت یې د غه کرښه قانوني کولی هم نه شي.

خو د ډیورنډ د کرښې د دواړو غاړو ولسونه او په نتیجه کې پاکستان او افغانستان پخپلو کې د غومره ډېر ډول ډول اړیکې لري چې په نړۍ کې به بل دوه هېوادونه دومره سره نږدې او یو پر بل متکي نه وي. افغانستان له لارې هند او لویدیځې نړۍ ته په لنډ ډول رسېدلی شي. همدا اوس له پاکستان نه اټکل شپېته زره کارګران په افغانستان کې کار کوي او په لکونو افغانان په کوټه او پېښور او د هغو په شاوخوا سیمو کې پراته دي. په دې ډول د افغانستان ابادي په زیاته اندازه په پاکستان او دپاکستان ابادي په ډېره اندازه په افغانستان پورې تړلې ده. څومره چې دواړه هېوادونه له یو بل سره د روغ نیتی او مرستې لاسونه ورکړي، په هماغه اندازه د دواړو هېوادونو په ګټه تمامېږي، نو د دواړو هېوادونو چارواکیو اساسي خدمت به دا وي چې د ډیورنډ د کرښې باطل توب ګړندی کړي. په دې ډول چې د هغې د دواړو غاړو خلکو او په اصل کې د دواړو هېوادونو ولسونو ته د کار کولو، سوداګري کولو او نورو معاملو د کولو او په عمومي ډول د یوه بل هېواد ته د ورتللو لپاره قانوني اسانتیاوې برابرې کړي او په دې اړه د کوم ډول اتحادیې بنسټ کېږدي. دا د ټولو علاقمنو د ځایي خلکو او د هغو په استازیتوب سره د عوامي ګوند او د پښتونخوا ملي عوامي ګوند غوښتنه هم ده. په نزدې تېرې کې چې د ویتنام، یمن او جرمني ویشل شوي هېوادونه

بېرته سره يو موټى شوي، د پښتني قومونو سره نږدې کېدل هم طبيعي او د وخت غوښتنه شوې ده.

د پاکستان بل اساسي خدمت به دا وي چې د خلکو په غوښتنه صوبه سرحد پښتونستان يا پښتونخوا ونوموي. د دغې سيمې تشکيل څه باندې يوه پېړۍ دمخه انګرېزانو ايستلى او عجبه ده چې هغه تر اوسه هم د پاکستان اسلامي جمهوريت ته د اعتبار وړ دى. تر هغه لا تريخ واقعيت دا دى چې پاکستان په ازاد پښتونستان يا په قومي ايجنسۍ ګانو کې د انګرېزانو د وخت د جزا قانون هم چلوي. سره له دې چې دغه قانون ډېر ظالمانه او د پاکستان د اساسي قانون د اتمې مادې پرخلاف دى چې وايي هر هغه قانون يا رواج باطل دى چې د اساسي قانون د اساسي حقونو منافي وي، نو د بېن المللي بحران ډلې راپور په حقه وايي چې: "دا سې ښکاري چې د مشرف حکومت د استعماري دورې د اداري، قضايي او سياسي جوړښتونو په ټينګښت باندې ولاړ دى چې دغه سيمه يې د هېواد له نورو برخو څخه بېله کړې او هغه يې دعمل په ډګر کې دقانون له حاکميت او تمثيلي موسسو نه سوا پخپل سر يو ملک ګرځولى دى"[۲۱] د نورو دليلو نو له مخې هم دغه سيمه په رښتيا هسې چې د بېن المللي بحران ډله وايي، د پاکستان له نورو برخو نه بېله ده او د پاکستان حکومت له دغې سيمې او خلکو سره استعماري چلند کوي. په دې حال کې طبيعي ده چې تر څو پاکستان دغه قانونو نه او چلند ترک نه کړي، پښتانه به خپل نه کړي.

د شوروي اتحاد له ړنګېدلو او د طالبانو د رژيم له نسکورېدلو نه وروسته په سيمې کې د ګډې مرستې وخت

راغلی، خو د پاکستان او افغانستان پخپل مېنځي اړيکو کې ښه والی نه دی راغلی. سره له دې چې افغانستان د پخوانيو حکومتونو په شان د پښتونستان موضوع ټينګه نيولې نه ده. د دواړو هېوادونو چارواکي مکلف دي، خپل مېنځي اړيکې ښې کړي. دوی پخپله ښه پوهېږي چې خپل مېنځي اړيکې د لنډې او اوږدې مودې لپاره په کومو ساحو کې او په څه ډول ښې کړي. سم له لاسه هغو جاري پېښو ته توجه په کار ده چې د دواړو هېوادونو په امنيت اغيزه کوي. د معلومو دليلونو له مخې پاکستان د هندوستان په مقابل کې حساسيت لري. افغان چارواکيو ته ښايي دغه حساسيت تل په نظر کې ولري لکه چې د نورو ګاونډيو هېوادونو حساسيتونو ته هم بايد ځير وي. له ټولو ګاونډيو هېوادونو او په تېره له پاکستان سره د دوستۍ د اړيکو ساتل دې د افغانستان د سياست او چلند بنسټ وي. سره له دې چې په سختو کلونو کې هم افغانستان د پاکستان پر ضد عمل نه دی کړی، له هند سره د جنګ په کلونو همدغسې وه. په يوه جنګ کې لا د افغانستان پاچا پاکستان ته ډاډ ورکړی و چې افغانستان به يې د شا له خوا نه ونه وهي. سره له دې هم پاکستان په افغانستان کې له دغې ډېرې نه انديښنه لري. په هر حال، افغان چارواکيو ته بايد تل په ياد وي چې د همدغسې موضوع په سر په کال ۱۹۷۷ کې د افغان- شوروي اړيکې د لومړي ځل لپاره خړ پړ شول.

د سيمې او افغانستان د امنيت په خوندي کولو کې پاکستان اغيزمن رول لري. له همدې لامله د پاکستان حکومت په هماغه اول سر کې له تروريزم سره په جنګ کې له امريکې سره ملګرتوب وکړ

او د طالبانو له رژیم نه واوښت. د پاکستان حکومت تر اوسه هم په دغه سیاست ولاړ دی، خو ای. اېس. ای وروسته د دغه سیاست پرخلاف عمل وکړ. په دې ډول چې افراطي او تر خپلو وزرو لاندې طالبان یې ولمسول چې په افغانستان کې ورانی وکړي. له بي.بي.سي نه اورېدل شوي چې پروېزمشرف د فبرورۍ په د وېمه وویل چې: "د امنیتي ځواکونو بعضو غړو د طالب اورپکو د فعالیتونو په اړه سترګې پټې کړې دي". ده دا هم وویل چې:"بعضې طالبان له افغانستان څخه پاکستان ته راوړي او دلته د ځان لپاره ملاتړ او فعالین پېدا کوي". د طالبانو په ورانکارۍ سره اوس د افغانستان په پښتني سیمو کې امنیت خراب دی او په زرګونو ملکي کسان د هغو د ورانکراۍ له امله وژل شوي او داسې نور... دا به ومنل شي چې که د افغانستان مرکزي حکومت پیاوړی او د خلکو له ملاتړ نه بهره من وي، وران کاران به هغه هم له پولې نه اخوا وران کاران په دننه په افغانستان کې ورانی ونه کړای شي، خو افغان حکومت پیاوړی نه دی. سره له دې هم په دې کې شک نشته چې د پولې نه اخوا وران کاران د ای. اېس.ای له هڅونې او مرستې نه پرته په افغانستان کې ورانی کولی نه شي. له بده مرغه ای.اېس.ای د شوروي اتحاد له یرغل نه وروسته په افغانستان کې هغسې ننوتلې ده لکه کې.جي.بي چې له یرغل نه دمخه په افغانستان کې دخیله شوې وه. دا به سادګي وي چې فکر وشي ای.اېس.ای له افغانستان سره دغسې چلند د دې لپاره کوي چې افغانستان د ډیورنډ کرښه نه ده پېژندلې. د ای.اېس.ای دغه چلند په اصل کې د ستراتیجیکي ژورتیا د پلان له

مخې دی.

د ستراتیجیکي ژورتیا پلان له مخې لکه چې دمخه وویل شول، د ای.اېس.ای مهمه وظیفه دا ده چې پښتون نېشنلزم د ملي حاکمیت په مانا وځپي او د خپلې خوښې اسلامستان پیاوړي او په واک کړي. دا هسې تصادف نه دی چې د افغانستان په پښتني سیمو کې بدامنیتي روانه ده او د بیا رغونې کار په کې سست دی. د دغه پلان له مخې د ډیورنډ د کرښې د دواړو خواوو پښتانه باید بېرته پاتې، ناتوان او دپاکستان تر سیوري لاندې وي. ایران خو ډېر دمخه د پښتنو د سیاسي ناتوان کولو لپاره بډې وهلې، نو د غلام جېلاني ځواک دغه نظر ته ځیر کېدل په کار دي چې وایي د پښتنو پر ضد توطیه روانه ده، که څه هم یا ځکه چې پښتانه په سیمه کې څلوېښت ملیوني غټ قوم دی.

ای.اېس.ای د اسلامستانو په پیاوړي کولو او سیاسي واک ته د هغو په رسولو او د پښتنو په ناتوان کولو کې تر یوه حده بریالی شوی، خو خپله یې هم ضربې وخوړلې. د افغان د مقاومت په دوره کې په دغه سیاست باندې په پراخ ډول عمل وشو، خو نتیجه یې د القاعدې هسکېدل او بېساری ورانی شو. د افغانانو هغه روغ نېتي د پاکستان په اړه له مېنځه لاړه چې د مقاومت په وخت کې یې ورته لاره. د ای.اېس.ای په دغه سیاست او چلند سره تر زیاتې اندازې اسلامستان په سیمه کې ننوتل او د هغو په ننوتلو سره د دولتي واک گټلو لپاره دغسې یو نوی رقیب پېدا او پیاوړی شو چې نورو سیاسي ډلو په تېره له ملتپالو او ملي، د ولت سره په ټکر کې دی. دغه سیاست او چلند د هر مقصد لپاره چې و، سیمه یې ناارامه کړه. دا به سادگي

وي چې آی.ا یس.ای به دوی تل تر لاس لاندې ولري، تازه مثال یې په جنوبي وزیرستان کې د طالبان دوله اسلام پالو مثال دی چې د پاکستان د امنیتي پوځونو په مقابل کې یې جهاد اعلام کړ او پاک ستان مجبور شو له هغو سره موافقه لاسلیک کړي.(۲۲) بارنت روبین او ابوبکر صدیق وایي چې: "د پاکستان د ملي- دولت عملیاتي او ستراتیجیکي نظر د طالبي کېدلو له پان-اسلامېزم سره په نېغه ټکر کوي چې غواړي په پاکستان، افغانستان او له هغو نه اخوا هېوادونو کې ټولنه او دولت پوره په بل مخ واړوي، خو دغه نوی واقعیت په پاکستان کې د ځینو له موخو سره پوره تطابق کوي چې غواړي په پاک ستان، افغانستان او منځنۍ اسیا کې یوه پراخه اسلامستي اتحادیه موجوده وي".(۲۳) د ملي دولتونو په اوسني عصر کې اسلامستي اتحادیه له خیال نه پرته بل څه نه شي کېدلی. د ملي دولتونو ترمېنځ د سیمه ییزو اتحادیو جوړېدل ممکن دي. د دغه فکر له مخې لکه چې دمخه ورته اشاره وشوه، پاک ستان او افغانستان کولی شي چې د کوم ډول اتحادیې بنسټ کېږدي، خو چې پاکستان په نظر او عمل کې د ستراتیجیکي ژورتیا پلان ترک کړي او د دواړو هېوادونو چارواکي روغ نیتي وښیي.

د پاکستان موسس محمد علي جناح د افغانستان په اړه روغ نیتي ښوولې و لکه چې وروسته پاچامحمد ظاهر شاه له هند سره د جنګ په وخت کې پاکستان ته د وروری ډاډینه ورکړې وه. د شوروي د یرغل نه دمخه جنرال ضیاءالحق هم د افغانستان په اړه روغ نیتي ښوولې و. د افغانستان د هغه وخت د سوداګرۍ وزیر عبدالقدوس غوربندي په وینا

ضياءالحق افغانستان ته د کراچۍ په بندر کې د دايمي امتياز ورکولو وعده ورکړې وه. د اطلاعاتو او کلتور د وزير ښاغلي خيال محمد کټوازي په وينا جنرال ضياءالحق په هوانا کې له نور محمد تره کي سره په پنځو مادو کې موافقې ته رسېدلی و چې بيا د حفيظ الله امين په وخت کې د کټوازي په ژبه: "پاکستاني مشرانو دوی ته دا لوظ ورکړ چې نور به د پاکستان له خوا په افغانستان کې يو ډز هم ونه شي". خو پرچمي شاه محمد دوست چې د باندنيو چارو د وزرات د مرستيال په توګه يې ځان په غوړه مالۍ سره امين ته نږدې کړی و، دغه راز زر کې.جي.بي ته ورساوه او شوروي اتحاد پخوا له دې چې ضياءآلحق او امين دغه موافقه په کابل کې لاسليک کړي، په افغانستان باندې يرغل وکړ.

## يادښتونه:

١-د بين المللي بحران ډله، د پاکستان قبايلي سيمې، د اسيا راپور نمبر ١٢٥، دسمبر ١١-٢٠٠٦، ٢ مخ.

٢-پورتنی راپور،٨.

٣-بارنت روبين او ابوبکر صديق، د افغانستان-پاکستان زيج ماتول، د متحدو دولتونو د سولې موسسې خاص راپور لمبر ١٧٦، اکتوبر ٢٠٠٦، ١٢ مخ.

٤-بېن المللي بحران ياد شوی راپور،٨.

٥-پورتنی راپور،٣.

٦-روبين او صديق، ياد شوی راپور،١٣.

٧-بېن المللي بحران،٩.

٨-روبين او صديق، ياد شوی راپور،٦.

٩-پورتنی راپور،١٠.
١٠-پورتنی راپور،٦.
١١-پیټرټامسن سره مرکه، د........، جنوري ١٢-٢٠٠٧، ٨ مخ.
١٢-ف.گريري، د افغانستان او پاکستان شخته، اکسفورډ پوهنتون خپرونه، ٢٠٠٣.
١٣-ديدگو کوردوييز او سليگ هري سن، له افغانستان نه د باندې، اکسفورډ پوهنتون خپرونه-١٩٩٥، ٩٢.
١٤-پورتنی اثر، ١٦٢.
١٥-پیټرټامسن مرکه،٧،٣.
١٦-بارنت روبين او ابوبکر صديق،١١.
١٧-د روبين او صديق ياد شوی راپور،١٤.
١٨-بېن المللي بحران ډلې ياد شوی راپور،١٨.
١٩-پورتنی راپور، ١٩.
٢٠-پورتنی راپور،٢٧.
٢١-پورتنی راپور،٢.
٢٢-پورتنی راپور،١٦.
٢٣-د روبين او صديق ياد شوی راپور،١٠.

# د ډیورنډ توافق لیک متن

په داسې حال کې چې د هندوستان په خوا کې د افغانستان د سرحدي سیمې په اړه ځینې مسئلې راپېدا شوې دي او په داسې حال کې چې دواړه والا حضرت امیر او د هندوستان حکومت هیله من دي چې دغه مسئلې د دوستۍ په پوهاوي او د دواړو د نفوذ د ساحو د حد په ټاکلو سره حل شي، تر څو په راتلونکې کې د دغو متحدو حکومتونو ترمېنځ د دغې موضوع په سر د اختلاف نظر نه وي، په دې وسیله په لاندې ډول سره موافقه وشوه:

۱ــ د والا حضرت ختیځې او سهیلې سرحد توابع دې له واخان نه دپارس تر پولې پورې دي هغه لیکه تعقیب کړي چې په هغې نقشي باندې شوول شوې، چې له دغه توافق لیک سره مله ده.

۲ ــ. د هندوستان حکومت به هیڅ وخت په هغو سیمو کې چې له دغې لیکې نه اخوا د افغانستان په لور پرتې دي، مداخله ونه کړي او والاحضرت امیر به هیڅکله په هغو سیمو کې چې له لیکې نه آخوا د هندوستان په لور پرتې دي، مداخله ونه کړي.

۳ ــ د برتانیې حکومت په دې ډول موافقه کوي چې والاحضرت امیر دې اسمار او تر هغه پورته دره تر چاناک پورې وساتي. له بلې خوا والاحضرت موافقه کوي چې دی به هیڅ وخت په سوات، باجوړ یا په چترال کې د باشګل یا ارنوایي درې په شمول مداخله نه

کوي. داسې هم د برتانیې حکومت موافقه کوي چې د برمل سیمه والاحضرت ته پرېږدي، کومه چې په هغه مفصلې نقشې کې ښودل شوې چې والاحضرت ته لادمخه سپارل شوې ده او والاحضرت د پاتې وزیري ملک او د داور په هکله له خپلې ادعا نه تېرېږي.

٤ــ د سرحدي سیمي لیکه به د افغان او برتانوي ګډو کمشنرانو لخوا له دې وروسته په تفصیل سره وکاږله شي او حد بندي به شي په کوم ځای کې چې د تطبیق وړ او مطلوب وي. د دغو کمشنرانو مقصد به دا وي چې د سرحد په ټاکلو کې متقابلې پوهاوي ته سره ورسېږي. داسې چې د غه لیکه دې تر نهایي امکان پورې د هغې نقشې له مخې وي چې له دغه توافق لیک سره مله ده. په داسې حال کې چې د دغې سرحدي سیمې د ګاو نډیو کلیو د موجودو محلي حقوقو رعایت پوره وشي.

٥ــ د چمن د موضوع په اړه والاحضرت د برتانوي نوې قشلې په هکله له خپل اعتراض نه تېرېږي او برتانوي حکومت ته د هغه حقوق پرېږدي چې د سرکې تېلراي (Sirkai Tilerai) په اوبو کې یې پخپله په بیه اخیستې وه. د سرحدي سیمي له دغه ټکي نه به لیکه په لاندې ډول وکاږل شي:

د غه لیکه به پښه کوتل
ته نېږدې د خوجه امران غرو
له سر نه چې د برتانیې
په سیمه کې به پاتې کېږي،
په هغه لور کښله کېږي چې
مرغه چمن او رشه اوبو چینه
به افغانستان ته پاتې کېږي
او د نوي چمن چاونۍ او د
افغان پوسته چې د لښکر ډنډ
په نامه یادېږي، تر نیمایي

پورې رسېږي او په داسې حال
کې چې [ليکه] به د جنوب په
لور روانه وي، د خوجه
امران غرو سره به بيا يو
ځای کېږي. په دې ډول چې
د غوښې پوسته به د برتانيې
په علاقه کې او د
غوښې په جنوب او
لويديځ کې د شوراواک سړک
به افغانستان ته پرېږدي.
د برتانيې حکومت به د دغه
سړک تر نيم ميلي پورې
مداخله نه کوي.

٦ ـ د دغه توافق ليک د غه پور ته فقرې د هندوستان د حکومت او د افغانستان د والاحضرت له خوا د نظر ټول عمده اختلافات چې د سرحدي سيمي په باب د دوی ترمېنځ پيدا شوي وو، د پوره او قناعت بښوونکې فيصلې په ډول ګڼل کېږي او دواړه د هندوستان حکومت او والاحضرت په ذمه اخلې چې جزياتو په باب ټول اختلاف لکه هغه چې له دې وروسته به د هغو منصبدارانو له خوا پرې غور کېږي چې د سرحدي خط د حدبندۍ لپاره ټاکل کېږي، د دوستۍ په روحيې سره به فيصله کېږي. د دې لپاره چې تر هغو چې ممکنه وي د دواړو حکومتونو ترمېنځ د شکونو او ناسم پوهاوي سببونه له مېنځه ولاړ شي.

٧ـ د هندوستان حکومت چې د والاحضرت له روغ نيتۍ نه د برتانيې حکومت په اړه پوره ډاډ من شوی او غواړي افغانستان پياوړی او خپلواک ووينې، د والاحضرت له خوا د جنګي لوازمو په رانيولو او واردولو باندې به اعتراض ونه کړي او دوی به په دغه په هکله پخپله څه مرسته ورسره وکړي. پر هغه سربېره د دې لپاره چې د والاحضرت د

هغې دوستانه روحیې نښه وساتل شي چې په دغو مذاکراو کې یې ښوولې ده، د هندوستان حکومت ژمنه کوي چې په هغه دولسو لکو کې شپږ لکه روپۍ زیاتې راوستل شي چې والاحضرت ته هر کال د مالې مرستې په ډول ورکول کېږي.

هنري ماتمر ډیورنډ د هندوستان د حکومت د باندنیو چارو وزیر
امیر عبدالرحمن خان، د افغانستان او د هغه د توابعو امیر کابل
د نوامبر 1893.12

ثلورم ثپرکی

# پــاچـا امــان
# الله او
# خپـلـواکـي

## خپلـواکـي، پـرمـختـيـا
## او
## پــاچـا امـان الله

اگست ١٥-٢٠٠٩

*دغه لیکنه په هغې غونډې کې اورول شوې چې د امریکې د شمالي کلیفورنیا د فریمانت ښار کې، د افغان کلتوري ټولنې له خوا د افغانستان د خپلواکۍ د نوي ومې کالیزې په ویاړ بلل شوې وه.*

ننني افغانستان یو بېرته پاتې هېواد دی، خو د ملي خپلواکۍ تاریخ یې له ویاړ نه ډک دی. په نولسمې پېړۍ کې چې استعماري هېوادونو د نړۍ نږدې ټول هېوادونه لاندې کړي وو، افغانانو د نړۍ د ستر استعماري قدرت برتانیې لښکرې دوه ځلې په شا ووهلې او خپل ملي او دیني ارزښتونه یې ټینګ وساتل. په همدغې پېړۍ کې د هرات خلکو هم په داسې حال کې چې مرکزي حکومت پر ځای نه و، د پارس یا اوسني ایران څو پوځي یرغلونه په شا ووهل. یوازې د افغان-انګلیس دوهم جنګ نه وروسته و چې د افغانستان باندنۍ اړیکې د برتانوي-هند حکومت له لارې اجرا کېدل او په نورو برخو کې افغانستان د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې یو خپلواک هېواد و. په دغې مودې کې د هند برتانوي حکومت په افغانستان کې نه پوځ لاره، نه سفارت. یوازې یو هندي مسلمان تبعه یې د امیر په دربار کې د ایجنټ یا عامل یا ګمارلي په نامه کښېنولی و چې وظیفه یې له افغانستان سره د هند رسمي ارتباط ساتل او هند ته د راپورونو استول وو، بې له دې چې د افغانستان له حکومت سره د خپل حکومت استازیتوب وکړي، انګریزانو په افغانستان کې د امیر له اجازې پرته هیڅ عمل نه کاوه او نه یې کولی شو.

دغه حال هم د افغانانو لپاره د زغم وړ نه و چې د ملي شعور او فکر

خاوندان او سمون غوښتونکو افغانانو د امیر حبیب الله په واکمنۍ کې د مشروطیت په نامه یو حرکت رامېنځ ته کړ چې مخکښان یې د حبیبیې ښوونځي استادان او فارغان او د امیر د دربار غلام بچه ګان او د واکمنې کورنۍ ځینې غړي وو. غلام بچه ګان هغه چې له نامه نه یې ښکاري، غلامان نه بلکې د اطراف د مخورو زامن وو چې د یرغمل په توګه په دربار کې ساتل کېدل او روزل کېدل او بیا په ملکي او نظامي څانګو کې په لوړو مقامونو ګمارل کېدل. دغو مشروطه غوښتونکو خپل غورځنګ په دغه مقصد شروع کړ چې افغانستان پوره خپلواک وګرځوي. دولتي نظام مشروط یا نې قانوني کړي. د امیر نا ټاکلی قدرت وټاکي او عصري مدنیت په افغانستان کې رواج کړي.

دوی به د روسیې، ترکیې او ایران په مشروطه یا قانوني انقلابونو سره هم هڅول شوي وو چې د شلمې پېړۍ په لومړۍ لسیزې کې پېښ شوي وو. د شلمې پېړۍ په پیل سره په داسې حال کې چې په افغانستان کې د عصري پوهنې بنسټ اېښوول شوی و، په اسیا کې له یوه اوږده سکون نه وروسته د ویښتیا غورځنګ مخ په ټوکېدو و. افغان مشروطه غوښتونکي پخپل مقصد ټینګ ولاړ وو، په داسې حال کې چې ځینو تند لارو غړو یې پخپله امیر حبیب الله باندې ناکامې ډزې کړې وې، مولوي محمد سرور واصف پخوا له دې چې په دار وځړول شي یو لوی شعر کمپوز کړ چې یو فرد یې دا دی:

ترک جان و ترک مال و ترک سر در ره مشروطه اول منزل است

کوم هغه رښتین توب او ټینګښت چې دغو مشروطه غوښتونکو د خپل ملي مقصد په اړه ښودلی، تروسه بلې افغان ډلې د

خپل مقصد په اړه بشودلی نه دی. څنګه چې هغو اميرحبيب الله د خپل مقصد په لار کې خنډ باله او څنګه چې هغه د هغو ډېر ملګري بندي کړي او يو څو يې لا اعدام کوي وو، دوی هم په پای کې وکولی شول چې هغه د ١٩١٩ په فبروری کې د لغمان د الينګار درې په کله ګوش نومي ځای کې له مېنځه يوسي. د افغانستان په تاريخ کې دا لومړی ځل و چې يو افغان واکمن د ملي مفکورې په خاطر د دغسې افغانانو له خوا له مېنځه يوړل شو چې خپل زوی يې هم ورسره ملګری و. بيا نو د هغه دغه زوی عېن الدوله امان الله اول د امير او بيا د پاچا په لقب واکمني کوله.

امان الله همدا چې پاچا شو د مشروطه غوښتونکو پروګرام د پلي کولو لپاره لاس په کار شو. دی چې د ځوانی په قوت کې اود مشروطه غوښتونکو پروګرام ته پوره رشتين و، له وطن سره يې دغسې مينه لرله چې ويل يې "از خدمت بوطن بالاتر عشقی ندارم" نو يې اول د کابل په مراد خانيو کې په يوازې ځان د خلکو په مخ کې د هېواد بشپړه خپلواکي او داسې هم د افغانانو ازادي او سره برابري اعلام کړه. بيا يې د اپريل په ١٣ مه په کابل کې په يوه عام رسمي دربار کې د وطن پوره خپلواکي په دغو لفظونو څرګنده کړه:

> "ما خپل ځان او خپل هېواد پوره ازاد، پخپل اختيار او خپلواک اعلام کړ. له دې وروسته به زما هېواد هغسې خپلواک وي لکه د نړی نور دولتونه او قدرتونه چې دي. هېڅ باندنی هېواد به پرې نه بشودل شي چې يوه وېښته قدر حق ولري چې د

افغانستان په دنیو او
باندنیو چارو کې ګوتې ووهي
او که کوم چا د غسې وکړل،
زه تیار او اماده یم چې
مرۍ یې پخپلې دغې تورې سره
پرېکړم"

سره له دې هم د هند برتانوي حکومت د افغانستان پوره خپلواکي منلو ته حاضر نه و. افغانانو بیا ورسره جنګ پیل کړ او هغو بیا د یوه لنډ جنګ نه وروسته د افغانستان پوره خپلواکي ومنله. دا د افغانستان د پوره خپلواکۍ جنګ دی چې د دوو نورو جنګونو پر خلاف چې انګرېزانو پیل کړی و، پخپله افغانانو د پاچا امان الله په سروالۍ پیل کړی و. څنګه چې دا د خپلواکۍ او د افغان ملت د حېثیت او هویت جنګ دی، عادل او په حقه جنګ دی چې په هغه سره افغان هویت یو ځل بیا تثبیت او پاچا امان الله د تلپاتي او افغان ملت د ویاړلي نوم خاوند شو. د خپلواکۍ جنګ له دې امله هم مهم شو چې هغه د اساسي سمونونو لپاره پیلامه شوه. پاچا امان الله په دې فکر و چې خپلواکي چې د افغانستان ملت لپاره یو حتمي شرط دی، هغه وخت رښتینې کېدلی شي چې بنسټ یې ټینګ وي. یانې افغانستان د یوه خپلواک هېواد په شان پرمختللی، افغانان په حقونو کې سره برابر، ملي پیوستون ټینګ او ټولنه مدني وي. له جنګ نه وروسته د پاچا امان الله ټول کوښښونه د دغو ټکو واقعي کولو ته متوجه وو.

په دغه لړ کې غټ ګام د دولتي نظام د قانوني کولو لپاره وچت شو او په ۱۹۲۱ کې افغانستان د لومړي ځل لپاره د لیکلي اساسي قانون خاوند شو. د هغه له مخې کابینه مېنځ ته راغله چې شخص

پاچا ته یې مسوولیت لاره. وروسته د دولتي چارو د ښه تنظیم لپاره د نظامنامو په نامه دغومره ډېر قانونو نه وایستل شول چې بل هېڅ وخت په دغومره مودې کې په افغانستان کې نه وایستل شوي. نظامنامې په دغه مقصد ایستل کېدلې چې چارې د قانون له مخې ترسره شي او د چارواکو د زورز یاتي مخه ونیوله شي. د ملي چارو د اجرا لپاره د پاچا امان الله په واکمنۍ کې د ټول ملت په استازیتوب لویې جرګې هم بللې کېدلې. په وروستنۍ لویې جرګې کې د ملت له زرو نه زیات استازو ګډون کړی و. پاچا امان الله د لویو جرګو موسس دی. تر هغه دمخه جرګې قومي او محلي وې. پاچا امان الله پخپله جرګه مار و او دی سره له دې چې پاچا و په جرګو کې یې له جرګه والو سره بحثونه کول، کله به په بحث کې احساساتي شو. یو ځل د ښځو په موضوع یې د ملایانو د منفي نظر په مقابل کې دغسې احساساتي شو چې په لوړ اواز یې غږ کړ چې دا ټول "ملي مصیبتونه د تاسو ملایانو له لاسه دي چې له دووسانو نه پرته نور څۀ نه یئ".

د پاچا امان الله کوښښ دا و چې افغانان په عمل کې په حقوقي لحاظ سره برابر او ټول نه مدني او فردي ازادي خوندي وي. د پاچا امان الله په واکمنۍ کې هیڅ افغان د سیاسي نظر د اظهار په سبب بندي شوی نه دی. هزاره ګان په عمل کې له غلامۍ نه ازاد شول، که څۀ هم غلامي په رسمي ډول د امیر عبدالرحمن په وخت کې لغو شوې وه. داسې هم پاچا امان الله د عصري پوهنې د انکشاف لپاره هم په کابل او هم د ولایتونو په مرکزونو کې د هلکانو او نجونو لپاره ثانوي او مسلکي ښوونځی ګانې په زیات شمېر پرانیستلی. یو

شمېر نجونې يې د لوړو زدکړو لپاره ترکيې ته او په سوو نارينه زده کوونکي يې اروپايي ملکونو ته واستول. پاچا امان الله او د هغه مېرمن ملکه ثريا هغومره چې عصري پوهنې ته توجه کړې نورو او بلې واکمنې کورنۍ نه ده کړې، نو ځکه د پاچا امان الله په لس کلنې واکمنۍ کې عصري پوهنه ډېره پرمخ ولاړه او ټولنه تر زياتې اندازې مدني او افراد يې سره په حقونو کې برابر شول. تاريخپوه ميرغلام محمد غبار چې د هغه وخت شخص و، وايي چې: "ديگر تبعيض و تفريق از نظر نژاد وزبان و مذهب و قبيله و جود ندا شت. معاش مستمری و نسبی عشيره محمدزايي و خان ها با امتيازات روحانيون لغو گرديد و ملت حقوقا مساوی شد". پاچا امان الله د خپلې واکمنۍ تر پايه پورې د افغانانو لپاره ډېر نور کارونه هم کړي چې د هغو شرح دلته نه کېږي.

د خپلواکۍ له گټلو او وطن ته د بسيارو خدمتونو کولو سره سره پاچا امان الله په پای کې اړ شو چې له وطن نه د تل لپاره ووځي او خپل پاتې عمر په ايتاليې کې تېر کړي. دا ولې؟ په دغې موضوع باندې ما پخپل يوه اثر کې اوږد بحث کړی په نامه د "پاچا امان الله واکمنۍ ته يوه نوې کتنه" دلته به دغومره ووايم چې پاچا امان الله پخپل وخت کې پاتې راغی، خو اصلاحي پروگرامونه يې د پاچا محمد ظاهر په واکمنۍ کې په تېره د محمد داود په صدراعظمۍ کې تر ډېره حده پورې عملي شول چې د هغو په نتيجه کې افغانستان ډېر پرمخ ولاړ، ښځې مخ لوڅې شوې، خپلواکي يې ټينګه شوه او بېن المللي حېثيت يې لوړ شو. افغانستان چې بيا ورو سته وران او افغانان په ډول ډول

مصيبتونو اخته شول او لا هم پرې اخته دي، په اصل کې د تند لارو يا افراطي ډلو ټپلو او کسانو له امله و چې په چارو کې يې حتى له سليم عقل نه هم کار وانه خيست. په دې اړه به بس درې مثالونه وړاندې کړم او خپله وينا به ختمه کړم.

حفيظ الله امين وروسته له هغه چې نور محمد تره کی يې لاندې کړ، د شوروي اتحاد سفير پوزانوف يې پخپل دفتر کې په دغسې ټينگه څپېړه په مخ ووهه چې له سترگو نه يې او ښکې راغلې، هغه ترينه غوښتي وو چې ببرک کارمل خپل صدراعظم وټاکي، شوروي لويانو له هغه وروسته د دسمبر په ۱۲ مه په رسمي ډول د افغانستان د نيولو فېصله وکړه.

بل مثال د گلبدين حکمتيار دی چې په امريکې کې يې د ملاقات لپاره د ولسمشر ريگن بلنه رد کړې وه. خو ده بيا په اسلام اباد کې د ای.ايس.ای د سروال جنرال اختر عبدالرحمن په امر د امريکې د سي.ای.اې مشر ملټ بيرډن سره وليدل. بېرډن ورته ووېل چې ستا د ريگن په سپکاوي سره په امريکې که دغسې فکر پيدا شوی چې هغه ډېرې وسلې چې ستا حزب ته ورکولې کېږي بايد کمې شي چې په هغه حال کې به ستا قومندانان له سختو ستونزو سره مخامخ شي. حکمتيار ورته کړه چې زه خپله وسله د شوروي له پوځ نه ترلاسه کوم. هغه بيا وپوښته چې ستنگر هم؟ دا وروسته له هغه و چې د اسلامي حزب قومندان انجنير غفار او دوه ملگرو يې په امريکايي ستنگر راکټونو سره د جلال اباد د هوايي هډې له پاسه د شورويانو درې توپ لرونکي هليکوپترونه ويشتلي او غورځولي وو. په دغه انکشاف سره دشوروي د هوايي زور اثر کم او شوروي

لویان له افغانستان نه د وتلو په فکر شول.

دریم مثال د طالبانو د وخت او ټولو ته څرګند دی چې مشرانو یې دننه پخپل هېواد کې بېګانګان پرې ایښي وو چې د امریکې پر ضد دغسې پلان وباسي او عملي کړي چې په هغه سره اته کاله دمخه درې زره بې ګناه ملکي امریکایان دننه په امریکې کې تلف شول. ګمان نه کوم چې د کوم بل هېواد د واکمنو به له خپل پلارني هېواد سره دغسې خیانت کړی وي. د امریکې ځواب یوه میاشت وروسته له هغه په افغانستان باندې نظامي عمل شو چې تر اوسه هم روان دی.

د دغو مثالونو له مخې هغه نظر سم ښکاري چې وايي پښتنو هر وخت په سیاست او ډیپلوماسۍ کې بایللې ده.

# افغانان او ملي واکمني

## اگست -٨-٢٠٠٦

د افغان نوم د تاريخپوه ميرغلام محمد غبار په نظر د ويدي دورې له "اپاگان" سره سرخوري.[١] تاريخپوه احمد علي کهزاد هم "داغان" د افغان پخوانی نوم شيي او وايي چې دغه نوم په سانسکرت يا دهنداونو په لرغوني ژبه کې "اوگانه" يا "اوغانه" ياد شوی او "داغانه" بله بڼه "اسوه غانه" ده او دواړه نومونه د سورو هېواد کېږي.[٢] له سکندر نه وروسته يوناني تاريخپوهانو اپاگان د اسواکا په نامه ياد کړی.[٣] اپاگان په اسلامي دوره کې په غالب احتمال د عربانو له خوا افغان شوی دی. د افغان نوم په لسمې عيسوي پېړۍ کې د لومړي ځل لپاره د حدودالعالم په کتاب کې چې ليکونکی يې مالوم نه دی، ذکر شوی دی.[٤] وروسته د افغانانو ملک افغانستان ياد شو او تاريخپوه سيفي هروي پخپل تاريخنامه هرات نومي کتاب کې د افغانستان نوم پنځه ډېرش واره راوړی.[٥] دلته دغه ټکي د پام وړ دي: يو دا چې نورو خلکو پښتانه د اپه گان په نامه ياد کړي، نه پخپله پښتنو. بل دا چې د پښتون نوم تر اپه گان نه لرغونی دی او پښتنو له اول نه ځانونه پښتانه يا پختانه گڼل. د هرودوت پکتويس په غالب احتمال د پښتون يوناني شوی شکل دی. په هر حال دا ډېر وروسته و چې پښتنو د افغان

نوم د ځان لپاره او د افغانستان نوم د خپل وطن لپاره هم غوره کړ.
بل دا چې د هغو ژورو تحولونو له امله چې د افغان ټولنې په ترکیب کې د امیر عبدالرحمن خان په دوره کې او تر هغې وروسته پېښ شوی د افغانستان په ټولو اساسي قانونو کې افغان هغه چا ته ویل شوي چې د افغانستان تبعه وي. پاچا امان الله شاید لومړنی افغان وي چې د افغان تعریف یې کړی. دی وایي چې: " هر کسیکه در افغانستان سکونت دارد از هر مذهب و هر فرقه که باشد و هر کار و هر صنعت و خدمتیکه میکند تماما افغان گفته میشوند".[٦] په دې ډول د افغان مفهوم د پاچا امان ا لله تر مهاله پورې تحول کړی او ملی شوی یانې هغه د جنس، مذهب، دین، ژبې قوم ولي او اجتماعي دریځ له توپیر نه پرته هر هغه چا ته ویل کېږي چې د افغانستان تبعه وي. د دې مانا دا هم کېږي چې که د افغانستان کوم تبعه ځان افغان نه ګڼي د اساسي قانون پر خلاف به یې عمل کړی وي او له هغو امتیازونو او حقونو څخه بې برخې وي چې د افغانستان اساسي قانون د افغانستان تابعانو ته منلي دي.
افغانان د دغو حقونو او امتیازونو په برابرکې ملي وظیفې او مسوولیتونه لري چې هغه هم په اساسي قانون کې توضیح شوي دي. دغه مسوولیتونه د وطن او وطنوالو تر نومونو لاندې ذکر کېدلی شي. افغانستان ته وفا لرل او له افغانستان نه دفاع کول یانې د افغانستان خوندي ساتل د هر افغان ملي دنده ده. افغانستان ته وفا لرلو مانا دا هم ده چې نور نومونه به د هغه په عوض نه راوړل کېږي.د افغانستان پخواني نومونه لکه اریانه او خراسان

اوس کتابي او بې روحه نومونه دي او د افغانانو جذبه پارولی نه شي. د افغانانو جذبه یوازې د افغانستان نوم پارولی شي. اریانه لا د افغانستان لپاره زموږ ملي پیوستون ته زیان هم اړوي، ځکه چې هغه یوازې اریایي توکم افغانانو په غېږ کې نیسي نه د افغانستان ټول اوسني قومونه. په هغه وخت کې ترکمنان، ازبکان، هزاره ګان، قزلباشان، عربان او نور د اریانه اوسېدونکي نه وو. دوی وروسته د افغانستان او سېدونکي شول او اوس له پښتنو، تاجکو، نورستانیو، پشه یانو او نورو سره په ګډه د افغانستان د اساسي قانون له مخې د "افغانستان ملت" جوړوي.

د خراسان نوم خو په اصل کې د بېګانه ګانو له خوا په یوه بل هېواد ایښول شوی دی. د ساسانیانو په وخت کې د فارس خلکو د او سني ایران ختیځې سیمې ته خراسان وایه، ځکه چې هغه د فارس په لمر خاته کې پروت و. خو دغه خراسان په هیڅ دوره کې د دغسې هېواد نوم نه و چې حدود یې ټاکلي او معلوم وي، مهمه دا ده چې د دغه خراسان مفهوم هغومره چې جغرافیوي و، سیاسي نه و. بلکه دا چې هغه مهالونه هغومره چې د واکمنو کورنیو په نومونو لکه سلجوقي، غزنوي، غوري او نورو یادېدل د خراسان په نامه نه یادېدل. لا مهمه دا ده چې که یو څوک خپل هېواد ته خراسان وایي مانا یې لمر خاته خواته هېواد کېږي، نه د هغه خپل هېواد. همدغه سبب دی چې د فارس خلکو د خپل هېواد د ختیځې خوا ملک یانې پخوانی پارت خراسان بالله. نه خپل ملک. همدا اوس هم ایرانیان دغسې سیمې ته یا د هغې یوې برخې ته خراسان وایي لکه

اروپایان چې لویدیځې اسیا ته منځنی ختیځ وایي. په داسې حال کې چې ځایي خلک لویدیځې اسیا ته منځنی ختیځ نه وایي. دوی لویدیځه اسیا د خپلو هېوادونو په نومونو یادوي لکه مصر، عراق، سوریه او نور.

په دې ډول خراسان په اصل کې د بېګانه ګانو اختراع ده. پر هغه برسېره هغه د خراسان د خلکو محکومیت څرګندوي، ځکه چې خراسان د سامانیانو په وخت کې د هغوی تر لاس لاندې یو هېواد و. خراسان اوس د ایران یوه برخه ده. له همدې امله به وي چې ایرانیان او ایران پالان خراسان ډېر یادوي. اوس د دغه نوم د بېرته ژوندي کولو هڅې دمحکومیت خواته د بللو مانا هم لري، په داسې حال کې چې د افغانانو ملي وظیفه دا هم ده چې خپله خپلواکي او ملي واکمني خوندي وساتي.

افغانان دخپلواکۍ په ساتلو کې نوم لري. دوی دمقدونیې سکندر نه د شلمې پېړۍ تر پایه پورې د نړۍ د سوبمنانو او امپراتوریو په برابر کې له هغه نه په ټینګه دفاع کړې البته د دوی واکمني یا ملي حاکمیت هم، د نورو ملتونو د حاکمیت په شان، د اوسني عصر موضوع ده.

واکمني په لنډ ډول اول د کورنیو د مشرانو وه، له هغو نه قومي مشرانو ته په لاس ورغله او بیا د پاچا یانو شوه اوله پاچایانو نه یې خلکو ته انتقال وکړ.(۷) اول په انګلستان کې په اولسمې پېړۍ کې او بیا په فرانس کې په اتلسمې پېړۍ کې. په دواړو هېوادونو کې دغه انتقال په انقلابونو سره ترسره شو. تر دې دمخه په لرغوني یونان کې خلکو د وړو ښاري دولتونو حکومت په نېغ ډول یانې پخپله چلوه.

په معاصر مهال کې خلکو د خپلو استازو له لارې حکومت کول یا واکمني عملي کول پیل کړل. په ځینو هېوادونو کې پاچایي نظامونه پر ځای پاتې شول خو پاچایانو یې سلطنت کاوه. نه حکومت او حکومت کول د خلکو حق شو چې د خپلو استازو له لارې یې عملي کوي. په دې ډول په معاصر مهال کې ملي-دولتونه هسک شول او دموکراسي عامه شوه. له دموکراسۍ سره فردي خپلواکي هم راغلله نو ملي-دولت او فردي خپلواکي د ملي-واکمنۍ او دموکراسۍ نه بېلېدونکی ملګری دی او دا زموږ د عصر خاصه شوې ده. د غه خاصه د نړۍ د نورو سیمو په تناسب په لویدیځې نړۍ کې ښه ځرګنده ده او د ختیځ په ځینو هېوادونو کې لکه په هند، جاپان، جنوبي کوریا او ټایوان کې هم عملي کېږي.

خو په افغانستان کې د ملي واکمنۍ او دموکراسۍ تاریخ لنډ دی او هغه هم اوږدې وقفې لري. دلته فردي ازادي یوازې سیاسي ده او فرد په نورو اړخونو کې د خپلې مربوطې ډلې یوه بې اهمیته برخه ده، نو ځکه په افغانستان کې اوس هم پوره خپلواک افغانان یا هغه افغانان چې د خپل ازاد وجدان په حکم ژوند او حتی سیاست وکړي، د ګوتو په شمار دي.

د افغانستان د ملي-دولت ستنې اول د امیر شېرعلي خان او امیر عبدالرحمن خان په وخت کې ودرول شوې، خو دا د پاچا امان الله په وخت کې وچې افغانستان د لومړي ځل لپاره د لیکلي اساسي قانون څښتن شو. د دغه پاچا واکمني، سره له دې چې لنډه وه د افغانستان لپاره د یوه نوي عصر پېلامه شوه. پاچا امان الله د مشروطه غوښتونکو پروګرام عملي کوه چې هغه د

افغان نیمګړي خپلواکي پوره خپلواکي کول، د قانون له مخې حکومت کول او په هېواد کې د عصري مدنیت رواجول وو. پاچا امان الله د افغانانو او پښتونستانیانو په ټینګ ملاتړ سره پوره خپلواکي وګټله.دا هغه لویه کارنامه ده چې افغانان یې د هغې د ذاتي ارزښت له امله هر کال لمانځي او زموږ دغه غونډه هم په اصل کې د همدې لپاره ده. پاچا امان الله په دغې کارنامې سره د ملي واکمنۍ د واقعي کولو لپاره هم ور پرانیسته. داسې یې هم د ټولو افغانانو په برابر اعلامولو سره د ټولنې د مدني کولو په لور لومړی ګام وچت کړ، خو د قانوني حکومت او د عصري مدنیت په رواجولو کې پاتې راغی چې د هغه په نتیجه کې له وطن نه په وتلو اړ شو.[۸]

په دې ډول پاچا امان الله د مشروطه غوښتونکو ټول پروګرام پلي کولی و نه شو، خو دی په اوړدې مودې کې بریالی دی. له هغه وروسته د افغانستان ټول اساسي قانونو نه چې د هغو له مخې دولتي نظامونه جوړ شوي،د ملي واکمنۍ پربنسټ جوړ شوي دي. د اساسي قانون لرل په اصل کې د قانون له مخې د حکومت کولو مانا لري. په اساسي قانون سره د نظام د درې ګونو څانګو د صلاحیت او مسوولیت حدود ټاکل کېږي او چارواکي مجاز نه وي چې پخپله خوښه حکومت وکړي. د اساسي قانون مانا دا هم ده چې د دولتي واک سرچینه ملت یا خلک دي. دغه اصل د ۱۹۶٤ کال په اساسي قانون کې په ډېر دقیق ډول افاده شوی او هغه دا چې: "حاکمیت ملي در افغانستان بملت تعلق دارد".دغه اصل په ټولو وروستیو اساسي قانونو کې منل شوی او د افغانستان نوی اساسي قانون

ملت په دغه ډول یادوي: "د افغانستان ملت عبارت دی له هغو ټولو افرادو څخه چې د افغانستان تابعیت ولري". د پاچایي قانون له برکته و چې په هغه وخت کې په افغاسنتان کې ملي واکمني او دموکراسي تر دې حده پورې واقعې شوې وه چې د افغانستان په بلې دورې کې په هغه اندازه واقعي شوي نه وو. دا یوازنۍ دوره وه چې په افغانستان کې حکومت د قانون له مخې چلېده، یا تر ډېرې اندازې د قانون له مخې چلېده. تر هغه وروسته د اوویشتو کلونو په مودې کې حکومتونه لږ و ډېر پخپل سرچلېدل که څه هم د شلمې پېړۍ تر پایه پورې درې نور اساسي قانونونه ایستل شوي وو. په بله ژبه په دغې اوږدې مودې کې اساسي قانونونه هسې په نامه و او ملت له واکمنۍ نه په عمل کې محروم و او اعلی واک د ملت په نامه چارواکو انحصار کړی و، نوځکه افغان ملت په چنګیزي ډوله مصیبتونو واوښت چې د هغو له امله یې د باندني تېري په برابر کې له خپلې خاورې نه دفاع ونه کړه یا یې دفاع کولی ونه شوه. د دغه کار پایله د نورو څېزونو په ډله کې دا شوه چې د پاچا امان الله د وخت پوره خپلواکي یو ځل بیا نیمګړې خپلواکي شي او ملي واکمني په عمل کې نه په تیوري یانې په اساسي قانون کې محدوده شي. هر څوک به په دې اړه ځانله نظر ولري. زه په دې اړه خپل نظر په لنډ ډول اوروم او بیا خپله وینا پای ته رسوم.

دغه حال شاید له دې امله وي چې په افغانانو کې د قانون د درناوي فکر ډېر ضعیف دی او دوی تر اوسه په دې بریالي شوي نه دي چې د سیاسي ځای ناستې یا جانشین موضوع حل کړي. د

قانون درناوی او د سیاسي ځای ناستي موضوع ګانې سره تړلې د ي. چېرته چې د قانون درناوی نه وي هلته د واکمن په وتلو سره په هر نامه او په هر ډول چې وي امنيت له مېنځه ځي. لکه چې ما پخپل يوه اثر کې ويلي: "افغانستان په نړۍ کې يوازنی هېواد دی چې هلته د شلمې پېړۍ په بهير کې شپږ يا اته اساسي قانونونه ايستل شوي او نړدې ټول يې له مېنځه وړل شوي دي... که اساسي قانون يوازې د کاغذ پرمخ ليکنه وای، د هغه له مېنځه وړل به مهم نه وای، خو اساسي قانون ځنګه چې د يوې ټولنې د نظام تمثيل کوي، د هغه له مېنځه وړل د نظام له مېنځه وړل ښيي، نو په دغه ډول په افغانستان کې په شلمې پېړۍ کې اوه يا اته ډوله نظامونه په پښو درول شوي او بيا نسکور شوي دي. په هرې دغې نسکورونې سره خلک وژل شوي، نوې بې اتفاقۍ ګانې پېدا شوې، پخوانۍ بې اتفاقۍ ګانې لا ټينګې شوې، له تېرې سره پرېکړه شوې، بې تجربې کسان په واک راغلي او په نويو نا اشنا لارو باندې تګ پيل شوی دی".[۹] د دغو ټولو په نتيجه کې ملي واکمني تر پښو لاندې شوې، ژوند ټپي شوی او پرمختګ پر ځای درېدلی و. ځينې به دا ووايي چې دا ټول په اصل کې د قانون ماتوونکو او په واک مَينو افغانانو کار و، د غه حکم د حقيقت يوه برخه بيانوي نه ټول حقيقت. حقيقت دا دی چې ملت له هيڅ اساسي قانون نه دفاع ونه کړه. پخواني پاچا لا دځان پر ضد کودتا ته تسليم شو، سره له دې چې له قانون نه يې د دفاع لوړه کړې وه او په هغه وخت کې په اروپا کې و او محفوظ و. د اساسي قانون او د ملي واکمنۍ په برابر کې د غې ملي بې

تفاوتی پرواک مَینو اشخاصو او ډلو او حتی باندنیو ته موقع ورکړه چې د واک خپلولو په لوبه کې له قانوني او غیر قانوني لارو او حتی له باندنیو پوځونو نه استفاده وکړي او ملي واکمني تر پښو لاندې کړي. په نتیجه کې دولتي واک دغسې ډلو ته په لاس ورغی چې هیڅ فکر یې نه کېده لکه د خلقیانو، پرچمیانو، سید قطبیانو، مودودیانو او وهابیانو.
که افغانانو د قانوني ژوند او چلند درناوی کولای دغسې ډلې به واکمنې شوې نه وای او که شوې وای د قانوني حکومت چلند به یې غوره کړي وای. دغسې ونه شول او پایله یې د نورو ملي مصیبتونو په ډله کې، د خپلواکۍ نیمګړي کېدل شول. په دې اړه ژور فکر په کار دی.
زما په نظر د ژغورنې اساسي لار د قانوني ژوند او چلند لار ده، خو چې قانونونه عادل وي، د ټولنې د ټولو ډلو، قانوني حقونه په نظر کې ولري، حکومتي چارواکي پرې عمل وکړي، نافذ کوونکي یې یو شان تطبیق کړي او افراد چې باسواد او ازاد وي، دهغو څارنه، درناوی او ساتنه وکړي. البته دا ایډیال دی اود اوسنی وضع دغسې نه ده اوس لا زیاتره خلک د اقتصادي تنګسې له امله هغومره چې د ژوند د لومړیو ضرورتونو په فکر کې دي، د بل څه په فکر کې نه دي، خو د نړۍ والتوب په اوسني حال کې چې هېوادونه ورځ په ورځ سره نږدې کېږي او د ساینس،ټکنالوجۍ او اقتصاد له برکته پرمختګ ډېر ګړندي دي، افغانانو ته غټ غټ چېلنجونه په مخ کې پراته دي.
د دې لپاره چې دوی د یوه ملت په توګه پاتې وي او ملي واکمني یې خوندي وي، بله چاره نه لري، خو دا چې د خپل هېواد، خپلې واکمنۍ او د پرمختګ په

فکر کې تر هر بل وخت نه اوس ډېر جدي شي. په دې اړه به ښه دا وي چې اول دننه په وطن کې او د باندې بحثونه وشي. دا ټولې غټې موضوع ګانې دي چې دلته پرې بحث نه شي کېدلی. نو زه خپله وینا د سقراط په دغې وینا پای ته رسوم چې دوه نیم زره کاله دمخه یې کړې وه او هغه دا چې: "که غواړې ازاد اوسې د قانون تابع اوسه".

## یادښتونه:


۱- میرغلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، موسسه چاپ کتب، کابل، ۱۹٦۷، ۳۰۹.

۲- احمد علي کهزاد، افغاسنتان در شاهنامه، وزارت اطلاعات و کلتور، کابل، ۱۹۷٦، ۲۸۸.

۳- محمدحسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ (انګر یزي)، د برل خپرونکې موسسه، لیدن، ۱۱، ۲۰۰٦.

٤- عبدالحی حبیبي، افغان و افغانستان، ۱۱مخ.

٥- سیفي هروي، تاریخ نامه هرات، بمقدمه پروفیسر محمدزبېر صدیقي، کلکته، ۷۷، ۱۹٤۳-۱۹۸۰-٦۲۰.

٦- امان الله، حاکمیت قانون در افغانستان، تحشیه و مقدمه از حبیب الله رفیع، امان کتاب خپرولو موسسه، ۱۹۹۹-۱۷۷-۲۱۱.

۷- دونا لډکالن، د عقل په چوکاټ کې، وینټن بوکس، نیویارک، ۱۹۹۹-۱۱۹-۱٤٤.

۸-محمد حسن کاکړ، د امان الله پاچاهی ته یوه نوې کتنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه-پېښور۲۰۰٥.

۹-محمدحسن کاکړ، وطن ته یو څو

طالـبان او اسلامي بنسټ پالـنه، کلـتوري
ودې ټـولـنه-پېښور۲۰۰٤، ٤۱۳.

پنځم څپرکی

# یو څو ځېرنیزې لیکنې

## د وربښمو لار
## د تاریخ له نظره
جنوري ۳۰-۲۰۰۹

د وربښمو لار افغانانو ته یو اشنا نوم دی. وربښمین تذگی چې د کابل او

جلال آباد ترمېنځ پروت دی، یو ډېر پخوانی نوم دی. ورېښمتر دې نزدې وختو پورې په ننګرهار، کندهار او هرات کې جوړېدل. په هرات کې ورېښم نزدې په هر کور کې جوړېدل. د ورېښمو چینجیو به په پسرلي کې هګۍ کولې او له هغو نه جوړ شوي ورېښم به بمبۍ ته صادرېدل، خو څنګه چې د ورېښمو جوړېدل مهارت او وخت غوښته او تولید به یې په کورونو کې کېده. محصول یې ډېر نه و. [۱]

خو په منځني چین کې ورېښم له پخوا نه په زیات مقدار جوړېدل. د چین د ورېښمو تاریخ د غومره پخوانی دی چې څرګ یې تر ۵٦۰۰ کاله پورې رسېږي، خو دا د چین د هان د واکمنۍ کورنۍ (۲۰٦مخزېږدی _ ۲۲۰زېږدي) په وخت کې و چې ورېښم په ډېرو ډولونو تولید شو او په مختلفو بڼو ترېنه کار واخیستل شو. د ډآی (Dai) په نامه د یوې ستري ښځې په هدیره کې چې په ۱٦۸م کې جنګ شاته نزدې مړشه شوې وه، د ورېښمینو جامو، کمیسونو او جرابو په ګډون په ډول ډول او په بېلو رنګونو نور کالي موندل شوي دي. [۲]

په چین کې ورېښم د سي چون (Sichun) نه تر شان ډونګ ولایت پورې په ډېرو ځایونو کې جوړېدل. د یانګ تسي (Yangtse) د لتایي تر ټولو مهم ځای و. دغه سیمه چې د ماهي او وریجو په نامه یادېږي، ډېر نهرونه لري چې په غاړو کې یې د توتانو ونې لیدلې کېږي چې ځینې یې تر شپېتو فوټو پورې هم لوړې دي او له هغو نه پریمانه ورېښم جوړېږي. د عنعنې له مخې د ورېښمو جوړول د ښځو کار دی. د مقدونیې لوی سکندر له فتوحاتو وروسته چې د لویدیځ او ختیځ ترمېنځ سوداګري پراخه شوه، د ورېښمو سوداګري هم ښه پرمختګ وکړ. د سکندر

امپراتوري (۳۳۴-۳۲۳ مخز بېږدي) نه چې له مصر نه تر سمرقند پورې غزېدلې او افغانستان او شمالي هندوستان هم پکې شامل وو، د ورېښمو لار تېرېده. له هغه وروسته و چې له چین نه ورېښمین ټوکران په زیات مقدار مدیترانې ته صادرېدل، خو د روم خلکو د "ورېښمو ملکو" اصطلاح نه یوازې چین ته، بلکې په عمومي ډول ختیځ ته هم په کاروله. ورېښم د سمندر په لاره صادرېدل. د مدیترانې خلک په دې خبر نه وو چې ورېښم له کوم ملک نه ورته رسېږي، حتی سترابو پخپل جغرافیه نومي مشهور اثر کې ورېښم د هند متاع ښوولې ده. سره له دې هم په یونان او روم کې د ورېښمو سوداګري ښه په مخ ولاړه، که څه هم ځینو لویانو یې ښه نه بلله چې ښځې دغسې نازک کالي واغوندي چې تن یې ترېنه ښکاره شي. د روم فیلسوف سنیکا (Seneca) له همدغې ډلې نه و او ویل یې چې ښځې باید د دغسې نازکو کالیو د اغوستلو پایلو ته چې لکه ځان یې لوڅ وي، ملتفتې وي.[۳] په هر حال د ورېښمو د زیات مقدار د صادرولو له امله دغه لار د ورېښمو لار ونومول شوه.

ورېښم له چین نه په دغې لارې د روم امپراتورۍ د انتیاک تر ښار پورې وړل کېدل. انتیاک د اوسنۍ سوریې یو ښار و. د دغه لار په دغه شاعرانه نوم په نولسمې پېړۍ کې د جرمن جغرافیه پوه بارون فردیناند فان اختوفن (Baron Fuon Richtafen) له خوا نومول شوې لکه چې د اروپا د منځنیو پېړیو ژوند طرز په اتلسمې پېړۍ کې د فیوډالزم په نامه یاد او مشهور شو.

د ورېښمو د لار په هکله د یو څو واقعیتونو په نظر کې نیول لازمې دي. یو دا چې هغه لکه څنګه چې له نامه نه

يې ښکاري يوه لار نه وه، دغه لار لويديځ کې د سوريې د انتياک له ښار نه پيل کېده، په هيراپولس (Hiera Polis) کې له فرات نه تېرېده او د پارتيا په لار اقباتانه يا ننی حمدان او بيا ری او مروته رسېده. له مرونه تر کاشغر او يارکند پورې څو لارې وې. يوه لار له سوشانه اريا (هرات)، کوفن (کابل)، بګرام، تاشقرغان، بدخشان نه يارکند ته تله، بله يې له مرونه باختر (بلخ) دراپاسکه (قندوز)، بدخشان او ياکند ته رسېده. بله لار يې له مرو نه بخارا ته، بيا مراکندا (سمرقند) او بيا کوکند او کاشغر ته رسېده. بله يې له سرينګر نه تاکسيلا ته بيا پوروشاپوار (پېښور) ته او بيا کابل ته او له کابل نه د بدخشان په لار کاشغر ته. له کاشغر نه د چين تر پای تخت پورې هم څو لارې وې. د لويديځ په لور د دون هوانګ (Dunhuang) ښار ته نژدې د دښتو لارې ويشلې کېدلې. د شمال لويه لار يې د تيان شان (Tian Shan) د واورينو غور له جنوب نه د تک له مکان (Taklamakan) دښتې په شمال کې پخوا له دې چې کاشغر ته ورسېږي د هامي (Hami)، کورلا (Korla)، کوچا (Kucha) او اکسو (Aksu) له ښارونو نه تېرېدله. دغه لار که څه هم اوږده وه تر جنوبي لارې نه لږه سخته وه. جنوبي لار د چرخ ليک (Charkhlik)، چرچين (Churchin)، نيا (Niya)، کيری يا (Keriya)، خوتن او يارکند له ورمو څخه تېرېده او په کاشغر کې ختمېدله. د شمال په لور بله لار ددتيان شان د غرو په شمالي اړخ کې له هامي نه تر الماکل، الاساغون، تاشکند، سمرقند او بخارا پورې غزېدلې وه. له کاشغر نه د لويديځ او جنوب په لور نورې لارې هم غزېدلې وې.

د وربښمو په لار يوازې وربښم نه، بلکې ډېر نور څيزونه هم وړل کېدل. په واقع کې هغومره څيزونه چې له لويديځ نه چين ته وړل کېدل، له چين نه لويديځو ملکونو ته نه صادرېدل، پخوا چينايانو سوداګرۍ ته په ښه سترګه نه کتل، شايد له دې امله چې پخوا په دښتو کې داړونکي ځناور او حتی انسان خوړونکي انسانان کم نه وو.[٤] له هغو نه به خطر له مېنځه تللی و چې د هان امپراتورانو د دوهمې مخزېږدې پېړۍ له پيل سره د خپلو لويديځو پولو نه اخوا ملکونو سره او داسې هم د روم خلکو د چين له وربښمو سره علاقه پېدا کړه. وروسته بيا د چين د ټانګ (Tang) په واکمنۍ کې (٦١٨ نه تر ٩٠٧ زېږدې) د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره او له هند سره د بودائيت په ارتباط تګ راتګ ډېر شو. چين د خپلو وربښمو او وريښمين ټوکرانو په برابر کې ډول ډول نخي او وړين ټوکران واردول. چين ته طلا، مشک، وچ کافور، غنم، سونډي ټوکران هم وړل کېدل. خوراکي څيزونه هم وړل کېدل لکه لبلبو، سابه، پسته، وچه مېوه، هنګه، کستراييل، نيل، د کاپيسا توره مالګه او د بدخشان لاجورد هم چين ته وړل کېدل.

د ساسانيانو په وخت کې (٢٢٦-٦٥١م) نقره يې لوښې چين ته وړل کېدل او هلته د نقره يې او شيښه يې لوښو په جوړولو کې ترېنه کار اخيستل کېده. په دغه وخت کې له سوريې او بابل نه تسبيح له بالتيک نه عنبره، د مديترانې مرجان او له روم نه ارغواني وړين کالي چين ته وړل کېدل. په عوض کې يې وربښم راوړل کېدل، د مسي سکو جوړولو فن زده کېده او له چينې کاغذ نه کار اخيستل کېده او راوړل کېده.

کاغذ په چین کې په کال ۱۰۵م کې د تسای لون (Ts'ai Lun) په نامه د چین یوه مامور جوړ کړی او د هغې پېړۍ تر پایه پورې چینایانو کاغذ د لرګیو له لوحو نه جوړوه او کتابونه یې پرې لیکل.[۵] اول سمرقندیانو له چینایانو نه د کاغذ جوړول زده کړل، په دې ډول چې په هغه جنګ کې چې د تالاس د سین په غاړه یې چینیانو ته ماتې ورکړه او بندیان یې ترې ونیول، په هغو کې کاغذ جوړونکي هم وو او له هغو نه یې د کاغذ جوړول زده کړل او بیا عربانو کاغذ د مصر او هسپانیې په لار اروپا ته نقل کړ.[۶] جرمن جوهان ګوتنبرګ (Johen Gutenberg) بیا د پنځلسمې پېړۍ په نیمایي کې د چاپ د ماشین په جوړولو سره په اروپا کې دفکري انقلاب او رنسانس لپاره ډګر جوړ کړ، خو په خېوه او بخارا او په واقع په ټول ترک نژادو خلکو یې د مریو سوداګري د نولسمې پېړۍ ترپایه پورې کېدله.

چین ته د سوداګرۍ بله متاع د فرغانې او منځنۍ اسیا اسونه وو، ځکه چې د چین خاوره د اسانو د روزلو لپاره مساعده نه وه، چینایانو له نن نه درې نیم زره کاله دمخه اسان واردول. په دې برخه کې دوی د خپل ملک په شمال لویدیځ کې له مغول نژادو ژیونګ نو خلکو سره مقابله کولی نه شوه چې ماهر اس سواره وو. نو دوی د هغو د تجاوز په مقابل کې په ۲۲۰ مخزیږیز کې د چین لوی او اوږد دیوال جوړ کړ او شل کاله وروسته یې د لومړي ځل لپاره سورکندک تنظیم کړ.[۷] اسونه په چین کې اسماني موجود او دلدل ګڼل کېدل او د هان امپراتورانو د هغو لرل د ښه شګوم علامې بللې او خیال یې کاوه چې دوی به په اسونو سره

د کون لون (KunLun) افسانوي غرونو ته ځانونه ورسوي، یانې چېرته چې د دوی په فکر ژوند ابدی دی. کون لون د یو لړ هغو غرو نومونه دي چې د وربښمو په لار کې دنیا او ختن ترمېنځ پراته دي. داسې هم شوي چې د جیانګ دو (Jiangdu) یوه پاچا خپله یوه لور له څو سوه نوکرو او ایزکانو سره د زرو اسانو په بدل کې ورکړې وه. د اسانو سوداګري تر شلمې پېړۍ پورې د مغولو سوداګرو په لاس کې وه. دوی به ګله ګله اسونه چین ته په تېره د یانګ تسي (Yangtze) سیمې ته وړل. د هان د واکمنۍ په وخت کې د ژیونګ نو سوداګرو له چین سره د خرو سوداګري هم کوله. خره پخوا په چین کې نه وو.(۸) خو د وربښمو سوداګري تر لسمې پېړۍ یانې د دولسو پېړیو په بهیر کې تر زیاتې اندازې پورې د سمرقندو سوداګرو په لاس کې وه. ویل کېږي چې دوی د هند او سغدیانه ترمېنځ او د چین او هند ترمېنځ سوداګري پخپل انحصار کې نیولې وه.

د وربښمو لار له یوه سر نه تر بل پورې یوه کاروان نه وهله. یوه کاروان به له یوې سیمې نه بلې ته مالونه وړل. د وربښمو په لار کې د مساپرو او سوداګرو غټه ستونزه د منځنۍ اسیا وچ افراطي اقلیم وو چې اته میاشتې یې سخت ژمی او څلور میاشتې یې سخت اوړی و. په ژمي کې به تودوښې د سانتي ګرېډ تر منفي څلوېښت درجو او په اوړي کې به تر مثبت اته دېرش درجو پورې رسېدله. پردې برسېره سخت موسمي بادونه هم وو چې خوځندو شګونه به یې یو ځای بل ځای نوې غونډۍ جوړولې. په دغه حال کې مساپر د قطب نما په نه لرلو سره بې لارې کېدل. سره له دې هم د اسیا په دغې برخې کې په

کاروانونو سره سوداګري د پېړيو پېړيو په بهير کې شوې. کاروانونه به چې له انسانانو، اوښانو، قاطرو، اسونو او خرو نه جوړ وو لوی وو. بلخي دوه کوهان يا دوه ډډې لرونکي اوښان د کاروانونو څرګنده نښه وه، خو د کاروانونو په اړه دقيق معلومات نشته. مسيحي ګرځندوی، بنتو دی ګوز وايي چې دی په کال ۱۶۰۳ کې يو ځل له دغسې کاروان سره روان و چې پنځه سوه بار وړونکي حېوانان او انسانان يې لرل. دی په همدغه سفر کې له هند نه د پامير په لار په پای کې پيکنګ ته د تبليغ لپاره ورسېد. د پنځلسمې پېړۍ په شروع کې د امير تېمور په وخت کې د خطای يا چين د کمبالو (Cambalu) له ښار نه د اته سوه اوښانو يو کاروان سمرقند ته رسېدلی و، په خاص ډول له وريښمو، اتلس لالونه، الماسو، جواهرو او رواشو سره.[۹]

د وريښمو لار د خلکو او ژبو په نزدې کولو کې غټه اغيزه لرلې ده. سي.پي سکراين (Skrine) په سيکيانګ يا چيني ترکستان کې برتانوي قونسل په ۱۹۲٤ کې د يارکند د ښار خلک د فرغانې اندجاني، د افغانستان بدخشي، د قراقرم بالتي، تخاريان، چتراليان، ديارکند بومي خلک، بونيان، ګلګتيان، د هونزا او ناګار جوتيان، کشميريان، قرغزان، تبتي لداخيان، پنجابي هندوان او مسلمانان، شغانيان، د شکارپورو سنديان، د پامير تاجکان د سنکيانګ او کان سو مسلمان ټونګان، د اويغور ترکان او دواخان واخي ښيي، سون هيډن (Sven Hedtn) سويدني ګرځندوی د نولسمې پېړۍ په اخر کې د بخارا او سېدونکي تاجکان، ازبکان، جغتو، سارتز (مخلوط نژاد)، پارسيوانان، افغانان، قرغز،

ترکان، تاتاران، یهودان او فققازیان معرف کوي. د دغو ښارونو او نورو ښارونو د نفوسو ډول توب د نورو عواملو ترڅنګه د ورېښو د سوداګرۍ له امله هم و چې د تاریخ په اوږدو کې سره څنګ په څنګ اوسېدلي دي. د ورېښمو لارې عمده ژبې چیني او ترکي وې. په داسې حال کې چې د چین ماندرین ژبه رسمي او له یبکنګ نه د سایبریا تر پولې پورې ژبه وه. ترکي د لوپ (Lop) شمال او جنوب کې په یوې پراخې سیمې کې او غرلي د جومات د ژبې په توګه په منځنۍ اسیا کې عامه وه.[۱۰]

د ورېښمو لار د مالونو د انتقال تر څنګه د فکرونو او دینونو د انتقال لار هم وه. زرتښتي دین شاید لومړی دین وي چې له لویدیځ نه به چین ورل شوی وي، د هغه موسس زرتښت شاید له نن نه درې زره کاله دمخه پېدا شوی وي. د پېدایښت ځای یې د پارس ختیځه سیمه ثبت شوې چې شاید باختر یا بلخ وي، ځکه چې هغه د بلخ د ا سپه واکمنې کورنۍ پاچا وشتاسپه (Vishtaspa) پخپل دین واړوه او له هغه و روسته دغه دین یا په دقیق ډول د هغه فکري او عقیدوي سیستم په اریانه او فارس کې په خاص ډول د ساسیانیانو په دوره کې خپور شو. د زرتشت فکرونه او عقیدې د اوستا په څلورو ټوکونو یانې یثنا (Yasna)، وسپرید (Visperd)، یشتونو (Yashts) او وندیداد (Vendidat) کې ټول شوي چې ګاتاګان (Gaths) دیثنا لرغونې او مهمه برخه ده. د زرتشت د دین مرکزي ټکی اهورا مزدا یا عاقل خدای د کایناتو یوازنی خدای او ا هری من د بدی خالق دی. په دې ډول زرتشتي دین د وحدانیت په لور روان د دوه ګون توب پیل دی.[۱۱] دغه دین د و رېښمو په لار له

سمرقند نه چين ته لار وکړه او هلته د ټانګ کورنۍ په واکمنۍ کې د يو څه وخت لپاره و زغمل شو، خو دا بودايي دين و چې د و رېښمو په لار چين ته يوړل شو او هلته او په نورو ملکونو کې هم خپور شو.

د بودېزم موسس دنيپال دسکيا (Sakya) قوم ته منسوب سدهاتاګواته ما (Siddhatha Gautama) دی چې وروسته د بودا يا ځلاند په نامه ياد شو. ده د ۵٦٣-٤٨٣ مخز بېږدي ترمېنځ اتيا کاله يې ژوند کړی دی. د ده دين د هندويت پرخلاف په طبقو باندې د ټولنې وېش او خدايانو ته عبادت کول رد کړل ا و خپل پيروان يې رښتين توب او د نفس تزکيې ته دعوت کړل چې نيروانا يا د نفسي غوښتنو ترک يې ا خري مقام دی. هغه د نېک ژوند کولو لپاره اته لارې مشخصې کړې چې نېک نيت او نېک عمل پکې شامل وو. وروسته د هغه دين په دوه لويو څانګو ووېشل شو، ماهايانه (Mahayana) يا لوی څرخ ا و هنايانه (Hinayana) يا کمکی څرخ. بودېزم اول د هند د موريا واکمنې کورنۍ د پاچا ا شوکا په کوښښ سره يو څه او وروسته د کوشان ا مپراتور کنشکا په کوښښ سره د مذهبي او تبليغي هيئياتونو له لارې ښه خپور شو ا و په وړو او لويو مجسمو سره مشخص او وپېژندل شو چې د باميان دوه لويې مجسمې يې تر دې نزدې وختو پورې غټ مثالونه وو. د کوشانيانو امپراتورۍ له ټاکسيلا نه د افغانستان، سمرقند، بخارا ا و فرغاني په ګډون د کاشغر تر پولو پورې پراخه ده او د ګندارا د هدې هنري مکتب په دغه وخت کې شروع شوع او ښه انکشاف يې وکړ، خو په داسې حال کې چې بودېزم پخپل اصلي ټاټوبي هندوستان کې د هندوېزم له

املـه پـرمـختـګ ونـه کـړ، د وریـښمو لـه لارې پـه چـین او نـورو هېوادونـو کـې خـپور شـو اوس هـم پـه مـلـیـونـو انـسـانـان پـرې ټـیـنـګ ولاړ د ي.

د وریـښمو لار د بـودايـي راهبـانـو او پـیـروانـو د تـګ راتـګ لـو یـه لار وه. تـر ټـولـو مـهـم بـوداپي سیاح هـیـوان تـسانـګ یـا ژوان زانـګ یـا شـون چـونـګ(٦٠٢-٦٦٤) و چې د وریـښمو د شـمال لـه لارې پـه سـمـرقـنـد، تـاشـکـنـد، افـغـانـسـتـان او کـشـمـیـر کـې و ګـرځـېد او لـه شـپاړس کـالـه سـفـر کـولـو نـه وروسـتـه د وریـښمو جـنـوبـي لارې نـه بـېرتـه چـین تـه سـتـون شـو. ده پـخـپـل سـفـر کـې د بـودا ویـنـاوې او د هـغـه پـه اړه تـر شـپـږ سـوونـه ډېـر واړه لـوی لـیـکـلـي اثـار ومـونـدل او پـه شـلـو اسـونـو بـانـدې یـې بـار لـه ځـان سـره چـین تـه یـوړل او هـلـتـه یـې د ژونـد تـر پـایـه پـورې د هـغـو پـر بـنـسټ اتـه پـنـځوس کـتـابـونـه ولـیـکل چې ډېـر مـهـم یـې د لـوېـدیـځې نـړۍ بـودايـي سـنـدونـو پـه نـامـه د ده کـتـابـونـه دي. بـودیـزم تـه د ده د غـه بـېـوړې خـدمـت د ایـتـالـیـې فـرانـسـسـکـو پـیـتـرارک هـغـه خـدمـت تـه ورتـه دی چې پـه څـوارلـسـمې پـېړۍ کـې یـې د لـرغـونـي یـونـان او پـخـوانـي روم اثـارو پـه مـونـدلـو او تـرجـمـه کـولـو سـره پـه اروپـا کـې د رنـسـانـس حـر کـت لـه پـاره لار خلا صـه کـړه.[١٢] پـه یـقـیـن سـره مـعـلـومـه نـه ده چې اسلام څـنـګـه پـت سـیـکـیـانـګ او چـین کـې نـفـوذ وکـړ، خـو دا مـعـلـومـه ده چې د خـراسـان عـرب والـي قـطیـبـه بـن مـسلم (٧٠٥-٧١٥) پـه کـال ٨١٣ کـې د چـین د ټـانـګ کـورنـۍ امـپـراتـور تـه یـو هـیـات واسـتـوه، خـو نـتـیـجـه یـې ورنـه کـړه. دا ډېـر وروسـتـه و چې اسـلام د سـوداګـرو لـه لارې پـه سـیـکـیـانـګ کـې خـپـور شـو، لـکـه چې د اسـیـا پـه خـتـیـځ جـنـوب کـې پـه ډېـرو مـلـکـونـو کـې وروسـتـه خـپـور شـو.[١٣]

هغه سیاحان هم لږ نه وو چې غوښتل یې د و رېښمو لارې په وهلو سره ملکونه وویني، خلک وپېژني، مو ندنې و کړي، ذهنونه روښانه کړي او بشري پوهه شتمنه کړي لکه چې نورو د ربړونو په گاللو سره په بادي وړو کښتیو کې سمندري سفرونه وکړل او نوي ملکونه کشف کړل. د ورېښمو د لارې ډېر نومیالي سیاح د وینس مارکوپولو دی چې د قسطنطینې په لار یې پیکنگ ته سفر وکړ. په ټول چین کې و گرځېد او د تبت او برما تر پولو پورې یې شل کاله په سفر کې تېر کړل او په کال ۱۲۹۵ کې بېرته وینس ته ستون شو. دی په چین کې د مغولي امپراتور کوبلای خان (۱۲۶۰-۱۲۹٤) مشاور هم و. د ده د سفر تلپاتې میراث د مارکوپولو سفرونو په نامه اثر دی، خو څنگه چې د هغه اصلي نسخه لیدل شوې نه ده، مشکوک ښکاري.(۱٤)

په نولسمې پېړۍ او د شلمې پېړۍ په سر کې چې په اروپایانو کې د موندنو هڅه پیاوړې وه، د ورېښمو د لار گرځندیان هم کم نه وو. په هغو کې سون هیډن (Sven Hedin)، لیکولای پریژوالاسکي (Nikolai Przhevalasky) سراورل ستاین، اوني ایلیاس یې ډېر مشهور دي. هیډن (۱۸۶۵-۱۹۵۲) له اسیا سره دومره علاقمن شو چې ویل یې "زه ډېر ځله مَین شوی یم، خو اسیا زما ناوې پاتې شوې ده. زه هغې پخپلې سرې غېږ کې بندي ساتلی یم او له حسادت نه مې نه پرېږدي چې له بل چا سره مینه وکړم او دا یقیني ده چې زه هغې ته وفادار پاتې شوی یم". د همدغې مینې په سبب و چې هغه څلور ځله د ورېښمو په لار سفر وکړ. په درېیم سفر کې یې "نه یوازې سروې کوله او نقشه جوړوله، د ورکو ښارونو او خزانو لټون یې هم کاوه،

په خوتن او يارکند کې يې د سرو ختو مجسمې، د بودا تصويرونه، عيسوي اثار، سکې، قلمي نسخې ترلاسه کړې او د کرياسين ته نژدې يې يو څه خزانې هم وموندلې". د مولف ووډ په وينا هيډن "د منځنۍ اسيا ډيرې تشې سيمې ډکې کړې او د هغو هېوادونو او کلتوري د پوهاوي په اړه يې قوي علمي سهم واخيست چې د وريښمو لار ترينه تېرېدله". [۱۵]

سټاين هم د هيډن په شان د وريښړو په لار څلور ځله سفر وکړ. دی په اصل کې د هنگرۍ و، دويانا په پوهنتون کې يې سانسکرت او فلسفه ولوسته او په کال ۱۸۸۳ کې يې د جرمني له ټوبي گن پوهنتون نه د ډاکټرۍ شهادتنامه ترلاسه کړه او د انگلستان په ډيرو علمي مرکزنو کې يې څېړنې وکړې. ويل شوي چې په فاکولته کې دی هم د نورو محصلانو په څېر مجبور و له سانسکرت نه پرته په بلې ژبې ونه غږېږي. د ده لومړی سفر د شلمۍ پېړۍ په اول کال کې د پامير له لارې کاشغر ته د اسانو، خرو او نورو په ملگرتوب و. په همدغه سفر کې ده د ختن په شمال-ختيځ کې د تک له مکان په د ښتې کې کندنې وکړې او په نيا (Niya) کې يې د خروشتي په الفبا کې د لرگيو لوحې وموندلې. نورې لوحې يې هم د خروشتي په الفبا کې د پراکرت په ژبه وموندلې. په دوهم سفر کې يې (۱۹۰۶-۱۹۰۸) دون هوانگ ته نژدې په يوې سمڅې کې د زرو بوداوو معبد او په لس گونو زره نور سندونه او نقشونه وموندل. په لولان (Loulan) کې يې په خروشتي الفبا کې دغسې لرگين سندونه وموندل چې د لوپ (Lop) دښتې او د بلخ او سغد ترمېنځ يې ارتباط ښوده. په ميران کې يې د غرني ترکانو او

تبتیانو او داسې هم د یونان، باختري د یوالي انځورو نه کشف کړل. په دون هوانګ کې د یوه محلي زرتشتي پادري، چینانګ په مرسته د پنځو سوو روپیو په بدل کې د قلمي نسخو دغسې یوه خره ترلاسه کړه چې نږدې لس فوټه جګه وه. دغه نورې قلمي نسخې، بودایي متنونه، تبتي متنونه، د سانسکرت متنونه او په برهمي، سغدي او یغور او ترکي چاپي سندونه په ډول ډول فورمات کې وو. ستاین وروسته له هغه چې له چین نه یې خپلې ارکیالوجیکي موندنې په پنځوسو اوښانو باروا ستولې، په کون لون (Kunlun) کې یې د وریښمو په جنوبي لار کې خپل سروې ته دوام ورکړ چې دمخه یې پیل کړی و. په داسې حال کې چې د ستاین درې سفرونه د انګلستان او برتانوي هند په لګښت او مرسته شوی و، څلورم یې د هارورډ پوهنتون په سپانسر شپ و شو، خو په اخري سفر کې یې ارزښتناک اثارو نه موندل او د چین حکومت د لارې خنډ و، ستاین بل سفر ونه کړ، خو په افغانستان او ایران کې یې خپلو څېړنو ته دوام ورکړ، تر څو په کال ۱۹٤۳ کې په کابل کې وفات او خښ شو. ستاین یو ډېر دقیق څېړونکی و او د خپلو سفرونو په راپور کې یې د منځنۍ اسیا د ملکونو او کلتورونو په اړه اثار پرېښودل. د لرغوني ختن، سیرندیا د ننۍ اسیا او اباسین ته د سکندر لار په نومونو.(١٦)

ټول هغه ملکونه او کلتورونه په یوه یا بل ډول متاثر شوي او اغیزمن شوي له کومو نه چې د وریښمو لار تېرېدله، ځکه چې لکه چې ولیدل شول، په دغې لارې باندې د پېړیو پېړیو په بهیر کې سوداګر، ګرځندویان، دیني مبلغان، تېر شوي راتېر شوي نه یوازې

مالونه بلکې فکرونه او پوهه یې هم نقل کړې. په دغې لار باندې له مخزېږدي سلو کلونو او د زېږدي پنځه سوه کلونو یانې په اوو پېړېو کې سفرونه تر هر بل وخت نه ډېر وو. د یونان باختري افغانستان یې یو څرگند مثال دی. افغانستان په دغې دورې کې د زرو ښارونو هېواد بلل کېده. لا مهمه دا وه چې په دغه د وره کې د ځایي خلکو او یونانیانو له ملگرتوب نه دغسې یوه جامعه جوړه شوې وه چې د نولسمې پېړۍ اروپایي پوهانو "د ټولې پخوانۍ نړۍ ښېگڼې په بلخ کې ولیدلې".[۱۷] په همدغې دورې کې دراکړې ورکړې د اسانۍ لپاره د غومره ډېرې سکې په چلند وي چې ان په نولسمۍ پېړۍ کې انگلیس گرځندوی ملیسن په بگرام کې ډېرې سکې ترلاسه کړې او پروفیسر ولسن د هغو په بنسټ یو مهم اثر وکښ په نامه د لرغوني اریانه.

د ورېښمو لار سوداگري د لومړي ځل لپاره د روم په نسکورېدلو سره سخته صدمه ولیدله چې هغه په ٤٥٥ کې د هونانو کارو، دوی د ژیونگ نو په نامه هغه مغولي ساراني سوار کار قومونه وو چې چینایانو د هغوی په مخ کې د چین لوی دېوال ودروه. له هغه وروسته دوی په سیکیانگ کې له چینایانو سره جگړې کولې او په پای کې د لویدیځ په لور روان شول او چې د تور سمندرگي شاوخوا ورسېدل، د هونانو په نامه یاد شول. دوی ډېر ماهر اس سواره جنگي مېړونه وو. په اروپا کې اتیلا د دوی مشر و، خو د روم له سقوط نه وروسته دوی په خلکو کې حل او بې څرکه شول.[۱۸]

د اروپایانو له سمندري سفرونو نه وروسته چې د امریکا ملکونه کشف شول

او سوداګري په زياته اندازه بحري او قوي شوه، بيا د اسيا د ورېښمو لار په هغه شکل چې وه پوره ترک شوه او ورسره اسيايي ملکونه که څه هم په چين کې د منګ امپراتوري، په هند کې مغولي امپراتوري او په منځني ختيځ کې د عثمانيې امپراتوري هسکې شوې وې، په اقتصادي، سياسي او کلتوري لحاظ وچې او منحطې شوې او د هغه پر خلاف لويديځه اروپا د رنسانس، مذهبي اصلاحاتو، سمندري اکتشافاتو او په اتلسمې پېړۍ کې د علمي طريقې په ايستلو سره دومره پر مخ لاړه چې اثر يې اوس په ټولې نړۍ کې محسوس دی.

## يادښتونه:

١-محمد حسن کاکړ، د افغانستان ټولنه او حکومت د اميرعبدالرحمن په اميرۍ کې، د تکساس پوهنتون خپرونه، ١٩٧٩-١٩٣ .

٣-فرانسس ووډ، د ورېښمو لار، د اسيا په زړه کې د وه زره کلونه، برتانوي کتابتون، لندن، ٢٠٠٣، ٢٨.

٣-ووډ، ياد شوی اثر، ٣٠.

٤-ووډ، ٤٣، چارلز ډورن، د پوهې تاريخ، بالنټاين بوکس، نيويارک ١٩٩١، ١٥٤.

٥-ووډ ١٥٤.

٦-ووډ، ٦٧.

٧- ډورن ياد شوی اثر، ٨٦، ووډ ٥٤.

٨-ووډ، ٥٦.

٩-ووډ، ١٣٣،١٣.

١٠-ووډ، ٢٤، ٢٣٧،١٧١.

١١-محمد حسن کاکړ، زما او دفاع يا د افغانستان د نفوسو، تاريخ او روانو پېښو په باب ليکنې، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز، پېښور-

.١٠٥، ١٩٩٩-١٢٣.
١٢-وود، ١٠٠-١٠٦. د ورن، ١٣٠-
١٣-هيوکنيډی، د عرب لوی فتوحات، امريکا، ٢٠٠٧، ٢٧١.
١٤-وود، ١١٩-١٢٩.
١٥-وود، ١٧٣-١٧٩.
١٦-محمد حسن کاکړ، د افغانستان سياسي او ديپلوماتيکي تاريخ، د برل خپرونکی هوس، ليدن، ٩٨، ٢٠٠٦.
١٨-دورن، ٨٦-٨٨.

# د افغان پرون او سبا

*دغه لیکنه د اروا ښاد محمدداود د سلمې کالیزې په یاد په هغې غونډې کې لوستل شوې چې د کلتوري ودې ټولنې له خوا د جرمنې د کولن په ښار کې د اکتوبر په ۳۰مه کال ۲۰۰۹ کې جوړه شوې وه.*

افغان او افغانستان سره تړلي نومونه دي. افغانستان د افغان د کلمې توسعه ده او افغان د اوغان معربه کلمه ده چې د ریګویدا دورې له ابګان سره سر خوري. اپګان یا ابګان د سانسکرت اسواکا نوم دی، اسواکا د اسوه غانه په شان ترکیبي کلمه ده چې مانا یې د سورو هېواد کېږي لکه دیګان چې مانا یې کلیوان کېږي. ابګان یا اوغان په اسلامي دوره کې افغان شوی لکه دیګان چې دادیکا، دادیک او بیا تاجک شوی دی. دیګانان په اصل کې پښتانه وو، اوس هم د یګانان له پښتنو سره په ځینو سیمو کې په ګډه یا ډېر سره نژدې اوسېږي. پښتنو له اول نه ځانونه یوازې پښتانه ګڼل خو قرنونه وروسته یې د افغان نوم هم قبول کړ! تاریخپوه میرغلام محمد غبار لا وایي چې: ".. تا قرن هژدهم افغان نام عمومي مردم افغانستان- اعم از دری زبانان، و ترکی زبانان و غیره شناخته شد".[(۱)]

د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې یو غټ تحول پېښ شو، په دغه وخت کې ژبني

سرحدونه تر زياتې اندازې له منځه لاړل او قومونه سره ګډ شول. دننه په افغانستان کې قومي مهاجرتونه په زور يا په رضا سره زيات شول. دغه تحول وروسته دملي پيوستون او ملي دولت د پياوړي کېدلو لپاره ډګر هوار کړ. له هغه وروسته و چې د افغانستان په ټولو اساسي قانونو کې ټول ولس په رسمي او قانوني ډول د افغان په نامه ياد شو او افغان هغه چاته وويل شو چې د افغانستان تبعه وي، پاچا امان الله لومړی افغان واکمن دی چې د افغان کلمه يې تعريف کړې. په دې ډول چې:

" هر کسيکه در افغانستان سکونت دارد از هر مذهب و هر فرقه که باشد و هر کار و صنعت و خدمتيکه ميکنند تماماً افغان گفته می شوند"[۲] دی که څه هم له دين سره د ضديت په نامه له افغانستان نه په وتلو اړ شو توصيه کوي چې "قوميت و ثروت کاری را از پيش برده نميتواند بلکه چيزيکه عظمت وسطوت و شوکت حقيقی را برای انسان ها بهم مير ساند اخوت و مودت و محبت، اتحاد و اتفاق و همدردی باهمديگر است، وبس"[۳]

د معاصر افغانستان پاچايانو په عمومي ډول د افغانستان له ټولو قومونو سره دغسې بې توپيره سلوک کړی چې د بخارا او فارس واکمنو له خپلو خلکو سره هغسې بې توپيره سلوک نه دی کړی. ځينو پاچايانو لا له غېر پښتني قومونو سره تر خپل قوم پښتنو نه ښه سلوک کړی دی. د معاصر افغانستان موسس ستر احمدشاه که څه هم د پښتنو په ملاتړ ملکونه ونيول او امپراتوري يې جوړه کړه، په حکومت او اداره کې يې تاجکان، قزلباشان او نور شريک کړل. په دې ډول افغان دولت له اول نه د

ډېرو قومونو ته منسوب افغانانو نه جوړ شو نه د يوه خاص قوم له منسوبانو نه. ځای ناستی يې تېمور شاه تر دې حده په غېر پښتني قومونو تکيه کوله چې پای تخت يې له کندهار نه چې په زياته اندازه پښتني سيمه ده، کابل ته نقل کړ چې د ډېرو قومونو سيمه ده. د عبدالغفار په نامه دماليې وزير يې چې هغه وخت خزانه چي نوميده، يو هندو وګماره چې نوی مسلمان شوی و. ټول هغه پاڅونونه چې د ده پر ضد وشول د پښتنو له خوا وو. ددغو پاڅونونو په کرارولو کې غېر پښتني قومونو ور سره مرسته وکړه. د هغه د ژمي په پلازمېنې پېښور بالاحصار کې که د قزلباشو ټينګ ملاتړ ورسره نه وای شايد د فيض الله په مشرۍ د مومندو په پاڅون کې مات شوی او واکمني يې له لاسه ورکړې وای. زوی يې شاه محمود تر دې حده د کابل شيعه ګان پر ځان ټول کړي وو چې د کابل سنيان يې پر ضد جګ شول، له واکمنۍ نه يې وغورځوه او پر ځای يې د هغه ناسکه ورور شاه شجاع په بالاحصار کې په تخت کښېنوه.

د محمدزي کورنۍ د موسس امير دوست محمد مور د سپاه منصور قزلباشانو نه وه. دکابل د قزلباشو په مرسته هم و چې سردار دوست محمد اول دکابل والي او بيا د افغانستان امير شو. د امير شېرعلي په دوهمې واکمنۍ کې هيڅ محمدزي سردار د نن ورځې په اصطلاح په کابينه کې غړيتوب نه لاره او يو وزير يې تيموری و. د نولسمې پېړۍ په بهير کې حکومتي ميرزايان، سر شته داران، مستوفيان په زياته اندازه تاجکان او قزلباشان وو. د دفتر ژبه هم يوازې فارسي وه. د پښتني واکمنو دغه پراخ نظري به له دې امله هم وه چې دوی په

پښتو او فارسي ژبو روان ګړېدل. له هغه وروسته و چې په واکمنۍ کورنۍ کې فارسي د پښتو ځای ونیوه او په دې ډول فارسي وانان تر پښتنو ورته ډېر نزدې شول. په شلمې پېړۍ کې هم د اداري لوړو چاروا کو لست په ډاګه کوي چې په حکومت غېر پښتانه تر پښتنو نه زیات وو. د پاچا امان الله په واکمنۍ کې هغه عنعنوي بندیزونه چې په مذهبي اقلیتونو او داسې هم په هزاره ګانو باندې لګول شوي وو، له منځه یوړل شول که څه هم مریي توب په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې لغو شوی و. د پاچا امان الله په وخت کې افغان ټولنه مدني او افغانان په حقوقي لحاظ سره برابرشول. د غبار په وینا "... دیګر تبعیض و تفریق از نظر نژاد و زبان و مذهب و قبیله وجود نداشت. معاش مستمری و نسبی عشیره محمدزی ها وخان ها با امتیازات روحانیون لغو ګردید و ملت حقوقا مساوی شد". د سیمې په بلې برخې کې دغسې اساسي اصلاحات نه و شوي. البته په ټول هېواد کې افغانان له سختو ستونزو سره مخ وو، خو دغه ستونزې د ملي اقتصاد د کمزوري او عمومي بېرته پاتې توب له امله وې چې په ټولو قومونو باندې یې لږ و ډېر یو ډول اثر لاره.

په شلمې پېړۍ کې د عمومي امنیت د خوندي ساتلو تر څنګه د کمزوري اقتصاد سره کوښښ وشو چې وطن ودان او د خلکو ژوند ښه شي. د پاچا محمد ظاهر په قانوني لسیزې کې افغانان له دغسې قانوني ژوند، ازادۍ او ارامۍ نه بهره من وو چې د سیمې نور خلک هغسې بهره من نه وو. سره له دې هم په ځینو حلقو کې افغان ضد او د افغانستان پر ضد

کوښښونه وشول او لاهم کېږي.

د افغانستان پر ضد غټ مثالونه د اریانه او خراسان د نومونو د ژوندي کولو او د افغانستان د نظام د فیدرالي کولو په لور کوښښونه دي. اول باید په نظر کې ونیول شي چې اریانه او خراسان مړه نومونه دي او د افغانانو احساس پارولی نه شي. پرته له هغه هم د اریانه د ژوندي کولو مانا دا کېږي چې هغه به د اریایي ټبرونو هېواد وي نه د هزاره گانو، ازبکانو، ترکمنو او عربانو. بله دا چې هغه په اصل کې یو جغرافیوي نوم و، نه سیاسي. خراسان خو په اول کې د افغانستان د هیڅ برخې نوم نه و. خراسان اول د پخواني فارس نه د اوسني ایران خلکو هغې سیمې ته وایه چې د فارس په ختیځ کې پرته وه. خراسان لکه چې اوس هم نیشاپور او د هغه شاوخوا سیمو ته ویل کېږي. خراسان د عربانو د فتح په وخت کې "... یو کوچنی ولایت و چې له نیشاپور او د مرو او مرو رود له ښارونو او د هغو د شاوخوا له نږدې سیمو نه جوړ و".(٦) ساساني پاچا دریېم یزدگرد چې د عرب له پوځ نه په تېښته کې شو. سیستان ته ننوت، د دې لپاره چې له هغه ځای نه د خراسان مرکز مرو، ته لاړ شي او د هغه ولایت له والي نه مرسته ترلاسه کړي خو هغه په مرو کې د والي په توطیې سره د خسرو نومي ژرنده گړي له خوا ووژل شو.(٧) دا ډېر وروسته و چې د افغانستان شمال لویدیځې سیمې د بلخ او هرات په گډون په خراسان کې ونیول شوي. د غبار په خراسان نومي کتابگوټي کې طاهریان، صفاریان، سامانیان، غزنویان او غوریان د خراسان په ایالت کې شوول شوي، خو دی د غه واقعیت نه وایي چې

دوی هغومره چې د خپلو کورنیو په نومونو یادېدل د خراسان د واکمنو په نوم نه یادېدل.[٨] مهمه دا ده چې خراسان په هر نامه یاد شوی. د فارس تر قبضې لاندې ولایت یا هېواد و. ایراني لیکوالو خراسان تل په همدغه ډول یاد کړی. اوس چې کوم افغان خراسان غواړي، مانا یې په حتمي ډول دا کېږي چې دی افغانستان د ایران تر حاکمیت لاندې غواړي، خو افغانانو ډېر دمخه دغه فکر د ستر میرویس په تدبیر او قومندانۍ د تل لپاره په لغته وهلی دی.

په داسې حال کې چې خراسان غوښتونکي افغانستان د ایران تر حاکمیت لاندې غواړي، د فیدرالي نظام غوښتونکي د افغانستان تجزیه غواړي، که څه هم دوی برالا دغسې نه وایي. په لنډ ډول د افغانستان د فیدرالي کولو پایلې به د پاکستان او ایران په لمسونو سره د ایالتي کودتاګانو او بغاوتونو میدان شوی وي. په تنظیمي دوره کې د چم ګاونډیو هېوادونو په تېره د ایران او پاکستان لاسوهنې وې چې د افغانانو د داخلي جنګ د اوږدېدلو او د هېواد د ورانېدلو او د افغانانو د وژل کېدلو لوی عامل و. افغانستان یې د تجزیې په لور هم روان کړی و. تر څو طالبانو د هغې مخه ونیوله. داسې هم نه ده چې فیدرالي نظام به ارومرو د قانوني حکومت، دموکراسۍ او ازادۍ باعث وي. شوروي اتحاد د ۱۹۳٦ کال د اساسي قانون له مخې د فیدرالي نظام اعلی نمونه وه، خو له هغه سره سره ستالین د مرګ تر ورځې پورې داتیلا او چنګېز په شان او تر هتلر نه زیات زورواکي کوله. پاکستان هم فیدرالي نظام لري، خو په

هغه باندې نظامي کودتایي حکومتونو تر انتخابي حکومتونو ډېره واکمني کړې ده. له بلې خوا برتانیه فیدرالي نه ده، خو قانوني حکومت، دموکراسي او ازادي یې په اعلی درجه ده. د مرکزي حکومت په اساس د پاچا محمدظاهر د قانوني نظام لسیزه هم د قانوني حکومت، دموکراسي او فردي ازادي بې مثاله دوره وه. اساسي دا ده چې د هر هېواد نظام باید د هغه له تاریخي انکشاف او موجودو واقعیتونو او ارزښتونو سره اړخ ولګوي. د دغه اصل پر بنا او داسې هم د خاص موقعیت له کبله د افغانستان لپاره ټینګ مرکزي حکومت تر هر بل ډول نظام نه غوره دی، خو هغه باید د قانون پر بنسټ جوړ شوی وي، په دې ډول چې خپلواکي، ملي واکمني، دموکراسي، ازادي او د ښځو او لږه کیو حقونه پکې خوندي وي. له بده مرغه افغانستان د قانوني پاچایی له نسکورېدلو نه د اسلامي امارت تر نسکورېدلو پورې له دغو ټولو نه محروم و. دا ولې؟

د دغې پوښتنې ځواب په ډول ډول وي. زما په فکر د غه حال په اساس کې د حکومتونو د سیاستونو او چلندونو منطقي نتیجه وه چې ځنې یې ددنیایي اوځینې یې د دیني جذبې ایډیالوجیو پر بنسټ په انحصاري او یو ګوندي ډول چلول کېدل او پر هغه برسېره له خپلو چم ګاونډیو هېوادونو سره یې د تبعیض او توپیر چلند کاوه. په نتیجه کې افغانان تر دې حده وپارېدل چې په پای کې افغانستان د تودو جګړو مېدان ، وران او ناتوان شو. پر هغه برسېره ددغو ګوندونو او تنظیمونو د خپلمنځي ټکرونو له امله مغرضو ګاونډیو هېوادونو ته موقع په لاس ورغله چې د

افغانستان په چارو کې پوره دخیل شي او پخپل دخیل توب سره د افغانستان خپلواکي نیمګړې او کورنۍ جګړه اوږده کړي، شوروي اتحاد لا په بربنډ نظامي یرغل لاس پورې کړ. دا ډېر عمومي حکمونه دي او شاید ساده ښکاره شي خو هغه ټول پر ځای دی.

د ایډیالوجیکي او انحصاري رجیمونو په لړ کې د افغانستان اسلامي امارت تر دې حده ایډیالوجیکي و خوت چې پخپل پلارني هېواد کې یې د خپلې عقیدې له مخې بېګانګان پرېښوول، دغسې پلان طرح کړي چې په هغه سره شاوخوا درې زره ملکي کسان دننه په امریکې کې په ناڅاپي ډول ووژل شول. د امارت چلوونکو په دې ډول د نړۍ یوازنی زبرځواک هېواد دغسې وپاروه چې د هغه حکومت بیا امارت په پوځي قوت او نظامي ټکنالوجۍ سره زر نسکور کړ او په افغانستان کې یې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د ناټو پوځونه د نامعلومې مودې لپاره ځای پر ځای کړل. په نتیجه کې افغانان له نویو بیسارو ستونزو سره مخ شول. دغه ستونزې په هغو غټو چېلنجونو اضافه شوې چې افغانانو ته د نفوسو د ډېروالي، د لږه کیو او ښځو د غورځنګونو له هسکېدلو او داسې هم د ساینس، ټکنالوجۍ او ګلوبلایزېشن له عالمي کېدلو نه پېدا شوې وې. دا په دغسې حال کې چې افغانستان د پرله پسې جګړو له امله وران شوی، ملي اقتصاد یې ضعیف شوی، منځنۍ تعلیم کړې طبقه یې له مېنځه تلې او ملي پیوستون یې تر سخت فشار لاندې راغلی او د خلکو په اخلاق او سلوک کې عجب خواشیني کوونکی بدلون راغلی او د هغه پرخلاف مغرض چم ګاونډي هېوادونه په غیر مقایسوي ډول

وړاندې تللي او د افغانستان د لاندې کولو په فکر شوي وو.

د ستونزو په ډله کې حکومتي بې اغېزتوب او د باندنيو پوځونو شته والی هغه غټې ستونزې دي چې که چاره يې وشي د نورو ستونزو تونزو د رفع او د عادي او سالم ژوند لپاره به ډګر هوار شوی وي، خو دا ډېرې غټې ستونزې دي او دا يې د چاره سنجولو ځای هم نه دی. دلته به زه د هغو په اړه يو څو خبرې وکړم او خپله وينا به پای ته و رسوم.

په دغه اته کلن نوی نظام کې حکومت تر او سه هم خپل قانونو نه په ټول هېواد کې پلي کولی او خپل عوايد ټولولی نه شي. يو حکومت چې خپل عادي لګښتونه له خپلو عوايدو نه پوره کولی نه شي، حکومت کېدلی نه شي. په افغانستان کې د دغه حال لاملونه ډېر دي، خو ډېر غټ لامل يې حکومتي چارواکي دي چې د عمومو په نظر ډېر يې له پاس نه تر ښکته پورې د چارو په اجرا کې د عمومو د ګټو په تاوان خپلې ګټې په نظر کې نيسي. د قانون پروا نه کوي او په دې ډول حق باطل کوي او باطل حق کوي. حکو مت هغوی نه کنټرولوي، يا کنټرول کولی نه شي. دا چې حکومت که څه هم د اساسي قانون جرګو او انتخاباتو له لارې جوړ شوی، خپلو خلکو ته بېګانه شوی او مشروعيت يې له لاسه ورکړی ا و د طالبانو په نامه مخالفانو امنيت ګډوډ کړی، په زياته اندازه د همدغو لړلو چارواکو له امله دی. نو په حکومت کې د اساسي اصلاحاتو راوستل حتمي شوي دي. دا پخپل ذات کې يوه پېچلې او ډېره مهمه موضوع ده، خو هر ډول اصلاحات چې کېږي د دغه دوه يې بايد حتمي برخې وي. يوه دا چې وزيران

او د وزارتونو د ځانګو سروالان باید لېږ تر لږه لیسانس وي او د وطن په دوا‌ړو لويو ژبو ويل، ليکل او لوستل وکولی شي. بله دا چې ټولو حکومتي چارواکو ته دې دغومره معاش ورکړل شي چې په هغه سره دوی او د دوی د اصلي کورنۍ غړي ګوزاره کولی وشي. اوس خو د يوې مياشتې معاش د دوی د لسو ورځو لګښت هم پوره کولی نه شي.

بله ستره ستونزه په افغانستان کې د باندنيو پوځونو شته والی دی چې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې ددې لپاره ځای پر ځای شوي چې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر ټول وژنه تکرار نه شي. دا به سادګي وي چې فکر وشي چې دغه پوځونه به پخوا له دې چې دغسې ډاډګېرنه يې ترلاسه کړې وې، له افغانستان نه ووځي، نو دا به په اساسي ډول د افغانانو په ګټه وي چې خپل دغه اوسنی نظام دغومره پياوړی کړي چې چارواکي يې هغو ته دغسې ډاډګېرنه ورکولی وشي، خو د طالبانو په نامه يوه فرقه ييزه يا مذهبي ډله ټينګار کوي چې دغه پوځونه دې همدا اوس له افغانستان څخه ووځي.

په عېن حال کې دوی دغه نظام هم نه مني، که څه هم هغه د اساسي قانون، لويو جرګو او سرتاسري انتخاباتو محصول دی او افغانان يې د يوې اوږدې زوراکې ايډيالوجيکي دورې نه وروسته د قانون په چوکاټ کې دننه له ازاد فکر او ازاد عمل نه بهره من کړي او نور ولس هم دغه نظام منلی دی. که د يوې دقيقې لپاره ومنو چې د طالبانو دغه غوښتنې ومنلې شوې، په افغانستان کې به څه پېښ شي؟ علامې ښيي چې د داخلي جنګ بله دوره به پيل شي، وسله وال جنګ مشران او اسلامي تنظيمونه به فعال شي، حکومت او کراري به نه وي او

ایران او پاکستان به بیا د افغانستان په چارو کې په ژور ډول دخیل شوي وي. په داسې حال کې چې افغانستان به په بین المللي ټولنه کې ټینګ ملاتړان له لاسه ور کړي وي، دا ځل به یې مځکنۍ بشپړتیا هم له خطر سره مخامخ شوې وي. د نازیه اقبال د اواز انګازې به بیا غوږونو ته رسېږي چې وايي:

زموږ په مځکه اورونه بل دي د خوږ
اسلام د انتظام له لاسه

که د طالبانو مشران فکر کوي چې افغانان به یې بیا واکمني ومني، دوی به سخت تېر وتلي وي. طالبانو د کابل له نیولو نه وروسته افغانان پخپلو کړو سره مخالف کړي دي. ما چې د ۲۰۰۱ کال په پسرلي کې افغانان په پېښور، کوټې، کندهار، جلال اباد، لغمان او کابل کې ولیدل ټول د طالبانو مخالف شوي وو. اوس د تېرو لسو میاشتو په بهیر کې د دوی په کړو سره شاوخوا دوه زره معصوم افغانان وژل شوي دي. افغانان اوس دوی د مدنیت، عصري پوهنې، د ښځو د حقونو، دموکراسۍ او حتی ژوند مخالف ګڼي او واکمني یې نه مني. سره له دې یا ممکن له همدې امله وي چې دوی بې ملاتړ نه وي. د القاعدې پلویان او د پاکستان د ای. اېس.ای اسلامستي چارواکي د دوی ټینګ ملاتړان دي. له القاعدې سره د طالبانو ملګر توب د ۱۹۸۸ء کال له اګست نه وروسته پیل شو، یانې وروسته له هغه چې خوست ته نژدې د البدر کامپونه د امریکې په توغندیو سره وویشتل شول. له هغه وروسته د القاعدې د ۵۵ غونډ جنګیالیو له طالبانو سره په جګړو کې هم برخه واخیستله.[۹] په اوسني حال کې د دوی او طالبانو ترمېنځ همکاري په دقیق ډول معلومه نه ده، خو همکاري

سره لري که څه هم هدفونه يې پوره سره متوافق نه دي.

د ای.ا یس.ای او طالبانو ملګرتیا یوه بل ته په اړتیا ولاړه ده. په کوټه کې د طالبانو شورا د ای.ایس.ای له اجازې نه پرته په افغانستان کې فعالیت کولی نه شي. دغه شورا چې په افغانستان کې هر مقصد لري، هغه ته د رسېدلو لپاره پاکستان ته اړتیا حس کوي. دوی د دغې اړتیا او د ځان ساتنې په خاطر د پاکستان هره هغه طرح مني چې د اسلام په نامه يې وړاندې کوي. پاکستان څهٔ طرح لري چې د پلي کولو لپاره يې طالبانو یا په دقیق ډول د کوټې شورا ته اړتیا حس کوي؟

د پاکستان غټه طرحه د هند په مقابل کې د ځان ساتنه ده چې دمخه يې دوه ټوټې کړی او اوس د غه پاتې ځان ترېنه په خطر کې ويني. پاکستان د دغه خطر په مقابل کې څو دفاعي طرح لري چې یوه يې ديني او ایډیالوجیکي بڼه لري. د دې لپاره پاکستان اوس په زرګونو ديني مدرسې او ډېر اسلامي تنظیمونه لري چې ځينې يې پټ او افراطي دي، خو څنګه چې دغه مدرسې په زیاته اندازه د عربي اماراتونو، د عربستان او و هابي شېخانو په پټرو ډالر چلېږي، په هغو کې سني او وهابي ښوونې په تېره جهاد تدریسېږي او شیعه ګري ټکوله کېږي. له همدې امله ده چې په پاکستان کې فرقه ییز کړکېچ تر هر بل اسلامي ملک نه زیات دی، خو د غه مدرسې د خپل اصلي مقصد له مخې د هندویزم په برابر کې یو غټ ایډیالوجیکي سپر شوی دی.

د پاکستان بله طرح د ستراتیجیکي ژورتیا په نامه دفاعي پوځي طرحه ده چې د هغې لپاره پاکستان د کوټې شورا او داسې هم افغان اسلامي

تنظیمونه اړتیا حس کوي. په لنډ ډول د ستراتیجیکي ژورتیا پلان د برتانوي هند د علمي سرحد پلان په شان دی چې د روسیې د احتمالي یرغل په مقابل کې د هند د دفاع لپاره ایستل شوی و او د ډیورنډ کرښه د هغه محصول و. د پاکستان له ستراتیجیکي ژورتیا پلان نه مطلب دا دی چې د هند د احتمالي یرغل په برابر کې د پاکستان دفاعي او نظامي قوتونه پښتونخوا او افغانستان ته په شا کېږي او له دغو خاورو نه به گوریلایي جنګونو ته ملا تړي. د دغه پلان د ښه عملي کېدلو لپاره پاکستان باید په پښتونخوا باندې پوره کنټرول او په افغانستان باندې ډاډمن نفوذ ولري. پاکستان اوس پخپل تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د امریکې په هڅونو وسلو او پیسو سره د ډیورنډ کرښې ته نږدې شوی او د وزیرستان په لاندې کولو سره به پوره ور رسېدلی وي، خو پاکستان په افغانستان کې د باندنیو پوځونو په شته والي سره تر خپل نفوذ لاندې افغان ډلې په تېره طالبان واکمن کولی نه شي. دغه پوځونه د پاکستان د دغې طرح په برابر کې خنډ دی. په تېره چې استونکي هېوادونه یې د افغانستان د ودانولو لپاره په سل ګونې پروژې عملي کوي چې یوازې د کونړ د سین له پاسه د اوو عصري پلونو ودانول او له بهسودو تر اسمار پورې سرک قیرول یې یو مثال دی. که دغه پوځونه نن له افغانستان څخه ووځي له یو څه ستونزو نه وروسته به افغانستان د پاکستان تر لاس لاندې هېواد ګرځېدلی وي، خو که افغانان د دغو پوځونو د هېوادونو په مرستو پخپل ملک کې امنیت خوندي، حکومت په ټول هېواد حاکم او هېواد ودان کړي، لکه چې له دوهم نړیوال جنګ

نه ورو سته یو شمېر هېوادو نو همدغ سې وکړل، افغانستان به پر ځای پاتې، پرمختللی، پیاوړی او د پاکستان د ستراتیجیکي ژورتیا له خطر نه بچ شوي چې هغه په واقع کې له هند نه د دفاع په نامه د افغانستان د لا ندې کولو لپاره ایستل شوی دی. له همدې امله ده چې ای.اېس.ای د افغانستان د ودانولو په لار کې ډول ډول ورانی کوي او د کوټې شورا تر خپل وزرو لا ندې ساتي. د پاکستان پوځي افسران تر دې حده د کوټې په شورا باندې ولاړ دي چې د امریکې د اوه نیم ملیارد ډالرو وړیا مرستې په اړه یې هم اندېښنه ښکاره کړه چې په لایحه کې یې له پاکستان نه غوښتل شوي چې د کوټې شورا دې منحله کړي او دا په دغې حال کې چې امریکا دا هم مني چې په پنځو راتلونکو کلونو کې به پنځه ملیارده ډالر نظامي مرسته هم له پاکستان سره کوي. په دغو مرستو سره به پاکستان د غومره پیاوړی شوی او اسلامي تنظیمونه یې تر دې حده تر خپل نفوذ لا ندې راوستي وي چې د ستراتیجیکي پلان له مخې به یې د اسلامي کنفدرېشن یا تر کوم بل نامه لاندې د افغانستان د لاندې کولو او د یو ډول مغولي امپراتورۍ د ژوند کولو لپاره پښې لوڅې کړې وي.

په دې ډول د افغانستان راتلونکې خړه معلومېږي، مګر دا چې افغانان د نازیه اقبال په دغې وینا معتقد وي او عمل وکړي چې:

زموږ وطن دی امانت زموږه زه یې په هره برخه پام کومه

دغه اواز د شهید محمد داود د هلو ځلو او د پاچا امان الله د دغې وینا انعکاس دی چې وایي: "از خدمت بوطن بالاتر عشقی ندارم". ستر احمدشاه خو لا

ویل چي:
د ډهلي تخت هېرومه
چې را یادکړم
زما د ښکلې
پښتونخوا د غرو
سرونه

## یادښتونه:

١-محمد حسن کاکړ، افغان-افغانستان و مختصری از کوشش های افغانها برای تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان. ناشر پوهنتون کابل-کابل، ١٠، ١٣٥٧-٢٧.
٢-میرغلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، موسسه چاپ کتب، کابل، ١٣٤٦/١٩٦٧، ٣٠٩.
٣-امان الله غازي، حاکمیت قانون در افغانستان، بمقدمه حبیب الله رفیع، امان کتاب خپرولو موسسه، ١٣٧٨/١٩٩٩، پشاور، ١٧٧-٢١١.
٤-پورتني اثر، ١٧٩.
٥-غبار، ٧٩٤.
٦-م.ا. شبان، تاریخ اسلام، تعبیرونو، ٦٠٠-٧٥٠ عیسوي، نشریه پوهنتون کیمبرج، کیمبرج، لندن، ١٩٧١، ١٧١.
٧-هیوکینيدي، فتوحات بزرگ عرب، نشریه دی کاپو، چاپ امریکا، ٢٠٠٧، ١٨٧-١٨٨.
٨-غبار، خراسان، انجمن تاریخ، کابل، ١٣٢٦ هـ.ش، چاپ دوم، پشاور، ١٣٧٧/١٩٩٨.
٩-کاکړ، وطن ته یو سفر، طالبان او اسلامي بنسټ پالنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني، پېښور، ٢٦٥-٤١١.

۱۰-کاکړ، افغانستان پاکستان، پښتونستان، ۳۵، د مقالو ټولګه، ډیورنډ د واحد ملت د بېلتون کرښه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني، ۲۰۰۷/۱۳۸۶،

۱۱-نیویارک ټایمز ورځپاڼه، نیویارک، اکتوبر ۹- ۲۰۰۹.

# د معاصر افغانستان تاریخپوهان

## اکتوبر ۲۰۰۷

افغانستان اوږد تاریخ لري، خو د پخوانیو دورو تاریخ یې هغسې نه و چې په معاصر مهال کې دی. د تاریخ موضوع انسان دی او انسان په بېلو بېلو دورو کې تر بېلو فشارونو لاندې ژوند کوي او تاریخ یې هم ورسره تغییر کوي، نو دا پر ځای خبره ده چې وویل شي، تاریخ تحول او پرمختګ دی.

د تاریخپوه هربرت فیلد په نظر د تاریخ سرچینه اول د خدایانو او د آتلانو د کارنامو قصې دي چې له یوه نسل نه یې بل نسل ته انتقال کړی او د انتقال په بهیر کې یې د افسانې عنعنې بڼه نیولې ده. د هغه پخپلو الفاظو: "تاریخ ته ډېر نږدې څیز ممکن هغه عنعنې وي چې په درباروNو او په واکمنو کړیو کې او په هر حال په واکمنو او اشرافي کورنیو کې انتقال کوي."[۱] د همدغه انتقال په بهیر کې خلکو ته د تېرې زمانې فکر پیدا شو او هغه وروسته د لیک په پیدایښت سره تثبیت او عمومي شو.

عمومي عقیده دا ده چې یونانیان لومړني خلک وو چې له پېښو سره یې علمي سلوک وکړ او په دې وپوهېدل چې پېښې یا واقعیتونه باید د څېړنې اصلي موضوع وي. ددغه فکر مخکښ تر څه حده د تاریخ پلار هیرودوت او تر ډېره حده تاسیدایدز (Thucydides) و چې لومړنی د تاریخ په نامه او وروستی د پولي

پونيز جنګ په نامه اثر سره دغه فکر تثبيت کړ، خو تر هغو وروسته تاريخ په پخواني يونان کې ځاى پر ځاى ودرېد او دغه حال تاريخپوه ټي ډرايور (T.Driver) د غې نتيجې ته ورسوه چې ووايى: "د يونان تاريخي شعور په اصل کې غير تاريخي دى"(٢)

په لويديځې اروپا کې د آتلسمې پېړى په پاى او د نولسمې پېړى په بهير کې تاريخي څېړنه دقيقه شوه، دومره دقيقه چې لکه قانون وي. ددغې انتقادي تاريخ ليکنې ښوونځى مخکښ ليوپولد فان رانګ کې(Leopold Fan Ranke) و چې ويل يې "تاريخپوه ته حتمي ده چې پېښو ته په دغسې حال کې نظر وکړي چې ځان يې له موجودو تعصبونو نه پوره آزاد کړى او د تېرې زمانې پېښې هغسې بيان کړي چې په واقع کې پېښې شوې وي." (٣)

دى دا هم وايې چې تاريخ بايد يوازې د لاسي ليکنو يا هغو پاڼو پر بنسټ وليکل شي چې پېښې پکې د لومړي ځل لپاره ثبتې شوې وي او تاريخ ليکونکي بايد د هر سند د مصنف شخصيت او ميلانونه په ژور ډول مطالعه کړي. د غه ډول تاريخ ليکنه ځکه ممکنه او مروجه شوې وه چې په هغه وخت کې په ډېرو اروپايي هېوادونو کې دولتي پاڼې يا آرشيفونه د څېړونکو پر مخ خلاص شوي وو او څېړونکو کولى شوى د رانګ کې په لار لاړ شي.

په نتيجه کې تاريخ ليکنې ښه وده وکړه په تېره د هغه پخپل هېواد جرمني کې. په اصل کې ددغسې تاريخ ليکنې سرچينه هغه سائنسي طريقه وه چې د يوې نيمې پېړى په بهير کې (١٥٥٠- ١٧٠٠) ساينس پوهانو لکه نيکولاس کوپرنيک، ويليم ګلبرګ، جو هانزکپلر، ګاليليو ګاليلى، رنه د کارت، آى ساک نيوتن او

نورو آيستلې چې په هغې سره دغو ساينس پوهانو د فکري آنکشاف دپاره لار خلاصه کړه.[٤] په نتيجه کې په اروپا کې هغسې چې فردرنسدانس او ريفارمېشن يا مذهبي اصلاحاتو له برکته د عقيدې آزادي ترلاسه کړې او په پای کې دين له دولت نه جلا شو، فرد ددغسې انتقادي او تجربي طريقې خاوند شو چې د حقيقت مو ندلو ډېره ښه طريقه ګڼله کېږي. ددغو ټولو پرمختګونو له برکته فرد اوس په لوېديځې نړۍ کې يوازې د قانون تابع دی او په نورو ساحو کې له هر ډول بنديز نه آزاد دي. په اصل کې د همدغې آزادۍ له برکته ده چې لويديځوال په حيرانوونکي ډول پرمختللي او تاريخ يې وده کړې ده، خو د نړۍ په نورو برخو کې فرد لا هم تر ډول ډول بنديزونو لاندې ژوند کوي.

تاريخ په اسلامي نړۍ کې چې افغانستان يې يوه برخه ده هغسې پرمختګ نه دی کړی لکه په لويديځ کې يې چې کړی دی. اصلي علت يې شايد دا وي چې فرد دلته تر بنديزونو لاندې ژوند کوي چې يو يې ديني بنديز دی او هغه په فرد باندې ژوره اغېزه لرلې ده، يو خو دا چې عربانو تر اسلام نه دمخه تاريخي شعور نه لاره، که څه هم د نسبي شجرو رواج يې ټينګ و.[٥] بله دا چې په اسلامي دوره کې د تاريخپوه دنده د قران مجيد او د حضرت محمد (ص) د حديثو مطالعه شوه او د حديثو د تصنيف او ټولولو طريقه د قال قال يا روايتي لړۍ له مخې پکې رواج ومونده. په دې ډول په دوی کې تاريخ ليکنه د اسلامي دورې په پيل سره د دين په چوکاټ کې محدوده شوه او دغه محدوديت دوام وکړ. په دې چې اسلام هم دين او هم دولت وګڼل شو.

په نهمې پېړۍ کې د عربو لومړنی تاریخپوه محمد بن جریر الطبري (۸۳۹-۹۲۳) خپل اثار په همدغې طریقې سره و لیکل. د الرسول والملوک په نامه د هغه عمومي تاریخ او په قران مجید باندې د هغه تبصرې د پېړیو پېړیو لپاره سرمشق شوې.[٦]

په څوارلسمې پېړۍ کې ابن خلدون (۱۳۳۲-۱۴۰٦) د طبري په لار روان شو که څه هم دی تر تاریخپوه نه زیات د تاریخ فیلسوف و چې پخپل لوی اثر "مقدمه" کې یې د ټولنې او مدنیت په اړه نوي او ژور بصیرتونه وړاندې کړي دي. په دغه اثر کې دی د عربو په برخه کې طبري نه هم د مخه ولاړ ان تر دې چې هغوی یې د مدنیت دښمنان وګڼل په دغو الفاظو کې (ددې لپاره دلیل دا دی چې (عربان) یو بدوي ملت دی او له بدوي توب او له هغو څیزونو سره چې د دغو څیزونو مسبب کېږي، پوره روږدي شوي دي. بدوي توب د دوی ځانګړتیا او طبیعت ګرځېدلی دی. دوی تر یې نه خو ند اخلي ځکه چې مانا یې د واک له مقام نه خپلواکي او مشري ته غاړه نه ایښودل دي. دغسې میلان د مدنیت منافي او دهغه پرضد دی.))[۷]

تاریخ په اسلامي افغانستان کې تر ډېره حده پورې انساني پېښو ته ځانګړی شوی دی. څرګند مثال یې د سیفي هروي (۱۲۸۲) تاریخنامه هرات دی چې د ابن خلدون په وخت کې یې په هرات کې د کرتانو د واکمنۍ په وخت کې (۱۲٤۵-۱۳۸۹) لیکلی دی. د دغه اثر د دقیق توب یو لامل دا دی چې سیفي هم د طبري او ابن خلدون په شان عالم او لیکوال و. لا مهمه دا ده چې سیفي دغه اثر په زیاته اندازه د رسمي پاڼو او سندونو له مخې کښلی چې ویل کېږي د ملک غیاث

آلدین کرت په دستور ورته ورکړل شوی و. سیفي په دې ډول لکه را نګ کې چې پذځه پېړۍ وروسته د آرشیفي پاڼو په استفادې ټینګار کړی، د عصري تاریخ لیکنې یو اساسي شرط پر ځای کړی دی. سیفي له نورو تاریخي آثارو نه په انتقادي ډول استفاده کړې ده. په نتیجه لکه چې د دغه اثر مدون پروفیسر زبېر صدیقي وایی (سیفي مانند یک مورخ دانا رشته حوادث را به تفصیل سلسله وار نقل میکند وقایع سیاسی را که در رزمنه مختلفه پیش آمد نموده با بیان علل و اسباب آن ...توضیح میدهد.... و تکرار میکند که مقصود او از نوشتن این کتاب تدوین و ضبط حقایق امور است نه قضایای موهومي و ساختگی.)) (۸)

د سیفي د اثر پوخوالی او تر هغه د مخه او وروسته د نورو تاریخي اثرونو له ډېروالي نه معلومېږي چې تاریخ لیکنه په هرات کې د سیفي په وخت کې لوړې سویې ته رسیدلې وه، خو د معین الدین اسفزاري له روضات الجنات في اوصاف مدینه هرات اثر نه پرته د نورو تاریخونو درک نشته لکه چې د لرغوني یونان د وخت ډېر اثرونه هم موندل شوي نه دي.

د معاصر افغانستان تاریخپوهان هم د خپلو مسلکي اسلافو په لار ولاړل، خو د دوی دوره له دغسې مهمو اوښتونونو سره ملګرې وه چې په تاریخ لیکنې باندې یې ژوره اغېزه کړې ده. اساسي تحول د ستر احمد شاه په سر والی د یوه متحده المرکز سیاسي واحد په شان د آمو او اباسین ترمېنځ د لوی افغانستان هسکېدنه وه. په دغه هېواد کې د خپلواک دولت په تنظیم او داسې هم د دراني امپراطوري په تاسیس او د خپل واک ژوند په عمومي کېدو سره یوه نوې

دوره پیل شوه چې په هغې سره د افغانانو هویت سیمه والو او نړی والو ته و پېژندل شو او د افغانانو او په خاص ډول د پښتنو روحیه نه ماتېدونکې شوه په دې چې د دوی په مخکښ توب سره ملکونه ونیول شول، د درانی آمپراطوري تاسیس شوه، افغان دولت تنظیم شو او د ټولو لپاره خپلواکي خوندي شوه. بلې موضوع چې په افغانانو باندې یې ژوره آغېزه وکړه په نولسمې پېړۍ کې اول له انگرېزي نظامي قوت او بیا له روسانو سره د افغانانو مقابله وه. له انگرېزي قوت سره دننه په افغانستان کې د افغانانو لومړنۍ مقابله چې د هغو په پوره بري سره تمامه شوه، ددې سبب شوه چې افغانانو کې د وطنپالنې، اسلام پالنې او خپلواکۍ روحیه په زیاتېدونکي ډول پیاوړې شي. په داسې حال کې چې تر هغه دمخه د افغانانو مذهبي روحیه معتدله او د نورو دینونو د پېروانو په برابر کې په زغم متکي وه. په اوله درجه د عیسویانو او بیا د سکانو په برابر کې حساسه شوه ان تر دې چې افغانانو هغوی ((کافران)) وبلل. دغه حساسیت د افغان انگلیس په دو هم جنگ او بیا د سرحدي پښتنو په غزاگانو سره نور هم ټینګ شو. په نتیجه کې ( کفر، کافر، پرنگی او داسې نورې کلمې د افغانانو عادي اصطلاح گانې شوې.

په عین حال کې د افغانانو ملي پیوستون د پښتنو او تاجکو په اتفاق سره نور هم ټینګ شوو خو که د دوی په یو موټي کېدلو سره افغان نېشنلزم هسک شو باندنیو ته دغه موقع هم برابره شوه چې د هغه په تخریب زور واچوي. دغه حال د دواړو خواوو په تاریخونو کې انعکاس وکړ.

انګرېزانو د نولسمې پېړۍ په بهير کې د افغانستان د جغرافيوي، تاريخي، اجتماعي، اقتصادي او قومي وضعې په اړه دغومره ډېرې ليکنې کړې چې باندنيو په بلې هيڅ پېړۍ کې د افغانستان په اړه دغومره ليکنې نه دي کړې. د مقدوني سکندر له وخت نه وروسته دا دوهم ځل و چې افغانستان د اروپا ليکوالو د توجه وړ هېواد شو. د سکندر له يرغل نه وروسته هم اروپايي تاريخپوهانو په لرغوني افغانستان باندې کتابونه وليکل په تېره وروسته له هغه چې په افغانستان کې د باختريانو او يونانيانو په ګډ کېدلو سره يو نوی مدنيت هسک شو چې آريانه په هغه سره ((د زرو ښارونو هېواد))باندې ياد شو چې بيا د نولسمې پېړۍ د پوهانو له خوا ((باختر د لرغونې نړۍ تر ټولو ښه هېواد وګڼل شو.)) (۹) خو په نولسمې پېړۍ کې د افغان- انګليس مخامختيا په اصل کې نظامي او تخريبي وه. د دوی له لومړي ټکر نه دمخه د افغانستان په اړه د انګرېزي ليکوالو آثار افاقي او معلوماتي وو چې د کابل سلطنت بيان په نامه د الفنسټن اثر په افاقي توب او کره توب کې جوړه نه لري چې هغه ما په پښتو اړولی او د افغانستان د علومو اکاډمي خپور کړی دی. د افغان جنګ په نامه د جان کې اثر سره له دې چې د افغان-انګليس له لومړي ټکر نه وروسته وليکل شو په افاقي توب کې د کابل سلطنت بيان سره سيالي کوي، خو د نورو انګرېزي مولفانو اثرونه چې بېخي ډېر دي هغسې نه دي. د افغانستان په اړه بله لويه سرچينه د برتانوي هند هغه ناخپرې شوې آرشيفي پاڼې دي چې هم د ډهلي په ملي آرشيف او هم په لندن کې

د برتانيې کتابتون کې خوندي دي. دغه پاڼې چې د افغانستان د حکومت او جامعې د هر اړخ په اړه دي، د غومره ډېرې دي چې د هغو پر بنسټ د افغانستان د تاريخ د ټولو اړخونو په باب مونوگرافونه ياني ژور اثرونه ليکل کېدلی شي.

عجيبه ده چې د سدوزيو د واکمنۍ په اړه د هغه وخت افغانان د يادونې وړ اثر نه لري. تاريخ احمد شاهي چې د ستر احمد شاه واکمنۍ ته ځانگړی شو محمودالحسيني کښلی دی چې د دغه ستر واکمن منشي و. د پارسي خراسان له جام نه و. [۱۰] د شجاع الملک واقعات شاه شجاع اثر د هغه د خپلې واکمنۍ پېښې بيانوي، خو د دغه اثر درېيمه وروستۍ برخه د محمد حسين هراتي په قلم ليکل شوې چې دغه برخه د تاريخپوه احمد علي کهزاد په نظر شايد ((به شفارش مقامات انگليسی ....نوشته شده باشد.)) [۱۱] انگرېزي مقاماتو وروسته هم د افغانانو تاريخ ياجعل کړی يا مسخ کړی چې غټ مثالونه يې د تاج التواريخ دوهم ټوک او له داړه مارۍ نه تر پاچايۍ پورې زما ژوند دامير حبيب الله په نامه اثر دی.

د افغان تاريخ ليکونکو له خوا د افغانستان د تاريخ په اړه د نولسمې پېړۍ په دوهمې نيمايي کې يو څو او په شلمې پېړۍ کې ډېر اثرونه کښل شوي دي. څرگند مثالونه يې د ميرزا عطا محمد نوای معارک، د ميرزا يعقوب علي خافي پادشاهان متاخر افغانستان، د نورمحمد نوري گلشن امارت او د سلطان محمد تاريخ سلطاني دي. [۱۲] دغه اثرونه په عمومي ډول سياسي پېښې بيانوي خو په تاييد کې يې ايتونه، حديثونه، نظمونه او لنډۍ وينآوې نه راوړي يا ډېر کم

راوړي. سلطان محمد دراني، د تاریخپوه سيفي په شان، خپل ماخذونه ښوولي چې هغه د واقعات شاه شجاع او د فرشته تاریخ په ګډون چاپ شوي تاریخي اثرونه دي. د هغه بله سرچينه هغه دراني لویان او پوهان دي چې د حکومتي لوړو مقامونو په لړلو سره د معلوماتو خاوندان وو. سلطان محمد له خپلو سرچينو نه په انتقادي ډول کار اخيستی. د هغه پخپله ژبه ((از جبر و مقابله ایشان (این) کتاب از خطآیین اغراق و اغلاق سالم ماند.)) (۱۳) داسې هم د سلطان محمد د تاریخ ليکنې لپاره معیارونه ټاکلي چې تاریخ ليکونکي باید ((در وقايع نګاری اسلاف خود را بیغرض پنداشته و بدین و مذهب کسی کار نداشته باشد... بی احتياج و قانع باشد (نه) تحریص (حریص) و طامع ... شجاع و مشهور باشد نه بيدل و کم جګر که حاکم وقت را با وجود بد سګالی و زشت افعالی به ثنا و تعریف و مخالفش [را] بمعه خوش خصالي بهجا و تخفيف سناید و [بدترین ترتیب] از راستی اغماض نماید)) (۱٤) د سلطاني په تاریخ کې د ځینو انګرېزي اصطلاح ګانو له ذکر نه معلومېږي چې ليکونکی به يې په انګرېزي کې هم لوستل کړي وي چې په هغه سره به دی نو رهم پراخ نظره او انتقادي شوی وي. په هر حال سلطاني تاریخ د یوه عمومي تاریخ په شان دی چې د لودیانو او سوریانو واکمني په هندوستان کې، د هوتکوپه پارس کې او د درانيو واکمني په افغانستان کې بيانوي او خپل بيان هغه وخت پای ته رسوي چې امير دوست محمد په کال ۱۸٦۳ کې د هرات په نيولو سره ټوټه شوی افغانستان بېرته يوموتی کړ. په داسې کال کې چې پېښور د انګرېزانو په لاس

کې و. د سلطاني تاريخ د معاصر افغانستان د لومړي عمومي تاريخ په توګه او دا چې هغه د معيارونو پربنسټ په انتقادي ډول ليکل شوی، ښيي چې د سراج التواريخ ليکونکی فيض محمد به لومړی افغان تاريخپوه وي چې له هغه نه يې په پراخ ډول استفاده کړې ده. زما د پوهنتون محصلانو ويل چې د سراج التواريخ لومړی او دوهم ټوک د تاريخ سلطاني له مخې کښل شوی. د دې لپاره چې د هغه ګټورتوب نور هم ډېر شي، ښايي هغه هم بيا چاپ او هم په پښتو واړول شي.

دا شلمه پېړۍ ده چې تاريخ ليکنې په افغانستان کې ښه وده وکړه. په دغې پېړۍ کې تاريخپوهان هسک شول او تاريخ د انساني پېښو بيان ته ځانګړی شو. دغه پېړۍ د تاريخ ليکنې له نظر نه څو مرحلې لري. يوه يې هغه ده چې حکومت د اساسي قانون په نشته والي سره د واکمن په فکر چليده او افغانان له مدني حقونو څخه بې برخې وو، بيا هم د سراج التواريخ په شان تاريخ او د سراج الاخبار په شان اخبار پکې راووتل. سراج التواريخ که څه هم په اصل کې رسمي تاريخ او د تېرو دوو پېړيو پېښو ته وقف دی، پېښې په پرله پسې ډول بيانوي. په يوه جلد کې دوه لومړي ټوکونه يې د نورو تاريخونو له مخې او دريم ټوک يې يوازې د رسمي سندونو پربنسټ ليکل شوی دی. ليکوال يې فيض محمد د امير حبيب الله له خوا په دغه کار ګمارل شوی و. امير وايي چې له خپلو مصروفيتونو سره سره يې ــــباز هم جز جز که از تحرير مى برايد خود من شخصا ملاحظه کرده حک و اصلاح نموده اجازه چاپ (ان) را ميدهم))[۱۵] فيض محمد ځان د ((محرر يا کاتب)) په

نامه يادوي. سره له دې هم د هغه اثر په دغو تاريخونو کې ښکاره دی، خو نه په هغه اندازه چې د سيفي هروي اثر په تاريخنامه هرات او د محمود الحسيني اثر په تاريخ احمد شاهي کې ليدلي کېږي. سره له دې هم فيض محمد لومړنی افغان حرفوي تاريخپوه دی چې ټول بالغ عمر يې د تاريخ په زده کړې، ليکنې او تدريس کې تېر کړی دی.

فيض محمد (۱۸۶۱-۱۹۳۱) چې په اصل کې د غزني د ناهور خواجه محمد هزاره و، په لاهور کې له زده کړې نه وروسته په ۱۸۸۸ کې کابل ته ستون شو. هلته د نامتو عالم محمد سرور اسحق زي په سپارښتنه د سردار حبيب الله په دربار کې د محرر په توگه ومنل شو او د سندونو او کتابونو د کاپي کولو دنده وروسپارله شوه. د سراج التواريخ لومړی او دوهم ټوک يې بشپړ کړ. وروسته په کال ۱۹۱۱ کې د سراج التواريخ د دريم ټوک په ليکلو وگمارل شو چې هغه يې د رسمي سندونو پربنسټ په درې کلونو کې تکميل کړ. دغه اثر په کال ۱۹۱۵ کې په ۹۶۰ مخونو کې خپور شو. په دغه اثر کې چې غبار يې د ((واقعيتونو بزغلی)) بولي پېښې د يوه جورنال په توگه يو په بلې پسې بيان شوې، د هرې موضوع په اړه. دغه ټوک د منسجم تاريخي اثر په بڼه نه دی. ويل کېږي چې فيض محمد د سراج التواريخ څلورم ټوک د امير حبيب الله واکمنۍ ته وقف کړی، خو دغه اثر تر اوسه ليدل شوی نه دی. فيض محمد د پاچا امان الله په وخت کې د حبيبيې په ښوونځي کې درس ورکاوه، خو وروسته بل امير حبيب الله فيض محمد په دې چې د پاچا امان الله پلوی و، سخت ووهه چې د هغو له امله په کال ۱۹۳۱ کې وفات شو.

فیض محمد یو رښتینی او محتاط تاریخپوه و. د امیر عبدالرحمن د وخت زېږه او ویروونکي چلندونه یې هم بیان کړي، خو په نرمو او مستعارو کلموکې. د هزاره جات جنګ یې په تفصیل سره بیان کړی چې په یوه روایت د هغه له امله امیر پرې په غوسه شوی و. د سراج التواریخ درېیم ټوک چې رسمي تاریخ دی بر سېره پردې چې نیمګړی دی، انتخابي دی. هغه پېښې چې امیر عبدالرحمن په کې ښه نه ښکاري حذف شوې. یا په لنډ ډول بیان شوې او د هغه پر خلاف نورې پېښې پکې په ا وږده ډول بیان شوې. د باندنیو اړیکو په اړه هم لږ معلومات ورکوي او د هغه پرعکس د داخلي پېښو په اړه د ملي ژوند په هر اړخ ډېر معلومات ورکوي، خو دلته هم د پاچایي لوړ سیاست په اړه چوپ دی او پر ځای یې د پېښو په بیان هڅه چې د عمل په ډګر کې واقع شوي لنګر اچوي او په دې ډول لوستونکي د عمل ډګر ته بیا یي چې و ګوري تاریخ هلته څنګه شکل موندلی دی. دا شاید د سراج التواریخ ډېره غټه ځانګړتیا وي چې لوستونکي قادر کوي چې له پېښو نه منطقي طرحې جوړې کړي او عمومي حکمونه وکړي نه دا چې لوړ سیاستونه په سندونو کې مطالعه کړي چې د هغو د عملي کېدلو اندازه په یقین سره معلومېدلی نه شي. سره له دې هم دغه اثر په تاریخ لیکنې باندې ډېر اثر کړی نه دی، ځکه چې هم تربنه استفاده ګرانه ده او هم یې شمېر لږ دی. ماته نه ده معلومه چې له غبار او مانه پرته به بل چا له هغه نه په بشپړه توګه استفاده کړې وي. اوس یوه امریکایي تاریخپوه رابرټ مک چزني د هغه په انګریزي کولو لګیا دی او چې هغه کله په انګریزي ژبه کې خپور شي د

افغانانو او د دوی د ټولنې د معرفي لپاره به مهم گام پورته شوی وي.(۱٦)

په شلمې پېړۍ کې د تاریخ لیکنې بله مرحله د پاچا محمد نادر په واکمن کېدلو سره پېل کېږي او د ثور په کودتا سره پای ته رسېږي. په دغې دورې کې چې امنیت په عمومي ډول خوندي و، هڅه دا وه چې د افغانانو هویت د یوه ملت په توگه په تاریخ کې تثبیت شي، نو د تاریخ ټولنه جوړه شوه او د اریانا او افغانستان په نومونو مجلې د تاریخي لیکنو لپاره ځانگړې شوې. په داسې حال کې چې د کابل مجله په سر کې په عمومي ډول د تاریخي لیکنو لپاره وه. د پښتو لپاره ځانگړې شوه. داسې هم ارکیالوجیکي کنندنې د فرانسویانو په مرسته پېل شوې او د دولتي مطبعو په انکشاف سره خپرېدل اسان شول. په کابل پوهنتون کې د تاریخ څانگه پرانیستل شوه او د پوهنې په انکشاف او د تعلیمي متوسطې طبقې په هسکېدلو سره د تاریخ علاقمن او لوستونکي ډېر شول. د قانوني پاچایی په وخت کې د ملي ارشیف مرکز هم په کابل کې وروسته له هغه پرانیستل شو چې ما د انیس په ورځپاڼه کې د ضرورت تاسیس ا رشیف ملي په نامه یوه اوږده لیکنه خپره کړې وه. سره له دې هم د دوهم نړیوال جنگ تر پایه پورې چې حکومت تر هر څه ډېر د امنیت د خوندي کولو په فکر کې و، تاریخ لیکنه په مجلوکې دمقالو په بڼه وه.

د ملگرو ملتونو له تاسیس نه وروسته چې د حکومت زېږ چلند یو څه نرم شو او په وطن په تېره په کابل کې د بیان ازادي او دموکراسي تر څه حده لار ومونده لیکل هم ډېر شول او تاریخ لیکنې وده وکړه. ځینو کسانو یو

وخت بل وخت د تاریخ لیکلو شوق وکړ لکه خلیل الله خلیلي، نجیب الله توروایانا، سید قاسم رښتیا، محمد عثمان صدقي، میر محمد صدیق فرهنګ او نور. په دوی کې یوازې عزیزالدین وکیلي پوپلزی د سدوزي واکمنو په اړه په عمده ډول د دولتي فرمانونو او سندونو له مخې پڼ کتابونه ولیکل، خو هغو چې خپل ټول بالغ عمر تاریخ لیکنې ته د مسلک په توګه وقف کړ او پخپلو دېرو اثرونو سره یې د افغانستان تاریخ په ټولو د ورو کې وسپړوده او د افغانانو هویت یې په تاریخ کې تثبیت کړ، درې تنه وتلي تاریخپوهان دي. احمد علي کهزاد، عبدالحی حبیبي او میر غلام محمد غبار.

د دغو وتلیو تاریخپوهانو د لیکنو سرچینې ناخپررې شوې ارشیفي پاڼې او حکومتي سندونه نه بلکې خپاره شوي کتابوه او یوڅه لاسي لیکنې او فرمانونه دي. د حبیبي په پښتو، فارسي او عربي کې، د غبار په په فارسي او عربي کې او د کهزاد (۱۹۰۸-۱۹۸۳) په فرانسوي، ایتالوي او انګرېزي کې هم. وروستي له فرانسویانو سره په کندنو کې هم برخه اخیستې او هم یې په یوازې ځان کندنې کړې دي. په دوی کې یوازې دی بکلوریا پاس و. د استقلال د ښوونځي. دوی هر یوه په شخصي کوښښونو سره ځانونه رسولي او د افغانستان د تاریخ او تر څه حده د ادبیاتو متخصصان کړي دي. سره له دې چې حکومت هر یو په بېل بېل وخت کې د بېلو ټکو په سر مغضوب کړي، خو په پای کې یې ټول پخلا کړي او حبیبي او کهزاد ته یې لوړ عرفاني او فرهنګي مقامونه هم ورکړي وو. یوازې غبار له خپل لومړي بندي کېدلو نه وروسته له حکومت نه فاصله نیولې او د حبیبي په شان د ملي

شورا په اوومې دورې کې انتخابي غړی هم شوی و. غبار په ملي سیاست کې د مخالف په توګه فعاله برخه اخیستې او د وطن په نامه دسیاسي ګوند مشري یې هم کړې ده. په دې ډول له دوی نه هیڅ یو دیحیی خېلو د کورنۍ حکومت ته نږدې نه و، خو حکومت که په خاص ډول نازولی نه دي، زغملي یې دي. حبیبي (۱۹۱۰-۱۹۸٤) که څه هم په پرچمي رجیم کې مشاور و، خپل د مشروطیت اثر یې د خپل فکر له مخې کښلی بې له دې چې د رجیم مارکسستي مفکورې ته په کې ځای ورکړی، خو ویل کېږي چې د کلتوري موضوع ګانو په اړه د ببرک کارمل ویناوې د حبیبي په قلم وې. له رسمي مقامونو سره د دغو تاریخپوهانو د دغسې اړیکو پایله دا شوې چې دوی خپلې لیکنې تر زیاتې اندازې پخپل فکر وکړې او په هغو کې یوازې اجتماعي ذهنیتونه په نظر کې ولري، خو د دوی په وخت کې په تاریخ لیکنې باندې د مذهب عنعنه ییز نفوذ هم سپک شوی و او دوی اړ نه وو چې خپلې لیکنې د پخوانیو تاریخپوهانو په شان په مذهبي حکمونو او نظمونو سره تایید کړي.

د دوی عمده اثرونه عمومي تاریخونه دي لکه د کهزاد د پخواني افغانستان تاریخ، د غبار افغانستان در مسیر تاریخ او د حبیبي تاریخ مختصر افغانسان. د ځینو موضوع ګانو په اړه یې واړه اثرونه هم کښلي، خو دواړه ډول اثرونه یې څنګه چې د اصلي سرچینو له مخې نه دي لیکل شوي او عمومي تاریخونه یې اوږدې زمانې هم په غېږ کې نیسي افقي دي، ژور نه دي. په عمومي تاریخونو کې چې تاریخ لیکونکی مجبور وي، حتی لویې او مهمې پېښې هم په څو جملوکې ادا کړي، دقیق کېدل

گران وي. په تېره چې معلومات لږ وي، لکه د دوی چې وو او په هغه برسېره د دوی څېړنيزې اسانتياوې هم محدودې وې. د تاريخي معلوماتو لږوالی په مونوگرافيکي اثرونو کې لا ډېر وي، ځکه چې مونوگرافونه په ماهيت کې ژور وي، خو زموږ د دغو تاريخپوهانو طريقې د قيقې نه دي. حبيبي او غبار لا د خپلو اثرونو سرچينې هم ځای پر ځای نه دي ښوولې. يا يې ډېرې لږې ښوولې ز حبيبي لا د خپل هر بحث په پای کې خپل ماخذونه قطار کړي، هغه هم په نيمگړي ډول. کهزاد تر يوه حده پورې خپلې سرچينې ښودلې او وروستي اثرونه يې لکه افغانستان درشاهنامه او غرغښت يا گرشاسپ چې د دې سرچينو له مخې يې کښلي په نسبي ډول دقيق دي، خو هېڅ يوه له خپلې سرچينې نه په نېغه اخيستنه نه ده کړې او د خپلو سرچينو معلومات يا واقعيتونه يې پخپله ژبه او زياتره په ازاد ډول افاده کړي چې په دې ډول يې خپل اثر هم پکې دخيل کړی او د خپلو ليکنو دقيق توب او افاقي توب يې زيانمن کړی دی.

خو د دغو وتليو تاريخپوهانو تر ټولو غټ صفت دا دی چې د دوی زياتره اثرونه د دغسې موضوع گانو په اړه دي چې د هغو په هکله تر دوی دمخه افغانانو هيڅ نه وو ليکلي. په ټوليز ډول دوی د افغانستان هغه تاريخپوهان دي چې پخپلو اثرونو سره يې د لومړي ځل لپاره د افغانستان اوږد تاريخ او د تاريخ په اوږدو کې د افغانانو هويت د يوه ولس په توگه تثبيت او بيان کړی او په دغه ډول يې خپلو وطنوالو ته تلپاتې فرهنگي خدمت کړی. دوی پخپلو د غو فرهنگي خدمتونو سره دغه استحقاق خپل کړی چې د افغانستان

فرهنګي موسسې او حتی ځایونه د دوی په نومونو یاد شي.
له دې وروسته یوازې په تاریخپوه میرغلام محمد غبار غېږېږم چې د ثور تر کودتا پورې یې اتیا کاله عمر کړی دی(۱۹۸۹-۱۹۷۷). عصري منظمه زده کړه یې نه ده کړې که څه هم په کابل کې زېږېدلی و، خو د خپل ښه استعداد له امله یې په شخصي زده کړې سره ځان رسولی و. په تېره په تاریخ کې. فارسي یې کورنۍ ژبه وه او په عربي هم پوهېده خو پښتو یې نه وه زده کړې که څه هم اوه کاله یې په فراه او کندهار ښار کې تېر کړي وو.
غبار خپل ټول معلوم عمر د خپل فکر، خپل پرنسیب او خپل وجدان له مخې د خطرونو په منلو سره تېر کړی. اول یې د پاچا محمد نادر او ورسته د صدراعظم محمد داود بلنه نه ده منلې چې له حکومت سره هم کاري وکړي، شاید په دغه مقصد چې دځان له سیاست په ورانده بېولو سره د خلکو او ازادۍ په پلوي او د زورواکۍ پر ضد مجادله وکړي. غبار په اصل کې یو سیاسي شخص و او سیاسي فکرونو یې په هغو اثارو کې هم انعکاس کړی چې د هغه په وینا بې له سانسور نه د افغانستان در مسیر تاریخ په نامه راوتلي دي.
غبار شکل کلن نه و چې د امیر حبیب الله د واکمنۍ د پای په کلونو کې په سیاسي فعالیت لاس پورې کړ او د "جوانان افغان" د سیاسي کړی غړی شو چې د غبار په وینا "مرام تندتر وجنبه دست چپی داشت"[۱۷] غبار د پاچا امان الله په وخت کې په مسکو، پاریس او دننه په وطن کې په هرات، بدخشان او جبل السراج کې اداري او اخباري چارې تر سره کړې او په کال ۱۹۲۹ کې په

پغمان کې په لويې جرگې کې د غړي په توگه گډون وکړ. د پاچا محمد نادر په وخت کې په برلين کې د افغان سفارت اداري غړی و. يو کال وروسته يې له کار نه ځان گوښه کړ او په کابل کې د ادبي انجمن غړی شو. په کال ۱۹۳۳ کې د هغه ترور په اړوند چې محمد عظيم نومي افغان د انگليس په سفارت کې و کړ، غبار دوه کاله بندي او وروسته د اوو کلونو په مودې کې اول د فراه په بالابلوک د گنج اباد په کلي کې او بيا د کندهار په ښار کې له خپلې کورنۍ سره پرار شو.(۱۸) په دې ډول غبار له خپلې کورنۍ سره د سردار محمد هاشم په صدراعظمۍ کې په کړاوونو واوښت چې د هغو له امله او هم دا چې د نظام لويانو د هغه مشروطه غوښتونکي ملگري ځپلي وو، د ژوند تر پايه پورې له حکومت سره مخالف پاتې شو، دا چې دده په فرا کې عامه خلک ډير غريب او د ژوند په ابتدايي حال کې وليدل هم به يې په ده اثر کړی وي. له هغه وروسته دی پخپلو فکرونو نور هم ټينگ او د زورواکۍ پر ضد شو.

غبار په ملي سياست کې د صدر اعظم شاه محمود په وخت کې وځلېده. دا هغه وخت و چې د دو هم نړۍ وال جنگ نه وروسته د ملگرو ملتونو موسسه جوړه شوه او له هندوستان نه د انگريزانو په وتلو سره پښتونستان د افغانستان لپاره يوه اساسي موضوع وگرځېده او د دغو انکشافاتو له امله دننه په وطن کې ددموکراسۍ او ازادۍ ورښ په چلېدو شو. حکومت د لومړي ځل لپاره د ښارواليو او ملي شورا لپاره انتخابات ازاد پرېښوول. په نتيجه کې په کال ۱۹٤۹ کې غلام محمد فرهاد دکابل ښاروال او د ملي شورا لپاره له ټول

هېواد نه ملي او نوميالي افغانان د غبار په ګډون غوره شول. د مطبوعاتو په ازادۍ سره غېر حکومتي او ګوندي خپرونې ووتلې او سياسي ګوندونه هم څرګند او فعال شول. په عمومي ډول د دغو انکشافاتو له برکته په تېره په کابل کې د صدراعظم محمد هاشم له اوږدې خپه کوونکې دورې نه وروسته يو نوی هيله من غورځنګ په ټوکېدو شو.

غبار په دغه وخت کې په درې محاذونو کې وځلېده. په ملي شورا کې چې له ډېرو نورو همفکرو وکيلانو سره په حکومت انتقادي شو. غبار د حکومت د غه مخالفه ډله "ملي جبهه" بولي. غبار د وطن په نامه په سياسي ګوند کې هم وځلېده چې دی يې سروال او نور موسسان او غړي يې زياتره دکابل تعليم کړي او لوړ رتبه حکومتي ماموران او پېژندل شوي کسان وو. د مرام عمده ټکي يې د دموکراسۍ عمومي کول، د درې ګونو قواوو بېلتون او پلان شوی اقتصاد شوول شوی. په اصل کې دا يو اعتدالي او نه چندان لوی ګوند و، خو په کابل کې يې وزن زيات و. ګوند په دې هم ولاړ و چې "حزب وحدت ملي و تماميت خاک رامربوط به رژيم دموکراتيک ميداند تا زبان و فرهنګ را از فشار برهاند و تبعيض و استبداد و خرافات را از بين بردارد و مليت های افغانستان متساويا و بدون تبعيض دارای مساوات و ازادي های دموکراتيک و حق انکشاف زبان و فرهنګ خويش ګردیده، خورد و بزرګ و اقل و اکثر حقوق مساوي داشته باشند"(١٩)

غبار په خاص ډول د وطن په نامه د خپل ګوند په جريده کې وځليده چې پخپلو انتقادي او پخو ليکنو سره يې له نورو جريدو لکه و لس، انګار او ندای خلق سره په ګډه د کابل سياسي فضا هيجاني

کړې وه. په کابل کې به دغسې حکومتي يا غير حکومتي مهم شخص نه و چې دغه جريده ونه لولي. د "موريانه دولت" په نامه د غبار يوې سرمقالې په کابل کې يو خاص زوږ توليد کړ. په هغې کې استدلال شوی و چې که په نظام کې اساسي اصلاحات ونه شي، هغسې به کاواک شي چې لکه د ونې ډډ به چيندجي خوړلو سره ورستېږي.

نورو گوندونو هم په تېره د ويښ زلميانو چې تر ټولو لوی او تر هغو دمخه په ۱۹٤۷ کې جوړ شوی و. د کابل سياسي فضا ښه توده کړې وه. څنگه چې حکومت دغه گوندونه تر خپل نفوذ لاندې راوستلی نه شول د هغو د فعاليتونو دمحدود کولو لپاره يې د ملي شورا د راتلونکې اتمې دورې په انتخاباتو باندې پخوا تر پخوا بنديزونه ولگول. د هغو په برابر کې په کابل کې مظاهرې وشوې او مظاهره کوونکو چې په سر کې يې ببرک کارمل هم روان و ارگ ته نږدې له پاچا محمد ظاهر نه د بنديزونو لغو کول وغوښتل، خو حکومت د دې پر ځای چې د دغو گوندونو له لويانو سره کوم ډول ايتلاف وکړي، د هغو په ځپلو پيل وکړ او د وطن د گوند د سرکسان يې د غبار په گډون او داسې هم د خلق د گوند مشر عبدالرحمن محمودي او نور بندي کړل که څه هم دوی مظاهره کوونکو ته د اعتدالي چلند سپارښتنه کړې وه.[۲۰] حکومت يوځل بيا د ازادۍ او دموکراسۍ بېرغچيان او د دغسې گوندونو د سرکسان وځپل چې غوښتل يې نظام اصلاح کړي نه دا چې په تشدد سره يې نسکور کړي. د چارواکو دغه چلند په سياسي ډگر کې د اعتدال لار بې اعتباره کړه او دغسې گوندونه يې منحل کړل چې په ملي پيوستون، وطن،

خپلواکی، دموکراسی، عصري معارف، اجتماعي عدالت او پرمختگ باندې ولاړ وو او لږو ډېر د افغانستان له بېلو برخو او قومونو نه هسک شوي وو. دا د واکمنې کورنۍ ډېره غټه تېروتنه وه چې په هغې سره يې د اعتدالي ملي سياست د ودې مخه ونيوله چې پای يې د نظام بربادي او په وطن کې پرله پسې ناکراري او بې امنيتي شوه.

غبار دا ځل څلور کاله په بند کې پاتې شو(۱۹۵۲-۱۹۵۶) له بند نه له ازادېدلو نه وروسته د صدراعظم محمد داود بلنه يې له حکومت سره د هم کاری کولو بلنه ونه منله او صدراعظم بيا غبار ته کړه چې ((شما که هم کاری با حکومت را رد ميکنيد در منزل خود باشيد و حکومت مراقب خواهد بود))[۲۱] غبار وايي چې ((اين امر استبدادی خانواده حکمران بدون حکم کدام محکمه قانوني برای تقريبا بيست سال ديگر دربرابر اينجانب نافذ بود))[۲۲] خو غبار خپله دغه وينا د قانوني پاچايۍ دورې په سر کې ردوي چې وايي ((در اين دوره بدنام کننده دموکراسي دولتی، هنگاميکه حکومت را جز اعضای کميسيون تسويد قانون اساسي جديد (تعيين) و اعلام کرد از ان استفعا کردم، چنانچه شموليت در احزاب مصنوعي و ماموريتهای رسمی را رد ميکردم))[۲۳] د غبار له دغه ((احزاب مصنوعي)) له ډلې نه به د افغانستان د خلق دموکراتيک گوند وي چې له تاسيس نه دمخه يې په دوو غونډو کې گډون وکړ او بيا د ببرک کارمل په دسيسې سره يې پرېښود.[٢٤] په دغه وخت کې نږدې او يا کلن غبار چې د بند، پرار او ناکامو سياسي فعاليتونو په نتيجه کې به ستړی شوی، خواشينی شوی او حتی ناهيلی شوی وي، هم پخپل کور

کې شعله يانو يا ماوستانو ته په خصوصي ډول د مارکسزم درس ورکاوه (۲۵) او هم تاريخ ليکنې ته زور ورکړ چې نتيجه يې د افغانستان در مسير تاريخ په نامه دوه ټوکه شول.

د غبار تر ټولو اثرونو څخه د افغانستان در مسير تاريخ لومړی ټوک ډېر لوستل شوی دی. هغه شايد د افغانستان په اړه تر هر بل اثر نه ډېر لوستل شوی وي. په تېره په کابل کې چې د سياسي او فکري خوځښتونو مرکز و. تر هغه دمخه د افغانستان د تاريخ په هکله د غبار ډېر اثار خپاره شوي او په کابل مجله کې يې ډېرې مقالې راوتلې، خو د هغو زياتره د غبار په وينا ((ناقص و معيوب)) وو، په دې چې ((بدون اجازه موافقت من نوشته هايم را دواير مربوطه حکومت تحريف و تعديل ميکردند))[۲۶] سره له دې هم دغه اثار بايد باطل ونه ګڼل شي او بايد په احتياط سره ترېنه استفاده وشي. افغانستان در مسير تاريخ يوازنی اثر دی چې غبار د قانوني پاچايۍ په ازادې فضا کې د خپل فکر پربنسټ په ازاد ډول ليکلی او بې له کوم تغيير او تحريف نه چاپ شوی. د وخت حکومت که څه هم هغه سانسور کړ، خو په مطبعه کې ي خوندي وساته چې وروسته خلقي حکومت د ثور له کودتا نه وروسته ازادکړ. په دغه ډول دغه اثر د شخص او تاريخپوه په توګه د غبار ايينه ګڼله کېږي.

دغه اثر د افغانستان عمومي سياسي تاريخ دی او زياتره يې داخلي پېښو ته وقف شوی، له اوستايي دورې نه پيل کېږي او د پاچا امان الله د واکمنۍ تر پايه پورې رسېږي. زياتره برخه يې له هوتکي دورې نه راپه دېخوا دمعاصر افغانستان په باب ده. پخوانۍ دوره يې

د هغو مقالو پربنسټ ده چې غبار دمخه په کابل مجله کې خپرې کړې وې. د غبار دغه اثر لکه چې د هغه د سیاسي مبارزې یو شکل وي چې پکې وایي ((ما تاریخ گذشته خود را برای این مطالعه مې نمایيم که اوضاع امروزی خود را صحیح تر درک نمایيم تا مبارزین جوان افغانستان در حرکت به پیش خط درست اگاها نه اختیار نمایند))(۲۷) تاریخ غبار ته په دغه ډول عملي او مبارزه ییز اهمیت لری او د دې لپاره نه دی چې پېښې هغسې چې په واقع کې شوې وي د ثقه معلوماتو پر بنا له سره ژوندۍ او بیان کړي، بې له دې چې تاریخپوه پکې خپل نظرونه ځای کړي. غبار هم انسان د تاریخ جوړونکی گڼي، خو هغسې انسان چې د اجتماعي شرایطو محکوم وي.(۲۸) نه هغسې انسان چې پخپل تېدنگ شخصیت سره یې اجتماعي شرایط اړولي وي، لکه پېغمبران او نور لکه سکندر، سپارته کوس، لوتر، ناپلیون، لینن او داسې نور. د غبار دغه جبري نظر شاید هم د هغه د خپلې ناکامۍ او هم د مارکس له دغه بیان نه متاثر وي چې وایي ((انسانان خپل تاریخ جوړوي، خو هغسې چې یې زړه غواړي، نه جوړوي)) تر دغسې شرایطو لاندې یې نه جوړوي چې دوی پخپله غوره کړي وي، خو تر دغسې شرایطو لاندې چې ورسره مخامخ شوي او له پخوا نه ورته ورکړل شوي او انتقال شوي وي"(۲۹) پر دې برسېره د غبار تاریخ جوړونکي هغومره چې اجتماعي قوتونه، طبقات یا عمومي ډلې دي، مشخص افراد نه دي، په داسې حال کې چې خلک ((د فردو نو یوه ټولگه ده له بې لو غوښتنو او فکرونو سره))(۳۰) غبار کله کله د فرد خاص عمل هم خلکو ته منسوبوي او وایي چې ((مردم او [امیر

عبدالرحمن] را پادشاه ظالم عنوان دادند و یکبار هم در ولایت مزار اورا به گلوله زدند که خطا شد)). په داسې حال کې چې ضارب یو چرسي هراتي عسکر و چې د هغه د دغه ناکام فېر مقصد معلوم نه شو، ځکه چې هغه ځای پر ځای ووژل شو.

غبار پخپل دغه اثر کې پېښې تر څه حده د طبقاتي فکر له مخې بیان کړې او فیودلزم او فیودالان یې ډېر یاد کړي ان تر دې چې د دراني دولت هسکېدنه یې د فیودالزم نتیجه ښوولې او ویلي دي چې: "سیر تکامل فیودالزم در بین اهالی قندهار و مبارزه دوام دار مردم علیه استیلای خارجی زمینه تشکیل یک دولت مرکزی قوی را در افغانستان مهیا کرده بود" (۲۳) که دغه حکم پر واقعیت بنا وای اول باید میرویس نیکه او تر هغه دمخه اېمل خان مومند او روښانیانو یو پیاوړی مرکزي حکومت تاسیس کړی وای. احمد شاه بابا چې له خپل غوره کېدلو نه وروسته یو پیاوړی مرکزي حکومت تنظیم کړ سم له لاسه یې په هغو شل میلیونو روپیو نغد او جنس سره تنظیم کړ چې له هندوستان نه نادرشاه افشار ته وړل کېدلې او په کندهار کې د هغه لاس ته ورغلې. په دې برسېره له غبار نه پرته به بل کوم تاریخپوه ووایي چې د فیوډالزم تکامل د پیاوړي مرکزي حکومت د تشکیل لپاره ډګر هوارويِ؟ د غبار دغه حکم هم پر ځای نه دی چې د امیر عبدالرحمن واکمني یې د "فیوډالي سلطنت تمرکز" بللې. د دغه حکم مانا دا هم ده چې له احمدشاه نه تر امیر عبدالرحمن پورې د افغانستان حکومتونه فیوډالي وو. په داسې حال کې چې نه د سدوزي واکمنه کورنۍ او نه د محمدزي واکمنه کورنۍ د

پراخو مځکو خاونده وه او د دوی تکیه په دولت او دولتي عوایدو و چې د هغو له امله زیاتره وخت له لویو مځکه والو سره په مجادله کې وو او امیر عبدالرحمن د دې پر ځای چې له هغو سره جوړه وکړي او د غبار په وینا فیوډالزم متمرکز کړی لوی مځکه وال یې وټکول یا پرار ته اړ کړل او د په مځکو باندې یې د درنو مالیاتو په وضع کولو سره هغوی ضعیف او مرکزي حکومت پیاوړی او د ضاعتي کېدلو لپاره اماده کړ. غېر له هغه هم کوم هغه فیوډالزم چې د روم د امپراتورۍ له سقوط نه تر زرم عیسوي کال پورې د اروپا په شرایطو کې مېنځ ته راغی د افغانستان په شرایطو کې صدق نه کوي. د هغو لپاره په افغانستان کې مناسبه اصطلاح ملوک الطوایفي وه چې غبار او نورو تاریخپوهانو هم د هغه ذکر کړی دی. په اصل کې د معاصر افغانستان د سیاسي اړخ ستر اړخونه د زور واکو په تېره د حکومتي زور واکو دزور واکی په مقابل کې و لسي پاڅونونه، د واکمنو کورنیو د غړو ترمېنځ د واک په سر جګړې او د وطن او اسلام په خاطر له یرغلګرو سره جنګونه دي.

غبار د باندنیو یرغلګرو په تېره د انګرېز یرغلګرو په مقابل کې د افغانانو جګړې ښې بیان کړې، سره له دې چې د یرغلګرو په مقابل کې یې د ځینو لېره ګیو غېر ملي رول له پام نه غورځولی او د ځینو نورو یې له واقع نه ډېر رسم کړی او دپښتنو یې نیمګړی شوولی. بیا هم غبار د افغانانو د پیوستون او د خپلواکۍ د روحیې د پیاوړتیا په لار کې یې غټ فکري او قلمي خدمت کړی دی. د ده په دغه اثر

کې د افغان د خپلواکۍ روحيه او د افغان هويت ځلا کوي، هغسې ځلا چې په بل هيڅ اثر کې نه ليدل کېږي. د دغه اثر بله غټه ځانګړتيا دا ده چې هغه دزور واکي، د حکومتونو دخپل سري او د اجتماعي بېعدالتۍ په برابر کې تر هر بل اثر نه ډېر انتقادي دی. په افغانستان کې دا لومړنی انتقادي تاريخي اثر دی، خو غبار پخپل فکر سره يو دلته محکوم کړی او بل هلته تبريه کړی او پخپلو دغسې حکمونو سره يې له ځان نه دغسې قاضي جوړ کړی چې قضاوت يې د خپل وخت ارزښتونوله مخې کړی نه د هغه وخت د معيارونو له مخې چې پېښې پکې شوې دي. په دې ډول په دغه اثر کې د غبار نفوذ پوره څرګند دی. ده هم د ځينو تاريخپوهانو په شان ښوولې چې تاريخ په اصل کې معاصر تاريخ دی او افاقي کېدلی يا پوره افاقي کېدلی نه شي.

د غبار قاضي توب د هغه د تاريخ په دوهم ټوک کې لا څرګند دی. د دغه اثر ثقه توب کې شک دی. په غالب احتمال چې په هغه کې به لاس وهل شوی وي. د هغه خپرونکی حشمت غبار د غبار زوی وايي چې دغه اثر "در اصل چند فصل باقيمانده جلد اول است که بخاطر استبداد شديد در کشور در زمان نوشته آن بازمانده"[۳۳] قانوني پا چايي په "شديد استبداد" سره ملزم کول د واقعيت پر خلاف دی. له هغه نه غير غبار هم پوهېده چې حکومتي مطبعه هغسې اثر نه چاپوي چې په هغه کې پاچا محمد نادر په "بيحوصلګی ديوانه وار" ملزم شوی، حکومت يې د "استعمار شاګرد" ښوول شوی او د سردار محمد هاشم کابينه "وحشي"[۳٤] ګڼله شوې وي. په هر حال د غه دوهم ټوک د لومړي ټوک په

دوام د حبيب الله کلکاني له امير کېدلو نه پيل کېږي او د شاه محمود د صدراعظمۍ تر پايه پورې رسېږي. عجبه ده چې غبار د صدراعظم محمدداود دوره د قانوني پاچاهۍ دوره او د لومړي جمهوريت دوره په کې نه ده شولې، په داسې حال کې چې په دغې مودې کې د پراخو اصلاحي پروګرامونو په نتيجه کې افغانستان ته انکشاف ورکړل شو او د لبرال اساسي قانون پر بنسټ د دموکراسۍ او ازادۍ خاوند شو. د همدغو انکشافاتو او داسې هم د امنيت د خوندي کېدلو له امله و چې افغانستان بېن المللي ټولنې ته د لوړ حېثيت خاوند هېواد شو، هغسې حېثيت چې تر اوسه هم ترېنه محروم دی. غبار به ځکه د دغو دورو له بيان نه ډډه کړې وي چې په هغه حال کې مجبورېده هغه اساسي او پراخ اصلاحات بيان کړي چې د واکمنې کورنۍ د غړو په نوښت او سروالۍ عملي شوي وو. بيا نو ده نه شو کولی په هغو باندې هغسې ترخه انتقادونه وکړي چې په صدراعظم محمد هاشم باندې يې کولی شول چې يې پرې پرېمانه وکړل. د غه دوره په رښتيا چې ځپونکې او ويروونکې وه، خو ښه اړخونه يې هم لرل چې هغه د پوهنې احيا او پراختيا او د سراسري امنيت خوندي کېدل وو چې د هغو په نتيجه کې د هېواد وروستي پرمختګونه ممکن شول. يو تاريخپوه هيڅکله يو اړخېزه نه وي، ځکه چې يوه تاريخي دوره نه ټوله سپينه، نه ټوله توره او نه ټوله ښه او نه ټوله بده وي، خو غبار دلته پوره يو اړخيزه شوی او د مشروطه غوښتونکو د دوروستي غړي په توګه يې له تاريخ نه د انتقام اخيستلو لپاره استفاده کړې، ده په تېره چې يې ويلي چې " سلطنت ديګر

دیوانه شده بود و بهر طرف دهن می انداخت". [۳۵]

غبار حتی تول هغه غیر خانداني افراد هم چې د وطن ابادي اخلکو ته د خدمت لپاره يې له حکومت سره همکاري کوله محکوم کړي او هغوی یې "گروه جدید الولاده" او "ادم های فرمایشی" بللي چې د هغه په فکر "فاقد روح فدا کاري و مردانگی بوده" اند. [۳۶]

د غبار دغه نهیلستي او نفي کوونکی نظر شاید له ماوستانو سره د هغه د ناستې ولاړې نتیجه وي چې فکر يې کاوه په وطن کې "اجتماعي انقلاب" راتلونکی دی. ده لا حتی د محمد هاشم په صدراعظمی کې وضع د "سیاسي انقلاب" په لور روانه گڼله. [۳۷] که څه هم ده ته د افغانستان په تاریخ کې په تشدد سره د یوه نظام د ړنگولو پایلې معلومې وې و چې وژل وژل او پرله پسې ناکراري وي. بیا هم دی د "اجتماعي انقلاب" او "سیاسي انقلاب" په فکر و. کاشکي دی ژوندی وای چې د هغه "سیاسي انقلاب" څکه یې کړې وای چې د ثور په کودتا سره و شو چې نه یوازې تریخ بلکه ورانونکی ثابت شو هغه هم په ملي سویه او په دوام لرونکي ډول.

څنگه چې ما په آئینه افغانستان کې په دغه اثر اوږد بحث کړی، نور په هغه نه گرځېږم، حتی په دواړو اثرونو کې ضد او نقیض بیانونه او تېروتنې هم نه یادوم. [۳۸] په هغو کې د پښتو په اړه د لنډ بحث کولو نه وروسته خپله وینا ختموم.

غبار د ډیورند د کرښې د دواړو خواوو پښتانه دولس میلیونه ښوولي چې د هغه په فکر شپږ میلیونه یې په پښتونخوا او شپږ میلیونه یې په افغانستان کې اوسېدل. [۳۹] د غبار دغه

وینا حقیقت نه لري. اول خو د پښتونخوا او افغانستان پښتانه په شمېر کې سره برابر نه دي. د پښتونخوا پښتانه د افغانستان د پښتنو په تناسب څه کم دوه برابره دي چې لس کاله دمخه د رسمي سر شمېرنې له مخې ۲۳ میلیونه وو. غبار د افغانستان پښتانه هم لږ ښوولي دي. د غبار شپږ میلیونه پښتانه په ۱۹٦۲ کې چې د رسمي احصایې له مخې د افغانستان نفوس څه باندې پنځلس میلیونه ښوول شوی، په سلو کې څلوېښت کېږي اول خو په دغه کال کې په افغانستان کې نه سرشمېرنه شوې او نه د افغانستان نفوس پنځلس میلیونه و. بله دا چې په دغو شپږ میلیونو کې کوچیان هم راځي چې غبار پوره او نیمه کوچیان څه کم دوه نیم میلیونه ښودلي دي. په دوی کې به پوره کوچیان چې کری کال یې کوچي توب کاوه دوه میلیونه وو چې هغوی ټول یا نزدې ټول پښتانه وو. په دې حساب د غبار د لیکنې له مخې په ۱۹٦۲ کې په ټول افغانستان کې مېشته پښتانه د څلور میلیونو په شاوخوا کې کېږي. غبار دځینو پښتنو لویانو په اړه هم دغسې بې بنسټه لیکنې کړې. ډېر څرگند مثال یې اروا ښاد محمد گل مومند دی چې هغه یې د پانگه ورو په ډله کې "میلیونر" بللی او دا یې هم ویلي چې هغه د دې فرصت نه لاره چې د تفریح لپاره د باندې په سفر لاړ شي.(۴۰)
حقیقت دا دی چې مومند په ۱۹۴۰ کې له رسمي مقام نه له گوښه کېدلو نه وروسته تر وفات کېدو پورې (۱۹٦۴) ۲۴ کاله ژوندی و چې که یې غوښتلای د باندې تللی شو، خو هغه دتفریح سړی نه و، هغه هم په خارج کې، د هغه له فکرونو او کړو سره به هر څوک موافق نه وي، خو په دې کې شک نشته چې هغه

له يوې ناکرارې دورې نه وروسته د امنيت په خوندي کولو کې ټاکونکی رول لوبـــولی او د نامحـــدودو حکـــومتي اختياراتو سره سره يې ژوند په تقوا سره تېر کړی او په پای کې په يوه کرايي کور کې وفات شوی.
غبار د پښتو له ژبې سره هم همدغسې چلند کړی دی، د غبار د ليکنې له مخې پښتو ((در ولايت شرقي، جنوبي و جنوب غربي کشور بيش تر تکلم ميشود)). [٤٠] د غبار د لکينې له مخې دکابل په ښار، کوهدامن، غوربند، تګاو، مېدان،وردګو او بګراميو کې پښتو نه ويله کېدله او د ګرديز له ښار نه برسېره د لويې پکتيا په نورو سيمو کې له پښتو نه غېر نورې ژبې هم ويل کېدلې، غبار ددغو ليکنو سرچينې نه دي ښوونې، ځکه چې دغسې منابع نشته چې د هغه ارقام تاييد کړي. سره له دې هم د هغه دغه بې بنسټه ارقام د مير محمد صديق فرهنګ او ټولو هغو لپاره سرمشق شوي چې کوښښ کوي د پښتنو په لږ ښوولو سره سياسي استفاده وکړي اوپه دې ډول ملي پيوستون ټپي کړي.
د افغانستان د قومونو په اړه چې تر اوسه څېړنه شوې، هغه د انجنير محمد انعام واک په زيار شوې چې د هغې لپـــاره دننـــه پـــه وطـــن او دبانـــدې افغانانو کې شپږ کاله څېړنې شوې دي. د هغه د قومي جوړښت په نامه اثر کې پښتانه د نسب په لحاظ په سلو کې څه باندې دوه شپېته او د ژبې له مخې پنځـــه پنځـــوس دي. [٤١] د واک لـــه دغـــه څېړنيز اثر سره د پښتو او پښتنو په اړه د غبار او فرهنګ بې بنسټه ارقام د نورو لپاره سر مشق دي، خو د افغانستان مشکل په دې نه حل کېږي چې يو قوم کم وښودل شي او بل لوی

وښوول شي، خو حقيقت ته درناوی حتمي دی. که څه هم د يوه چا لپاره به تريخ وي، غټ حقيقت دا دی چې افغانستان له وړو او لويو قومونو او نورو نه جوړ هېواد او د ټولو افغانانو ګډ کور دی او دوی د اساسي قانون او حقوقي منشورونوله مخې سره برابر حقونه لري او مکلف دي، دوی د دغو حقونو درناوی وکړي او د هيڅ قوم، هيڅ ژبې او هيڅ مذهب پرضد پروپاګند ونه کړي او له هرې هغې وينا، ليکنې او کړنې نه ډډه وکړي چې په هغو سره به يو قوم وپارېږي او ټولنه به تاوجنه شي چې په هغه حال کې به ټول ممکن په کوم نا اشنا لوی مصيبت واوړي. د دې لپاره چې دغسې ونه شي، حکومت بايد د ولسي جرګې له لارې دغسې مقرره وباسي چې د هغې له مخې هر هغه څوک بايد جزا وويني چې د کوم قوم سپکاوی کوي. دا په خاص ډول د هر افغان تاريخپوه وظيفه ده چې تاريخ ته د قوم، ژبې، مذهب، سياست او ايډيالوجۍ له نظر نه و نه ګوري او درانګ کې په شان کوښښ وکړي، پېښې هغسې چې په واقع کې شوې وي بيان کړي او پخپل بيان کې خپل ځان ونه ښيي. مګر په هغه حال کې چې تعبيرونه، حکمونه او نظرونه يې د شواهدو پر بنسټ وي او که نه ليکنه به يې بل هر څه وي، تاريخ به نه وي. له بده مرغه مير غلام محمد غبار پخپل وروستي اثر کې په دغې برخې کې پاتې راغلی. توقع دا وه چې دغه نوميالی تاريخپوه به چې ټول عمر يې په تقوا، سياسي مبارزې او تاريخ ليکنې کې تېر کړی، د هېرودوت په شان يو تلپاتی ميراث پرېږدي، خو له بده مرغه دغه اثر د هغه ښه ميراث نه دی. په هر حال اوس د دې وخت دی چې

افغان تاریخپوهان د دې لپاره چې لیکنې یې دقیقې او له شخصي غرضونو نه پاکې وي، باید اصلي سرچینو ته لار ولري. د دې لپاره حتمي ده چې افغان حکومت د تېرې مودې رسمي دفترونه، لیکنې او پاڼې په اصل کې ملي ارشیف ته کال په کال منتقلې کړي لکه چې د نړۍ ډېر هېوادونه همدغسې کوي چې د هغه په نتیجه کې په دغو ملکونو کې تاریخ لیکنه دقیقه او اکادمیکه شوې ده.

## یادښتونه:


1- هربرټ، بټر فیلډ، د تاریخ سرچینې، بیسک بوکز خپرونه، نیویارک-۱۹۸۱-۱۹.

2- د قول نقل، پاس یاد شوی اثر، ۱۱۹.

3- هیري بارتر، د تاریخ لیکنې تاریخ، دوهم چاپ، ۱۹۷۳-۲٤٦.

4- چارلز دورن، دعلم تاریخ، بالنټاین بوکز، نیویارک-۱۹۹۱-۲۱۲.

5- جوسف دهموس، د منځنیو پېړیو اوه تاریخپوهان، نیلسن هال، شکاګو-۱۹۸۲، ۸٦.

6- پاسنی یاد شوی اثر، ۸۵.

7- د قول نقل، پاسنی اثر،۲۷۳.

8- سیف بن محمد هروي، تاریخ نامه هرات، په مقدمه د محمد زبېر صدیقي، د خیان کتابفروشي، کلکته ۱۹٤۳، ۱۲.

9- محمد حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ، ۱۸٦۳-۱۹۰۱ د برل خپرونه، لیدن، پوهنتون، ۲۰۰٦-۹۸.

10- محمود الحسیني، تاریخ احمدشاهي، په مقدمه د سرورهمایون، دانش خپرندویه ټولنه،پېښور، ۲۰۰۱.

11- شجاع الملک، واقعات شاه شجاع، د افغانستان د تاریخ ټولنه، کابل، ۱۹۵٤، ج، دغه اثر اول ځل په لودیانه کې په کال ۱۲۷۸هـ ق کې چاپ شوی و.
12- سلطان محمد دراني، تاریخ سلطاني، شخصي چاپ، محمدي کارخانه، بمبئ، ۱۲۹۸، هـ ق.
13- سلطاني تاریخ، ۱۸.
14- د سلطاني یاد شوی اثر، ۹.
15- فیض محمد (محرر)، سراج التواریخ، کابل، ۱۳۳۱ هـ ق، لومړی ټوک،۲.
16- محمد حسن کاکړ، د افغانستان حکومت او ټولنه، د امیر عبدالرحمن واکمني، ۱۹۷۹، د تکساس دولتي پوهنتون، ۲٤۹-۲۵۱.
17- عبدالحی حبیبي، جنبش مشروطیت در افغانستان، خپرونکی، سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان، ۱۹۹۹، ٤٤-٤۹.
18- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، دولتي مطبعه، د کتابو د چاپ موسسه، ۱۹٦۷، ۷۹۷.
19- میر غلام محمد غبار، افغانستا در مسیر تاریخ، دوهم ټوک، شخصي چاپ د حشمت غبار، ۱۹۹۹، ورجینیا، ۱۹۲، ۲۷۳. په دغه اثر کې د غبار د تبعید موده په ۱۹۲ مخ کې نهه کاله او په۲۷۳ کې اووه کاله ښودل شوې ده.
20- غبار، دوهم یاد شوی ټوک، ۲٦٤-۲۵٤.
21- محمد حسن کاکړ، ببرک کارمل، خپل یا پردی؟ خپلواک یا بل واک؟ مقاله. په رڼا او دفاع یا د افغانستان د نفوسو، تاریخ او روانو پېښو په باب لیکنې کې، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور-۱۹۹۹، ۱۵٦.
22- غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، دوهم ټوک. ۲۵۲.

23- پورتنی اثر او مخ.
24- پورتنی اثر، ۲۵۳.
25- د غلام محي الدين زرملوال په وینا د افغانستان د خلق دموکراتیک گوند له تاسیس نه دمخه د "ملي دموکراسی گوند" په نامه غونډې کېدلې چې غبار او نور محمد تره کی اونورو د ده په شمول پکې برخه درلوده. غبار له نورو سره په شپږو مادو کې یوه طرحه منلې وه چې څلورمه ماده یې په ماهیت کې کمونستي مفهوم درلود. په د غه ډول: "انکشاف اقتصاد ملی از طریق اقتصاد دولتی پلان شده، تقویه سکتور دولتی،....، انحصار تجارت خارجی بدست حکومت و انجام اصلاحات اساسی و ملی ساختن منابع مهم کشور" (زرملوال، توضیح مختصر بمنظور رفع یک اشتباه، آیدنه افغانستان) گڼه ۸۲، کال ۲۰۰۰، جولای، مخ ۳۵، ائینه افغان گڼه ۸۳، دسمبر ۲۰۰۰، ۳۲).
26- محمد حسن کاکړ، نظرات در باره تاریخ نویسی و وطن و مروری بر جلد دوم کتاب غبار، آئینه افغانستان، گڼه ۸۳، دسمبر ۲۰۰۰، ۱۰۲.
27- غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، یاد شوی اثر. دوهم ټوک ۱۳۸.
28- غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، اول ټوک، ۲.
29- غبار، پورتنی اثر، ۱.
30- کارل مارکس، غوره شوې لیکنې، مدون لارنس سایمن، هکټ شرکت، انډیاناپولس، ۱۸۸، ۱۹۹٤.
31- د علم تاریخ، یاد شوی اثر، ۲۲۸.
32- غبار، ۱، ٦٥٥.
33- پورتنی اثر، ۳٥٤.
34- غبار، ۱، ۲.
35- اثر، ٦۰، ۱۹۹، ۱۷۲.

36- پورتنی اثر، ۱۳۷، حبیبي د غبار یو اړخیزتوب، په دې ډول یانوي: "... وقایع تاریخی را هموار به نفع تصور خاص عندی و قالب فکری خود استعمال میکرد و بنا برین در تاریخ نگاری خود ناظر بیطرف نمی اید". د جنبش مشروطیت یاد شوی اثر، ۱٤۹.

37- د غبار، پورتنی اثر،۱۷٤،۱۳٤.

38- پورتنی اثر، ۲۱۲.

39- محمد حسن کاکړ، در باره تاریخ نویسی،یاده شوې مقاله.

40- غبار،۱، ۱۱.

41- غبار، ۲، ۲۱۲، کاکړ، یاده شوې مقاله، آئینه افغانستان، ۱۰۰.

42- واک فونډېشن، د افغانستان قومي جوړښت، د ساپي د پښتو د انکشاف مرکز، ۱۹۹۸، محمد حسن سهاک، بحثی پیرامون نفوس کشور. محمد حسن کاکړ، سخن های تازه پیرامون نفوس کشور، د دغو دواړو لیکنو منبع، رښا او دفاع یاد شوی اثر، ۲۳-۳٦٦،۷۸-۳۷۳.

شپږم څپرکی

# د روښانفکرو په اړه

# روښانفکران څوک دي؟

په افغانستان کې په ټولو دورو کې یو شمېر افراد د فکري مخکښانو په حیث موجود وو. دغسې افراد په ویدي دوره کې د ریشیانو په نامه یادېدل. په اوستایي دوره کې زرتښت د همدغې ډلې یو ډېر وتلی شخص و. دومره وتلی چې د هغه تعلیمات د پېړیو پېړیو په اوږدو کې د انسانانو لپاره په ژوندانه کې لارښود شول.

داسې هم په بودایي دوره کې بودایي راهبان په نظر کې ونیسي. په اسلامي دوره کې علما، مذهبي پیران، فیلسوفان، صوفیان، شاعران او تذکره لیکونکي په همدغه قطار کې راځي.

تر هغه ځایه چې ماته معلومه ده، دا د شوروي اتحاد نه وروسته و چې په افغانستان کې د "منورین" کلمې رواج وموند.دغه کلمه د روسي (Intelligentsiya) کلمې ترجمه ده چې د نولسمې پېړۍ په مینځ کې په روسیې کې هسکه شوه. د دوهم جهاني جنګ نه وروسته چې د افغانستان پولې د لویدیځیانو په مخ په پراخه پیمانې خلاصې شوې، د روښانفکر کلمه هم د منورین د کلمې په عوض تر زیاتې اندازې مروجه شوه. علایم څرګندوي چې د روښانفکر کلمه د انګریزي د (Intellectual) کلمې ترجمه وي، که د غه توجهه سمه وي هغه یو تحول ښيي.

Intellecutal (انټې لیکچوول) د لفظ له مخې هغه چاته ویل کېږي چې له عقل نه

کار اخلي، يانې هغه څوک چې معتقد وي چې ژوند بايد د عقل په معيارونو سره وشي، نه د احساساتو، جذباتو او نژاد په معيارونو.

ايډوور ډشلز وايي چې: "انټي ليکچوولان (روښانفکران) په هرې ټولنې کې د هغو کسانو مجموعه ده چې پخپلو مفاهمو او افادو کې د خپلې ټولنې تر ډېرو غړو نه زيات د انسان، ټولنې، طبيعت او کاينناتو په باب د عمومي سکوپ (Scope) د پراخو کلياتو او مجردو مفاهيمو علامې استعمالوي".

د ده په فکر عقلاني علايق په الفاظو، رنگونو، بڼو يا اوازونو کې د درک کولو، تجربه کولو او افاده کولو له ضرورت څخه ولاړېږي او دغه ضرورت د طبيعي، اجتماعي، فلسفي، الهياتي، ادبياتو او هنري اثارو د توليد (تخليق) او استهلاک (استقبال) سبب کېږي. د غه تعريف زيات اکاډميک او پوره مانا وي دی، خو د "درک کولو، تجربه کولو افاده يې څرگندوي چې له هغه نه مراد وچ عقل او وچ منطق نه دی، تجربه او مشاهده هم ده. اما پخپله عقل يو مبهم څيز دی.عموما ويل کېږي چې عقل د ښو او بدو تميز کول دي. دا حکم درست دی، خو دا اخلاق کېږي او اخلاق هم بايد عقلي وي، عقل تر دې ډېر حاوي دی. عقل هغه قوه يا استعدا ددی چې هغه د هغو اطلاعاتو درک کوي، تشخيص کوي او سره يو ډول او متحد کوي، کوم چې حواس يې ور تهيه کوي. عقل د انسان له مدرکاتو نه مفاهيم يا مجردات جوړوي او په دې ډول د انسان علم د احساس له سطحې څخه چې له حېوان سره يې په گډه لري، د مفهوم سطحې ته لوړوي چې هغې ته يوازې دی ور رسېدلی شي. انسان هغه مفاهيم او مجردات څنگه

جوړوېدلو لپاره چې په هغه سره د خپل کړو لپاره اساس برابرکړي، دا د هغه ډېر غټ کار دی. انسان په دې باب تر اوسه ډېر سلوکونه تعقيب کړي چې په هغو کې ډېر عمده يې عقلي سلوک دی. د کارل پاير په فکر له عقل نه هغه سلوک مراد دی چې په هغه سره مسايل په عقل يانې رانه فکر او تجربې ته په رجوع سره حل کېدل وي، نه جذبې، هيجان او احساس ته په رجوع سره. په دې حساب عقلي سلوک يوه مجموعه کېږي. د عقل (Reason)، مشاهدې (Observation) او تجربې سلوک (Empiricism) او په دغې پروسې يوازې د انسان دماغ او قضاوت کليدي رول لوبوي. که د غه فکر په بل ډول بيان شي وبه ويل شي چې فکري، روحي او عملي مسايل يوازې رانه فکر، مشاهدې او تجربې سلوک ته په رجوع سره حل کېدلی شي او دغه سلوک اساسا په رجوع کوونکي يا عامل پورې تلعق پېدا کوي. د روښانفکر د اوصافو په باب د بحث کولو يوه خوا دا ده چې په روښانفکره ويلو سره يو کس ارومرو روښانفکر کېږي نه که څه هم هغه د لوړ تحصيل خاوند وي. تحصيل بې له شکه د يوه کس عقلي ملکاتو ته انکشاف ورکوي، خو حتمي نه ده چې هغه به د عقلي معيارونو او سلوک له مخې فکر او عمل وکړي.

په همدې ډول يو چا چې د مثال په توګه په تاريخ کې د ډاکټرۍ تصديق ترلاسه کړ او حتی په هغه کې د پوهاندي علمي درجې ته ورسېد، حتمي نه ده چې هغه به مورخ هم وي.

مورخ کېدل اوصاف غواړي لکه هسې چې روښانفکر کېدل اوصاف غواړي نو حتمي ده چې کله چا ته اديب، مورخ، فيلسوف، هنرمند، استاد، مشاق، خر کار، چاله وان، حاکم، مولوي، پروفيسر

او داسې نور وایو باید په دې وپوهېږو چې هغوی د هغو او صافو خاوندان دي، کوم چې له دغو القابو سره تړلي دي. د روښانفکرو له خصوصیت نه څرګنده شوه چې د ژوندانه مسایل یوازې رانه فکر، تجربې سلوک او مشاهدې ته په رجوع سره حل کول غواړي. دغه مفاهیم هم مشخص کولو ته اړه لري، خو زه به دلته د هغو په مروجې مانا اکتفا وکړم. دغومره به ووایم چې څه وخت د یوه چا لاس زخمي شو، هغه روغتون ته جراح ته ورځي، نه بل چا ته، هغه پخپله لیدلي، یا یې تجربه کړې او یا علم ورښودلي چې د حرح علاج جراح کوي، البته فکري، روحي او سیاسي او اجتماعي مسایل تر پورتني مثال نه ډېر پېچلي دي.

خو یو روښنفکر د دغو مسایلو په حل کولو هم یوازې همدغه اصل ته رجوع کوي، دغه اصل ته درجوع بله مانا دا کېږي چې یو روښانفکر بلواکي یا دغسې چارواکي (Authorrity) نه مني چې د هغه کلام به د کاڼي کرښې په شان وي.د دې مانا دا نه ده چې یوڅوک به د نورو په افکارو خان نه پو هوي. د نورو په افکارو به ځان خبروي. هغومره چې یو روښانفکر ډېر معلومات ترلاسه کړي، په هماغه اندازه د رانه فکر خاوند کېږي او د دې قدرت پېدا کوي چې نوي نظریات راوباسي، خو مورخ لارډ اکټن وايي "په دې کې خطر دی چې خپل فکرونه له نورو څخه واخلي. ته باید له نورو څخه معلومات ترلاسه کړې، خو فکرونه د تجاربو په شان، باید دتا وي". دغسې سلوک البته هغه وخت ممکن کېدلی شي چې یو روښانفکر فکري خپلواکي او ازاد قضاوت ولري، نو فکري خپلواکي ا ازاد قضاوت د روښانفکر خصوصیت تشکیلوي او هغه د ایین ریند په الفاظو "د دغه

حقیقت پېژندنه ده چې د تا مسوولیت د قضاوت مسوولیت دی او هیڅ څیز له تا سره چې له هغه نه وتښتي، مرسته نه شي کولی چې بل هیڅ څوک دتا لپاره فکر نه شي کولی چې د ځان بربادي او ځان سپکاوی تر ټولو ناوړی شکل د بل چا دماغ (mind) ته خپل دماغ تابع کول، پخپل مغز (brain) باندې د بل چا واک قبلول، دبل چا کلام د حقایقو په حېث د بل چاویناوې د حقیقت په حېث او د بل چا فرمانونه د خپل شعور او خپل ژوند ترمېنځ د مېنځګړي په حېث، منل دي".
په دې ډول "قضاوت مسوولیت" یا په جامع ډول اخلاقي مسوولیت د عقلي ژوند اخلاقیات کېږي. په بل عبارت په ژوند کې دې حکمران ارزښتونه عقلي ارزښتونه وي، یانې غېر عقلي ارزښتونه دې د عقل تابع وګرځول شي او ژوند دې په ټولو حالاتو کې په مسوولیت، زغم، خپلواکۍ، عدالت، سرلوړي، رښتین توب او تولیدي روحیې سره و شي. دغسې سلوک البته زړورتیا او په ځان اعتماد غواړي. زړورتیا په دې مانا چې یو څوک په عمل کې ژوند او حقیقت ته رښتیني اوسي او په ځان اعتماد په دې مانا چې یوڅوک په عمل کې خپل شعور ته رښتیني اوسي. که یو څوک زړورتیا ونه لري او که یو څوک په ځان ویسا نه وي او خپل شعور ته رښتیني نه اوسي د غېر عقلي او حتی ضد عقلي تمایلاتو تر تاثیر لاندې ځي او حتی خرافاتي کېږي لکه چې فیلسوف ډېوډهیوم وایي "کمزورتیا، ویره، مالیخولیایي توب له جهالت سره په ګډه د خرافاتو رښتیاني منبع تشکیلوي". د روښانفکرۍ په هکله له پورته عمومي بحث له وروسته به دمعاصر افغانستان د روښانفکرو په هکله وایم چې دوی هم د نورو هېوادونو د روښانفکرو په شان د

بېلو بېلو ټولنيزو، ژبنيو، قومي او مذهبي ټولنو څخه راهسک شوي وو او په هغه برسېره يې د خپلو تحصيلاتو له امله راز راز مشغوليتونه په مخ بېول.
يوه ډله، يو واحد صنف او ځانګړې طبقه يې نه جوړوله سره له دې چې دوى په يوه جبهه کې سره ګډ او يو وو چې هغه فکري او ذهني جبهه وه. په واقع کې دوى د همدغه فکري او ذهني خاصيت له امله سره نامتفق وو او د فرديت روحيه هم پکې پياوړې وه، خو ترهغو چې ټولنه په امن کې وه، سياسي نظام په ځاى و او د دوى لپاره د پرمختګ او د ځان د افاده کولو او هسکولو توقع او امکان موجود و، د وى په داسې حال کې چې د عصري ژوندانه امکانات مخ په ډېرېدو و، د ګډ ژوند په روحيې سره ژوند کاو، سره له دې چې پخپلو کې يې اختلافات لرل او له نظام نه شکايتونه، خو څنګه چې د پوهنې د پراختيا له امله د دوى شمېر ډېرېده، دغه اختلافات هم شديد کېدل. په تېره وروسته له هغه چې يو شمېر يې په سياسي ګوندونو کې د تنظيمېدو په وجه د بېلو او سره متضادو هدفونو، سلوکونو او کړنلارو خاوندان وګرځېدل او وفاداري يې هم ووېشلې شوې، نو هيڅ هغه کوښښ به په ځاى ونه رسېږي چې دوى د کوم ځانګړي اجتماعي واحد غړي وګڼي او په يوه تنظيم کې يې سره غونډ کړي. هغه کوښښ چې دوى د روښانفکرو په نامه ياد وي بايد له دوى نه د روښانفکرۍ هغه صفات وغواړي چې پاس مې بيان کړل. اوس به وګورم چې دوى پخپلو قولونو او کړو کې د روښانفکرۍ صفات وښول او که يې وښول په ناقص ډول و ښوول او که په پوره ډول. ډاکټر عبدالقيوم د افغانستان د روانو مسايلو په باب يو شمېر لاسي

ليکنې لري چې په هغو کې يوه يې د منورين په نامه ده.
ډاکټر عبدالقيوم د مرحوم ډاکټر علي احمد پوپل په شان د تعليم او تربيې متخصص دی. دواړه په شاهي دوره کې د معارف د وزيرانو په حيث د معارف او علم په پراختيا او د تعليم کړو او منورينو په زياتېدونکي ابتکاري نقشونه لوبولي دي. له دې امله د دوی نظريات د همدغو موضوعاتو او په عمومي ډول د جامعې او هېواد په باب مهم دي.
ډاکټر عبدالقيوم منورين "پر ارزش ترين ثروت جامعه" بولي او وايي چې ".... از هيچ قدرت ديگری جز منورين سعادت و بختياری ميهن ساخته نيست" څنګه چې ده، خپله د غه ليکنه د ۱۹۹٦ کال په سر کې په پنځه ويشتو مخونو کې يانې په هغه وخت کې بشپړه کړې ده چې هېواد د سالم زعامت د نه لرلو په وجه د جنګ او خطر په حال کې وه. ده په خپلې ليکنې کې زوره د منورينو په عملي رول يانې هېواد ته د نجات په ورکولو باندې اچولې ده. د ده تيوري دا ده چې د شوروي تهديداتو د غرب او عرب دمشرانو اندامونه لړزول، د هغوی په برابر کې د افغاني منورينو د چنه وهلو قوت (bargaining power) تر دې حده پورې ډېر شوي وو چې د دوی لپاره د دې امکان ميسر شوی و چې د دوی د هغو په مالي مرستې سره تر خپلې ډله ايزې مشری لاندې يو سياسي او نظامي سازمان تاسيس کړي، خو دوی د هغه په ځای "طفيلي رول" غوره کړ لکه چې وايي هغو "در طول جهاد و سال های بعدی آن به حيث معاونين، مشاورين و ترجمانان تحت قيادت ديگران برای يک غايۀ موهومي اجرای وظيفه نمودند و در اجرای وظايف چنان روحيه اطاعت و

فرمانبرداری از خود نشان دادند که احتمال و امکان رهبری و امریت را بدست خود در همه مراکز عالم... بکلی محو و نابود ساختند" دوی د ده په فکر د دوو فرضیو له مخې عمل وکړ، یو دا چې "جزء شاه سابق کس دیگری نیمتواند ملک را نجات دهد" او بله دا چې "منورین بایستی فکر زعامت و ناجی شدن را بکلی از سر دور اندازند" دی پخوانی پاچا په احترام یادوي خو وایي چې هغه "یک شخصیت محترم صلح و سلم، می باشد نه یک لیدر جنگ و جدل" له دې امله د ډاکټر عبدالقیوم په قول منورین "مفکوره تازه از خود نیافریدند، برنامه مشخص خلق ننمودند، و در ساحه عمل از خود هیچگونه زعامتی نشان ندادند و باهر سفر غیر مثمر خود به روم (نزد شاه سابق) دنیای بیرونی را متیقن ساختند که (خودشان) جزء یک دسته منیجران مطیع و فرانبرداری بیش نیستند". دا چې دوی ولې دغسې وکړل د نظرخاوندان به په دې هکله ځانله ځوابونه ولري. د ډاکټر صاحب په همدغې لیکنې کې هم د دغې پوښتنې ځواب میندل کېدلی شي، لکه چې دی په هغې کې وایي چې " سلطه و قدرت در همه آن ممالک (اسلامی) معکوسا متناسب بود به سویه علم و دانش (در این ممالک) منورین.... تحت قیادت و رهبری زوراوارن بیسواد و نیمه باسواد ساخته شده بود". په اوسني افغانستان کې دغه حال پوره صدق کاوه. دلته د قانوني پاچایی په دوره کې په څه استثنی سره حاکمې کورنۍ غیر خاندانی دولتي کارمنو ته د مشرکېدو موقع نه ورکوله اوله هغوی سره یې دغسې سلوک کاوه چې دوی لکه د واکمنې کورنۍ مستخدمان اوسي.

محترم محمد نذير سراج لا وايي چې "وزرا و اعضاى كابينه در نزد او [محمد داود خان] كارمندان كاغذ بياروببر هستند". په دې ډول نږدې ټول هغه منورين او بېروكراتان په شمول د هغو چې يو وخت يې لوړ د ولتي مقامونه لرل، دغسې په ځان ويسا او ولس ته منلي لويان نه وو چې هغه هم د بحران په حال كې سروالي وكولى شي. په تېره وروسته له هغه چې دوى د نظام په سقوط سره يتيمان او خارجي استخدام كوونكو ته محتاج شول. سره له دې هم په كال ۱۹۸٦ كې ډاكټر عبدالقيوم د منورينو په ډله ايزې سروالۍ سره د يو سياسي او نظامي سازمان د جوړولو په منظور او د اينده احتمالي كورنۍ جنگ د مخنيوي لپاره د عربستان د مالي مرستې د جلبولو لپاره ددغه هېواد د باندنيو چارو د وزير شاغلي فېصل موافقه تر لاسه كړه، مگر په غالب احتمال د امريكې دمخالفت په وجه يې دغه پروژه شنډه شوه. په دې چې دډاكټر صاحب په قول "من در پى نجات ميهن خود بودم و انها در صدد خلقت يک ويتنام شوروى در افغانستان" په دې ډول افغان منورين چې د ډاكټر صاحب په قول د باندنيو علمي مركزونو تعليم كړى او د يو شمېر وطني عصري پوهانو څخه جوړوو هم د خپلې ناتوانۍ او هم د خارجي عدم همكارۍ او نه حمايې په وجه له لوړ سياست او سروالۍ له مېدان نه بيرون پاتې شول او ميدان گرد سره اسلامي تنظيمونو او مسكو پالو چپيانو ته پاتې شو. د دغو تنظيمونو او چپيانو ورانۍ، ناكامۍ او څېرې څرگندې دي. دلته به زه د روښانفكرۍ په اړوند په دوى باندې يو څه اضافه كړم. د تنظيمونو د سر كسان نږدې ټول په ديني

علومو کې د لوړو تحصیلاتو خاوندان وو، ځینې یې د پوهنتون استادان هم وو. دوی د پخوانیو او معاصرو باندینو متفکرینو لکه ابوالحسن ندوبي، ابوالعلا مودودي، سید قطب او حسن البنا او نورو فکري مریدان او هغوی په لار روان شول. دوی له هغو څخه فکرونه واخیستل او کوښښ یې وکړ چې په هماغه اولي شکل یې په جاري پېښو باندې تطبیق کړي. په دغه کار کې دوی ناکام شول او مقلدان وختل او له دېنه عاجز شول چې د زغم، مسوولیت، عاقبت اندیشي، همکاري او ډله ایزې سروالۍ په روحیې سره حکومت وکړي،... هر څه چې وو، په سیاسي ډګر کې له دوی نه هیڅ یو سیاستمدار او ملي سروال نه شو. حتی دوی کوم هغه اخلاقي نفوذ چې درلود، هغه هم له لاسه ورکړ. په د وی کې هغوی چې اعتدالي و، تر هغو چې د زغم منونکي نه وو، لږ ناکام شول. اعتدالیونو لږ تر لږ د وطن په ورانولو کې تر زغم نه منونکي نه لږ اثر لرلی دی. د معادلې په بله خوا کې په اصطلاحي چپې روښانفکران وو چې په هغو کې چې د مسکو په کرښې روان وو، یوې ډلې قدرت ونیو او بله یې په قدرت ور سوله شوه. د دغو ډلو د سر کسان چې نږدې ټول یې د عصري تحصیلاتو خاوندان وو، کوښښ وکړ چې د خلکو په نامه د ټولنې د پېژېو پېژېو روابط د اروپایي متفکرینو لکه کارل مارکس، انګلس،لینن او ستالین د فکرونو له مخې په ممکنې چټکۍ سره واړوي، بې له دې چې د خپلې ټولنې افغاني او سلامي ارزښتونه په نظر کې ونیسي. دوی د خپلو فکري مرشدانو په ارشاداتو او نسخو ټینګ ودرېدل او نور یې مجبورل... چې عمل پرې وکړي. دغه فکر

دغه چپیان په دغسې لارې روان کړل. په نتیجه کې هم دوی او هم ولس له سترو خطرونو سره مخامخ شول چې دېر لوی ملي پاڅونونه او په افغانستان باندې د جهان د دوهم ستر قدرت نظامي یرغل وو چې د هغو نتیجه له ۱۹۷۸ څخه تر اوسه پورې جنګونه او مهاجرتونه دي او ملي پیوستون د شړېدلو ژي ته ورکش شو. یو شمېر نورو چپي روښانفکرو د "ملي ستم" یا "ملي تضاد" مفکوره رواج کړه چې تر اوسه هم انعکاسات کوي. په تېره په یو شمېر مهاجرینو کې. د ستمي روښانفکرو په فکر په ا فغانستان کې د پښتون قوم "حاکم ملیت" دی او د وطن نور قومونه "محکوم ملیتونه" دي. پښتانه له راز راز امتیازونو څخه بهره من دي او نور قومونه په ډول ډول محرومیتونو کې ډوب دي، لکه چې د دوی اساسنامه دغه موضع په لاندې ډول بیانوي:

"در افغانستان افزون بر تضاد طبقاتي، تضاد ملي نیز وجود دارد. ملیت برادر پشتون که پس احمد شاه ابدالی ۱۷٤۷م تاج و تخت کشور را تصاحب نموده است به ملت حاکم تبدیل شده و صاحب امتیازاتی چند گردیده است: از پرداخت مالی معاف است، خدمت عسکری انجام نمیدهد، کرسیهای بالای دولتی را انحصار کرده، بورسهای خارج را قبضه نموده، امکانات وسیع اقتصادی به شمول زمین های زراعتی، تسهیلات تجارتی و صنعتی را به اختیار گرفته است وغېره. بدین ترتیب ملیت های غیر پشتون که از این همه امتیازات محروم اند از دوستم رنج میکشند: یکی ستم طبقاتی و دیگری ستم ملی. بنابرین کانون خیزش قیام های انقلابی به درجه اول مناطق ملیت های غیر حاکم میباشد که باید کار تهیج و سازماندی مردم

در آنجاها متمرکز شود". دا څنګه روښانفکران دي چې دغسې اسا سنامه د خپلو فکرونو او کړو لپاره ا ساس ګرځوي چې د هغې د هرې جملې مفهوم ډېر نا واقعیت او لږ واقعیت دی او په مجموع کې نړدې ټول متن د واقعیتونو پرخلاف دي. عجبه لا داده چې دغه روښانفکران بیا د هغې په اساس د ملي ستم او ملي تضاد په نامه د وطن قومونه دیوه قوم په مقابل کې "انقلابي پاڅون" ته هڅوي بې له دې چې د دې پروا وکړي چې دغسې فکر به د قومونو ترمېنځ دښمنۍ ګانۍ او ټکرونه تولید کړي چې د پېړیو پېړیو د ګډ ژوند محصول دي.

دوی د دې پروا هم نه کوي چې قومي تحریکات د افغانستان بدنیتو ګاونډیو ته موقع ورکوي چې هغه لا شدید او مخرب کړي،دغه روښانفکران د دې پروا هم نه کوي چې قومي تحریکات په ا نسانانو کې وړانده قوتونه په دغسې حرکت راولي چې په هغه حال کې عقل او منطق کوچ کوي. فقط سوټې او توره به د مشکلاتو حل وي. له دې امله وطن او وطنوالو ته رښتیني افغانان باید قومي تحریکات په هیڅ وجه ونه زغمي. ډېرو هېوادونو قومي تحریکات او قومي نفرتونه غېر قانوني اعلام کړي دي. ستمي روښانفکران د وطن بېرته پاتې توب د پښتنو د "حاکمیت" په وجه بولي. دوی په دې سترګې پټوي چې واکمنه کورنۍ د افغانستان په نامتجانسه کثیرالقومي جامعه کې د ثبات په ټینګښت کې اساسي رول لوبوه. د یوه محترم افغان په فکر که پخواني پاچا له اساسي قانون نه دفاع کړې وای چې بایدکړې یې وای، ځکه چې په دې هکله یې لوړه کړې وه، شاید هغه ډېر شمېر اعتدالیون چې د حکومت په چلولو

کې په زغم، ایتلاف، تفاهم، هم کارۍ او دموکراسۍ باندې ولاړ وو، له سیاسي صحنې څخه ایستل شوي نه وای. یا پوره ایستل شوي نه وای لکه چې په واقع کې وایستل شول او د هغو په وتلو سره میدان، زغم نه منونکو انقلابیانو ته خالي شو. د محمد داود مطلقي ناکامۍ بیا دغه پروسه تکمیله کړه.

ورپسې په خاصو ایډیالوجي ګانو باندې ولاړو ډلو چې یو په بل پسې په اقتدار راغلې، مخالفې ډلې ونه زغملې او هرې ډلې د خپل اقتدار په دوره کې د خپلې ایډیالوجۍ له مخې په دغسې غټو کارونو پسې ملا وتړله چې په وس کې یې نه وه. په مشخص ډول دوی په دې پسې شول چې اجتماعي طبقات، حکومت، دولت او حتی جامعه له سره واړوي او خپله رقیبه ډله وټکوي، نورو لا کوښش وکړ چې د جامعې قومي ترکیب ته هم تغییر ورکړي.

دوی ټولو د دغې فرضیې په اساس عمل وکړ چې انساني چارې په یوې ټاکلې طرح کې اچول کېدلې او ټولنې د هغه له مخې په مطلوب ډول سمېدلی شي. مخصوصا هغه وخت چې دولتي قدرت ترلاسه کړل شي، خو د ټاکلې طرح له مخې ژوندۍ انساني چارې سمول دا مانا لري چې انسان به د وریځو یا اقلیم په شان یانې په میخانکي ډول عمل کوي، اما انسان شعور او عقل لري او په هره شېبه کې چې یې زړه وغواړي، خپل فکر او خپل عمل ته تغییر ورکوي. په همدې سبب په انساني چارو کې میخانیکي منظم توب او حتمي توب نشته، نا متوقعې او ناڅاپې حیراوونکې پېښې ورسره وي او د منظمو دورانو، طرحو او سیستمونو مفکوره اساس نه لري.

په دې حال کې د عملي مصلحاتو

لپاره د بریالي کېدو چانس په دې کې ښکاري چې د خپلې خاصې ټولنې او خلکو تاریخ، کلتور او عنعنه پخپلو اصلاحي کړنلارو کې له نظره ونه غورځوي او د خلکو غوښتنې او د هغو د زغم او حوصلې حد په پام کې ونیسي، انسانان په اصل کې خپل ځانونه او د خپل ارادو تحمیل غواړي.

فیلسوف ډیوډهیوم وایي چې "هر څه چې ده ځان، مینه ده؛ ستا له ماشومانو سره مینه کېږي، په دې چې هغوی دتا دي. ستا ملګري هم د همدغه دلیل له مخې او ستا هېواد تا جلبوي. یوازې تر هغه ځایه چې هغه پخپله د تا سره ارتباط لري، که د ځان فکر له مېنځه یووړل شو، هیڅ څیز به په تا باندې اثر ونه کړي. ته به په ټوله مانا غېر فعال او بېعلاقې شې". انسانانو په تاریخ کې د انساني کارونو تر څنګه غېر انساني یا حېواني او وحشي کارونه هم کړي او اوس یې هم کوي، لکه چې افغانانو په تېرو شلو کلونو کې د انقلابي او افراطي کړو او هڅونو او قدرت ته ځان رسولو او یا د ګټلې قدرت په ساتلو کې دغسې کارونه په ډېرې پراخې پېمانې وکړل. په دغه حېواني کارونو کې د انقلابي روښانفکرو تعلیمیافته ګانو او زغم نه منونکو جذمیونو رول اساسي او ډېر و. دوی پخپل دغسې سلوک سره نه دا چې پرمختګ ونه کړ، د جامعې د تدریجي اما ډاډه پرمختګ مخه یې هم ونیوله. د جنګونو په کولو، د خلکو په وژلو، اعدامونو او مهاجر کولو سره یې د وطن خلک کم کړل، افغانستان یې بېر ته وغورځوو او ضعیف یې کړ او ځانونه یې هم یا مرګ ته ور کړل یا له وطن نه پرار کړل، په دغه قرن (شلم قرن) کې

دا دوهم ځل دی چې انقلابي روښانفکران ناکامېږي. لکه چې اول ځل د پاچا امان الله خان په وخت کې ناکام شوي وو. افغانان لکه چې نه غواړي له تاریخ نه زده کړه وکړي.•

•- پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ، روښانفکران څوک دي؟، ۸۰ او ۸۱ پرله پسې ګڼه، ۱۹۹۸ز کال د سمبر ۲۲ مه نېټه، په اروپا کې د افغان ټولنپال ولسواک ګوند خپرونه "افغان ملت".

# په افغان ټولنه کې د روښانفکرو ونډه

## دسمبر ١٦-٢٠٠٣

دغه وړه ليکنه مې په اصل کې د هغو ځو پوښتنو په ځواب کې کړې وه چې ښاغلي حميد عبيدي د اسه مايي د مجلې چلوونکي له ما څخه کړې وې. د هغې پښتو متن د دعوت درنې مجلې ته اوس استوم، وروسته له هغه چې په ځو ځايونو کې يې يو څه تغيير راوستی دی، نو دغه ليکنه به د اسه مايي له دري متن څخه يو څه توپير ولري.

د منور او روښانفکر کلمې د شلمې پېړۍ په افغانستان کې د ليکوالو په تېره د چپيانو په ليکنو کې ليدل کېږي. په هغه مفهوم سره چې دغه کلمې راوړلې شوې. ما تل د شک په سترګه ورته کتلي لکه چې زما شک په دغې ليکنې کې څرګند دی.

د دغو کلمو مفهوم څرګند دی، هغه څوک چې روڼ او سم فکر کوي، دغه څه په دغه ډول هم ويلی شو چې هغه څوک چې يوه موضوع سمه څېړي، فکري لار ښود کېږي، ځان او نورو ته د دې ډګر برابروي چې په هغې لارې باندې وړاندې لاړ شي تر څو خپلې موخې ته ورسېږي. په عمومي ډول دغه کلمې د عصري تعليم کړو لپاره په کارولې کېدلې او اوس هم په کارېږي.

که روښانفکر په همدغه ډول و پېژنو نتيجه يې دا کېږي چې روښانفکران په افغانستان کې نه وو او که وو د روښانفکرو غونډې يې کړه ونکړل او

ناکام شول او پخپلې ناکامۍ سره یې وطنوالو او وطن ته زیان ورسوه، نو په دغه حال کې به د روڼ اندي کلمه بې ځایه په کار اچولې شوې وی یا به د هغو لپاره په کار اچولې شوې وي چې په اصل کې روښانفکران نه وو. پردې برسېره د روڼ اندي کلمه هغسې چې یې په افغانستان کې رواج پیدا کړی د تبعیض او امتیاز ښودونکي دي، په دې معنی چې یوازې دغسې روښانفکران روڼ او سم فکر کوي او هغوی چې د دوی له ډلې نه د باندې دي، روڼ او سم سوچ نه کوي، یا حتی کولی یې نه شي، نو په دغه ډول روښانفکران روښان او سم فکر کول پخپل انحصار کې لري او د ټولنې یوه امتیاز لرونکې ډله کېږي. که دغه ډول ذهنیت یوازې د فکر په سطح کې پاتې وي، زیان به یې ډېر نه وي، خو که د هغه له مخې عمل کېږي او په تېره هغه د حکومت په چلندونو او کړو کې انعکاس کوي، زیان به یې ټولنې ته متوجه کېږي لکه د شلمې پېړۍ په وروستیو دریو لسیزو کې چې یې زیان افغان ټولنې ته ورسېد.

د روښانفکر کلمه په افغانستان کې په تاریخي لحاظ هم بېځایه استعماله شوې ده. په غالب احتمال چې دغه کلمه د پاچا امان الله د دورې په افغانستان کې له شوروي اتحاد څخه راوارده شوې ده. په دغې دورې کې افغانستان د لومړي ځل لپاره د نړۍ له هېوادونو سره د شوروي اتحاد په ګډون اړیکي ټینګ کړل. دغې کلمې په تزاري روسیې کې د نولسمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې انټیلجنسیا (Intelligentsia) په بڼه رواج پیدا کړ او د هغو لپاره په کاریدله چې په لویدیځې اروپا کې یې زده کړه کړې وه، د تندو افراطي

فکرونو خاوندان وو، د روسيې له اتو کراسۍ څخه بېگانه وو، دولتي ماموريتونه يې نه کول، له ادبياتو، فلسفې او ټولنيزو چارو سره يې سر او کار لاره او پر ځان او آزاد فکر يې تکيه لرله. وروسته د اشرافو (بويارو) هغه کسان هم له هغوی سره يو شول چې د ټولنيزې ويښتيا خاوندان شوي وو. دوی ټولو په سر کې د وگړو (Narodniks) او وروسته د مارکسزم اوازونه جگ کړل، خو په لويديځ کې په تېره په انگرېزي ويونکو ولسونو کې د انټي ليکچول (Intellectual) کلمې سر هسک کړ. دغه کلمه هم د انټيليجنسيا له کلمې سره په يوې ډلې کې راځي، خو په معنی کې سره يو څه توپير لري، لومړنی کلمه په پښتو کې عقل پال او په دري کې عقل گرا گڼل کېدی شي، يانې هغه کسان چې د عقلي معيار ونو له مخې فکر او چلند او کړه کوي. دا چې عقل څه څيز دی په دې هکله دلته نه غږېږم او دغومره وايم چې عقل له احساساتو، جذباتو او عصبياتو څخه بېل دي او غېر عقلي اړخ د انسان ډېر ټينگ اړخ دی او په اوسني مهال کې لکه څنگه چې په عمومي ډول د انسانانو په خاص ډول د افغانانوله چلندونو او کړو نه معلومېږي، د انسان غېر عقلي اړخ تر عقلي اړخ زيات پياوړی دی.

په افغانستان کې چې د منور او روښانفکرو کلمې د تعليم کړو لپاره اختصاص شوې شايد لکه چې دمخه مې ويلي د هغو دورو باندنيو کلمو د نفوذ له امله وي. دا به ټولو ته څرگنده وي چې د منور کلمه تر روښانفکر نه په دغه مفهوم سره لومړيتوب لري. په شلمې پېړۍ کې اول د منور کلمه او وروسته د روښانفکر کلمه مروجه شوه او اوس په همدغه مفهوم سره په اصطلاح په

((روښانفکرو)) کې عامه شوې ده، خو دا سمه نه وه.
دغه ناسموالی مې پخپله د کلمې په اړوند پورته بیان کړ چې دا یې لنډیز دی: د ((روښانفکر)) او ((منور)) اصطلاح ګانې چې په ډېرو افغان تعلیم کړو په تېره په چپیانو کې یې رواج موندلی له باندې څخه یو تقلید دی او افغان ((روښانفکرو)) په شعوري یا غېر شعوري ډول ((روښانفکري)) ځان ته منحصره کړې ده. د دغه ډول ذهنیت ضمني مانا دا کېږي چې د ټولنې نور فردونه د هغو په شان روښان او سم فکرونه نه لري.دغسې ذهنیت د نورو ځیزونو په ترڅ کې د غرور، ممتاز کېدلو او له ځان نه د راضي کېدلو مسبب کېږي، بې له دې چې دوی دېته ځیر شي چې دوی مقلد، انحصارګر، زغم نه منونکي او نا واقع لیدونکي شوي دي. زیاترو خلقیانو او پرچمیانو دغه ډول ذهنیت لاره، دوی چې د پوره مقلدانو غونډې د لویدیځې اروپا سوچ والو سوچونه په ژور او پوره ډول بې له ګړ او بړ نه منلي وو، په دغه تکل شول چې هغه هماغسې د دولتي قوت په استفادې سره په افغانستان کې عملي کړي، په دغسې هېواد کې چې په اساس کې زراعتي و او خلک یې محافظه کار او عنعنه پال وو.
د اسلامي تنظیمونو د دورې واکمنو غړو هم د هغوی په شان تقلید ته ملا وتړله، خو ددوی د تقلید سرچینې د اسلامي نړۍ په عمده ډول افراطي سوچوالان وو، که څه هم دوی د خلقیانو او پرچمیانو په شان ځانونه ((روښانفکران)) نه ګڼل، خو د هغو خاصیتونه یې وښودل چې هغه تقلید، انحصار، نازغم توب، له حد نه ډېره ټینګتیا او انحصار و، په واقع کې دغه ټول خاصیتونه په خلقیانو،

پرچمیانو، اسلامستانو او داسې هم په طالبانو کې سره ګډ وو چې دوی ټول یې په یوې لیکې او د ملت پالو او دموکراتو په مقابل کې درول، دا به په ظاهر کې متناقض معلوم شي، خو د غو مقلدانو په یوه ځیز کې نوښت وکړ چې هغه د افغانانو بې مثاله وژل او د هېواد بې مثاله ورانول وو. د د غو مقلدانو انحصار ګرو زغم نه منونکو، جذمیونو د دغسې ۲۳ کلن نوښت پایله د ټول هېواد افغانانو ته ښه معلومه ده.
دوی په تېره خلقیان او پرچمیان د هغو افغانانو د پرارېدو ځپل کېدو او له مېنځه وړل کېدو مسبب شول چې تعلیم کړي منځني طبقې ته منسوب وو، یانې هغه کسان چې د عصري معارف محصول او پر خپل آزاد قضاوت او وجدان متکي وو، په داسې حال کې چې کمونستانو هغوی د انقلاب ضد په نامه له مېنځه،وړي، وړل، اسلامستانو هغوی د خپل سیاسي اسلام د نوع مخالفت له امله نابودول او ځپل.
په دغه ډول دغو انقلابیانو، مقلدانو، جذمیانو او باندني پالو افغان ټولنه له هغو ځخه محرومه کړه چې سر او کار یې له آزادۍ، خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، نوښت، پرمختګ، تحول، علم، فلسفې او هنر سره و او په اصطلاح د ټولنې مغز او روح ګڼل کېدل. که ((روښانفکران)) په رښتیا روښانفکره وای او اسلامستانو په رښتیا په اسلامي هدایتونو عمل کولای، هیڅکله به یې دغسې نه وای کړي.
د دوی ناروښانفکري له دې ځخه هم ځرګنده ده چې خلقیانو او پرچمیانو او تر ځه حده اسلامستانو د خپلو ناکامیو په حال کې قوم پالۍ، سمت پالۍ، ژب پالۍ ته پناه یوړه په داسې حال کې چې په اول سر کې یې د هغو پر ضد تبلیغ کاوه، یا یې مهم نه ګڼل. دوی په اصل

کې د دغسې محلیت له دایرې نه هیڅ بیرون نه وو وتلي او ملي فکر یې نه کاوه او د هېواد د واقعیتونو او د خلکو د ریښتیا غوښتنو له مخې آزاد فکر او آزاد عمل نه شو کولی. البته په افغانستان کې په آزاد ډول سوچ کول او په خپلواک ډول عمل کول اسان نه دي. د افغان کلتور په اصل کې حاکمانه دی، خو د دې مانا دا نه ده چې روښانفکران دې مقلد، انحصارګر، زغم نه منونکي او جذمي وي. یو روښانفکر په اصل کې نوښتپال، زغم منونکی، آزادي پال او د انحصار مخالف وي. په هر شکل چې وي. پر هغو برسېره پر ملي واکمنۍ او په اصولي او قانوني ژوند معتقد وي، لکه چې د مخه مې وویل یو روښانفکر په هر حال کې د عقلي معیارونو له مخې سوچ ، چلند او عمل کوي او ټولنیز ژوند د هغو اصولو او پرنسیپونو له مخې کوي چې د هغه خپل وجدان او آزاد قضاوت یې غوره کوي او دېته تن نه ږدي چې نور ورته انتخاب وکړي. یو روښانفکر په دې ډېر ښه پوهېږي چې که نور د ده لپاره انتخاب وکوي د هغه شخصیت نفي کېږي او پخپله دی د یوې وسیلې په توګه د نورو د مقصدونو لپاره استعمالېږي، کومه ټولنه چې له دغسې مقلدو، انحصارګرو او زغم نه منونکو کسانو نه جوړه او په تېره د هغې حکومتي چلوونکي دغسې ذهنیت ولري، آزاده خپلواکه، نوښتګره او وړاندې تلونکې کېدلی نه شي.

له دغه لنډ بحث نه دوه څیزه څرګندېږي یو دا چې یو روښانفکر باید مقلد او دغسې نور نه وي او ژوند د هغو اصلونو له مخې وکړي چې پخپله یې غوره کړي وي. بل دا چې باید اوس څه وشي چې افغانستان دغسې روښانفکران

ولرلی شي؟ د هېواد د واقعیتونو په نظر نیولو سره په حاضر وخت کې د دغه دوه غوښتنې اوس ایډیال یا ارمان معلومېږي، خو دا پوره شونکې ده چې د نن ورځې دغه ایډیال د سبا ورځې یا د نږدې راتلونکې واقعیت وګرځي، خو چې دغه دوه څیزونه په جدي ډول په نظر کې ونیول شي. یانې د واقعي کېدلو په لور یې عمل وشي. یو دا چې د حکومت چلوونکي باید پخپله د لوړ ملي او اجتماعي ایډیال او داسې هم د لیاقت او ډینامزم خاوندان وي، حکومت چې له دغسې کسانونه جوړ وي نه یوازې ورځنۍ عادي چارې ترسره کوي بلکې د راتلونکي لپاره پاخه بنسټونه ږدي او د نورو اساسي چارو په ترڅ کې په ټول هېواد کې د عصري پوهنې د عمومي کولو لپاره کار کوي، دغسې پوهنه چې دیموکراتیکه، انتقادي استعداد روزونکې او ملي یا په ماهیت کې ملي وي. دوی ښه پوهېږي چې له دغسې پوهنې څخه پرته افغانستان، افغانستان او افغانان، افغانان کېدی نه شي او افغانستان ځکه دغسې پوهنې او دغسې زیار ته سخته اړه لري چې هغې ته په جنګونو او ګډوډیو کې سخت زیان رسېدلی دی دا خو البته د نسبتا اوږدې مودې کار دی، په حاضر وخت کې د افغانستان حکومت کولی شي چې هغه پخوانی او اوسنی تعلیم کړي افغانان چې په اروپا کې ژوند کوي، جذب کړي. افغانستان په بل هیڅ وخت کې له خارجي تعلیمي موسسو نه فارغ افغانان په هغه اندازه نه لرل چې اوس یې لري. دغسې افغانان بې له شک نه هم د منځنۍ تعلیم کړې طبقې په پیاوړي کېدلو او هم د وران شوي هېواد په بیا رغونې کې بیخکي ونډه لرلی شي.

افغانستان اوس د انتخاب په

څلورلارې کې واقع او د بنيادي او نو ښتګرو چلندونو او سيا ستونو غوره کولو ته اړ دی. په دې لار کې اساسي ګام به دا وي چې د حکومت چلوونکي په تېره د هغه لوړ غړي تعليم کړي، متخصصان د پراخ او ملي فکر خاوندان او په هر حال د آزاد قضاوت او وجدان خاوندان او د ملي واکمنۍ په اساسونو معتقد او تحول پال وي. کوم حکومت چې له دغسې اشخاصونه جوړ وي هغه خپلو خلکو او خپل وطن ته په اساسي ډول خدمت کولی شي يا لږ تر لږه هغسې مصيبتونه يا هغو ته ورته مصيبتونه به وطنوالو ته متوجه نه کړي کوم چې ((روښانفکرو)) خلقيانو او پرچميانو او مقلدو اسلامستانو او طالبانو هغو ته متوجه کړي وو.

## اووم څپرکی

# د تاريخ په اړه

## د تاريخ په باب

### د امريکې غږ راديو سره مرکه

د تاريخ کلمه مبهمه ده. د بيالوژي او سيکالوژي په شان څرګند او ټاکلی مفهوم نه لري. اما د تاريخ په هکله هر څوک يا نږدې هر څوک نظر لري. د دې

علت دا دی چې هر څوک یا هره ډله تاریخ لري او له تاریخ نه غواړي د خپلو تېرشویو له حال احوال نه ځان خبر کړي او خپل هویت یا خپل ځان د تاریخ په رڼا کې وپېژني. همدغه سبب دی چې له تاریخ سره د خلکو علاقمني حقیقي او ډېره ده، خو تاریخ همغسې اسان مضمون نه دی لکه چې ډېر خلک همدغسې فکر کوي. تاریخ لیکل په واقع کې یو ډېر مشکل کار دی.

تاریخ ځینې مشخصات او ضوابط لري چې د هغو درک د تاریخ په پوهېدلو او د تاریخ په لیکلو کې له سري سره مرسته کولی شي. د تاریخ ستره ځانگړتیا دا ده چې هغه له هغو انساني ډله ییزو پېښو سره سر او کار لري چې واقع شوي وي. په دې ډول تاریخ له واقع شویو پېښو یانې له ماضي سره سر او کار لري. ماضي هغه زمانه ده چې تېره شوې وي، فرق نه کوي چې هغه میاشتې یا کالونه دمخه یا زرگونو کالونه دمخه تېره شوې وي، خو انسانان له هغو پېښو سره ډېره علاقمني لري چې په نږدې ماضي کې واقع شوې وي. په دې حساب معاصر تاریخ ډېر ارزښت لري، خو د معاصر تاریخ لیکل یو څه گران کار دی. گران په دې دی چې په دې باب لیکلي شوي معلومات لږ وي یا هیڅ نه وي. په تېره په بې سوادو ټولنو کې. یوازې په باسوادو ټولنو په تېره په هغو کې چې افراد یې په یادښت اخیستلو باندې عادت لري. شخصي او تجارتي موسسې او په تېره حکومتونه په هره سویه چې وي خپلې فیصلې لیکي. او د ثقه تاریخ لیکلو لپاره زمینه برابروي. اما زموږ په هېواد افغانستان کې د لیکلو او یادښت کولو رواج نشته یا په ابتدایي حال کې دی.

دلته د سیاسي جنجالونو په باب خو څه کوې، حتی د تولداتو، وفیاتو، ودونو او دغسې نورو اساسي پېښو په باب هم کتبي یادښتونه نه وي یا ډېر کم وي، نو په کومې ټولنې کې چې اساسي معلومات موجود نه وي د تاریخ لیکل یې او د هغه په تاریخ پوهېدل بیا گران شي. د ثقه او صحیحو معلوماتو پر اساس د تاریخ کښل یو حتمي شرط دی. له دې امله دا د تاریخ پوه وظیفه ده چې ثقه معلومات را ټول کړي او بیا هغه په دغه ډول سره شرح او بیان کړي چې شخصي، قومي، ملي او سیاسي ملاحظې پکې داخلې نه کړي او تر څو کولی شي، خپل ځان له خپل تاریخ نه گوښه وساتي. د دغې ضابطې رعایت کول اسان کار نه دی. د مورخ، جورنلست او پروپاگند چې فرق په اصل کې د دغې ضابطې په مراعات یا نه مراعات سره کېدلی شي، خو څنگه چې تاریخ او تاریخ کښل اوږده سابقه لري او زرگونه کالونه دمخه د یونان نامتو مورخ، هیرودوتس نه شروع کېږي، د تاریخ لیکلو فن او طریقه هم ډېره دقیقه شوې ده. په دې حساب تاریخ، په تېره د نږدې ماضي تاریخ په ظاهر کې اسان معلومېږي، اما په واقعیت کې دا یو سخت کار دی او یوازې هغه کسان ثقه، افاقي او په اصطلاح علمي تاریخ لیکلی شي چې د تاریخ د لیکلو په فن کې اختصاصي معلومات و لري او پخپله متقي او اصولي شخص وي یانې هغسې شخص چې د تاریخ لیکلو په فن کې واردو وي او عمل پرې وکړي او له تاریخ نه یوازې او یوازې د حقیقت د رابرسېره کولو او د حقیقت د بیانولو لپاره استفاده وکړي. یوازې د دغسې تاریخ او دغسې مورخانو له لارې کېدلی شي چې انسانان خپله ماضي لکه هغسې چې واقع

شوي وي، وپېژني او د دغې پېژندنې په رڼا کې خپل ژوند عيار کړي. کوم ملت يا خلک چې له خپل تاريخ نه په واقعي ډول خبر نه وي، شوي اشتباهات تکراروي او له تاريخ څخه عبرت اخيستلی نه شي.

# نظرات در بارهٔ تاریخ نویسی وطن

می ۱-۲۰۰۰ کانکورد-کلیفورنیا

داکتر م. جاوید وردک، بنمایندگی از مجلهٔ هیله با من یک مصاحبه مفصلی نموده است. ترجمهٔ دری سه بخش آن به شکل ذیل تقدیم میشود.

سوال: شما معیار های تاریخ را در کدام نقاط میبینید. به عبارت دیگر تاریخنویس باید دارای کدام صفات و محسنات باشد؟

جواب: تاریخ در ظاهر اسان بنظر میرسد، اما از آنجا که تاریخ معیارهای دقیق دارد، در اصل یک دسپلین مشکل میباشد. اشکال در این است که تاریخ بایستی رویدادهای دسته جمعی انسانی را آنچنانکه رخ داده است، بار دیگر در الفاظ احیا کند. این کار در اصل از محوطه آمکان بیرون است.

گذشته آنچنانیکه بود برای ابد گذشته است و هیچ قدرتی نمیتواند آن را بصورت کامل بیان هم کند. پس مورخ مجبور است از رویدادهای گذشته که در اوراق یا در شواهد مادی بصورت انتخابی ثبت شده است، انتخابی بنماید، آن رویدادها را برگزیند که در خور اهمیت باشد، یعنی بر زندگی بسیاری انسان ها اثر بجا گذاشته باشد. باینصورت این عملیه ثانوی انتخاب رویداد هارا هنوز هم محدودتر

میسازد. در این عملیه مزید بران، ذوق مورخ، سویه مورخ، جهان بینی مورخ و قضاوت مورخ هم موثر میباشد. اما مورخ هر نوع رویداد های را که برمیگزیند، باید واقعی باشد یعنی در زمانه گذشته واقع شده باشد، وجعلی نباشد. باین ترتیب مورخ در انتخاب رویدادها ازادی دارد اما در انتخاب رویدادهای واقعی و جعلی ازادی ندارد. انتخاب رویدادهای واقعی صفت مورخ نیست. این فریضه اساسی او ست. مگر چون تمام مورخان دارای عین ذوق، عین سویه، عین دانش، عین موقف اجتماعی و عین قضاوت نمیباشند، تاریخ ها کم و بیش باندازه مورخین زیاد است. "کم و بیش" بخاطریکه هر مورخ تاریخ را بیک شکل بیان نمیکند. پس چنان تاریخ که مطلق یعنی برای عموم قناعت بخش باشد در هیچ جا یافت نمیشود. اما مورخ بهر سویه ای که باشد، هر نوع ذوقی که داشته باشد، بهر سویه دانشی که داشته باشد و هر نوع موقف اجتماعی و قضاوت شخصی که داشته باشد مکلف است. تنها و تنها وقایع واقعی را شرح و بیان کند، و تنها بر اساس واقعیات تعبیر و قضاوت نماید، آنهم در صورتیکه شوقی قضاوت باشد. بسیاری مورخین از قضاوت کردن شانه خالی مینمایند، و قضاوت نمودن یعنی صادر نمودن حکم های اخلاقی و غیر اخلاقی و حکم های خوب یا بد و امثال آن را بخوانندگان میگذارد. اگر مورخی رو یداد ها را انچنان شرح و بیان کند که نقاط عمده آن را من دریندجا ذکر نمودم، برای قضاوت نمودن اصلاً ضرورتی باقی نمیماند. تاریخ برای این امر طریقه دقیق پژوهش دارد که آن از زمان هیرودوت تا کنون در عرصه دو نیم هزار سال بسیار دقیق شده است.

باین حساب مورخ کسی شده میتواند که تاریخ را با طریقه دقیق چنان شرح و بیان کند که تنها بر واقعیات بنا باشد و رجحانات، تعصبات، و نظرات شخص خودش در آن مداخله نکند. اینکه تاریخ یک دسپلین سهل الممتنع خوانده شده است، به سبب همین نقاط است که فشرده آن را درینجا ذکر نمودم.

سوال: جلد دوم افغانستان در مسیر تاریخ بقلم میر غلام محمد غبار در این اواخر نشر شده است. گویا این کتاب دو دهه بعد از نوشتن آن نشر شده است. علت این معطلی چیست؟ اکنون که وطن در شرایط نهایت دشوار قرار دارد، کتاب چرا در این وقت نشر شده است؟ غبار چه نوع شخصیت بود؟ تقاضاهای حزبی او چه بود؟ ایا حزب "وطن" او با حزب بنام "وطن" کمونستها کدام ارتباطی دارد؟ نقاط مفارقه و رابطه آن با دیگر احزاب چیست؟ این کتاب با جلد اول آن در طرز نوشته تفاوتی دارد؟ اگر درباره این پرسش ها و موضوعات مربوط دیگر و اسلوب تاریخنویسی غبار روشنی اندازید، ممنون خواهم بود.

جواب: محترم داکتر جاوید! پرسان هایتان یکی نه، بلکه چندین است، و من بتمام آن ها جواب هم داده نمیتوانم. درینجا تنها باین اکتفا خواهم نمود که درباره شخصیت و دو اثر اخرین او چیزی بنویسم.

میر غلام محمد غبار یک نویسنده، ادیب و مبارز سیاسی و مورخ متبارز افغانستان بود. از ۱۸۸۹ تا ۵ فبروری ۱۹۷۸ هشتاد سال زندگی کرد. بعد از تحصیل علوم مروجی در سن ۲۱ سالگی بکار رسمی اغاز نمود. در داخل و خارج کشور ماموریت ها نمود، جراید حکومتی

و غیر حکومت را در دوران انداخت، یعنی به نویسندگی اخباری پرداخت و فعالیت ها و مبارزات سیاسی نمود. در دوره کوتاه دموکراسی دهه پنجاه باری از طرف شهر کابل در شورای ملی بحیث وکیل انتخاب شد.

در دروه شاه امان الله با حکومت هم کاری نمود اما از ان ببعد تا وفات خود در برابر حکومات بایستاد. دو مرتبه زندانی شد، بار اول از ۱۹۳۲ تا ۱۹۳۵ و بار دوم از ۱۹۵۲ تا ۱۹۵٦ هفت سال در قندهار و فراه با فامیل خود در حال تبعید بسر برد ولی در اینقدر مدت طویل هم لسان پشتو را یاد نگرفت با انکه در بالابلوک فراه در چنان دهی میزیست که باشندگان آن تنها با پشتو تکلم میکردند. غبار مینویسد که محمد نادرشاه اراده نموده بود اورا اعدام کند ولی پیش از انکه او معدوم شود خود شاه معدوم شد. شاید بهمین سبب هم باشد که غبار تا وفات خود با خاندان نادرشاه در مخالفت گذراند. این مخالفت او در اثر اخرین او بکلی واضح است. در هر حال غبار پیش از بندی شدن ثانی خود در دوره دموکراسی کوتاه مدت بنام "وطن" حزب سیاسی تاسیس نمود. و بهمین نام جریده را هم در دوران انداخت. جریده وطن با جراید از قبیل انگار، ولس، و ندای خلق با نوشته های انتقادی و مفکوره یی خود فضای کابل را گرم و غوغایی ساخته بود. سر مقاله ی بقلم غبار بنام "موریانه دولت" از جمله نوشته های اساسی جریده وطن بود، که گمان میکنم هر افغان آن زمان که سیاست مینمود آن را خوانده و بروی اثر بجا گذاشته باشد. من را هم متاثر نموده بود.

غبار در این سر مقاله بقوت استدلال

کرده بود که اگر حکومت از راه قانون حکومت نکند و اصلاحات اساسی را عملی ننماید بالاخره چنان پوسیده خواهد شد مثلیکه درخت سست بنیاد با موریانه در نهایت پوسیده میشود.

محترم ډاکټر عبدالصمد حامد وای. دی د ۱۹٦٤ کال د اساسی قانون جوړولو کې په برخه لرلو، په دولتي تشکیلونو او چارو کې د تجربو په لرلو او د ملي پېژندل شوي شخصیت په لرلو سره د دغه کار لپاره ډېر وړ شخص و. دغسې کمیسیون کولی شول، د دغسې یوه په اصطلاح پاخه اساسي قانون مسوده جوړه کړي چې د افغان د دولتي نظام او مدني ټولنې ټینګ بنسټ وګرځي، خو دغسې ونه شول او لکه چې په دغسې لیکنې کې به معلومه شي، د اساسي قانون مسودې برابرول له ربړونو سره مخامخه ده.

د اساسي قانون په جوړولو کې تر ټولو غټه موضوع د دولتي نظام جوړول دي، لومړی پوښتنه دا ده چې دولتي نظام د پاچایی وي یا د جمهوریت؟

د یوې پېړی د ځلورمې سیاسي انکشافونه څرګندوي چې پاچایي بنسټ که مشروطه یانې قانوني پا چایی وې له مېنځ ځخه تللې او په افغانستان کې د پاچایی نظام په هره بڼه چې وی راتلونکی نه لري. د هغه بېرته ژوندی کول هر کولیسي او رستمي زور غواړي، خو په افغانستان کې اوس نه هر کولیس شته او نه رستم. محترم پخوانی پا چا چې له ۱۹۳۳ ځخه تر ۱۹۷۳ پورې د افغانستان واکمن و، دغه واقعیت تر هر بل چا نه ښه درک کړی. له همدې امله هغه له ګدی لوېدلو نه وروسته په وار وار ویلي دي چې د پاچایی نظام د بېرته راوستلو په لټه کې نه دی او د هغه پر ځای پخپل هېواد کې د سولې او ارامی د راوستلو لپاره هاند باسي.

د پاچا د دغه دریځ په نظر کې نیولو او تر هغه لا مهمه، په وطن کې د دغه نظام د بیا راوستلو لپاره د افاقي شرطونو دنه شته والي له امله دا نظام

د سیاسي قانون جوړونکو لپاره موضوع نه کېږي او جمهوري نظام د اساسي قانون مشروعه موضوع ده.
خو دا چې افغانستان دې څهٔ ډول جمهوري نظام ولري؟ په دې اړه ټول په اتفاق نه دي. آیا ولس مشر دې د ملي شورا له خوا غوره شي، یا نېغ دخلکو له خوا؟ ایا د ولس مشري نظام دې تشریفاتي یانې هسې په نامه وي یا اجرایوي؟ که اجرایوي وي تر کومه حده پورې او څنګه؟ لکه هسې چې دمخه مې وویل دا د اساسي قانون بنسټیزه موضوع ده. ځانګړی اهمیت یې په دې کې دی چې ولسمشر د نورو دندو تر څنګه د سولې او ثبات په ساتلو کې چې د مدني او ټولنیز ژوند لومړی شرط دی، بنسټیزه برخه لري. د افغانستان د عمومي او جغرافیایي وضع په تېره د تېرو پنځوویشتو کلونو د ګډوډۍ په نظر کې نیولو سره او دا چې تر هغو دمخه پاچا ټول عمر پاچایي او واکمني کوله افغانستان باید یو قوي خو په قانوني حکومت معتقد یو ولس مشر ولري. دغسې ولس مشر چې د ارامۍ او ثبات په ساتلو او ټینګولو کې اغیزمن رول ادا کولی وشي.
د انګلیس فیلسوف تاماس هابس په نظر "اوس د ټولو واکمنو دنده په دغې یوې جملې کې ځایدلی شي او هغه دا چې د خلکو ساتنه اعلی قانون دی"[١] تر هغه وروسته جان لاک بل انګلیس فیلسوف د شتو ساتنه هم د حکومتونو دنده وګڼله. که داسې نه وي بیا هم هابس وایي او هغه څه چې هغه په اولسمې پېړۍ کې ویلي په شلمې پېړۍ کې د افغانستان په کورني جنګ کې هم صدق کوي.". د هغې مودې په اوږدو کې چې خلک بې له دغسې ګډ زور څخه ژوند کوي

چې په ډار کې يې وساتي هغوی په دغسې حال کې ژوند کوي چې جنګ نومېږي.... هغه حال چې هلته هر انسان د هر انسان غلیم دی. په دغه حال کې نه د مثبت کار لپاره ، نه د سمندر ګرز ېدلو لپاره ، نه د هنر لپاره ، نه د ادبیاتو لپاره ، نه د ټولنې لپاره ځای وي او... (هغه څه چې وي هغه) په زور سره د مرګ دایمي ډار او د انسان ژوند، پوازې، غریب، کرښته، حیواني او لنډ"(٢) خو د حکومت يا ولس مشر د اختیار حدود باید ټاکلي وي، تر څو د مطلقیت احتمال او داسې هم د انارشي او ګډوډۍ احتمال تر هغه حده چې په اساسي قانون پورې اړه لري تر اخري حده لږ شوی وي. البته د دغه کار اساسي وسیله اساسي قانون دی.

د لومړنی مسودې له مخې په افغانستان کې اجرایي قوه په شخص ولس مشر او صدر اعظم کې متمرکزه ده. په دې ډول چې ولس مشر د دې اختیار لري چې صدراعظم ونوموي او نومول شوی صدراعظم له ملي شورا نه د اعتماد د رایې له ګټلو نه وروسته په کار پیل کوي. په داسې حال کې چې د دوهمې مسودې له مخې پخپله ولس مشر او وزیران حکومت جوړوي. په دې ډول چې د هغې د یو اتیاومې مادې له مخې "حکومت افغانستان متشکل است از رئیس جمهور و وزرا، رئیس جمهور، رئیس وزرای اعضای حکومت میباشند". د دغه وروستي فارمول له مخې د صدارت مقام له منځه نه وړل شوی او ولس مشري لږ او ډېر د امریکې د متحدو دولتونو په بڼه شوې ده. اوس پوښتنه دا ده چې د افغانستان لپاره کوم ډول يې مناسب دی؟

زما په اند د نسبتا قوي ملي شورا په شته والي سره لومړنی ډول له دوهم

طرز نه لا مناسب او ممکن لا هم عملي او اغیزناک وي، د لاندې دلیلونو له مخې:
په لومړني طرز کې اجرایوي قوه د ولس مشري او صدارت ترمېنځ وېشلې شوې ده. په دې ډول چې ولس مشر د صدراعظم د نومولو واک لري او صدراعظم یا حکومت اجرایوي دندې پرمخ بیایي.
صدراعظم د ولس مشر له خوا نومول کېږي، خو د هغه صدراعظم کېدل د ولسي جرګې د اعتماد په رایې پورې تړلی دی. په دغه حال کې ولس مشر او ولسي جرګه د حکومت په جوړولو کې برخه اخلي او د ډموکراسۍ اعلی درجه واقعې کېږي. څنګه چې ولس مشر د نورو دندو تر څنګه د وسله وال پوځ لوړ قوماندان دی او څنګه چې هغه پخپله د ولس له خوا په نېغ ډول غوره کېږي او د درې ګونوقوتونو سروال دی، د مشر او ملي زغیم حېثیت پېدا کوي، بې له دې چې تر هغه ځایه چې په اساسي قانون پورې اړه لري پخپل سر او مطلق شي. د صدر اعظم شته والی که څه هم د هغه له صلاحیت نه یو څه کموي، د هغه له مشر کېدلو سره مرسته کوي، ځکه چې اجرایوي مسوولیتونه هغه ته متوجه کېږي نه ولس مشر ته. پر هغه برسېره په دغه طرز سره د هېواد د عنعنې رعایت هم کېږي. په دې مانا چې صدراعظم چې پخوا یې د پاچا تر اثر لاندې کار کاوه اوس د ولس مشر تر اثر لاندې صدارت کوي.
خو د دوهم طرز له مخې اجرایوي قوه په شخص ولس مشر کې غونډه شوې ده. ولس مشر هم د دولت او هم د حکومت سروال دی. بې له دې چې صدراعظم په مېنځ کې وي. پر هغه برسېره شورا یانې مقننه قوه د حکومت یانې اجرایوي قوې په برابر کې ضعیفه ده. په دغه طرز کې پر حکومت باندې د ولسي جرګې د اعتماد

رايه له مینځه ولاړ شوې او خلک د خپلو استازو له لارې حتی د حکومت پر کړنو باندې څارنه هم کولی نه شي. د دوهمې مسودې د درې شپېتمې مادې په قرار "اعضای شورا میتوانند از وزرا در موضوعات معین سوال کنند." په وزیرانو باندې دا د شورا یوازنی امتیاز دی. په داسې حال کې چې د ولسي جرګې غړي د ولس غوره شوي غړي دي او پر حکومت او د هغه پر کړنو باندې د هغې څارنه د ټولنې د ډموکراسۍ درجه ټاکي. په دغه حال کې و لس مشر د صدراعظم په حېث د مسوولیت تر دراندہ بار لاندې کېږي چې احتمال شته. تر هغه لا بده یې د هغه احتمال شته والي کېږي چې باندني قدرتونه به پر حکومت باندې نفوذ وکړي، بې له دې چې شورا د هغه مخه ونیولی شي. په وران شوي افغانستان کې چې د باندنیو حکومتونو مرستو ته ډېره اړه لري، دغه نفوذ ممکن د ملي واکمنۍ او خپلواکۍ د نفي کېدو باعث شي.

خو ولس مشر باید په هر حال کې د ولس له خوا په نېغ ډول غوره شي، نه دا چې د ولسي جرګې له غړو نه انتخاب شي. د افغانستان په اوسني حال کې چې د اعتبار وړ قوي ګوندي سیستم نه لري، پارلماني طرز چې د هغه له مخې هم ولس مشر او هم صدراعظم د ولسي جرګې له خوا غوره شي غېر عملي دی. ولس مشر د خلکو په غوره کېدلو سره د غوره والي له ربړونو سره سره چې ډېر به وي، د ملي مشر حېثیت پېدا کوي. په داسې حال کې چې که هغه د ولسي جرګې له خوا غوره شي، هغه به له خلکو نه لېرې وي. د دغې خبرې بیا ویل دلته په کار دي چې ولس مشر د دې لپاره چې د ارامۍ او ثبات په خوندي کولو او ټینګولو کې

غیزناک وي باید د ټولو خلکو یا لږ تر لږه د زیاترو خلکو له ملاتړ او درناوي نه بهره من وي.

د دواړو مسودو، په تېره د دوهمې مسودې له مخې ولس مشر باید د ښو صفتونو خاوند وي، خو د دغه مهم ټکي په اړه چې هغه دې په دواړو رسمي ژبو کې پوهاوی یانې لیکنه او ویناکولی شي څه نه دي ویل شوي. په داسې حال کې چې که ولس مشر دغه صفت ونه لري نه د امنیت او ملي پیوستون په خوندي کولو کې اغیزناک کېدلی شي او نه ملي مشر کېدلی شي. په واقع کې د ملي پوهاوي د پېدا کېدلو او ټینګېدلو او د چارو د اغیزمنې لپاره د قانون له مخې د حکومت هر غړي باید د دواړو رسمي ژبو په پوهېدلو باندې مکلف وي. په لومړنۍ مسوده کې د ولس مشرۍ دوره څلور کاله او په دوهمې کې پنځه کاله ټاکله شوې ده. زما په نظر د پرله پسې والي او ثبات په خاطر د ولس مشرۍ دوره باید لږ تر لږه شپږ کاله وي او یو کس د دوو دورو لپاره د کاندید کېدلو حق ولري. د محمد داود خان په وخت کې د ولس مشرۍ دوره اوه کاله تجویز شوې وه.

د اساسي قانون بله ستره موضوع د مقننه قوې صلاحیت دی. د غه قوه په لومړنۍ مسوده کې د ملي شورا او په بلې کې د شورا په نامه یاده شوې ده. اول دشورا کلمه چې عام فهمه او مروجه ده، د مقننه قوې مفهوم په دقیق ډول نه افاده کوي. دا کلمه د مشورې مفهوم لري. په داسې حال کې چې مقننه تر هغه ډېر پراخ مفهوم لري. د قانونو ایستل د دغې قوې اصلي دنده ده، خو هغه یې یوازنۍ دنده نه ده او باید نه وي، خو شورا په دوهمې مسودې کې د حکومت په

برابر کې ډېره ضعيفه ده. د دغې مسودې له مخې ولسي جرگه په حکومت باندې د باور د رايې له ورکولو او له حکومت نه د باور د بېرته اخيستلو حق څخه بې برخې ده. پر ځای يې له حکومت څخه "استيضاح" کولی شي. (٦٢ مه ماده)، له وزيرانو څخه پوښتنه کولی شي(٦٣ مه ماده) او د "تحقيق و مطالعه اعمال حکومت و اجراءت اداره" په اړه کومېټه جوړولی شي (٦٤ مه ماده) عجبه دا ده چې د کار مهال يې لنډ او په هر کال کې اوه مياشتې دی. (٥٥ مه ماده) څرگنده ده چې مقننه قوه په دغې لږې اندازې صلاحيت سره د افغانانو په ملي ژوندانه کې مهم رول لوبولی نه شي. په واقع کې مقننه قوه په دغه کم مقدار صلاحيت سره يوازې په نامه وي او هر څه چې وي هغه به حکومت وي. زه ځينې وخت په دې فکر شم چې دوهمه مسوده شايد رښتيانی نه وي، خو لکه چې مې ياده کړې هغه د دولت د رئيس په لاسليک د فرمان مله ده. په هر حال که دغه قوه دغه مقدار صلاحيت ولري او حکومت ته ورته د صلاحيت وړ ستر رکن نه وي، خلک به د هغه نظام په اړه چې د اساسي قانون له مخې به جوړېږي بې تفاوته پاتې شي او په پاتې کېدو باندې به يې شک ولري.

د دوهمې مسودې ژبه سسته او په ځينو برخو کې لا سره په تضاد کې ده. د ابهام يو مثال يې دمخه ورکړل شوی او هغه دا چې "رئيس جمهور رئيس وزرای اعضای حکومت ميباشند". مطلب شايد دا وي چې ولس مشر د حکومت سروال يا د وزيرانو سروال دی. مطلب چې هر څه وي دغه جمله ناڅرگنده ده. په داسې حال کې چې د اساسي قانون ژبه بايد دقيقه، څرگنده، له الهام نه خالي او سهل

ممتنع وي او بس ټاکلی مطلب بیان کړي. دغسې جملې په دوهمې مسودې کې لېږې نه دي. عجبه دا ده چې د ولس مشر لپاره په دو اتـ یاومې مادې کې د "تعـیین" کلمه درې وارې استعمال شوې ده. "رئیس جمهور و اعضای حکومت میتوانند از اعضای شورا یا خارج از آن تعیین شوند". په داسې حال کې چې ولس مشر هغه څوک دی چې انتخاب یا غوره کېږي. دواړه مسودې او دوهمه مسوده لا ډېره، د ۱۹٦٤ کال د اساسي قانون دژبې دقیق والی او قوت نه لري.

د دولتي نظام بله ستنه قضايي قوه ده چې په اصل کې د ساتونکي حېثیت لري. د دغې قوې لوړ او مسلکي غړي د سترې محکمې د سروال او غړو په ګډون انتخابي دي او د ولس مشر له خوا ټاکل کېږي لکه هسې چې د نوي تجویز شوې ادارې یانې د اساسي قانون د لوړ دیوان غړي به ټاکل کېږي. دغه دواړه ادارې چې اختصاصي دي، نهايي مرجع دي. ستره محکمه موضوع ګانې د اسلامي شریعت له نظر نه څاري او عالي دیوان یې د اساسي قانون له نظره ګوري. په دې مانا چې په هغو قانونو باندې چې وروسته به ایستل کېږي، عالي دیوان له دې ډډې نه څارنه کوي چې هغه د اساسي قانون د ارزښتونو مخالف نه وي او ستره محکمه یې له دې ډډې نه ګوري چې هغه د اسلامي شریعت منافي نه وي. په دواړو مسودو کې راغلي چې "هیچ قانون نمیتواند مناقض دین مقدس اسلام و دیگر ارزش های مندرج این قانون اساسی باشد." د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون د څارنې دغه دوه ګونې دندې یوازې سترې محکمې ته سپارلې وې، دغسې ستره محکمه چې غړي یې عصري قانون پوهان او د اسلامي فقهه پوهان وو یا باید وای، خو

په لومړنۍ مسوده کې (په دوهمې مسودې کې نهم فصل نشته چې ممکن هغه د عالي دیوان په اړه وي) دغه دوه اداري تجویز شوې چې په مالي لحاظ به د د ولت لپاره ګراني تمامې شي او تر هغه لا هم د دندو د بېلتون په اړه به د دواړو ترمېنځ بېځایه جار او جنجال پېدا شي. دغه جنجال به له هغه کړکېچ نه برسېره وي چې د فردونو او ډلو د حقونو په اړه به رامېنځ ته کېدونکې وي. قانوني حقوق هم د اجتماعي او سیاسي حقونو او کلتوري ارزښتو په شان خو تر هغو په لړه اندازه تغییر کوي او ثابت نه وي، خو هغه وخت غواړي. دغه واقعیت د نړۍ ټولو حقوقي خپرونو منعکس کړی. افغانستان هم ټولې هغه حقوقي خپرونې منلې چې د ملګرو ملتونو د بېلو بېلو څانګو او د بشري حقونو د موسسې له خوا ایستلې شوي دي. د هغو غټ مثال د ژوندانه په ټول ډګر کې د ښځو او نارینه وو ترمېنځ د برابرۍ منل دي. په داسې حال کې چې مومن او مومنه سره دغسې برابر حقونه نه لري. دغه دواړه دریځونه سره ټکر راپېښوي. په ځینو اسلامي هېوادونو کې د برابرۍ دغه غورځنګ فعال دی. په افغانستان کې دغه غورځنګ د شاه امان الله په وخت کې پیل شو، خو زر پر ځای ودرول شو، خو په ځینو نورو اسلامي هېوادونو کې بریالی یا تر څه حده پورې بریالی دی. په تیونس کې تر یوې ښځې نه د زیاتو ښځو نکاح کول غېر قانوني دي او سر غړونکی یې تر پنځو کلونو پورې بندي کېږي. په عراق کې که یو سړی وغواړي دوهمه ښځه په نکاح کړي باید د محکمې د قاضي اجازه حاصله کړي او قاضي هغه وخت اجازه ورکوي چې سړی ثابته کړي چې د نفقې توان یې لري.[۳] په نورو اسلامي

هېوادونو کې هم تر ځلورو پورې د ښځو کولو رواج مخ په ځوړې دي او ممکن د وخت په تېرېدو سره له مېنځ نه لاړ شي لکه هسې چې د کنيزې او مرې توب رواج چې د اسلام په صدر کې مجاز او مروج و پرې ښودل شوی دی.

د اساسي قانون په دواړو مسودو کې د ښځو د حقونو موضوع له قلم نه لوېدلې يا غورځول شوې ده. شايد وروسته په فرعي قانون کې پرې بحث وشي او که داسې ونه شو، د ښځو غورځنګ ته به چې د قوت په حال کې دی او له هېواد نه د باندې د ښځو له غورځنګ نه بهره من دی، دغه حال د منلو وړ نه وي او د تاوتريخوالي سبب به شي. په همدې ډول شايد د مذهبي اقليتونو موضوع هم د تاوتريخوالي سبب شي. په دې اړه په دوهمې مسودې کې د غومره راغلي چې "ساير مذاهب مساويانه از حمايت قانون برخوردار ميباشند" (دوهمه ماده). کوم هغه دريځ چې دغو مسودو د ژبو په هکله غوره کړی هم شايد يوه ورځ د نارامی سبب وګرځي. د دوهمې مسودې په درېيمې مادې کې پښتو او دري د افغانستان رسمي ژبې ګڼلې شوې او په يو دېرشمه مادې کې د افغانستان ټولې ژبې چې شمېر يې له دېرشو نه اوړي ملي ګڼلې شوې. په د غو عباراتو سره: "دولت موظف است برنامه موثری برای انکشاف و تقويه زبان های ملی پشتو، دری و ساير زبان های افغانستان وضع و تطبيق کند". د ۱۹٦٤ کال په اساسي قانون کې يوازې پښتو د افغانستان ملي ژبه اعلام شوې ده. په دې ډول چې د ۳٥ مې مادې له مخې "دولت موظف است پروګرام موثری برای انکشاف و تقويه زبان ملي پشتو وضع و تطبيق کند". ملي ژبه هغې ژبې ته ويلی کېږي چې ټول ملت يا د هغو

ډېره برخه په هغې ګړېږي. اوس که د افغانستان محلي ژبې هم ملي ژبې وشمېرلې شي، ويونکي به يې حق ولري چې خپل حکومتونه له ګرېوانونو نه ونيسي چې د دوی له ژبو سره دې د اساسي قانون له مخې د ملي ژبو په حېث چلند وشي. پښتانه به چې ژبه يې د اکثرو افغانانو ژبه ده، تر هغو لا ډېر په قوت استدلال وکړي. دوی به په هغه برسېره دغه شکايت هم وکړي، لکه چې همدا اوس يې هم کوي چې اوسنی حکومت په واقع کې د دوی له ژبې سره د رسمي ژبې په حېث هم چلند نه کوي. مثال به وړاندې کړي چې تر اوسه هم د اساسي قانون مسوده په پښتوکې درک نه لري. په دې ډول اساسي قانون چې په اصل کې بايد د ملي پخلاينې وسيله وي، د کړکېچ وسيله به شي.

له درې ګونو قواوو نه مقننه او دولتي سروال انتخابي او د قضايې قوې او د اساسي قانون د لوړ ديوان غړي او داسې هم د مشرانو د جرګې يو شمېر غړي انتصابي دي. په دې ډول د ولسي جرګې، د مشرانو د جرګې د ډېرو غړو، د ولش مشر، د ولايتي شوراګانو او د ښاروالانو انتخاب د اساسي قانون او فرعي قانونو ستره موضوع کېږي. دغه موضوع هم نظري او هم تطبيقي خواوې لري. په نظري يا قانوني برخه کې يې شايد ستونزې پېښې نه شي. د قانون له مخې ټول موکلين بايد اتلس کلن او يا تر هغو زيات وي. مقامونو ته د کانديدانو عمر به زيات خو هغه به هم ټاکلی وي، خو د هغو تطبيقي اړخ به ستونزې ولري. لومړی دا چې ډېر انتخابونه او هغه هم په لنډو مودو کې به د دولت مالي ملا کړه کړي. دغه حال به د افغانستان د دولت لپاره چې بېخي ډېر لګښتونه په غاړه

لري لکه وړ يا عمومي پوهنه، د وړ يا عامه روغتيايي اسانتياو د تهيه د ماموراتو او نظاميانو او پوليسانومعاش او داسې نور ډېر گران تمام شي. دا ټول په دغسې حال کې چې مرکزي حکومت تر اوسه پورې د دې توان نه لري چې د يوه ټاکلي او معياري فارمول له مخې د ټول هېواد عايدونه ټول کړي او بيايې د ټاکلې بودجې او تخصيصي له مخې ولگوي. دا د دولت لپاره بنستيزه او د مالي متخصصانو موضوع ده، خو د دغه څه ويل دلته په کار دي چې کوم هغه دولت چې لږ تر لږه خپل عادي لگښتونه له داخلي عايدونوڅخه پوره کولی نه شي، د هغه ټينگښت به په شک کې وي. کومې هغه کودتاگانې چې په لږ عايدو هېوادونو کې کېږي تر زياتې اندازې د همدغې موضوع له امله وي. دولت په دغسې هېوادونو کې د هر څيز سرچينه وي.

د انتخاباتو په موضوع کې بل تطبيقي گام په ټول هېواد کې د رايو ورکولو د حوضو ټاکل دي او دا چې موکلين بايد د پېژندگلوی کارډونه يا د نفوسو پاڼې ولري، د گډوډۍ په مهال کې په تېره د اسلامي تنظيمونو په دوره کې په ځينو ولايتونو کې په دې برخه کې بدلونونه راوستل شوي و او اوس د دغو ټولو موضوعگانو ټوليز به د انتخابونو د کميسيونونو او د ټولو هغو لپاره چې د انتخابونو له موضوع سره سر او کار لري، ډېرې ستونزې پېدا کړي. که د رايو حوضې د موکلينو له شمېر سره تناسب ونه لري انتخابونه شايد ارزښت له لاسه ورکړي او ډول ډول کړکېچونه رامېنځ ته کړي. عمومي سرشمېرنه به دغه کشاله هواره کړي، خو دغه کار ډېر لگښت اووخت غواړي،خو تر

ټولو غټه موضوع په ټول هېواد کې د بریالیو انتخابونو کول او د انتخابي حکومت تر جوړېدلو نه وروسته د اساسي قانون تطبیقول یا په بله ژبه قانوني حکومت کول دي. اساسي قانون یا د قانون حکومت د خپل ماهیت له مخې د دولتي عمالو صلاحیت تحدید کوي. په بله ژبه دولتي عمال د هغو په شته والي کې پخپل سر او مطلق کېدلی نه شي. نو آیا په اوسني افغانستان کې چې جګ مشران، والیان، ټوپک والا او زورور قوماندانان په خاص ډول په اطراف کې د خپلې خوښې حکومت چلوي دېته حاضر شي، دغسې پروسې له بریالی کېدلو سره مرسته وکړي چې پای به یې د دوی د اختیار تحدید وي؟ ګمان نه کوم چې هغوی به دغسې وکړي. په لاندې ډول د انتخابونو پروسه شاید بریالی شي، یو دا چې هغوی یا د هغوی د ډېر د اعتماد وړ پر اشخاصو عوض شي. بله دا چې مرکزي حکومت او د انتخابونو کمیسیون تر دې اندازې قوي وي چې هغوی د مقررو رعایت ته اړکړي. دریمه دا چې د حکومت په ترکیب کې په لوړه سویه سمونو نه راوړل شي. په حاضر وخت کې د دغو تجویزونو شوني کول ناشوني ښکاري. مرکزي حکومت د څرګندو دلیلونو له مخې د دغه کار قدرت نه لري او د مرګرو ملتونو او د باندنیو مسلطو حکومتونو عمال چې انتخابونه څاري د دغه کار لپاره حاضر نه دي. داسې ښکاري چې دوی ټول په دې فکر دي چې کولی شي په مرکز او اطراف کې حکومتي عمال د انتخابونو د پروسې د بریالي کولو لپاره وهڅوي. داسې وګڼې چې دوی هغوی د دغه کار لپاره وهڅول. په هغه حال کې به وروستي په حتمي ډول کوښښ وکړي، خپل نفر او خپل پلویان انتخاب

کړي او د دې خنډ وګرځي چې خلک دې خپل استازي غوره کړي. د هغه معکوس به سیاسي معجزه وي. دا سمه ده چې په افغانستان کې د یوې پېړۍ په څلورمې کې سیاسي معجزې پرېمانه پېښې شوې، خو هغه له یوه سره ټولې ورانوونکې وې، په دغه ټول مهال کې تعمیري سیاسي معجزه لیدلې شوې نه ده. د انتخاب دغه پروسه هم د هېواد د عمومي وضع په نظر کې نیولو سره او دا چې په هېواد کې یو ځای بل ځای نا ارامي وي، دغه معجزه هم تعمیري کېدلی نه شي. په تېره چې خلکو له بېړنۍ لویې جرګې نه ښه انتباه ترلاسه کړې نه ده او ژوند یې هم تر دې اندازې پورې ښه شوی نه دی چې اساسي قانون او د انتخابونو پروسې ته یې هیله من کړي.

## یاددښت:

۱- تدهاند ایچ، تددین کودکي، فیلسوفان، د لویدیځ د سترو سوچ والو معرفي، د اکسفورډ پوهنتون، ۱۹۹۹، ۵۵مخ.

۲-نارمس دی ویس، د اروپا تاریخ، د اکسفورډ پوهنتون-۱۹۹۶-۵۲۱.

۳-تهاماس لیمن، د اسلام پوهاوي، د امریکې نوی کتابتون-۱۹۸۲-۱۰۶ مخ.

# څنګه مرکزي حکومت، فیدرالي یا متمرکز؟

سپتمبر۱۰-۱۹۹۶

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې دغه ټول اوسني جنګونه د قدرت لپاره شوي، نه یوازې دقومي ا وګوندي قدرت بلکې در سمي او حکومتي قدرت لپاره . رسمي قدرت هغه وخت ترلاسه کېدلی شي چې یو څوک یا یوه ډله یاپخپله یا د نورو په ملګرتیا حکومت خپل کړي. په حکومتي واک سره نه یوازې سیاسي واک ترلا سه کېدلی شي، بلکې اقتصادي قدرت، نظامي قدرت او حتی د قومونو او افرادو قدرت هم ترلاسه کېدلی شي. په افغانستان کې همدغسې شوي دي. دلته حکومتي واکمنانو د رسمي قدرت له لارې په جامعې یعنې په ما او تا او نورو باندې هغسې چې یې غوښتي دي حکم چلولی ا و د هېواد له شتمنیو څخه یې د ځان، خپلوا نو او پیروانو لپاره استفادې کړې دي. جامعې هم د رسمي قدرت خاوندانو ته د وېرې او د طمع په خاطر ټیټ او پاس کړی، که څه هم کله کله یې سرغړونې هم کړې دي.

په افغانستان کې د امیر عبدالرحمن خان له امارت نه راهیسې د قانوني پاچایی دورې څخه غېر حکومتي واکمنو کولی شوه چې د ا فرادو دخوش خدمتی، د دوی د مرګ او ژوند او د هېواد د شتمنیو اختیار په لاس کې و لري. په افغاني جامعه کې رسمي قدرت یوه خاصه

نېشه لرله او نړدې ټولو افغانانو د تعليميافتګانو په شمول هغه کوله چې دغه نېشه وکړي. د کمونستي کودتا نه وروسته د غه نېشه د جنون سرحد ته ورسېده. په دې چې په واک مَېنانو د قدرت د ګټلو په لار کې د وطنوالو د وژلو او د هېواد دد ورانولو پروا ونه کړه. بلکه بدې يې لا داده چې دوی د قدرت ګټلو په لار کې د ګاونډيو هېوادونو تر تاثير لاندې لاړل او برعکس د خپلو وطني سيالانو مرګ کي د ښمنان وګرځېدل.

د دغه حال نتيجه اوس په وطن کې د يوه مرکزي حکومت په ځای د ځلورو حکومت ګيو موجوديت او په هغو باندې د ګاونډيو حکومتونو نفوذ دی. دغه حال، د نورو شيانو په جمله کې، د بيا ودانولو کار ګران کړی دی. تر څو په وطن کې مرکزي حکومت نه وي جوړ شوی او دغه حکومت په ټول هېواد باندې په اغيزمن ډول سره خپل حکم جاري نه کړي، د وران شوي هېواد چارې نه شي سمېدلی. ممکن بشپړتيا او اينده يې هم په خطر کې ولوېږي، خو د حکومت د بيا رغونې هڅې تر اوسه پورې ناکامې شوې دي. د حکومت د بيا رغونې په باب چې تر اوسه د ملګرو ملتونو د موسسې استازو لکه کور دوويز، بينان سيوان او محمود مستري هلې ځلې وکړې، سرته ونه رسېدلې. همدا راز ټول هغه کوښښونه چې د تنظيمونو مشرانو، قوماندانانو، قومي او ملي مشرانو او روښانکفرو او سياست پوهانو يا دننه په وطن او يا له هېواد څخه د باندې وکړل، هم ناکام شول. په افغانستان کې اوس د حکومت جوړول لکه د هندوکش د غره د پاسه چې ختل وي، حال دا چې دغه کار افغانانو ته هم د عنعنې، هم د تاريخ او هم د

اسلام له مخې يو کېدونکی او معمولي کار و، چا به د نورو په ملګرتيا په نظامي قوت سره اول قدرت ترلاسه کاوه او وروسته به يې د جرګې له لارې د خپل خانداني حکومت لپاره د ولس ملاتړ او مشروعيت خپل کاوه او يا به يې په جرګې سره اول ملاتړ ترلاسه کاوه او بيا به يې حکومت جوړوه. ځينو به کودتاګانو ته هم لاس اچوه، خو د نجيب الله د رژيم له نسکورېدلو څخه وروسته د مرکزي حکومت د جوړولو لپاره هم عنعنوي او هم عصري تجويزونه ناکام شول. دا يو تريخ حقيقت دی چې سپېرودل يې د کشالې د هوارولو په لار کې ممکن مرسته وکړي.

هر هغه وطنوال چې په دې باب سوچ او اندېښنه لري د هغه په باب نظر هم لري. زما په فکر د غه ناکامي د واک مَينانو د قدرت د لېونی نېشې او زموږ د هېواد په باب د بدنيتو ګاونډيو هېوادونو د اجنداګانو نتيجه ده. د واک مَينانو د لېونی نېشې په باب دمخه وګړېدم. اوس به د بدنيتو ګاونډيو د اجنداګانو په باب يوڅه رڼا واچوم. زه د دوی په اجنداګانو کې د افغانستان لپاره د يوه ضعيف فيدرالي حومت څېره وينم. دوی يې نوم نه اخلي خو له سياستونو څخه يې څرګندېږي چې دوی د افغانستان لپاره د يوه ضعيف مرکزي حکومت په لټه کې دي. د افغانستان په باب په تېره د ايران او پاکستان له وروستيو پاليسيو څخه ښکاري چې دوی که څه هم په ظاهر کې له افغانانو سره د اسلامي اخوت نارې وهي په واقع کې په هېواد کې د جنګ له ختمولو او د مرکزي واحد حکومت له مېنځ ته راوستلو سره مخالفت کوي. دوی د خپلو نفوذ لاندې افغاني ډلو له لارې په دې بريالي شوي

دي چې د دغسې حکومت د تاسیسولو مخه ونیسي چې هغه په ولس اتکا ولري یانې ملي حکومت وي او اسلامي شریعت پکې نافذ. د ملګرو ملتونو د استازو کوښښونه چې د همدغسې حکومت د جوړېدو لپاره کېدل، همدا چې د بري درشل ته به ورسېدل، د دوی دواړو له خوا به په ښکاره یا په پټه سبوتاژ شول. د محترم پخواني پاچا د لویې اضطراري جرګې پر بنا درې فقره یيز تجویز هم د دوی له خوا تخریب شو. په عوض کې د دوی اجندا دا ده چې حکومت یوازې او یوازې په اسلامي تنظیماتو پورې منحصر کړي. دغه نظر چې اول د فقید جنرال ضیاءالحق په ابتکار رامنځ ته شوی و او سیاسي اسلام یې غوره عنصر ؤ. وروسته د شمال ایتلات کوونکو او د پېښور او اسلام اباد د توافقاتو اصلي طراحانو هغه ته قومي بڼه ورکړه. د دغو سیاستونو او هم د پرچمي رژیم د قومي سیاست نتیجه اوس زموږ په وطن کې په عېن وخت کې د څلورو حکومت ګیو شته والی دی. یوازې دا هم نه ده، هر حکومت ګي ځانله خارجي حامي (یا حامیان) لري او هر حامي کوښښ کوي چې خپل تر تاثیر لاندې افغاني خوا د نورو خواوو په مقابل کې په وسلو او پېسو سره پیاوړې کړي او بېن الملي اعتبار ورته پېدا کړي. ایران په دغه برخه کې تر ټولو جدي دی، هڅه کوي چې د کابل د حکومت ګي په سروالی سره ایتلافي حکومت رامېنځ ته کړي. ایران په مزار، هرات او جلال اباد کې قونسلګری ګانې، په کابل کې سفارت او په هزاره جاتو کې نور ترتیبات لري او لوړ رتبه مامور علاوالدین بروجردي یې د افغانستان سیمو ته په منظم ډول سفرونه کوي. پاکستان چې په هرات، قندوز، مزار او

جلال اباد کې قونسلګرۍ ګانې لري هم ایران ته ورته سیاست پر مخ بیایي او وروسته له دې چې اسلامي حزب له جمعیت سره ایتلاف وکړ، د کابل له حکومت ګي سره یې لار ونیوله. پاکستان د ننګرهار له شورا او طالبانو له حرکت سره هم نږدې علایق لري. په داسې حال کې چې سعودي عربستان د ایران د اجندا په مقابل کې د طالبانو او ازبکستان د جنبش ملي او اسلامي او تاجکستان د کابل د حکومت ګي فعال مرستندویان دي. له دغو هلو ځلو څخه ښکاري چې بدنیته ګاونډي هېوادونه هڅه کوي چې (۱) د دغو حکومت ګیو ترمېنځ تعادل پر ځای وي او د جنګ وضع دوام وکړي او (۲) که دوی پخپلو کې د کوم ایتلافي حکومت په سر اتفاق وکړي، هغه به یوازې له دوی نه جوړوي چې په دغه حال کې به د مرکزي او ایالتي حکومتونو ترمنځ توپیر زیات نه وي، یاني یو راز ضعیف فیدرالي حکومت به مېنځ ته راغلی وي. که دغسې نه وي دوی باید افغاني خواوې پخپل حال پرېږدي او د افغانستان په چارو کې له مداخلې نه لاس واخلي. که دوی دغسې وکړي چې احتمال یې نه لیده کېږي، افغاني خواوې به د لېونی نېښې خاوندانو په شمول مجبورې شي چې جنګ بس کړي او د ملي قوتونو په شمول په خپلواک او یو موټي افغانستان کې د اسلامي اساستو پر بنا د مرکزي حکومت د جوړولو بندوبست وکړي، خو زه ګمان نه کوم چې بد نیته ګاونډیان به له زور نه غېر له افغانستان څخه لاس واخلي. سوال دا دی چې بد نیته ګاونډیان ولې دغسې کوي؟ د دوی هدفونه او نیتونه دوی ته معلوم دي. له سیاستونو څخه یې معلومېږي چې دوی لکه چې دمخه وویل شوه، د موجودو حکومت ګیو نه جوړ د

دغسې ايتلافي حکومت په لټه کې دي چې
عناصر به يې لږ و ډېر سره برابر،
ساختمان به يې فدرالي او سياستونه به
يې د دوی تر تاثير لاندې او پخپله به
حتی د دوی تابع وي. د دغسې ايتلافي
فيدرالي حکومت نږدې او ليرې عواقب به
د افغانانو د واکمنۍ، د هېواد د
خپلواکۍ لپاره بيخکي خطر وي، په
تېره چې دا په نظر کې ونيول شي چې
افغانستان يو شتمن هېوا دی او د
شوروي اتحاد په ړنګېدلو سره يې د
مرکزي او جنوبي اسيا ترمېنځ د يوه
معبر په حېث خپل طلايي موقعيت بيا
ترلاسه کړی دی. د همدغه خطر په احساس
سره وو چې ډېر شمېر افغانانو په کال
۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ کې د ليکنو په شرح کې
چې د آئينه افغانستان په اته ويشتمې،
نهه ويشتمې او دېرشمې ګڼې کې کړې دي
فيدرالي حکومت يې د افغانستان لپاره
رد کړی دی او د لايل يې راوړي دي چې د
هغه لپاره په دې هېواد کې چې په
زياته اندازه د قومونو يو مخلوط هېوا
دی، معيارونه نشته. فيدرالزم ځانله
کوم ټاکلی جوړښت نه لري او عملي کېدل
يې په ارامۍ سره امکان نه لري او که
په زور سره عملي کېږي، د قومونو تر
مېنځ به حساسيتونه، کړکېچکونه او
دښمنۍ ګانې پېدا او دايمي کړي چې له
هغو څخه به بدنيته ګاونډيان استفاده
وکړي. که دا اوس چې يې کوي. په هغو
باندې به زه دا اضافه کړم چې فيدرالي
فکر زموږ د خپل تاريخي انکشاف محصول
نه، بلکې هغه د نورو چپي فکرونو لکه
د انقلاب، تاريخي دورو او طبقاتي جنګ
غوندې له خارج نه يو وارد شوی فکر
يانې غېر عملي فکر دی چې عملي کېدل
به يې نه يوازې سياسي او قومي مشکلات
لا هم زيات کړي، بلکې دغسې نوي مشکلات

به راپېدا کړي چې اوس يې پيش بېني نه شي کېدلی لکه د غوايي تر کودتا څخه ورو سته چې د غ يږ عم لي فکرو نو په تطبيق سره نه فکر کېدونکي مشکلات خلق شول. شايد له همدې امله وي چې يوازې چپيان او ستميان چې د خپلو افکارو او اعمالو د عواقبو له پېشن بيني کولو څخه عاجز دي، د فيدرالزم پلوي کوي. داسې هم نه ده چې فيدرالي جوړښت گواکي د پرمختگ او انکشاف ضامن دی. انگلستان او فرانسه فيدرالي نه دي، خو پرمخ تللي هېوادو نه دي، برعکس شوروي اتحاد فيدرالي و، خو له مېنځه لاړ نو په داسې حال کې چې افغانستان په تېرو اتلسو کالونو کې د جنگ له امله وران شوی او بيا ودانولو ته سخت ضرورت لري، ښايي موږ په بې خطرو او اشنا لارو باندې تگ وکړو. البته دغه فېصله به پخپل وخت کې د موسساتو په مجلس يا د نوي اساسي قانون جوړولو په کميسيون پورې تعلق ولري. زما نظر دا دی چې د نويو اوښتونو په نظر کې نيولو سره دې مرکزي حکومت د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون له مخې جوړ شي، داسې چې په هغه کې دې د نورو لازمي اصلاحاتو په جمله کې قومي، ژبنی، مذهبي او سيمه ييزې ملاحظې او عدالت په نظر کې ونيول شي. په نوي قانون کې دې هغسې چې مرکزي حکومت دی و منتخب پارلمان ته مسول وي، هغسې دې ايالتي حکومتونه هم د منتخبو ايالتي شوراگانو ته مسوول وي. په مجموع کې نوی قانون دې د فرد او مارکيټ په ازادي او څو گوندي سيستم بناوي خو حکومتي موسسات دې تمثيلي وي، نه حاکمانه او گوندونه دې په دې شرط مجاز وي چې د تمويل منابع يې يوازې او يوازې افغاني وي. په هر حال حکومت دی چې انتخابي او تمثيلي

به وي باید دومره قوي وي چې د مفسدینو، متمردینو او متجاوزینو په مقابل کې د ملکیت، امنیت، ولسواکۍ او هېواد د خوندي ساتلو توان ولري.

محترم پوهاند کاکړ صاحب!
دا دی د گوندونو په اړه هغه پوښتنې در استوم، د کومو په اړه چې په تيلفون کې سره وغږېدو، ستاسو د لنډو او روښانو ځوابونو په هيله.
په درنښت
حميد عبيدي
د جون ۱۸-۲۰۰۳

پوښتنه: د قانوني پاچايی په لسيزې کې مېنځ لارو او دموکراسي پالو سياسي گوندونو ولې تبارز ونه کړ؟
ځواب: د قانوني پاچايی په لسيزې کې يو شمېر اعتدالي او دموکرات سياسي گوندونه هسک شول او تبارز يې وکړ، خو قوي نه شول، دوام يې ونه کړ او په ملي سياست باندې يې اثر ونه کړ، يا د يادولو وړ مهم اثر ونه کړ. د محمد هاشم ميوندوال په سروالی مترقي دموکرات گوند، صدای عوام د خليل الله خليلي په مشری گوند او د غلام محمد فرهاد په مشری د افغان ملت گوند د دغسې گوندونو وتلي گوندونه وو. دا چې دوی ولې ملي گوندونه نه شول او له افغان ملت نه پرته نور گوندونه له سياسي ډگر نه ووتل، په دې اړه ډول ډول نظرونه وړاندې شوي دي. شايد غټ دليل دا وي چې د دغه گوندونه د برحال حکومت په شان دډموکراسی په اصولو، په مشروطي پاچايی او اساسي قانون په اړه سره موافق وو. په بل عبارت د دوی ترمېنځ په اساسي ټکو کې اختلاف نه و، ځکه د دغو گوندونو مشران او کدرونه يا پخپلو نوښتونو يا د رسمي مقامونو په هڅونې سره په حکومت کې ننوتل. يوازې ميوندوال دغسې ونه کړل، هغه هم

د صدارت له مقام نه له گوښه کېدو نه وروسته. که دغه نظر سم وي له گوندونو څخه د دوی د مشرانو او کدرونو توقع دولتي مقام ته رسېدل و، نظر دېته چې دموکراسي او گوندي ژوند ته ژمنه لرل وي. شاید همدغسې هم وي ځکه چې په افغانستان کې تر هغه وخته پورې هیڅ معتدل دموکرات گوند د ویښ ځلمیانو د گوند په گډون د گوند له لارې د ولتي واک ته رسېدلی نه و. سره له دې چې دغه وروستی گوند ملي، اعتدالي، دموکرات او لوی گوند و. د دغو گوندونو په اړه د یادونې وړ بل ټکی د حکومت یا په دقیق ډول د واکمنې کورنۍ چلند و.

هغه وخت واکمنه کورنۍ له دغسې گوندونو نه په اندېښنه کې وه او فکر نه کېده چې افراطي چپي او مذهبي تنظیمونه به پخپله په واک شي نو واکمنې کورنۍ نه غوښتل چې د اندېښنې وړ گوندونه یې له حکومتي چوکاټ نه د باندې د قدرت مرکز وگرځي، نو ځکه هغسې چې د ویښ ځلمیانو ډېر لویان یې په رتبو او مقامونو سره تطمیع کړل او گوند یې ورضعیف کړ، دغسې یې هم د پاچایی د دورې اعتدالي گوندونو لویان او کدرونه تطمیع کړل. په دې برخه کې بل ټکی د محمدداود د چلند و چې په زوروا کي معتقد او د دموکراسۍ مخالف و. په صدراعظم کېدو سره یې د لومړۍ لنډې دموکراسۍ دورې گوندونه خنثی کړل او په دولتي سروال کېدو سره یې د پاچایی دورې دموکرات گوندونه غلي کړل. په داسې حال کې چې د هغه خپل ملي کلوب او ملي غورځنگ چې له رسمي مامورانو او بیوکراتانو نه جوړ و، گوندونه نه شول. محمد داود چې د صدراعظم محمدهاشم خان او پخواني پاچا

په شان يا حتی تر هغو څخه ډېر د افغان په سياست باندې اثر کړی، د افغان دموکراسۍ د بېخ نيولو مخه نيولې ده. د دموکراتو او اعتدالي ګوندونو د نه تبارز په اړه د يوه بل ټکي يادول هم حتمي دي او هغه دا چې د هغو لويان او کدرونه په اصل کې دموکراسۍ ته رښتيني نه وو او که وای دوی به په هر حال کې د دموکراسۍ په پلي کېدو او واقعي کېدو باندې ټينګار کړی وای. دا يوه غټه او بېخکې موضوع ده چې شايد بل وخت به پرې خبرې وشي.
پوښتنه: ويل کېږي چې مېنځ لارو ګوندونو ځکه تبارز ونه کړ چې د وخت پاچا د سياسي ګوندونو لايحه چې پارلمان پاس کړې وه، لاسليک نه کړه. اوس هم سره له دې چې خلک له کيڼ او ښي افراطي ګوندونو نه سخت ځوربدلي دي، بيا هم دموکراسۍ پالو ګوندونو د تبارز نښې نه ليدلې کېږي.تاسې په دې برخه کې څه نظر لرئ؟
ځواب: ستاسې د پوښتنې لومړۍ برخه زما د پورتنۍ توجيه په تاييد ده، په دې مانا چې د پاچا له خوا د ګوندي لايحې په نه لاسليک کېدو سره داسې ونه شوه چې د وخت ټولو ګوندونو تبارز ونه کړ. افراطي چپي او بنسټ پالو مذهبي تنظيمونو تبارز وکړ. يوازې دموکراسي پالو او اعتدالي ګوندونو په منظم ډول تبارز ونه کړ چې په دې ټکي دمخه وغږېدلم. د پوښتنې د دوهمې برخې په اړه وايم چې د محمد داود له کودتا په تېره د ثور له کودتا، خونړيو جنګونو، باندنيو نظامي او نور ډول مداخلو او وچکالۍ نه وروسته د افغان د جامعې مورفولوجي اوښتې ده. له دغې اوښتنې سره د ګوندونو حال هم تغيير کړی، که څه هم اوس ويل کېږي چې د قانوني

پاچـــایۍ د دورې پـــه شـــان د "لـبرالـــي دمـوکـراسۍ" دوره پـیل شوې ده، خو د غه "دمـوکـراسي" پـه ټـینـګو پـښو بـانـدې ولاړه نـه ده او ټـول حکومتي واک لـرونـکي ورتـه رښتیـنـي هم نـه دي. پـه افـغـانـسـتـان کې اوس تـعـلـــیم کـــړي او د سیاســـي ویښـــتیا لـرونـکي افغانـان یـعـنې هـغـه افغانـان بېخي لـږ دي چې پـه دمـوکـراسۍ، ازادۍ، ګـونـدي ژونـد، جر او بـحث او زغم بـانـدې معـقـتـد دي. اوس پـه افـغـانـسـتـان کې د بـا سوادو شمېر بې خي لـږ او د بې سوادو شمېر بـېخي ډېـر دی او عامـه خـلـک هم د ژونـد پـه اساسي مـشکـلـونـو بـانـدې اخـتـه دي. د دغې سترې فـاجعې اصلي عامـلان اول د خـلـقـي حکومت او بـیـا د پـرچـمـي رجیم دي. دوی دواړه د نـــورو خیـــانـتونـو پـــه ډلـه کې د افـغـان متـوسطې تـعـلـیم کـړې طبقې پـه لـه مـېـنـځ نـه وړلـو کې پـه اولـه درجـه مـســوول دي. پـــه دې چـــې دوی پـــه زرګـونـو تـعـلـیم کـړي افـغـانـان د ښوونـځیو لـه شاګـردانـو نـه نـیولې د پوهنـتـون او نـورو عالي موسسومحـصلانـو او استادانـو پـــورې او داســـې هـــم نـــور دمـــوکـرات او ازادي پـال او د فـن او کـمـال خاونـدان یـا ووژل یـا بـنـدي کـړل یـا پـه فـرار لـه وطن نـه مجبـور کـړل. اسلامـي تـنـظیمونـو او طالـبانـو بـیـا دغه چـنګېز ډولـه پـروسه تـر اخره پـورې ورسولـه. لـه بـلې خوا اوس پـه افـغـانـسـتـان کې وضع داسې هم نـه ده چې افـراد دې د بـرحـال حکومت پـه بـرابـر کې د حکومت کـولـو او انـتـخـابـاتـو لـه لارې د واکـمن کـېدو بـدیـل فـکـرونـه او نـقـشې پـه ازادۍ سـره وړانـــدې کـــړي. پـــه کـراتـــو اور بـدل شوي چې پـه د غې پـه اصطلاح "لـبرالـي دمـوکـراسۍ" دورې کې لـیکـوالان، منـتـقـدان او اخـبـاري چـلـوونـکي هم پـه کـابـل او هم لـه کـابـل نـه د بـانـدې پـه نـورو ولایـتـونـو کې د حکومتي عـمـالـو لـه

خوا شړل شوي دي، نو په داسې حال کې چې ژوند مصون نه وي، قانوني محکمې او پولیسي قواوې د افرادو مصونیت خوندي کولی ونه شي، د سیاسي ګوندونو میدان ته وتل به اسان نه وي. په تېره د هغو ګوندونو مېدان ته وتل چې بې ملاتړه وي، په څرګند توب، ازادۍ او دموکراسۍ باندې عقیده لري. البته سیاسي فعالیتونه به وي خو هغه به پټ او هغو ته منحصر وي چې وسله وال ملاتړان لري، له باندنیو الهام او پېسې ترلاسه کوي، په دموکراسۍ، انتخاباتو او ولس واکې عقیده نه لري او مقصد یې د موجود نظام تخریب وي.

پوښتنه: د دې لپاره چې په افغانستان کې اعتدالي او دموکرات قوتونه پیاوړي شي، څه باید وشي؟

ځواب: د دې لپاره چې د موکرات قوتونه پیاوړي شي او د هر فرد لپاره څرګند سیاسي فعالیت میسر وي، د لنډې او اوږدې مودې پروګرامونه باید عملي شي.

په دموکراسۍ کې ګوندی ژوند حتمي وي، نو د ګوندونو قانون باید وایستل شي، هغه به ډېر شرطونه ولري چې یو څو اساسي یې زما په فکر باید دا وي چې د ګوندونو تمویل او د عوایدو منبع دې یوازې او یوازې افغاني وي. هر ګوند دې د دې لپاره چې په قانوني ډول ګوند شي، باید په محکمه کې ومني چې مقصد ته د رسېدو لپاره به له تشدد، زور او ترور نه کار نه اخلي. هیڅ ګوند دې له دغسې افرادو نه جوړ نه وي چې یوه قوم، یوه محل، یوه مذهب او یوې ژبې او یوه جنس ته منحصر وي، خو سرغړونکې دې یوازې د محکمې له لارې نه د حکومت د بلې څانګې له خوا تر پوښتنې لاندې ونیول شي او د ملامت کېدو

په حال کې په جزا ورسول شي. د اوږدې مودې پروګرام دې د نوي نسل روزل کېدل وي، د عصري پوهنې له لارې، د دې مانا دا کېږي چې حکومت دې هم پخپله او هم شتمن او پوهنپال افغانان وهڅوي چې د عصري پوهنې، ساینس اوټیکنالوجۍ مرکزونه جوړکړي، داسې دې باندنیو ته هم د قانون له مخې اجازه وي چې که وغواړي د لوړې زده کړې موسسې په افغانستان کې پرانیزي، خو پوهنه او زده کړه دې انتقادي، دموکراتیکه او واقعي وي. د افغانانو د ژغورنې، واقعي پرمختګ او ښه او سالم ژوند اساسي لار د دغسې پوهنې لرل دي.

پوښتنه: ایا ستاسې په فکر به د پخوانیو ګوندونو او تنظیمونو لویانو او مهم کدرونو له خپلو تېروتنو څخه عبرت اخیستی وي چې له استبدادي اعمالو نه ډډه وکړي او له دموکراتانو سره دموکراسي د بېخ نیولو لپاره په یوه لاره روان شي؟

ځواب: دغې پوښتنې ته په دقیق ډول ځواب ورکول کېدلی نه شي. انسانان د شرایطو په اوړېدو سره خپلو نظرونو ویناوو او کړو ته هم تغییر ورکوي. شاید خپلو هدفونو ته تغییر ورنکړي. په عمومي ډول متعهد کسان له خپل هدف نه نه تېرېږي، هغه ته د رسېدلو لارې اړوي. په افغانستان کې خو اوس هر یو د دموکراسۍ نارې وهي، حتی هغوی هم چې یو وخت د هغه مخالف وو او د خپل اقتدار په وخت کې یې د دموکراسۍ په مخالفت کارونه وکړل، دا چې دوی به په رښتیا لکه هسې چې نارې وهي، دموکراسي منلې وي، خپل فکرونه اړول وي، په دموکراتو ارزښتونو معتقد شوي وي، زه څه ویلی نه شم، خو تجربو ښوولې چې څوک چې په یوې ټاکلې

ایډیالوجی عقیده لري او ایډیالوجي یې ورته سپېڅلې وي، دی ورته تر دې حده پورې جذمي او ټینګ وي چې د هغې د عملي کولو او واقعي کولو لپاره له هیڅ ډول عمل نه اخلاقي وي یا غیر اخلاقي مخ نه اړوي. دا چې دغسې کسان په افغانستان کې وهڅول شي چې د دموکراسۍ د پیاوړي کېدو لپاره له نورو سره لاس یو کړي. دا به بېځایه توقع وي. خو دا به عملي وي چې هر څوک باید مکلف وګرځول شي چې خپل اجتماعي اعمال د قانون په مطابق وکړي اوکه یې ونه کړي، باید په محکمه کې په قانوني ډول تر پوښتنې لاندې ونیول شي.

پوښتنه: د دې لپاره چې د دموکراسۍ د مخالفانو او ورانوونکو عناصرو او ډلو ټپلو میلانو نه محدود شي، باید څه وشي؟

ځواب: د دې پوښتنې ځواب به دا وي چې د افغانستان د خلکو ژوند په مادي او معنوي لحاظ ښه شي، حکومت د قانون پر اساس یانې په مشروع ډول له سالمو، متقي او لایقو اشخاصو نه جوړ وي، په قانوني ډول حکومت وکړي، قانوني محکمې فعالې او اغیزمنې وي او د هېواد له ټولو اشخاصو سره بې له امتیاز او

# نهم څپرکی

# د دوو ملګرو په یاد

# د اروا ښاد غريبيار په ياد

## جون ۲۷-۲۰۰۷

اوس هم زما زړه ته نه لوېږي چې غريبيار به مړ وي او خيال کوم چې هغه به په کله راډو يا کابل کې چکر وهي، خو تريخ واقعيت دا دی چې هغه له موږ نه تللی او له بده مرغه بې له خدای په امانۍ نه او د تل لپاره داسې نه ده چې هغه تللی او موږ تلپاتي يو. د شاعر ساحل په وينا:

"د يارانو کډې ګور
ته وار په وار ځي"

دا ځکه چې هيڅ انسان او په واقع کې هيڅ روح وال تلپاتی نه دی، خو د لته يوه غټه خبره شته او هغه دا چې څوک په طبيعي مرګ سره له مېنځه ځي او څوک له مېنځه وړل کېږي لکه په افغانستان کې چې په تېرو دېرشو کلونو کې بېخي ډېر افغانان له مېنځه وړل شوي دي چې په هغو کې به ستاسې خپلوان او دوستان هم وي لکه زما چې و، نو دا پر ځای ده چې اروا ښاد عبدالحی حبيبي د دغې اوږدې لومړنۍ لنډه دوره "سره و با" نومولې ده، خو دا هم حقيقت دی چې ټول هغوی چې له مېنځه تللي او يا له مېنځه وړل شوي دي، هېر شوي نه دي او نه به هېر شي. نزدې ټولو ميراثونه پرې ايښي دي. د ځينو ميراثونه تر دې حده پورې قوي دي چې د هغو له لارې له خپلو ګورونو نه هم پر انسانانو حکومت کوي نو انسان که څه هم عمر يې اوږد نه دی، د ډېر لوړ قوت خاوند دی، حتی

د مړینې په حال کې هم.
غریبیار هم ډېر څه پرې ایښي دي چې په هغو سره به لاهم یادېږي. اول خو یې له مېرمنې سره په ګډه اته اولاده او یو شمېر لمسیان او لمسیانې دي. د ده بل میراث د ده آثار دي، د یو څو کتابونو او مقالو په بڼه. د ده دغه میراث تلپاتي کېدلی شي. د دغو ټولو ترڅنګه د یوه شخص په توګه پخپله غریبیار هم دی.
غریبیار د یوه محدود چوکاټ شخص نه و، هغه ازادفکره او پراخ فکره انسان و. له دې امله یې د ملګرتوب دایره ښه پراخه وه. د ده د ملګرتوب دغه کړی له دې امله هم ښه ارته وه چې غریبیار روغ افغان، ټینګ پښتون او په هېواد او خپلواکۍ مَین انسان و. د ازادۍ په لار کې یې بندي خانه تېره کړې او د وطن او خپلواکۍ په لار کې یې ربړونه ګاللي دي. د ده د دغو صفتونو له امله ده چې موږ دلته د هغه په یاد راغونډ شوي یو، خو موږ باید دده له مړینې نه یو څه زده کړه وکړو.
لومړی دا چې د ژوند او مړینې ترمېنځ واټن ډېر لنډ دی. په دغه لوړه درجه تخنیکي هېواد کې هم چې که څه هم دلته د عمر متوسطه اندازه په نسبي ډول ښه لوړه ده. ژوند بیا هم د سترګو په رپ کې ناژوندکېدلی شي. په دغه حال کې به ډېر مهم درس دا وي چې ژوند ته د ځان وي یا د نورو، په درنه سترګه وګورو د هغو ژوند چې په طبیعي ډول له مېنځه ځي په سړه سینه وزغمو او د هغو چې په قصدي ډول له مېنځه وړل کېږي، په ټول قدرت سره محکوم کړو او زړونه خپه نه کړو، هغه هم په وړو وړو خبرو سره. بله دا چې کوښښ وکړو چې څه وخت مرو باید د یادونې وړ او

حتی تلپاتی میراث مو پرې ایښی وي. په پای کې د اراو ښاد سیداګل غریب یار کورنۍ ته خپل تسلیت وړاندې کوم او د هغه روح ته دعا استوم.

# د اروا ښاد زماني صاحب په یاد

## جون ۹-۲۰۰۶

د ټینګې او استقامت خاوندان له ستونزو سره پنجه نرموي او له دغسې مقابلې نه عبرت، بصیرت او زده کړه ترلاسه کوي. اروا ښاد محمد هاشم زماني چې دیارلس کاله یې د دهمزنګ په زندان کې تېر کړي، له دغسې انسانانو نه دی.

دی په کال ۱۹٤٥ کې چې د شپاړسو کلونو و، د خپل پلار اروا ښاد میرزمان خان د لوی کهول له څه باندې سلو ماشومانو، تنکیو ځوانانو، ښځو او نارینه وو سره د هغه وخت د مشرقي د ولایت د تنظیمي رئیس سردار محمد داود په یوې ټوټې کاغذ باندې لیکلي شوي امر سره له خپل اصلي ټاټوبي، کونړ نه د غټې عسکري قوې په ملګرتیا په لاریو کې کابل ته د جشن د سېل کولو په نامه روان کړل شو، خو هلته د دوی نارینه د دهمزنګ په زندان کې کوټه قلفي شول او ښځې او ماشومان یې د کابل ولایت د ښځو محبس ته وسپارل شول. دا چې حکومت ولې دوی بندي کړل، دوی ته ونه ویل شول، شاید ویلي یې نه شوه، ځکه چې د عمر او جنس په لحاظ د غومره ډېر او سره متفاوت انسانان دغسې جرمي عمل په ګډه کولی نه شي چې د هغه له امله یې امنیتي چارواکي ونیسي او د قانون له مخې یې په محکمه کې محاکمه کړي. د دغومره ډېرو افغانانو نیول لا په دغسې حال کې وو چې ملت د اساسي قانون له مخې د غه حق د ځان کړی و چې "حریت

شخصیه از هر گونه تعرض مصون است،
هیچکس بدون امر شرعي و اصولنامه های
موضوعه توقیف و مجازات نمیشود". نو
ویل کېدلی شي چې دا پوره یوه سیاسي
او امنیتي موضوع وه.
کاشکي ارواښاد زماني د خپل زنداني
خاطرات په کتاب کې دغه موضوع روښانه
کړې وای. سره له دې هم ددغې موضوع په
اړه ګړېدل به ګران نه وي. د دغې
کورنۍ سرخېل ارواښاد میرزمان خان د
خپلواکۍ په جګړه کې پخپلې مېړانې سره
ځان په پاچا امان الله ګران کړی او بیا د
ژوند تر پایه د هغه ټینګ پلوی پاتې
شوی و، خو د نوي حکومت د سردار محمد
هاشم په اوږدې صدراعظمۍ کې دپاچا
نادر خان له وژل کېدو نه وروسته د
امیر عبدالرحمن خان دوختو د دهمزنګ
په زندان کې د پاچا امان الله پلویان د
هغه د سلماني په ګډون له سپږو، وږږو،
لوږې، ناروغیو او کړولو سره په مخامخ
کولو سره تر دې حده پورې عصبي کړي وو
چې ځینو یې برالا د پېغمبرۍ دعوې
کولې.
د ارواښاد زماني د بندي کېدو په
وخت کې د کونړ خلک د حکومتي زور
زیاتي په برابر کې جګ شوي وو چې
حکومت هغه دهمدغه سردار محمدداود له
لارې په پوره بې رحمۍ سره وځپل. له
بده مرغه دغه پېښه تر اوسه هم کوم
کونړي بیان کړې نه ده. کوم څه چې
څرګند دي دا دي چې حکومت په هغه وخت
کې هم د ارواښاد میرزمان خان کورنۍ،
هم د کونړ ساپي مشران اوهم د ارواښاد
ملک قیس خوګیاڼي کورنۍ د قانون او
شریعت پر خلاف په وچ زور اول د یارلس
کاله په بندکې وساتل او بیا یې اته
کاله هرات، شبرغان او مېمنې ته تبعید
کړل او په دې ډول یې پخپل اصلي

ټاټوبي کې له ژوند کولو نه چې د هغوی طبیعي او قانوني حق و، محروم کړل. بې له دې چې هغو کوم جرم کړی وي، یا په کوم جرم تورن شوي وي.

د محمد داود لکه چې له ننګرهاریو سره جوړ نه و، ځکه د جمهوریت په وخت کې یې هم ارواښاد محمدهاشم میوندوال، مرستیال خان محمدخان او ماما زرغون شاه ته د پرچمي چارواکو له خوا په جوړې شوې توطیې کې د ځلوېښتو په شاوخوا کې دننګرهار لوړ رتبه او هېوادپال او لایق نظامي افسران او نور مشران وځپل. محمد داود په افغانستان کې لوی سمونونه عملي کړي، خو په دې کې شک نشته چې هغه په دغو یادو شویو ننګرهاریو باندې غټ ظلمونه کړي او شاید د همدغه ظلم له امله به وو چې د شنوارو او کونړ نظامي افسرانو د هغه د جمهوریت په نسکورولو کې برخه اخیسته وه.

خو له ظلم او زور زیاتي سره په مقابله کې د ارواښاد زماني لار دماغي او فکري وه او دی پر دې معتقد و چې که له دماغ نه کار اخیستل کېږي د هغه قوتونه نه تمامېدونکي وي. له همدې امله به و چې ده د دهمزنګ زندان دغ سې کاته لکه د ده لپاره پوهنتون وي. ده هلته له نامتو مشروطه غوښتونکو بندیانو لکه بابا عبدالعزیز کندهاري، سرور جویا او نورو نه زده کړه وکړه او په شعر ویلو یې پیل وکړ. ده له دماغ نه دګټې وچتولو لار یې د ژوند تر پایه پورې په ټینګه ونیوله او یو شمېر اثرونه یې هم وکښل. لیکنې او شعرونه به یې د استادۍ په درجه نه وي، خو دی په دې پوه و چې دغه لار د لایتناهي ظرفیت لرونکي او نه لاندې کېدونکي دماغ نه د استفادې ډېره مهمه

لار ده. څوک چې د دهمزنگ غونډې زندان په سخت حال کې چې هلته ژوندي پاتې کېدل د بندي اصلي مصروفیت وي، په دماغي انکشاف پسې گرځي، هغه هدفناک ژوند غواړي. د هدفناک ژوند خاصه اجتماعي کېدل او په ملي هدف پسې گرځېدل وي او اروابښاد زماني دغسې ژوند غوره کړی او په هغه کې یې نوم ایستلی و. د هغه د هدفناک ژوند بېلگه دغه غونډه ده چې موږ او تاسې د هغه په لومړي تلین کې دلته سره راغونډ شوي یو. په دغو صفتونو بر سېره د استقامت او ټینگې صفت دی چې اروابښاد زماني ترېنه پوره بهره من و. سره له دې چې دی د ژوند په وروستیو کلونو کې د ستروک له امله معیوب او د نورو په مرستې متکي شوی و، هیڅ ناهیلې شوی نه و او چا چې به پوښته ویل به یې چې پهلواني کوم. البته په دې برخه کې د هغه کورنۍ په تېره د هغه درنه مېرمن د هغه کلکه مرستندویه او روحي اړم و. دوی ټول د قدر وړ دي چې د معیوب او لوېدلي زماني خدمت یې په مینه کړی او په دې برخه کې نورو ته سرمشق شوي دي. د اروابښاد محمدهاشم زماني نوم دې تلپاتې وي.

لسم څپرکی

# د نورو لیکوالو او شاعرانو د اثرونو ارزونه

درد دل مرحوم
پوهاند حبیبی

# نومبر ۱۹۹۹

نه تنها اکثر مردم قندهار، بلکه فرهنگی های معاصر افغان و دانشمندان افغان شناس کشور های مجاور و جهان غرب مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبی (۱۲۸۹-۱۲٦۳/۱۹۱۰-۱۹۸٤) را می شناسند که یک مورخ، ادیب، زبان شناس ونامه نگار نامی افغانستان معاصر بود،ولی شاید کمتر اشخاص از شاعری موصوف در هر دو لسان پشتو و دری آگاهی داشته باشند.
اکثر پشتونها در جوانی شعر میگویند ولی با مروز زمان فقط عده معدودی به شعر و شاعری دوام میدهند و دیگران پیشه های مشابه دیگری را اختیار میکنند. این حال بر مرحوم پوهاند حبیبی هم کم و بیش صدق میکند. درد دل که گزیده اشعار دری موصوف میباشد دوره اولی زندگی او را تا ۱۹٤۷/۱۳۲٦ در بر میگیرد. گر چه موصوف بعد از آن هم شعر گفته ولی درین دوره تا وفات خود در ۱۹٤۸/۱۳٦۳ عمدتا در تاریخ نویسی بمفهوم و سیعی اشتغال داشته است، در عین حال که تعدادی ازموسسات علمی، نامه نگاری و فرهنگی و تربیتی را اداره کرده و هم زمانی در سیاست عملی نقشی ادا نموده است. محصولات فکری یا اثار موصوف در رشته های یاد شده فوق الذکر در شکل مقاله ها، رساله ها و کتاب ها در دری و پشتو برای من از حساب بیرون است. این اثار محصول فکر کسی است که تحصیل منظم رسمی بیش تر از شش سال نداشت، ولی تا اخیر حیات خود پیوسته طالب العلمی نمود. درین مشغله در دوره اول حیات در زادگاه خود در قندهار از علمای جید اموخت و بعد عمدتا در کابل

وهم در ایران و پاکستان با دانشمندان کشور، منطقه وجهان در چنان سمینار ها سهم گرفت که ثقافت، تاریخ و زبان یعنی مظاهر تولیدات انسانی و هویتی موضوعات بحث را تشکیل میداد. با استفاده از حافظهٔ سرشار، مخیله قوی و مساعی پیگیر وهمچنان از طریق زبان های انگریزي و عربی از چنین مجامع علمی وسیعا استفاده نمود و جهان بینی خود را وسعت بخشید او هم چنان در جستجوی نسخه های قلمی قدیمی برامد وانچه یافت با نشر آن و انضمام حواشی، تفسیرها و تحلیلات خود بر آنها زبان مادری خود، پشتو را غنی تر ساخت. در زمینه کشفیات هم پیش کرد که مورد قبول تمام دانشمندان تا کنون واقع نگردیده است.

مشغولیت فکری موصوف موضوعات مختلف فرهنگ و تاریخ افغانستان و همچنان ادبیات و اشعار کلاسیک زبان پشتو را تشکیل میدهد. عمدتا در نتیجه کوشش های علمی و اقران او است که افغانستان شناسی در قرن بیستم ابعاد بیش تر پیدا کرد. موصوف شاید درجهت کسب علم و شناسائی آن بدیگران دانشمند افغان کم نظیر در همین قرن بوده باشد. پس بیجا نیست گفته شود که مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبی ازجمله آن دانشمندان ممتاز افغان میباشد که در حیات اجتماعی و سیاسي اثر بجا گذاشت و با اثار بیحساب علمی مقام خود را در تاریخ فرهنگی افغان برای همیشه ثبت نمود.

درد دل تراوش ذهنی دوره سی وهفت سال اول زندگی مرحوم حبیبی در قندهار و کابل میباشد. موصوف در این دوره که با علمای جید قندهار محشور بود اساسات تعلیمات اسلامي، فلسفه و تصوف

را اموخت و از آثار علما و شعرای کلاسیک استفاده نمود. درین دوره بیش تر از دوره ۳۷ ساله دوم زندگی اش تفکر و تحلیل او انچنانکه از اشعارش معلوم میگردد از روی قالب و سر مشق مفاهیم اسلام عنعنوی سر و صورت گرفته و بهمین سبب است که موضوعات ومفاهیم اسلامی در اشعارش متبارز تر میباشد. اینکه موصوف این مجموعه شعری خود را به "مسلمان کنونی" تقدیم نموده این حقیقت را نشان میدهد. در زمینه تا جایی پیش رفته است که خوش بینی از حد زیاد را نثار مسلمان نموده است.

از تو آمد راه و رسم بهتری
نوع انسان را تو دادی برتری
تخم انصاف ومروت کاشتی!
ابن ادم را تو دادی اشتی
از تو شد گم اختلاف آب و خاک
ادمیت را کشیدی از مغاک
از تو روشن چهر عدل و رحم و داد
ای مسلمان! ایزدت رحمت کناد!

این صرف یک نمونه از موضوعات مشابه زیاد اسلامی از اشعار اولی وی بشمار میرود که شاید همه آن معرف ذهنیت مسلط در نیمه اول قرن بیستم در قندهار بوده باشد. نتیجه منطقی این نوع ذهنیت این میشود که در حق اروپا یا بعبارت دقیق تر اروپای غربی که

ممثل اصلی عید سویت دانسته مید شود و قرن‌ها بر مشرق زمین بشمول کشورهای اسلامی سایه استعماری افگنده بود، روحیه انتقادی نشان داده شود مثلیکه شاعر حبیبی در همین بخش انتقاد خود با الهام از شعرا ومتفکرین کلاسیک بخصوص متفکرینی که شرقیان را تنویر نموده است، چنین کرده است. بایندصورت مرحوم پوهاند حبیبی حلقه سلسله تفکر عنعنوی اسلامی خوانده شده میتوانند. اما موصوف باین خلاصه نمیشود زیرا او هم بمثل انسان های دیگر ابعاد وجودی داشت بطوریکه حفظ و بقای آن را در وجود افغان وابسته میدانست و برای این کار بر وحدت و نظام مشترک اصرار مینمود که در نظرش علت العلل سعادت افغان میباشد. باین منظور پیام های پیر روشان خوشحال خان ختک و احمدشاه درانی را که از جمله موسسین افغانستان میباشند در همین اشعار رسانیده است و "ملت افغان" را اینطور معرفی نموده است.

در میان اسیا، قومی است حر
قلب او از مهر یزدانی است پر
مردمانش را مناعت بس که هست
چرخ گردون را همی دانند پست
اهن افرنگ در دستش گداخت
حق زتیغ او بلند اوازه ساخت
سخت کوش و راست خوی و پاک دل
همچو او نامد بدور آب و گل

در زمان بندگی
آزاده خو
قهرمانان را
نکردی سر فرو
گر چه
اسکندر بیامد
با شکوه
فر او افزود
یونانی گروه
گر چه چنگیز و
تِمر تازید سخت
اسیا را هم نگون
گردید بخت
نام اقوام از رخ
گیتی زدود
در نشیب افتاد
قومی سرفراز
لیک در کهسار
قلب اسیا
بود افغانی چو
کوه خود بپا

در همین سلسله پیام هایی دارد بنام جنگ با استبداد و ازادی واستقلال در مثنوی پیغام شهید که در سال ۱۹۳۱/۱۳۱۰ در جریدهٔ طلوع افغان نشر شده به قوم پشتون خود هم پیامی دارد:

بشنو ای پشتون با
صدق و صفا!
حافظ کهسار قلب
اسیا!
کر بزرکی
خواهی و
ازادگی
یا چو اسلاف
غیورت زندگی
اولا پشتو
لسانت زنده ساز

هم برین شالوده
کاخت بر فراز
قصر ملیت
بران تعمیر
کن!
تا توانی تکیه
بر شمشیر کن!
ای نژاد پاک و قوم
نامور!
در عروقت جوشش
خون پدر !
گویمت از نکته های
زندگی
گر تو داری
ادعای زندگی
پس لسانت رکن
ملیت شمار
در رهٔ احیای آن
همت گمار

چنین معلوم میشود که مرحوم پوهاند حبیبی در واقع پشتون امروز را از اجرای این نوع کارنامه ناتوان میدید چون وی را بفکر دیگران باین الفاظ هم یاد میکند.

"وای قومی
کشتهٔ تدبیر
غیر
کار اوتخریب
خود تعمیر غیر"

همین فکر در سالهای اخیر زندگی مرحوم پوهاند حبیبی از طرف قومی های خودش بنام خلقي ها که با الهام از استعمار سرخ عمل مینمودند در وطن مالوف خودش در عمل پیاده میشد که وی در شعر پشتو بنام " سره و با" چنین ترسیم مینماید:

چې ګله په وطن شوه سره

وبا کلي په کلي
د خدای مسلمانان يې کړل
تبا کلي په کلي
مرگو ده رابللې، دې
ددانو مرتدانو
په پــــای کــــې زه د شــــاعر انجنیــــر عبدالوکیل متین د شعرونو د غه ټولگه یوه ارزښتناکه پانگه بولم چې په خاص ډول د هغه د احساس،خیال او فکر او په عــــام ډول د پښــــتون ولــــس د کلتــــوري ارزښتونو یوه آیینه ده او هیله کوم چې دی به پخپلې شاعرۍ سره خپله پښتو نوره هم شتمنه کړي.

# د ښاغلي باوري نوښت

## دسمبر ۲۰۰٦

محترم پیرمحمد باوري له ما نه وغوښتل چې د ده د یوه بې مثاله اثر په اړه یو څه ولیکم. دغه اثر د خندا په نامه د ټوکو ټکالو دریم ټوک دی چې د لوستونکي په لاس کې دی. دا په دغه لړ کې د پښتنو د ټوکو ټکالو دریېمه ټولګه ده چې ده راټول کړي او خپاره کړي دي. ما د ده دخندا دویم ټوک لوستلی چې په کال ۲۰۰٤ کې یې په کوټه کې چاپ او خپور کړی دی.

تر هغه ځایه چې ما ته معلومه ده ښاغلی باوري لومړنی پښتون دی چې په دغه نوښت یې لاس پورې کړی دی. د یوه ولس ټوکې ټکالې او له ظرافت نه ډکې وېناوې ټولول او بیا په هغه ډول چې په ولس کې ویلې کېږي لیکل او خپرول اسان کار نه دی. خلک په ټوکو ټکالو کې د ژوندانه په هر اړخ ګړېږي او په ویلو کې یې خنډ او قید نه مني. په رښتیا هم څنګه چې د هغو ویونکي، د لنډیو د ویونکو په شان مشخص نه وي، دغه وینا وې ازادې، رښتیا، انتقادي او خوندورې وي، نو دغسې وېناوې د یوه ولس رښتیاني معرف کېدلی شي، خو د هغو ټولول او خپرول هغسې اسان نه وي لکه ویل یې چې وي.

لومړی ستونزه د هغو ټولول دي. یو څوک باید د هغو له ټولو سره د زړه مینه ولري چې ټولولو ته یې وهڅوي، که یو څوک دهغو له ټولولو سره مینه هم

ولري، پخپله ټولول يې يو ستونزناک کار دی. هر ولس ټوکې ټکالې لري، په تېره هغه ولس چې تاريخ يې اوږد او کلتور يې شمتن وي، لکه د افغان ولس او په هغو کې پښتانه، نو د ټوکو ټولو لو يوه پروسه کېږي چې پای نه لري. ښاغلي باوري اوس په دغې پروسې پيل کړی دی. باور دی چې له ده سره به داسې ټوکې ډېرې وي چې خپرول به يې اوس مصلحت نه ګڼي ځکه ز موږ کلتور هغومره چې شتمن دی، هغومره ځپونکی هم دی، نو ښاغلی باوري به انتخاب کړی وي.

څنګه چې ټوکې د ژوندانه د هر اړخ او داسې هم د ښځو، ناريـنه، ملايانو، پيرانو،زامنو، پلرونو او نورو په اړه وي او په عمـومي ډول د يـوه ولـس د ذهني، فکري او تخيلي خوا او د ژوند سطح انعکاس کوي، نو يو ځپونکی کلتور لکه د پښتنو يې نه مني چې ټول هغه څه چې خلک يې پخپلو کې په پوره ازادۍ سره وا يي، ټولنې ته په ليکلي ډول وړاندې شي. له همدې امله ده چې په موږ پښتنو کې د وينا او ليکنې ترمېنځ توپير ډېر او ژور دی او ليکوالان يوازې هغه څه په ليکلوکې وړاندې کوي چې ولس يې د هضمولو توان لري. هيڅ پښتون، نه هيڅ افغان تر اوسه ټول هغه څه په ليکلي ډول نورو ته نه دي وړاندې کړي چې په دماغ کې يې دي. له همدې امله به وي چې د افغانانو پېژندل يو ډېر ګران کار دی او موږ خيال کوو چې يو بل سره پېژنو. دغه حال به له بده مرغه تر هغو وي يا تر ډېره حده پورې تر هغو وي چې پښتانه د زغم او فکري ازادۍ خاوندان شي او يو څوک چې په ښه نيت څه وايي او ليکي تر پوښتنې لاندې ونه نيول شي، خو په هغه

حال کې چې قانون يې تر پښو لاندې کړی وي.
د ښاغلي باوري د خندا دويم ټوک ماته گټور و، فکر کوم چې دغه ټوک به يې هم گټور او خوندور وي. زه ځکه ته ځکه "گټور" وايم چې د وگړو په ژبه دغسې څه پکې خوندي شوي دي."يوه سړي و تازي سپي ته وويل چې ته ولې هوسۍ نه شې نيولای، داسې ښه ډوډۍ هم خورې او ښه چابک هم يې؟ ده په ځواب کې ورته وويل چې دا په دې خاطر چې زه د بل چا لپاره ځغلم او هوسۍ د ځان لپاره ".
"خوندور" په دې چې په دغې ټولگې کې هم د ولس د ژوند حال او هم ظرافت شته، لکه په دغې ټوکې کې: "يو سړی کور ته راغی که گوري زوی يې د وچې ډوډۍ سره پياز او مرچ خوري، پلار يې پر نارې کړې چې څه کوې، په يوه ورځ دوه قطعه خوري". په دغې ټولگې کې انتقادي فکرونه هم لږ نه دي. "يوه ځوان چې غوښتل د يوه ډاکټر له لور سره کوزده وکړي، ډاکټر پوښتنه ورڅخه وکړه.
(کله کله دروغ وايې؟)
(نه هيڅ کله نه)
(تر اوسه دې څو ځلې غلا کړې ده؟)
(غلآ مې نه ده کړې)
(څوک دې وژلي دي؟)
هلک وارخطآ شو او ورته يې ويل، نه صاحب! زه خو ډآکټر نه يم!))
يا دا چې:
د تاريخ معلم د شاگرد څخه پوښتنه وکړه: احمدشاه بابا څنگه پادشاه و؟)
شاگرد چې په هيڅ شي نه پوهېده، نو ويې ويل: (ماته مې خپل پلار نصيحت کړی چې په مړو پسې خبرې ونه کړې!)
زۀ د ښاغلي باوري دغه نوښت ته په درنه سترگه گورم او ورنه هيله کوم چې

هغه ته دوام ورکړي، تر څو د هغه په دغه زیار سره زموږ د ولس وګړو فکري، ذهني او ظرافتي استعداد او شتمني په کلمو کې خوندي وي او لوستونکي یې په لوستلو سره خوښ او له ده نه مشکور وي.

په درنښت

## یـولـسم څپـرکی

# بـېلـې بـېلـې لـیکـنې

# د افغانستان وضع د اندېښنې وړ ده

## مې ٢٠٠٤

د طالبانو په نسکورېدلو سره جوخت دغه فکر خپور شو چې تياره لاړه او رڼا راتلونکې ده. له هغه وخت نه تر اوسه پورې دوه نيم کاله تېر شوي، خو هغسې چې ويل کېدل هغسې شوي نه دي. اوس هم وعده ورکوله کېږي چې افغانستان به په اوږده موده کې د جنوبي کوريا په شان اباد او عدن بڼ به ترېنه جوړ شي، خو د اوږدې مودې و عدې تر سره کېدل اوږ وخت غواړي، هغه هم که ترسره شي او په اوږده وخت کې به موږ او تاسې نه اوسو.

دوه نيم کاله ډېر وخت دی، د دوه نيمو کلونو په پای کې اوس د هېواد وضع څنګه ده؟ په دې کې شک نشته چې اوس وضع د طالبانو تر وخت نه ډېره ښه ده، خو ډاډمنه نه ده، سره له دې چې ويل کېږي تر اوسه پورې له دېرش زرو مليونو ډالرو نه ډېر په افغانستان باندې لګېدلي دي. په دغې لنډې ليکنې کې د موضوع ټول اړخونه سپړدول کېدلی نه شي، نو زه به دلته د موضوع په هغه اړخ وغږېږم چې هغې ته د سندان حېثيت لري چې هغه سياسي موضوع ده.

افغانستان اوس اساسي قانون لري، مرکزي حکومت لري، ايالتي حکومتونه لري، پوځ لري، پوليس لري، قضايي محکمې لري، ازاد مطبوعات او سياسي ګوندونه لري او په دغې مودې کې دوه ځلې لويې جرګې بللې شوې دي، خو دا

ټول لېږ و ډېر په نامه دي او واقعیت بل څه دی.
د حکومت تر څنګه یا د حکومت دپاسه بهرنیان دي او دغه بهرونیان د افغانستان لپاره اساسي پرېکړې کوي او هغه د خپل پوځ له لارې عملي کوي. په افغانستان کې د امریکې شل زره پوځ ځای پر ځای دی. د ناټو شپږ زره عسکر پراته دي. دغه پوځونه په هېواد کې یو ځای بل ځای خواره دي. پخپل سر یانې د حکومت له مشورې نه پرته په نېغ ډول کورونه لټوي او د ((القاعدې)) او ((طالبانو)) په نامه کسان بندي کوي، تر تحقیق لاندې یې نیسي او په دې ډول پخپل فکر امنیت خوندي کوي. په بله ژبه دوی هغه کارونه کوي چې د افغان حکومت یې باید وکړي. په دې ډول د افغان حکومت خپلواک نه دی، نو چې حکومت خپلواک نه وي، اغیزمن کېدلی نه شي. په دغسې حال کې حکومت چارې هغسې چې ښایي ترسره یې کړي، ترسره کولی نه شي. که د بهرنیانو مطلب په افغانستان د کرارۍ خوندي کول وي، دوی باید د افغان حکومت له پیاوړي کېدلو سره مرسته وکړي، نه دا چې په نېغ عمل کولو سره هغه بې اعتباره کړي. د حکومت بې اعتباره کول ناوړې پایلې لري. یوازې دا هم نه ده.
بل بېښکي ټکی حکومتي ترکیب دی چې غېر متجانس دی. د غه حکومت په لوړه سویه د سیاسي مصلحت له مخې جوړ شوی نه د وړتیا د اصل له مخې. وزیران چې په اساسي موضوع ګانو کې باید په یوه خوله وي په بېلو بېلو لارو باندې روان دي، که څه هم په خوله همدغسې وایي. دلیل یې هم څرګند دی. دوی په ټولیز ډول په بېلو ډلو او ډلګیو پورې تړلي دي او ځانله اجندا ګانې پرمخ بیایي.

دوی د سویې په لحاظ هم سره نامتجانس دي. یو څو یې د لوړو زده کړو خاوندان دي او ډېر یې له منظمې زده کړې نه بې برخې دي، نو دوی د فرقه ییز توب تر څنگه په خاص ډول قوم پالنه کوي. همدغه سبب دی چې په یوه وزارت کې ماموران په ټولیز ډول د هغه قوم، یا ژبې یا سمت دي چې پخپله وزیر ورته منسوب دی. په دې ډول په افغانستان کې اوس قومي ژبه ییز او سمتي کتنې تر ملي کتنو نه مهمې شوې دي او دا پخپله حکومت دی چې د دې په ځای چې ملي او افغاني ارزښتونه پیاوړي کړي، ډله ییز او فرقه ییز مفهومونه پیاوړي کوي او ناوړ کسان هسکوي. همدغه سبب دی چې اوس په افغانستان کې ملي وفاداري ډېره ضعیفه شوې او د هغه پرعکس قومي وفاداري لا ټینگه شوې ده. د هغه تر څنگه یوه بل راز وفاداري هم پیاوړې شوې چې هغه بېرونیو ته وفاداري ده. دغه وفاداري د افغان پالنې او وطنپالنې په بیه ممکن تر قومي وفادارۍ نه هم ملي هویت ته تاوان ورسوي.

بل اساسي ټکی د همدغه نامتجانس حکومت ناتواني ده. د حکومت ناتواني د بېرونیو په برابر کې څرگنده ده چې دمخه پرې وغږېدلم. دا هم په ضمني ډول ویل شول چې کوم هغه حکومت چې له وړ کسانو نه جوړ نه دي، پیاوړی او د اعتبار خاوند کېدلی نه شي او ولس ته خطرونه متوجه کوي. اساسي ټکی لا بل دی او هغه دا چې مرکزي حکومت په دننیو چارو کې هم هغسې نه دی چې باید وي. په بله ژبه حکومت دخپلو ماموانو له لارې خپل قانونونه پلي کولی نه شي. د دې لپاره حکومت په اصل کې هغه وسیلې په لاس کې نه لري چې په هغو سره

دغه کار وکړي. ددغو وسیلو عمده یي کافي امنیتي قوتونه، تعلیم کړي او مسلکي ماموران او کافي داخلي عایدونه دي. دغه درې عنصرونه یو په بل پورې تړلي دي.

د افغانستان مرکزي حکومت تر اوسه پورې د شپږو زرو په شاوخوا کې پوځ لري. دغه پوځ هم په اجورې سره تنظیم شوی نه د پخوا په شان د مکلفیت د اصل له مخې. په دې ډول د حکومت لپاره به گرانه وي چې کافي پوځ ولري، ځکه چې له وسلو او لوجستیکي سامانونو نه پر ته هم د دغسې کافي پوځ تنظیمول اوساتل دومره ډېر لگښت غواړي چې پوره کول به یې د حکومت په وسه کې نه وي. پر هغه برسېره د اجوره ییز پوځ عسکر اجیر ذهنیت پېدا کوي، په داسې حال کې چې مکلفیتي پوځ چې د قومونو او ټولنیزو په اندول وي ملي وي او نسبتا لږ لگښت غواړي او دولت ته دا امکان په لاس ورکوي چې د وطن د دفاع لپاره کافي پوځ ولري. د مکلفیتي یا ملي پوځ بله ښېگڼه دا ده چې بېخي ډېرو افغانانو به په ځوانۍ کې نظامي روزنه موندلې او د هېواد په دفاع به ښه پوهېږي. دا چې حکومت تر اوسه د دوو نیمو کلونو په بهیر کې د یوه واړه پوځ خاوند شوی په ظاهر کې د لگښت له امله ده، نو حکومت د دې لپاره چې د لازمي لگښت توان ولري، باید په اصل کې کافي پولي عایدونه ولري، خو حکومت د خپلې ناتوانۍ له امله خپل عایدونه د خپلو عمالو له لارې له ټول ملک نه ټولولی نه شي. په داسې حال کې چې که یو حکومت دغه کار کولی و نه شي، حکومت کېدلی نه شي. اوس د افغانستان داخلي عایدونه لږ نه وي.

افغانستان د شوروي اتحاد له

ړنګېدلو نه وروسته یو ځل بیا د ترانزیتي سوداګري لویه لاره شوې او پر هغه بر سېره د ګاونډیو هېوادونو په تېره د پاکستان او ایران د مصنوعاتو لپاره مارکیټ ګرځېدلی دی. په نتیجه کې د ځینو ولایتونو په تېره د هرات، کندهار او ننګرهار عایدونه له دغه درکه ډېر شوي دي. یوازې د هرات عایدونه د ورځې نیم ملیون ډالر اټکل شوی دی، خو مرکزي حکومت نه شي کولی چې دا او دغسې نور عایدونه د خپلو مامورانو له لارې د کوم ټاکلي فارمول له مخ ټول کړي، تر څو په هغو سره خپل لګښتونه چې ډېر دي پوره کړي او حکومت وکړي. کوم حکومت چې لږ تر لږه خپل عادي لګښتونه له خپلو دننیو عایدونو نه پوره کولی ونه شي، لکه چې دمخه مې وویل حکومت کېدلی نه شي. د حکومت دغه ناتواني ډېرې ناوړې پایلې لري چې یوه مهمه یې دا ده چې همدا اوس هم ځینې ولایتونه یا د ځینو ولایتونو سروالان پخپل سر دي. د هرات ولایت د مطبوعاتي خپرونو له مخې دېرش زره ملیشا لري او والي یې پخپل سر دی. عبدالرشید دوستم هم چې د یوه پر ځای د څو ولایتونو سروال دی، پخپل سر دی. د دوی پخپل سرتوب له دېنه هم ولاړ دی چې دوی له نفوذ ناکو بهرنیو استازو سره په نېغ ډول لیدل کتل کوي او نغدي مرستې ترلاسه کوي. که دوی پخپل سر نه وي، ممکنه نه ده چې د خپل قدرت په پراختیا پسې اوسي، له خپلو حریفانو سره وسله والې نښتې وکړي، په نښتو کې له ټانکونو نه کار واخلي او مړي پکې وکړي. په دغه حال کې هم مرکزي حکومت دوی لږ تر لږه ګوښه کولی یا تبدیلولی نه شي. اوس خو د باندنیو پوځونو د شته والي له امله دوی یاغیان کېدلی

نه شي او که باندني پوځونه نه وي د
دې امکان څه چې حتی احتمال يې ډېر دی
چې دوی د مرکزي حکومت له اطاعت نه سر
وغړوي او د داخلي جنګ يو بل دور پيل
شي او د وطن بشپړتيا په خطر کې شي.
دغې وضعې ته له دوام ورکولو نه شايد
مطلب دا وي چې په افغانستان کې د
باندنيو پوځونو د شته والي لپاره
ډېر وخت ضرورت وي.

د حکومت د مالي ناتوانۍ بله اساسي
ناوړې پايله به دا وي چې حکومت خپلو
مامورانو ته چې په هغو سره حکومت
کوي، دغومره معاش نه شي ورکولی چې د
هغوی او د هغوی د کورنيو ژوند پرې
خوندي وي. په دغه حال کې به د غه
ماموران له رسمي قدرت نه په استفادې
سره يا له بېرونيو سرچينو نه غټې
پېسې ترلاسه کوي يا به اختلاس کوي او
يا به بډې اخلي. په افغانستان کې اوس
دغه کارونه په پراخه اندازه کېږي.
په دغه جال کې به حکومتي پروګرامونه
سر ته نه رسېږي يا به په نيمګړي ډول
سرته رسېږي او په هر حال د حکومت
اعتبار او حيثيت به زيانمن کېږي.
حکومتي اعتبار لا دمخه زيانمن شوی،
نه يوازې د ولس په نظر، د بهرنيو په
نظر هم. که حکومت له وړ کسانو نه جوړ
وای او ماموران يې اړ نه وای، اعتبار
به يې پر ځای وای. اوس چې دغسې نه
دہ، بېرونيان هم پرې اعتبار نه کوي.
همدغه سبب دی چې د هېواد د بيا رغونې
لپاره چې څه مرستې کېږي د باندنيو
انجوګانو او شرکتونو له لارې کېږي، نه
پخپله د حکومت له لارې. په دې اړه
دقيق معلومات په لاس کې نشته خو دا
ويل کېدلی شي چې د مرستې او کار دغه
طرز د حکومت اهميت او اعتبار هم د
ولس او هم د بهرنيو په نظر لږ کوي او

دهغه پرعکس په وطن کې د بهرنيو نفوذ ډېروي.

په دغه حال کې به گرانه وي چې راتلونکي ملي انتخابات هم د اعتبار وړ وي چې ډېر وشي دغه انتخابات به د هغو لويو جرگو په شان وي چې د طالبانو تر نسکورېدلو نه وروسته دوه ځلې بللى شوي دي.

# زموږ شپون
## جنوري ۱۷-۲۰۰۸

د انسان نه لا ندې کېدونکي د ماغ کتاب ليکوال پروفيسر هايټ وايې چې (( موږ خپل ځانو نه، خپل ورو نه، خپلې خوينديې، مېرونه يا مايني يا ماشومان نه پيږنو، هيڅ ملګرې خپل ملګرى نه پيژني، ځان پټ وي. سره له دې هم په دغه رمز کې سترتوب او داسې هم تياره پرته ده.))

خو زه ځان له جرات ورکوم چې ووايم زه ښاغلی سعدالدين شپون پيژنم، يا فکر کوم چې يې پيژنم. زه ځکه دغسې وايم چې دى مې په اوږدې موديکې په بې لو بې لو حالاتو کې ليدلی دى، په ځوانی کې د زده کړې په وخت کې، په رسمي وخت کې، په يوازې ځان او له نورو سره په غونډو، مرکو او د جر او بحث او حتی نېشې په حال کې. په بله ژبه دى مې په دغسې وختو کې ليدلی چې هغه په آزادى، سره کولی شول هغه څه ووايي چې په دماغ کې يې تېرېدل او هغه څه وکړي چې کولی يې شول. البته ده به که څه هم آزاد فکره ليکوال دى د نورو په شان هر هغه څه نه وي ليکلي چې په زړه کې يې تېرېدل. ده هم د نورو په شان هغه څه د قلم ګوتو ته سپارلي چې افغان کلتور يا په مشخص ډول ما او تا، کورنيو، پوليس، ملايانو، روحانيانو او حکومتيانو زغملی شول. موږ يوهم دغومره زړور نه يو چې هر هغه څه د قلم ګوتو ته وسپارو چې په زړونو کې مو تېرېږي. زموږ افغانانو کلتور محدود دى. د

نورو خلکو کلتورونه هم محدود دي، په لږ او ډېر توپیر سره، خو د خوښۍ ځای دی چې د انسان د محدودیت کړۍ وار په وار نرۍ کېږي او وړوکې کېږي او د هغه پر خلاف د ازادۍ حدود وار په وار پراخېږي او په دغه تحول سره انسان نور هم ازادېږي او پوره کېږي، نو دا پر ځای ده چې وویل شي تحول د ژوندانه نه انکار کېدونکی واقعیت دی.

له هغې پېژندګلوۍ نه چې زه یې له شاغلي شپون سره لرم، ویلی شم چې د ده لو یه ځانګړتیا د ده فکري ازادي ده. دغه ازادي نه یوازې د ده په خصوصي ژوندانه کې بلکې د ده په اجتماعي ژوندانه او په خاص ډول د ده په فکري نړۍ کې ښکاره ده. له همدې امله به وي چې زموږ شپون د لوړې زده کړې نه وروسته له حکومتي کارونو نه ډډه وکړه چې هلته یو څوک د آمریت او ماموریت په ځنځیر کې نښتي وي او فکري نړۍ یې محدوده وي. زموږ شپون ډېر دمخه د شاعرۍ، لیکوالۍ، ادب او د فکر په نړۍ کې یا په بله ژبه په کلتوري نړۍ کې ننوتلی له دې امله چې هلته تر هرې بلې ساحې نه ډېره ازادي وي یا باید وي. سره له دې چې ده هم د نورو ازادي پالو په شان د ازادۍ په ملګرتوب سره سختې ستونزې هم ګاللې دي. په داسې کال کې چې یو رسمي مامور ځان په نېغ ډول د خپل حکومت غړی بولي. یو شاعر، یو لیکوال، یو ادیب او یو هنرمن په نېغ ډول ځان د خپلې ټولنې غړی احساسوي. له خلکو سره اوسېږي، له هغو نه الهام اخلي، په ارزښتونو او فکرونو یې ځان او نور پرې خبروي. دی د هغو په اړه دغسې اثار وړاندې کوي چې نوښت، نویتوب او زړه ورتیا پکې وي، خو دغسې اثار هغوی

وړا نـدې كـولـى شي چې د ازاد فـكر او ازاد وجــدان خاونــدان او د تـقـلـيـــد دښمنـان وي. دا رښـتـيـنـى هـنـرمـن دى چې تـر نـورو ډېـر لـه ټـاكـلـو كـلـتـوري پـولـو نـه اوړي او پـه دې ډول پـخـپـلـو اثـارو كې هم ځـان افـاده كـوي او هم خـپـل كـلـتـور شـمـتـن كـوي. دى پـه دې ډېـر ښه پـوهېږي چې كـه يې ځـان دننـه پـه كـلـتـوري پـولـو كې مـحدود كړ مقـلـد كـېږي او تـقـلـيـد خـو د يـوه رښـتـيـنـي هـنـرمـن لـپـاره لـكـه مـرګ وي.

زمـوږ د شـپـون اثـار چې د نـاولـونـو او لـنډو قـيـصـو پـه بـڼـه دي لـكـه شـيـن ټـاغـى، د سمڅې يـاران او ګـټـيـالـى لـه همـدغـه ډول نـه دي. د ده و، نـه و، يـو شـپـون اثـر كـه څـه هـم دهـغـه خـپـلې ژونـد پـېښې بـيـانـوي پـه اصل كې اجـتـمـاعي او د ټـولـنـيـزو پـېښو هـغـسې بـيـان دى چې پـه ده بـانـدې د فـرد پـه تـوګـه اثـر كـړى دى. پـه دې ډول شـپـون د خـپـل كـلـتـور پـه شـتـمـن كـولـو كې ونـډه لـرلـې ده. د ده دغـه ونـډه لـه دې امـلـه هم مـهـمـه ده چې د ده پـښـتـو، روانـه، رڼـه، ژونـدى او ډيـنـامـيـكـه ده او دا ځـكـه چې لـكـه چې دى پـخـپـلـه وايـي ((زه اكـثـرا پـه رډ ويـلـو او پـه خـبـرو كې پـه بې پـروايـۍ او كـلـه هم پـه بې خـرتـه ويـنـا مـشـهـور شـوى يـم)) دا چې د ده لـيـكـنې هم د مـتـن او هم د ژبې لـه نـظـره پـه زړه پـورې دي پـه اصل كې د همـدغـه رډ ويـلـو لــه امـلــه دى چــې د ده د شـخـصــيـت غـټــه ځـانـګـړتـيـا ده. ده پـه دې ډول د پـښـتـو پـه شـتـمـن كـولـو كې هم بـرخـه لـرلـې ده. د ده دا اثـارو خـونـد لـه دې امـلـه هم دى چې دى پـه عـېـن حـال كې چې وطـنـپـال او ازادي پـال دى لـه انـګـرېـزي ادب نـه هم بـهـره مـن دى. كـلـو نـه دمـخـه يـې د ارنـسـت هـمـنـګـوى سين او بـوډا پـه پـښـتـو اړولـى دى. كـه دى لـه يـوې خـوا اطـرافـي پـښـتـون دى او د وطـن ګـوښه سيمې او خـلـك يـې هم لـيـدلـي دي، د

نـړۍ ډېـرې سيمې يـې هم لـيدلـې او لـه بـهرنـيو سره يـې ژو نـد هم کـړی دی نـو عجبـه نـه ده چې زمـوږ شپـون چې پـه اصل کې د افـغانـستان د خـان ا بـاد دی اوس دلـته پـه امريـکې کې يـې يـاران پـرې راټـول شوی او د هغه او د هغه د اثـارو درنـاوی کوي چې دا پـه اصل کې يـو ښه دود دی. د شپـون ژو نـد پـه وا قـع کې د ډيـرو افـغانـانـو ژونـد هم دی. دی بـه د خپـلو لـيکنو لـه بـرکته پـخپـلو اثـارو کې تـلپـــــــــــــــــــــاتې وي.
پـه درنـښت

# د افضل خان لالا پر ځان قصد یوه ځانګړې پېښه که د لړۍ یوه برخه؟

سپتمبر ۲۳-۲۰۰۷

پر محترم افضل خان لالا باندې د سپتمبر په ۲۱مه د سوات په مټې کې په داسې حال کې چې له ملګرو سره په موټر کې روان و، وسله وال غلچکی برید وشو چې په هغه سره د هغه په ګډون څلور تنه ټپي شول او د موټروان په ګډون دوه تنه تلف شول. اوس پوښتنه دا ده چې دا یوه ځانګړې پېښه ده که د دغسې پېښو د لړۍ یوه برخه؟ هغه د شخصي دښمنۍ له امله شوې که د کوم سیاسي مقصد لپاره ؟ د ترلاسه شویو خبرونو له مخې دغه برید د شخصي دښمنۍ نتیجه نه، بلکې د سیاسي مقصد لپاره و. د تېرو دېرشو کلونو پېښې چې په نظر کې ونیول شي دا یوه ځانګړې پېښه نه بلکې د دغسې پېښو د لړۍ یوه برخه ده او ګمان نه کېږي چې دا به یې وروستۍ پېښه وي.

پر افغانستان باندې د شوروي له یرغل نه وروسته چې د درېیو میلیونو په شاوخوا کې افغانان په کوټه، پېښور او شاوخوا سیمو کې کډوال شول، په دې ډول د پاکستان د ای.اس.ای تر حکم لاندې راغلل. هلته بې شمېره افغانان په ظاهر کې د افغان اسلامي تنظیمونو له خوا ترور یانې ووژل شول، که دغه

وژنـــې د ای.اس.ای پـــه خوښـــه نـــه وای ممکـنه نـه وه چې اسلامي تـنظيمو نـو بـه هلتــه دغــه وژنـــې کــړې وای، هغــه هــم دغومـره ډېـرې. وژل شوي کسان نږدې ټول پښـــتانه او د ســـر کســـان وو. دوی ټـــول ملـــي، دمـــوکرات او پـــه خپلـــوامۍ مَـــين پـښتانه وو لـکه پوها نـد سيدبهاءالدين مـجروح، جـنت خان غروال، عزيزالرحمن الـفت، ډاکټر نسيم لـودين، ډاکټر سعادت شــــګيوال، اســــتاد ذاکــــر، محمــــد ولــــي کـړوخېل، عبدالرحيم څين زی، عبدالحکيم کـټــواځی، عبدالاحـــد کـــرزی او نـــور. د پـاکســـتان حکومـــت يـــا پـــه دقيـــق ډول ای.اس.ای چې د پاکستان اصلي حکومت دی د هيڅ يوه وژنـه ټينګه ونه نيوله. پـه همدغه لـړ کې بـل ټـکی دا دی چې پـه افغانـستان کې د شوروي اتحاد لـه ماتې نـه وروسته پاکستان پـه افغانـستان کې هم لـړ و ډېـر د شوروي پـه شان يـو لاسپوڅی حکومت غوښته چې د تـنظيمي دورې حکومت او د افغانـستان کورنـی جـنګ تـر زيـــاتې انــدازې، نـــه پـــه کلـــي ډول د پـاکستان د همدغه سياست نـتيجه ده.

پـاکستان دا ټول د څه لـپاره کـول او لا يـــې هـــم کـــوي؟ يـــو مقصـــد يـــې د ســــتراتيجيکي ژورتيــــا پــــه نامــــه د هندوستـان د احتمالـي يـرغل پـه مقابـل کې دفاعي تـدبير دی چې پـه هغه حال کې بـه پـاکستان خپل پوځونـه افغانـستان تـه پـه شـا کـوي او بيـا بـه لـه هغـه ځايـه ګوريلايي جنګونـه کوي او پاکستان بـه ژغوري. ددې لـپاره يې بـايد مـخه پـه افغانـستان کې يـو لاس لانـدې حکومت لـرلی وي او افغانان يې دغومره ضعيف کړي وي چې د هغه مخه نـيولی ونـه شي. دا چې د افغانســـتان ډول ډول ودانـــۍ د ملـــي مقاومت پـه بهير کې د ای.اس.ای پـه دســـتور ورانېـــدلې او افغانســـتان پـــه

کورنۍ جنګ سره نور هم وران شو او اوس هم ورانېږي د همدغه سیاست نتیجه ده. د دغه سیاست له مخې ای.اس.ای دغسې ملایان او پیران ترخپل نفوذ لاندې راوستي چې حاضر دي د اسلام په نامه په افغانستان کې د هغه سیاست عملي کړي لکه چې ملایانو او پیرانو د روښانیانو په مقابل کې مغولي حکومت ته خدمت وکړ او دیوبندي ملایان د پاچا امان الله پر ضد شوي وو. کومه هغه مرسته چې ای.اس.ای یې اوس د طالبانو له تحریک سره کوي د همدغه سیاست له مخې ده.

بله دا چې پاکستان چې د ختیځ پاکستان له جېلا کېدو نه وروسته تر پخوانه ډېر د خپلې سلامتیا په اندېښنه کې دی له پښتنو نه وېره لري. پښتانه اوس د ډیورنډ په دواړو خواوو کې تر څلوېښت میلیونو نه ډېر دي. پاکستان د دوي د اتفاق دښمن دی. همدغه سبب دی چې پاکستان د پخوا په شان اوس هم له پښتونخوا سره د انګرېزانو غوندې د یوې مستعمرې په شان چلند کوي.هلته اوس هم د پاکستان د اساسي قانون پرخلاف د انګرېزانو دوخت مقررې جارې دي. په نتیجه کې پښتونخوا اوس یوه ډېره نامنکشفه او غریبه سیمه ده. څنګه چې پاکستان په ماهیت کې د هندوستان، ایران او افغانستان پر خلاف یومصنوعي هېوا دی، نظامیانو تر ملکیانو نه ډېر پرې حکومت کړی، په داسې حال کې چې هندوستان چې له پاکستان سره یو ځای هسک شوی، نظامي حکومت تر اوسه هیڅ نه دي لرلي. په دغه حال کې هر هغه پښتون چې د پښتونخوا د پښتنو لپاره کار کوي ای.اس.ای یې خپل دښمن ګڼي دا خو لا په ځای پرېږده چې هغه د ټولو پښتنو د اتفاق لپاره فعالیت وکړي لکه محترم

افضل خان لالا يې چې کوي. دی پر دې عقیده ولاړ دی چې "قومونه په ژبه او کلتور باندې جوړېږي" نو "قومي وحدت زموږ حق دی، (او) پښتون قام به حتما يو کېږي". خو"د دې پر ځای چې دا کار په جبر او زور وشي ښه کار دا دی چې د خبرو له لارې وشي". (له شېراغا حرکت سره د افضل خان لالا مرکه، جون ۲۰۰۷، د قول نقل بېنوا وېب پاڼه، سپتمبر ۳۲-۲۰۰۷).

د دغه غلچکي برید نېغ مسوول لا معلوم نه دی، خو له پورته بیان نه جوته ده چې هغه به د ای.اس.ای کوم گمارلی شخص وي. ای.اس.ای د محترم افضل خان لالا او دهغه په شان پښتانه زغملي نه شي.

د سپتمبر په شلمه د پکتیا د ادبي ټولنې مشر ډاکټر محمد هاشم مصور هم چې یو تکړه پښتون و، د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو. دغه وژنې او د پښتنو پر ضد هغه حرکت چې په کابل کې روان دی ښيي چې پښتني ضد قوتونو په دغه جنايت کې لاس سره ورکړی، په دغه مقصد چې دغه څلوېښت میلیوني قوم په دسیسو او فتنوسره تر دې حده ځپلی شوی وي چې په پای کې د پاکستان حکومت ته غاړه کښېږدي.

# د نارنج ګل په باغ کې

فبروري ۲۸-۲۰۰۸

دغه سرلیک سم له لاسه د ننګرهار باغونه، د لغمان بابا صاحب باغ، د کابل بابرباغ، د پغمان، ستالف، ګلبهار باغونه او په لسګونو نور باغونه را په زړه کوي چې په هغو کې هم په سپرلي او هم په اوړي کې لکه په اخترونو کې افغانان مېلې او خوښۍ کوي. د اخترونو په مېلو کې په لغمان کې رنګه او لاکي هګۍ هم جنګوي. په لغمان کې په پسرلي کې ښځې هم د اونۍ په یوه خاصه ورځ د بابا صاحب باغ ته ځي او د هغه په شاوخوا کې د خپلو مړو زیارت هم کوي. دوی په زیارتونو باندې جنډې هم ځړوي، په دې هیله چې خدای تعالی به اولاد ور په نصیب کړي، لکه چې ځینې نارینه هم د اوو اونیو لپاره په هره اونۍ کې یوه شپه د بابا صاحب په مزار کې څله کوي. په دې هیله چې خدای تعالی به یې شتمن کړي. د بابا صاحب د پراخې او هوارې دښتې دپاسه په پسرلي کې دغسې ډول ډول رنګه فرشي ګلان غوړېدلي او غزېدلي وي چې مثال یې ما په بل ملک کې هیڅ لېدلی نه دی. دغه فرشي ګلونه د دغې سپېرې دښتې دپاسه، زړونه باغ باغ کړي.

په افغانستان کې د نارینه او ښځو لپاره زیارت کول یو لرغونی دوددی چې اوس هم په قوت کې دی. له همدې امله ده چې زیارتونه په ټول افغانستان کې

ډېر دي او ویل کېږي چې ځینې یې چې څلوېښت ګزه اوږده دي، په څلوېښت ګزي یادېږي. د زیارتونو زور له دېنه هم معلومېږي چې ځینو یې ځانونه په خوب کې واکمنو ته ښوولي او هغوی له درناوي او یا له ډار نه ودانۍ پرې درولې لکه چې د روایتونو له مخې په لغمان کې د بابا صاحب یا مهترلملک زیارت په لسمې پېړۍ کې د سلطان محمود غزنوي او په مزار کې د سخي صاحب ودانۍ په دولسمې پېړۍ کې د سلطان سنجر سلجوقي په امر ودانه شوې که څه هم د اسلام د غه څلورم خلیفه علي بن ابي طالب چې په افغانستان کې د سخي صاحب په نامه یادېږي په ٦٦١ کې د عراق په کوفه کې د یوه خوارج له لاسه وژل شوی او په نجف کې خښ شوی چې هډوکي یې اوس هم هلته خوندي دي. د همدغو زیارتونو له امله ده چې مزار شیعه افغانانو ته او غزني سني افغانانو ته د سپېڅلو ښارونو په شان ارزښت لري. د غزني په ښار کې چې د سلطآن محمود او د مزار په ښار کې چې د امیر شېرعلي او غازي محمد اکبر مړي پراته دي، نه یادېږي یا ډېر لږ یادېږي. که څه هم لومړنی یو لوی امپراتور او د اسلام د دین خپروونکی او وروستني د یرغلګرو په مقابل کې د وطن مدافعان او د ملي حاکمیت اتلان تېر شوي دي.

په افغانستان کې هغسې چې په ځینو زیارتونو کې زایران ټولېږي، په ځینو باغونو کې شاعران، لیکوالان او هنرمنان غونډې کوي.د ننګرهار په جلال آباد کې چې په اصل کې د نارنجو ښار دی او ګلان یې د پسرلي په پیل کې زړو نه غوړوي، شاعران او لیکوالان د نارنج ګل په نامه مشاعره کوي. مشاعره

اوس هلته د پسرلي په مهال کې یو دود شوی دی. پسرلی د مشاعرې لپاره ډېر ښه مهال دی. پسرلی دغسې یو موسم دی چې هر روح وال یې راتگ حس کوي، نه یوازې انسانان بلکې څلور بولي، مرغان او ونې او بوټي هم. حساس شاعران خو په خاص ډول شعر ویلو ته تخڼوي، حتی د لغمان د الینگار او الیشنگ په ښکلو او زرغونو درو کې له همدغو سینونه چې د کاوون له لوړ غره نه سرچینه اخلي، مستي کوي او په لغمانیو غږ کوي چې بېخو نده ژمی تېر شو او مست کوونکی پسرلی راغی. کاوون چې د هندوکش یوه څانگه ده، دومره لوړه ده چې په اړه یې دغه ټکی عامه شوې ده:

زما زړگی د کاوون غر دی
په نورو گر دی په ما واورې اوروینه

پسرلی په ټول افغانستان کې د ټولو ساه کښانو لپاره دخوښۍ او غوړېدو او د افغانانو لپاره د کار وخت دی. روح بښوونکې سندرغاړې شکیلاناز ممکن د شخصي تجربې په وجه پسرلی د مینې او لوبې موسم هم بولي لکه چې وایي:

د پسرلي علامې راغلې
په هره پوله کې بنگړي مات شوي دینه

نو د پسرلي له دې نه افغانان په بسیاري ډول شتمن دي. په تېره چې دوی په یوه کال کې څو پسرلي هم کولی شي، لکه چې ما هرکال یو پسرلی په لغمان او بل پسرلی په کابل کې درلوده. په هغه برسېره افغان پسرلی هغومره ښکلی، طبیعي او رښتینی وي چې مانه په انگلستان او نه په امریکې کې دهغسې پسرلي حس کړی دی. دلته په امریکې کې خو افغانانو په اولو وختو کې د موسم

له يو ډول والي نه شکايت کاوه. زه اوس هم ډېر وخت نه شم ويلی چې د کال کوم موسم دی او سمتونه کوم دي. له دې امله به هم وي چې موږ ټول افغان پسرلي ته سترګې په لار يو او چې اوس يې دلته لرلی نه شو. د افغان کولتوري ټولنې په زيار يې لمانځو. افغان پسرلی د خپل خاص سحر په سبب د افغان شاعرانو په شعرونو کې په خاص ډول انعکاس کړی دی. لوی شاعر او ليکوال ارواښاد ګل پاچا الفت په ډېرو شعرونو کې ستايلی دی چې يو يې له فلسفي فکر سره دا دی:

# پسرلی او د ژوند راز

یوه ورځ د سیند په
غاړه شین سحر و
کایناتو کې ښکاره د
ژوند اثر و

پاس له غره نه په
مستۍ اوبه راتللې
په یوه گټه او بله
لگېدلې

د سیند هرې خوا ته
شین د ونو بڼ و
د مرغانو پکې شور او
ښه اتڼ و

ځمکې اېښي وو په سر
ښه ښه گلونه
هم په مخ باندې د شنو
بوټو خالونه

غر ټول پټ و په نښترو
سر تر پایه
د شپنو نارې راتلې له
هره ځایه

د اوبو زوږ مې په
سیند کې اورېدلو
زرکو غره کې د بهار
صفت کولو

د ځوانۍ دوره راغلې
په جهان وه
په گلانو ځولۍ ډکه د
باغوان وه

تک شنه بوټي مې ولاړ
وو شاوخوا کې
چې لوی شوي وو په دې

تازه هوا کې

چې کاته مې د دې بوټو
ښې ځوانۍ ته
د بهار ښه طراوت او
تازګۍ ته
یو ناڅاپه را په یاد
وخت د خزان شو
په نظر کې مې تیاره
دغه جهان شو

ما ویل چې دا شنه
بوټي ټول وچېږي
پس له څو ورځو دا حال
نه پاتې کېږي

هسې دا ګلان بهار دلته
کرلي
د سېلاب مخ کې یې بوټي
درولي

دا هر بوټی چې نن
دلته ستایل کېږي
د خزان په لور له
بېخه رېبل کېږي

چې خزان شته غوټۍ هسې
باغ کې خاندي
بورا خوشې د ګل بوټي
ته ورد انګي

ما سره دغه تشویش دغه
سودا وه
پټه خوله مې له بهار
سره وینا وه

ښه ورمه د پسرلي
ناڅاپه راغله
په راتلو یې هر یو
بوټی شو خوشحاله

زما غوږ ته را نژدې
شوه په تلوار
را ته وې و يل د ژوند
ځينې اسرار

بېهوده يې راښکاره
زما سودا کړه
د حيات معنى يې ښه
راته رښا کړه

زه يې پوه کړم چې دا
بوټى فنا کېږي
خو فنا ځنې هيڅکله نه
وېرېږي
ته هم وېره د خزان له
زړه بهر کړه
په بهار کې دې ښکاره
اصلي جوهر کړه

وده وکړه د بهار
تاثير قبول کړه
د ژوندون په کارو
باندې ځان مشغول کړه

که يوه ګړۍ ژوندون
لرې دنيا کې
خاورو لاندې يې تېر نه
کړې په بېديا کې

په ګلانو خپله سيمه
کړه ګلزاره
چې و نه اوسېږي ګوره
خوار و زاره

دا چې بېر ته لږ څه
پاتې دي شرقيان
سبب دا دى چې د دوى
ټول شاعران

په بهار کې د خزان
تصور کاندي

ژوندی ځان خپل ګڼي
تورو خاور لاندې

✷
✷✷

# يوه سپينه وينا

## کابل - مى ١٣ ٢٠١٠

*دغه ليکنه په هغې غونډه کې اورول شوې چې په کابل کې د شمشاد د تلويزيون په سالون کې د محترم زرين انځور او د هغه د ملګرو له خوا د دغه تلويزيون د سروال ښاغلي فضل کريم په همکارۍ د مى په ١٣ مه د نژدې سلو تنو مخورو او پوهو افغانانو په ګډون زما لپاره جوړه شوې وه.*

د ګران وطن افغانستان اوسنۍ وضع د هر بالغ افغان دنده درنده کړې، له يوې خوا په وطن کې د باندنيو پوځونو شته والى او له بله خوا ګلوبلايزيشن يا عالمي کېدل افغانان له نا اشنا چېلنجونو سره مخ کړې دي. دا په دغسې حال کې، چې وطن د پرله پسې جنګونو له امله په زياته اندازه وران شوى او افغانان له غټو ستونزو سره مخ وو. بيا هم افغانانو وکولى شول د لويو جرګو، نوي اساسي قانون او سرا سري انتخاباتو له لارې دغسې دولتي نظام په پښو ودروي، چې په قانوني ډول يې د فکر، بيان او عمل ازادي ممکنه کړې او د ملي او مدني ژوند د واقعې کولو لپاره يې ډګر هوار کړ، بې له شکه دا يوه غټه کارنامه ده، چې افغانانو د ملګرو ملتونو او دوستو هېوادونو په مرسته ترسره کړ. دا چې وران شوى افغانستان تر ډېره حده له سره ودان شوى او په ژوند کې د فردي ازادۍ پر بنا يو ډول نوى خوځښت ليدل کېږي د دغه نظام نتيجې دي، چې هغه يې د پاچا

محمد ظاهر او پاچا امان الله د وختو د قانوني نظامونو په شان کړی دی.
خو په وطن کې د باندنیو پوځونو شته والی او د واکونو د مرکزونو ډېر والی د افغانستان خپلواکي محدوده کړې او پرهغه برسېره وطن یې ناارامه کړی دی. دغې ناارامۍ او موجوده اداري فساد خلك اندېښمن کړي دي خو په عېن حال کې د همدغه نظام له برکته ده، چې افغانان په اخبارونو، تلویزیونونو، راډیوګانو او غونډو کې د هغه په اړه بحثونه کوي او د حل لارې چارې یې سنجوي. دغسې بحثونه، هغه هم په پراخه توګه او بې له ډار او په پوره ازادۍ سره زمونږ په هېواد کې بل وخت نه کېدل یا کېدلی نه شول. دا هم د هیلې وړ نښه ده چې اوسني نظام هغه ممکنه کړې او افغانان ترېنه په مسوولیت سره کار اخلي یا باید همدغسې وکړي. د دغسې فضا په رڼا کې ده، چې د دغو کشالو او داسې هم د ټولنې، حکومت او روانو پېښو په اړه هر ډول تحلیلونه کېږي او نظرونه په زغرده وړاندې کېږي. هغه وختونه لاړل، چې دغه څه به یوازې دولتي چارواکو کول او خلکو به نه کول یا یې کولی نه شول نو دا عجبه نه ده، چې د حکومت د چلندونو او د اداري فساد په اړه مې په دغه لنډې موده کې هم ډول ډول نظرونه او انتقادونه اورېدلي دي.
پرته له هغه هم افغانان د اسلامي امارت د وخت له ګوښه توب نه وروسته له ډېرو چېلنجونو سره مخ شوي دي، هغومره ډېر باندنیان، چې نن په افغانستان کې شتون لري بل وخت یې شتون نه لاره. هغومره ډېر افغانان، چې نن د باندې ژوند کوي بل هیڅ وخت یې ژوند نه کاوه، ګلوبلایزیشن او انټرنیټ

هم افغانانو ته نوي چېلنجونه وړاندې کړي دي. دغو ټولو نويو انکشافاتو او له باندنيو هېوادونو سره د عنعنوي اړيکو شته والی افغانستان له هغو سره په بسياري ډول نزدې کړی دی خو د غو نويو واقعيتونو او د غه نوي دولتي نظام هغسې، چې افغانانو ته نوي فرصتونه برابر کړي، داسې يې هم نوي پرابلمونه ورته خلق کړي دي. په د غه حال کې طبيعي ده، چې خلك له رسمي چاروا کو، د سياسي ژوند له مخکښانو او سوچوالو څخه دغو چېلنجونو ته ځوابونه وغواړي، دغو توقعاتو د خلکو پر وړاندې د وروستيو مسووليتونه تر هر بل وخت نه ډېر کړي دي. دغه مسووليتونه هغه وخت په ښه ډول رفع کېدلی او د غه غوښتنې هغه وخت په ښه ډول ترسره کېدلی شي، چې وطن ارام وي، تر څو هر څوک وکولی شي د قانون په رعايت سره خپلې ټاکلې دندې ترسره کړي او چېلنجونو ته ځوابونه تهيه کړي نو طبيعي ده، چې په وطن کې د ارامۍ خوندیتوب او د رسمي چاروا کو قانوني چلند په لومړۍ درجه اهميت لري. اوس اساسي پوښتنه دا ده، چې په وطن کې به ارامي خوندي کېدلی او حکومت به په عمل کې قانوني چلند کولی وشي؟

د د غې پوښتنې د لومړۍ برخې په ځواب کې ويل کېږي، چې باندني پوځونه د نا ارامۍ اصلي لامل دی او تر څو دغه پوځونه په افغانستان کې وي ارامي به خوندي نه وي خو د وطن نږدې تېرې پېښې دغه ځواب قانع کوونکی نه ګڼي نو دغه ځواب د سړې سينې محاسبه غواړي او هغه دا چې د شوروي پوځونو له ايستل کېدلو نه وروسته د لسو کلونو په بهير کې په افغانستان کې خونړي جنګونه وشول، په داسې حال کې، چې په دغه وخت کې په

وطن کې باندني پوځونه نه وو، بې له شکه په یوه هېواد کې د باندنیو پوځونو شته والی د ملي حاکمیت پرخلاف دی، په تېره، چې خلک ورسره مخالف وي لکه افغانان، چې د شوروي پوځ مخالف وو خو د دغو موجودو پوځونو په شته والي سره نه د افغان حکومت، نه ولسي جرګې او نه ولس یا هغه کومې غټې برخې ورسره مخالفت ښودلی دی. اساسي خبره دا ده، چې افغان حکومت اوس د غومره پیاوړی نه دی، چې د دغو پوځونو په نشته والي سره به حکومت وکولی او امنیت ټینګولی وشي. څوک ضمانت کولی شي، چې په دغه حال کې به په افغانستان کې یو ځل بیا جنګونه نه وي، وژنې به نه وي او ورانونې به نه وي؟ څوک ویلی شي، چې په دغه وخت کې به د مغرضو چم ګاونډیو هېوادونو پټې ایجنسۍ ګانې د افغانستان په چارو کې بیا لاسوهنې ونه کړي او کوښښ ونه کړي، چې خپلې خاصې افغان ډلې په واک کړي؟ دغسې لاسوهنې دي، چې د شوروي پوځونو له وتلو نه وروسته ناارامۍ یې اوږده کړه تر څو په پای کې افغانستان د موجودو باندنیو پوځونو مقر وګرځیده، واقعیت دا دی، چې د دوو مغرضو چم ګاونډیو هېوادونو خاصې ایجنسۍ ګانې د افغانستان په اړه روغ نیتي نه لري. آیی اس آیی د افغانستان د لاندې کولو لپاره د ستراتیجیکي ژورتیا په نامه اجندا لري، هغه غواړي د افغانستان په وړاندې د ک ج ب رول ولوبوي. په دغه حال کې د هر افغان ملي وظیفه ده، چې د خپل قانوني حکومت له پیاوړي کېدلو سره مرسته وکړي، نه دا چې ناتوان یې کړي. په دغه حال کې به افغانستان دغسې پوټینګ مرکزي حکومت ولري، چې په خپلو ځواکونو سره به په ټول هېواد کې

امنیت خوندي کړي او له باندنیو خطرونو سره له وطن نه دفاع وکړي. بیا به باندنیو پوځونو ته هیڅ ضرورت نه وي.

ټول پوهېږو، چې حکومت هغه وخت امنیت ټینګولی او پردی لاسوهنې شنډولی شي، چې هغو خلکو له ملاتړ نه برخمن وي خو د خلکو ملاتړ هغه وخت په ښه ډول ترسره کېدلی شي، چې حکومت د هغو په نظر مشروع وي، په دې مانا، چې چارواکي د خلکو د حقه حقونو درناوی وکړي او چارې د قانون له مخې ترسره کړي خو له بده مرغه د اوسني حکومت چارواکي دغسې نه دي او حکومت که څه هم انتخابي او قانوني دی د چارواکو د غیرقانوني کړو او اداري فساد له امله یې مشروعیت په څرګند ډول له لاسه ورکړی دی. د مشروعیت د دغې ضیاع له امله ده، چې نارضایت عام دی او بد امنیتي خوره ده. که دغه تشخیص سم وي، چې زما په نظر سم دی، په حکومت کې د اساسي اصلاحاتو راوړل حتمي شوي دي او که موجوده وضع دوام کوي پایلې به یې د ټولنې او خلکو لپاره درنې او ناوړې وي. د دغه موضوع د پوښتنې دوهمه برخه ده، چې په هغې باندې له لنډ بحث نه به وروسته زما وینا ختمه شي.

په حکومت کې د اساسي اصلاحاتو راوړل به ولس له حکومت سره نږدې کړي او مخالفان به ورو ورو بې اثره کړي او عدالت به هم په نسبي ډول یو څه خوندي کړي. د اصلاحاتو د عملي کولو لپاره به ښه دا وي، چې دې د څو وړ کارپوهانو په ګډون یو کمیسیون وټاکل شي، چې موضوع د موجودو واقعیتونو او امکاناتو په کتنې سره وڅېړي او بیا وړاندیزونه وکړي او حکومت د موافقې په حال کې ورته قانوني بڼه ورکړي او

عملي یې کړي.
د ازادۍ په اوسنۍ فضا کې به د اصلاحاتو په اړه نظرونه ډول ډول وي، خو هر ډول سمون، چې راوړل کېږي لاندې ټکي یې باید حتمي برخې وي: یو دا چې په لومړي سر کې دې لوړ پوړي چارواکي د څانګو د سروالانو په ګډون لږ تر لږه لیسانس وي او دوی د وطن په دواړو لویو ژبو ګړیدل، لیکل او لوستل وکولی شي. په دغه حتمي شرط سره به د وړتیا د اصل رعایت شوی وي، چې بې له هغه نه حکومت خپلې چارې هغسې چې باید ترسره کړي، ترسره کولی نه شي. بله دا چې یوه چارواکي ته دې دومره معاش ورکړل شي، چې په هغه سره د هغه او د هغه د اصلي کورنۍ ګوزاره وشي، د قیمتۍ په اوسني حال کې د یوه چارواکي د یوې میاشتې معاش ایله که د هغه او د هغه د اصلي کورنۍ د لسو ورځو لګښت پوره کولی وشي. څنګه چې یو چارواکي د هر بل چا په شان ځان په لومړۍ درجه خپلې کورنۍ ته مسوول ګڼي، دی بیا ځان مجبور ویني له دولتي واک نه د ځان په ګټه استفاده وکړي. دا چې اوس اداري فساد په بسیاري درجه عمومي شوی په اصل کې له همدې امله ده. لوی مصیبت دا دی چې فساد ټولنې ته سرایت کړی او اوس هر چېرې هڅه کېږي، چې فرد د نورو او ټولنې په تاوان کار وکړي.
د فرد او ټولنې په دغه ډول ضدیت سره ده، چې انساني لوړ صفتونه بې ارزښته شوي، اجتماعي اخلاق او ملي پیوستون کمزوري شوي او ماده پرستي او پولي اړیکو یې ځای نیولی دی.
د دغه حال په دوام سره به وضع

نوره هم بده شي او ټولنه به په اساسي ډول ضرر ووينې. اوس نو مونږ دغسې اجتماعي مصلحانو ته هم اړتيا لرو، چې په قانع کوونکي ډول و ښيي، چې فرد په اساسي ډول مصون کېدلی او ګټه يې خوندي او ژوند يې په مانا لرونکي ډول خوندور کېدلی شي، چې ټولنه مصئونه او ټينګه وي او ټولنه هغه وخت دغسې کېدلی شي، چې فرد خپلواک، شتمن او پياوړی وي او په مسووليت سره ژوند وکړي خو دغه حال هغه وخت واقعي کېدلی شي، چې فرد هيڅ وخت ټولنه تاواني نه کړي او ټولنه هر وخت د فرد د شخصيت درناوی وکړي او په مجموع کې ټول اجتماعي کړه د قانون له مخې وي. دا د مدني او اجتماعي ژوند تقاضا ده او بې له هغه نه به کړکېچ تلپاتې او ژوند تريخ او خوار وي. په دغه اړه به زما يوه ترجمه زر خپره شي، په نامه د سقراط، افلاتون، ارسطو، اپيکور او زينو په نظر ښه انسان. له هغې سره به زما خپل يو لوی اثر هم راووځي په نامه د ثور کودتا او د هغې ژورې پايلې. دغه اثرونه به زما د نورو پښتو اثرونو په شان د محترم زرين انځور په مشرۍ د کلتوري ودې ټولنې له خوا خپاره شي، چې تر اوسه يې نږدې يو سل او شل اثرونه خپاره کړي دي

. په پای کې خپله وينا په دغو دوو شعري فردونو سره ختموم چې د نازيه اقبال په خواږه اواز کې مې اورېدلي دي.

زموږ په ځمکه
اورونه بل دي
د خوږ اسلام د

انتظام له
لاسه
ز موږ و طن دی
امانت ز موږه
زه يې په هره
برخه پام
کومه

ستاسو له توجه نه مننه

# گروه های مذهبی و سیاست در افغانستان

## جنوری ۳۰-۲۰۱۰

گروه های مذهبی ازوقت سلطان محمد غزنوی باینطرف در حفظ اسلام در افغانستان و اشاعه آن در هندوستان رول فعال بازی نموده اند. اما تا دهه ششم قرن بیستم محراق توجه شان تطبیق شریعت اسلامی بود. حکمروایی بر کشور و حفظ امنیت و همچنان دفاع از آن در برابر خطرات خارجی عمدتاً کار حکمران ها و روسای محلی و قومی بود. افراد و یا گروه مذهبی بجز در محلات اسماعیلی نشین هیچ وقت در افغانستان حکمرانی نکرده اند. اما از نیمه قرن بیستم باینطرف آن افراد و یا گروه های مذهبی که گرویده تعلیمات ابواعلی مودودی و سید قطب و دیگران بودند سیاسی شده در صدد بدست آوردن قدرت دولتی برآمدند، تا ظهور این دسته ها گروه های مذهبی بر طبق مذهب حنفی تنها بر تطبیق شریعت اصرار میکرند و مذهب حنفی که در افغانستان مروج بود نظر بمذاهب دیگر اسلامی یک مذهب معتدل بود. بطوریکه امام ابوحنیفه مایل نبود کسی را که معتقد به اسلام یعنی مسلمان بود محکوم نماید. موصوف در فتوای بنام فقه اکبر گفته است که ((بنظر ما هیچ کس در برابر گناهی که مرتکب شده باشد کافر نیست و نه ما منکر عقیده او میباشیم)) (۱) از جمله

طرق چارگانه تصوف مروج در افغانستان تنها طریقه نقشبندی در تطبیق شریعت کوشان بود و سایر طریقه ها به سیاست علاقه نداشتند.

در افغانستان در طول تاریخ دفاع از فامیل، قوم و وطن محرک عمده باشندگان این سرزمین بود. احساس وطنی باشندگان این سرزمین از گفته زردشت از قول اهورا مزدا یا خدای نیکی مشهور است که گفته است: ((من هر کشور را به مردم آن عزیز ساخته ام؛ اگر چه هیچ نوع سحر در آن نبود، اگر من هر کشور را به مردم آن عزیز نمی نمودم، اگر چه هیچ نوع سحر دران نبود، در انصورت تمام جهان موجود بر اریانا ریجو تاخت و تاز مینمود. از جمله اولین کشورها و سرزمین های خوبی که من اهورامزدا خلق نمودم، اریانا ریجو بود)).(۲)

بگفته مورخ پیترگرین باشندگان اریانه در اخر قرون چارم قبل از میلاد درباختر زمین بزعامت بیوس و سپتامن علیه سکندر مقدونی با ورحیه ملی چنان سخت جنگیدند که داریوش سوم، امپراتور هخامنشی، در برابر موصوف بنجگیده بود در حالیکه مردم اسبیه سی کنر در دفاع از وطن حتی سکندر را زخمی نمودند.(۳)

دفاع باشندگان این وطن در برابر مهاجمان نامی بعدی چون چنگیز خان، امیر تیمور و بابرشاه کاملاً شهود است. در جنگ اول افغان-انگلیس رهبران دفاع از وطن عبدالله خان اچکزی، وزیرمحمد اکبر خان، میر مسجدی وغیره بودند نه کدام سرکرده گروه مذهبی یا روحانی، در جنگ دوم افغان-انگلیس هم رهبری عملیات جنگی در حوضه کابل بدوش محمد جان وردگ، غلام حیدرچرخی، محمدعثمان تگابی، میربچه کوهدامنی و دیگران

بودند بدوش ملا دین محمد اندری مشهور به ملا مشک عالم اگر چه موصوف زمیندار و مر شد کلان و صاحب مر یدان فراوان بود، در واقع مریدان او موصوف را که در آن سال هشتادوهفت ساله و مریض بو در چارپایی بکابل آورده بودند تا حضور او در تقو یه معنو یات غازی ها موثر باشد.

قرار عنعنه اشخاص منسوب بگروه های مذهبی اعم ازملاها، مولوی ها، و پیران طریقه از حکومت بنام مواجب معاش و از مردم صدقه و نذرانه دریافت مینمودند. اینها بر مردم نفوذ داشتند ولی صاحبان قدرت نبودند. اعمال قدرت سیا سی و نظامی وظیفه حکو مت و رو سای محلی و قومی پود. این روسا علاوه بر دا شتن نفوذ در محل و قوم به سبب تحصیل مالیات حکومتی به جنس و نقد صاحبان قدرت و ملاز مان مید شدند و در وقت ضرورت بحکومت ملیشا تهیه میکردند. اما امیر عبدالرحمن بمنظور تقو یه حکو مت مر کزی، بعد از تنظیم اردوی منظم هر دو گروپ را از امتیازات عنعنوی محروم نمود و بطور بیسابقه کوبید. با تعمیل سیستم سه کوت مالیاتی ثلث محصولات را از زمین های نهری بحکومت تحصیل داد و کشور را برای اولین بار توسط مامورین انتصابی خود اداره میکرد. ملا ها و طالب ها را هم به سبب که بطرفداری رقیب او سردار محمد ایوب علیه او جنگیده بودند، و اهل نقشبندی را که در بغاوت عمو زاده دیگرش سردار محمد اسحاق اشتراک نموده بودند، سخت زیر فشار گرفت و اعطای مواجب بملاها را بکامیاب شدن شان در امتحانی مشروط ساخت که از طرف یک هئیت نیر عامه ملاخوسه از ان ها گرفته میشد. تنها عده محدودی مستحق مواجب

شناخته شدند. علاوه بر آن امیر اعلام نمود که ((... من آنهای را نمی پسندم که بنام مذهب در سیاست کشور مداخله میکنند)). (٤)

اما انجاییکه انگلیس ها با دو تهاجم خود احساسات مذهبی افغان ها را متحرک نمودند بعد از تحمیل موافقت نامه دیورند در پشتونخوا با عملیات منظم نظامی هم افغان ها را به سخت تحریک نمودند. در نتیجه ملاهائیکه به معیت روسای قومی در غزا ها سهم میگرفتند تا زمان امان الله باز صاحبان نفوذ فراوان شدند. بغاوتی بر سرکرده گی ملا عبدالرشید و ملا عبدالله مشهور بملای لنگ علیه شاه امان الله در مجاورت همین منطقه صورت گرفت. اما این ملاها و دیگران بگفتهٔ مورخ میر غلام محمد غبار ((بنام حفظ شریعت اسلامی در پکتیا قیام نمودند)). و چنین میپنداشتند که ((قانون ناسخ مذهب است)) (٥) بعبارت دیگر آنها حفظ و تطبیق شریعت اسلامي میخواستند نه حکمرانی. شاه امان الله که در جریان تعمیل اصلاحات دوره دوم وطن را ترک کرد، به سبب علت های قوی تر دیگر بود که من آن را در رساله خود بنام (د پاچا امان الله واکمنۍته یوه نوې کتنه) شرح نموده ام.

یک سال پیش از ترک وطن شاه امان الله بود که در مصر و در شهر اسماعیلی حسن البنا تنظیم اخوان المسلمین را بنیاد نهاد ولی این تنظیم در وقت او بیش تر اجتماعي بود تا سیاسي و بصورت عمومی اعتدالی بود. سیزده سال بعد از آن در ١٩٤١م ابواعلی مودودی با تاسیس جماعت اسلامی در هندوستان و بعد از آن سید قطب در مصر با انتشار آثار متعدد باین حرکت صبغه کاملاً سیاسی دادند.

بقرار نظر اخری جوامع اسلامی موجود مثل جامعه عربستان پس از اسلام به حالت (جاهلی) درآمده که باید بر اساس احکام قران مجید از طرف عصبه مومنه را تصفیه و اداره شوند. در اثری بنام معالم فی الطریق میگوید که ((زموږ لپاره حتمي ده چې د خپل ژوند مفکوره، د حکومتونو سیاست، اقتصاد او د ژوند ټولو اړخونو په اړه له هغه ځخه اصول وباسو ځکه چې، زموږ لومړنی مقصد دا دی چې د خپلې ټولنې تمرینونه بدل کړو... خپل جاهلي سیستم له بنسټ نه واړوو، دغسې سیستم چې له اسلام سره گرد سره مخالف وي...(6))) بعد از آان بود که حرکت اسلامی به تطبیق شریعت اسلامی منحصر نماند و کاملاً سیاسی شد و تقریباً در هر کشور اسلامی تنظیم های سیاسی اسلامی بنام های کم و بیش مشابهه بمیان آمد و اصطلاح اسلام سیاسی یا اسلامزم عام شد.

در افغاسنتان جمعیت اسلامی بر اساس نظرات مودودی و سید قطب در دهه ششم قرن بیست تاسیس شد و در دهه دیگر به چند تنظیم تقسیم شد ومانند بعضی تنظیم های عنعنوی اسلامی بفعالیت آغاز نمود. تمام این تنظیم بعد از کودتای ثور و بخصوص بعد از تجاوز شوروی که سیاست افغانستان شکل افراطی چپی را بخود گرفت. به پشتیبانی قوی عامه افغان و همچنان بکمک پولی و اسلحه کشورهای دوست جهان عرب و غرب جهاد کردند،موفق شدند و بالاخر بقدرت دولتی رسیدند اما در اداره کشور انچنانیدکه افراطیون چپی بصورت مطلق ناکام شده بودند، انها هم بصورت مطلق ناکام شدند. تحریک طالبان که آنها را ناکام ساخته بود، خود با تعقیب طریقه افراطی نوع وهابی از اداره کشور عاجز

ما ند. ا مروز موجود یت قوای ن ظامی چندین کشور جهان در افغانستان به سبب ناکامی مطلق تمام این ها است. از این شرح کو تاه و ا ضح ا ست که ا فراد یا احزاب معتقد به نظرات افراطی چپی و یا را ستی در افغا سنتان حکو مت کرده نمیتوانند.

طریقه اعتدالی ابوحنیفه در اسلام و ((طریقه طلایی) اعتدالی ارسطو در دولت یا اجرای امور بر اساس معیار های عقلی و اخلاقی و احترام به قانون و حقوق فرد شاید بهترین طریقه حکومتداری در افغانستان باشد. از توجه تان تشکر

# ماخذ ها

۱-جان ویلیمز، اسلام، ناشر جارج برازیلیر، نیویارک ۹۶۲، ۱۷۴، ۱۷۵.
۲- کتاب های مقدس شرق، مشتمل بر ترانه های مذهبی ویدی، زنداوستا، دماپاوا، اوپانیشاد، قران مجید و زندگی بودا، مترجم زندارستا، جیمز دارمستتر ناشر کمیته کتابخانه، نیویارک، M.D Ceexcix، ٦٧.،
۳-پیتر گرین، سکندر مقدونی ۳۵٦-۳۲۳ق م، بیوگرافی تاریخی، ناشر پوهنتون کلیفورنیا، برکلی، ۱۹۹۱، ۳۲۷-۳۸۳.
٤-محمد حسن کاکړ، حکومت و جامعه در افغاستنتان، امارت امیر عبدالرحمن خان، پوهنتون تکساس در استین و لندن، ۱۹۷۹، ۱۵۲-۱۵۵.
٥-میرغلام محمد غبار- افغانستان در مسیر تاریخ، موسسه چاپ کتب، کابل، ۱۹٦۷، ۷۹۸، ۸۰۷.
٦-کاکړ، وطن ته یو سفر، طالبان او اسلامي بنسټ پالنه، د افغانستان کلتوري ودې ټولنه، ۲۰۰٤، ۲٦۱.

د ٢٠٢٠م. د مـى
١٩